# زر او یوه شپه

(له ۱۰۷مي شپې څخه تر ۱۶۹مي شپې پورې)

**[پنځلس ټکلونه]**

**(له انګلیسي، پارسي او عربي منابعو څخه)**

مترجم:

**محمدمعصوم هوتک**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# د کتاب ټول حقوق په خپروونکي اړه لري


* **زر او یوه شپه**
* مترجم: **محمد معصوم هوتک**

* خپروونکی: **علامه رشاد خپرندویه ټولنه**
* کندهار – افغانستان
* تلیفون: ۰۷۰۰۳۲٦۰۱۱
* ایمیل: mrohyal@yahoo.com

* کمپوز او ډیزاین: **روهیال کمپیوټر اداره**
* لومړی چاپ: ۱۳۹۱ ش – ۲۰۱۳ع
* کچه: ۱۳/۵۰ × ۲۱ سانتي متره
* چاپ شمېر: زر ټوکه
* د مخونو شمېر: ۳۴۴
* د خپرونو لړ: ۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپروونکي خبري

"زر او يوه شپه" د فوکلوري محتوياتو له اسيته د شرقي دنيا يو شهکار اثر دئ. د دې اثر ټول نکلونه او ورسره تړلي موضوعات که له يوې خوا د تاريخي سند په توګه کوم ارزښت نه لري، خو له بلې خوا د نکل د راوي له خولې د هغې زمانې د خلکو او پرګنو د ژوند و ژواک ډېر پيکه اړخونه په خورا روښانه ډول ځني معلومېدای سي. د نړۍ د هري ژبي فوکلوري مواد دغه ډول ضد و نقيض اړخونه لري.

د "زر او يوې شپې" اوسنۍ راپاته بڼه د عربو د ژوند او ټولنيز ماحول هينداره ده او تر ډېره ځايه د دې شهکار ټولي ښېګڼې او بدګڼې په عربو پوري تړلي دي. زر او يوه شپه د نړۍ خورا ډېرو ژبو ته ترجمه سوې او په بېلابېلو شکلونو د دنيا په هر ګوټ کي چاپ سوې ده.

حاضره پښتو ترجمه ئې زما استاد او د پښتو ژبي محتاط محقق، ليکوال، شاعر او خوږ ژبي مترجم ښاغلي محمد معصوم هوتک کړېده. استاد هوتک صاحب د زر او يوې شپې ترجمه له انګليسي، پارسي او عربي منابعو څخه کړېده، د دغو ژبو تر څنګ ئې خپل متن د روسي منابعو سره هم مقايسه کړی دئ او اختلافي صورتونه ئې په حاشيو کي واضح کړي دي.

د هوتک صاحب ترجمه له يو سل او اوومي شپې څخه پيل سوې ده. تر دغه مخکي متن زموږ بل حقدار استاد اروانباد نوميالي صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه کړې دئ، چي هغه به هم انشاء الله په راتلونکي نژدې وختو کي د چاپ په ګڼه سنبال سي.

د هوتک صاحب د ترجمې پر فني او تخنيکي اړخونو باندي د يوې رسالې په شکل ليکنه کېدای سي، د دغه ډول غنيمت ژباړو ارزونه او شننه د يوه يادښت څه بل لا د يوې مقالې تر حوصلې وتلې خبره ده. د هوتک صاحب دغه خوږه پښتو ترجمه د پښتو ترجمې پر کوټه يوه پر ځای او غنيمت اضافه ده. د ترجمې د فن او پښتو علاقه مندانو ته بويه چي د هوتک صاحب زيار ته د قدر په سترګه وګوري.

د علامه رشاد خپرندويه ټولني له پاره د فخر ځای دئ، چي په لومړي وار په پښتو ژبه کي د دغه ډول يوه شهکار اثر همدغسي خوږه او شهکار ترجمه چاپوي. موږ خپل استاد ښاغلي هوتک صاحب ته د دې اثر مبارکي وايو او د لوی خدای له درباره هغوی ته د اوږده او مثمر ژوند خواست کوو.

منته او ادب

مطيع الله روهيال

د علامه رشاد خپرندويه ټولني مشر

۱۳۹۱/۱۰/۲۷ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست


۱. د پښتو زړاو يوې شپې له پاره زما خبرې ..............
۲. الف ليلة وليلة د تاريخي او اجتماعي پلوه..............
۳. يو سل او اوومه شپه..............................
۴. د تاج الملوک نکل ..............................
۵. يو سل او اتمه شپه ..............................
۶. يو سل او نهمه شپه..............................
۷. يو سل او لسمه شپه ..............................
۸. يو سل او يوولسمه شپه ..............................
۹. يو سل او دوولسمه شپه ..............................
۱۰. د عزيز او عزيزې نکل ..............................
۱۱. يو سل او ديارلسمه شپه..............................
۱۲. يو سل او څورلسمه شپه..............................
۱۳. يو سل او پنځلسمه شپه ..............................
۱۴. يو سل او شپاړسمه شپه ..............................
۱۵. يو سل او اووه لسمه شپه ..............................
۱۶. يو سل او اتلسمه شپه ..............................
۱۷. يو سل او نونسمه شپه..............................
۱۸. يو سل او شلمه شپه ..............................
۱۹. يو سل او يوويشتمه شپه ..............................
۲۰. يو سل او دوه ويشتمه شپه..............................

(c) ketabton.com: The Digital Library




۲۱. یو سل او درویشتمه شپه ..........
۲۲. یو سل او څلېرویشتمه شپه ..........
۲۳. یو سل او پنځه وپشتمه شپه..........
۲۴. یو سل او شپږویشتمه شپه..........
۲۵. یو سل او اووه ویشتمه شپه..........
۲٦. یو سل او اته ویشتمه شپه ..........
۲۷. یو سل او نهه ویشتمه شپه..........
۲۸. یو سل او دېرشمه شپه ..........
۲۹. یو سل او یو دېرشمه شپه ..........
۳۰. یو سل او دودېرشمه شپه..........
۳۱. یو سل او درودېرشمه شپه ..........
۳۲. یو سل او څلوردېرشمه شپه ..........
۳۳. یو سل او پنځه دېرشمه شپه..........
۳۴. یو سل او شپږدېرشمه شپه ..........
۳۵. یو سل او اووه دېرشمه شپه ..........
۳٦. د ضوء المکان د کیسې پاته برخه ..........
۳۷. یو سل او اته دېرشمه شپه..........
۳۸. یو سل او نهه دېرشمه شپه ..........
۳۹. یو سل او څلوېښتمه شپه ..........
۴۰. یو سل او یوڅلوېښتمه شپه..........
۴۱. یو سل او دوڅلوېښتمه شپه..........
۴۲. د چرسي مین نکل ..........
۴۳. یو سل او درو څلوېښتمه شپه ..........
۴۴. یو سل او څلورڅلوېښتمه شپه ..........
۴۵. د سارایي د خیانت نکل ..........

(c) ketabton.com: The Digital Library




۴۶. یو سل او پنځه څلوېښتمه شپه ........................
۴۷. یو سل او شپږ څلوېښتمه شپه ........................
۴۸. د حیوانانو نکلونه........................
۴۹. یو سل او اووه څلوېښتمه شپه........................
۵۰. یو سل او اته څلوېښتمه شپه ........................
۵۱. د پرهېزګاره شپون نکل ........................
۵۲. د هېلۍ او کیشپ نکل........................
۵۳. د ګیدړې او شرموښ نکل ........................
۵۴. یو سل او نهه څلوېښتمه شپه........................
۵۵. یو سل او پنځوسمه شپه ........................
۵۶. د موږک او تورلمي (سمور) نکل ........................
۵۷. د پیشو او کارګه نکل ........................
۵۸. د ګیدړې او کارګه نکل........................
۵۹. یو سل او پنځوسمه شپه ........................
۶۰. یو سل او دوپنځوسمه شپه........................
۶۱. د جرګې او کوکو کوترې نکل........................
۶۲. د بیزو او غله نکل ........................
۶۳. د جولا نکل ........................
۶۴. د چوغکې او تاوز نکل ........................
۶۵. یو سل او درو پنځوسمه شپه........................
۶۶. یو سل او څلورپنځوسمه شپه ........................
۶۷. یو سل او پنځه پنځوسمه شپه ........................
۶۸. یو سل او شپږ پنځوسمه شپه........................
۶۹. یو سل او اووه پنځوسمه شپه ........................
۷۰. یو سل او اته پنځوسمه شپه........................

(c) ketabton.com: The Digital Library




۷۱. یو سل او نهه پنځوسمه شپه ..........
۷۲. یو سل او شپېتمه شپه ..........
۷۳. یو سل او یو شپېتمه شپه ..........
۷۴. یو سل او دوشپېتمه شپه..........
۷۵. یو سل او دروشپېتمه شپه ..........
۷٦. یو سل او څلورشپېتمه شپه ..........
۷۷. یو سل او پنځه شپېتمه شپه ..........
۷۸. یو سل او شپږشپېتمه شپه..........
۷۹. یو سل او اووه شپېتمه شپه ..........
۸۰. یو سل او اته شپېتمه شپه ..........
۸۱. یو سل او نهه شپېتمه شپه..........

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو زر او يوې شپې له پاره زما خبري

د "زر او يوه شپه" په نامه مشهور نکلونه له عربي ژبي څخه پښتو ژبي ته واردواره په منثور شکل اروابناد محمدانور نوميالي (۱۹۲۹ – ۲۰۰۶ع) له نن څه شپږپنځوس کاله پخوا په کندهارکي راواړول[1] او يوه برخه ئې د طلوع افغان ورځپاڼي له لاري په اقساطو خپره کړه. په دغه کار کي ئې اروابناد محمديوسف ويران (۱۹۲۶ – ۲۰۰۳ع) هم همکار وو. خو دا لړۍ ډېره و نه پائېدله او د هغه وخت سرکاري مقاماتو ئې د خورا بې منطقه استدلال له مخي د خپرېدو مخه ونيوله. اروابناد نوميالی مُصمِّم سړی وو. خپله دغه هڅه ئې دروڅلوېښت کاله وروسته په مسکو کي د خپل مهاجرت په دوران کي بيا له سره پيل کړه او لومړی ټوک ئې، چي له روسي او عربي متن څخه پښتو سوی دئ، هورې د ۱۹۹۹ ع کال په مي مياشت کي په ښکلې قطع او صحافت پر ښکلي کاغذ له چاپه راووت چي د ده پخپل لاس خطاطي سوی وو او د "لېمې" مجلې د دريمي گڼې پر ځای خپور سو. په دې ټوک کي شل شپې ځای سوي دي. متن ئې ۳۲۱ مخه دئ او په سر کې ۱۶ مخه سريزه راغلې ده. تر دغه چاپ وروسته ئې دوهم ټوک د ۲۰۰۲ ع کال په اگسټ کي له مسکو څخه خپور کړ. دا وخت اروابناد نوميالی په ډنمارک کي اوسېدی. په دې ټوک کي هم شل شپې راغونډې سوي

---

[1] منظومه پښتو ترجمه ئې د ملا نعمت الله له خوا سر ته رسېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. متن ئې ۴۵۵ مخه دئ او په سر کي ئې ۳۳ مخه سریزه لري.

د دې پښتو ترجمې هر کلی په پښتنو کي نسبتاً مساعد هر کلی وو. د هغه چا چي د دې کلاسیک اثر په ارزښت سر خلاصېدی، هغوی د اروانښاد نومیالی دغه کار ډېر وستایه. اروانښاد نومیالی د ۲۰۰۶ع کال په اکتوبر کي مړ سوا او د زر و یوه شپه پښتو ژباړي څو نور ټوکه ئې چي ټول ۷۶ شپې کېدلې، ناچاپ پرېښوول. د ده تر وفات څو میاشتي وروسته ښاغلي ډاکټر شېرحسن "حسن" راته ولیکل چي که زه (هوتک) د دې اثر پښتو ژباړي ته لېڅي راوغړم. ګران مطیع الله جان روهیال هم راڅخه وغوښتل چي دا ژباړه پسې تعقیب کړم. د دوی په نظر "دا کار که زه و نه کړم، نور کسان ئې نه سي بشپړولای". ما له دوی څخه د ښه نیت له بابته مننه وکړه خو کار دروند وو او په څه پلمه مي ځان یوې خوا او بلي خوا ته کړ. په دې ترڅ کي خبر سوم چي د پښتو ترجمې د ناچاپه برخي چاپ ته ډاکټر شېرحسن ملا تړلې ده. مالي بار ئې ده اخیستی دئ او د چاپ چارو ته ئې د علامه رشادخپرندویي ټولني اوږه ورکړې ده. ډېر زیات خوښ سوم چي دغه ناچاپه برخه هم دلوستونکوترلاسوپوري که خدای کول ور رسېږي.

د ۲۰۱۲ ع کال په پسرلي کي مي کندهار ته سفر وکړ. هورې د ګران روهیال له خوا بیا کلکه غوښتنه راڅخه وسوه چي دې کار ته اوږه ورکړم. دا وار مي د نټې بیچ په ځان کي و نه موند. د نیازمنو ناز مي پر مځکه وانه چاوه او کاناډا ته چي راغلم، ملا مي ورته وتړله. واردواره مي له یوې انګرېزي ترجمې او فارسي ژباړي څخه یو څو شپې ترجمه کړې او د دې له پاره چي د ځینو دوستانو نظر مي ځان ته معلوم کړی وي، یوه یوه کاپي مي د ایمیل له لاري ښاغلي جهاني صاحب، ښاغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر شېرحسن او ښاغلي روهيال ته واستوله. څو ورځې وروسته د ټولو جوابونه راورسېدل. جهاني صاحب راته ليکلي ول: "... رالېږلي نکلونه مي په ډېر غور ولوستل. بې له تشريفاتو درته وايم چې د ويلوځای پکښې نسته. ماشاء الله. خدای دي پر قلم برکت کښېږده. ښايي په ژوندکي دي داسي بل شهکار نه وي کړی او يا ښايي د بل داسي شهکار د ايجادولو زمينه پيدا نه کړای سې. خدای دي تا ته اجرونه درکړي او خدای دي پښتنو ته دونه پوهه ورکړي چې ستا د دې شهکار قدر وکړي. شعرونه دي فوق العاده ښايسته ترجمه کړي دي. تر دې ښايسته ترجمه د هر چا تر وس وتلی کار دئ. که زما ګران استاد او ملګری نوميالی صاحب ژوندی وای هم به ئې تر دې ښه نه وای ترجمه کړي او که هغه ته دي خپله ترجمه ښودلې وای، ښايي د خپل باقي پاته کار مسئوليت ئې تا ته سپارلی وای. زه يقين لرم چې دا کار په پښتو ژبه کي نه بل څوک کوي او نه ئې په وس پوره دئ. تا ته دي خدای خير درکړي. ستا پر قلم دي برکت وي او زه درته د روغ صورت او اوږده ژوند دوعاکوم. ستا ورور جهاني ".

ډاکټر شېرحسن راته کښلي ول: "... ستاسي ليک او ورسره مل د ژباړې برخه راورسېده، ومې لوسته او خوښه مې شوه. ... متن جانانه، په زړه پوري، اسان او روان دی، ... پوهاند زيار صاحب هم په والله ووايي چې: خورا خوند مو پر واخيستی! که په نثري متن کې کله ناکله او ځای ماى د نورو پښتني سيمو د لهجو وراشې مراشې ورواچوئ فکر کوم لا به رنګين او خوندور شي.... په هرصورت دغه اوږد، دروند او ستونزمن کار ستاسي په شان غښتلې اوږې غواړي، بې له تاسې بيا خدای خبر که د چا پام او توان ورته وجوړېږي. تر پايه درته د زړه قوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پوره حوصله غواړم. ستاسي کشر شیرحسن".

روهیال صاحب راته لیکلي ول: "... ستاسي رااستول سوې شپه مي پنځه واري ولوستله. د ترجمې په اړه خپل برداشت داسي درسره شریکوم: د ترجمې خوند و رنگ د نومیالي صاحب ترجمې ته ډېر نژدې دئ خو په ساده والي او سلاست کي تر هغې اوړي ... ستاسي د مصروفیت له ستونزي پرته، که پر پښتو او پښتنو باندي دغه مهرباني ستاسي په قلم وسي، تر ډېره وخته به هغه ارمانونه پوره وي چي په دغه اړخ کي پښتو ورسره لاس وگرېوان ده. روهیال".

د دغو مساعدو نظرونو تر رسېدلو وروسته مي عزم په جزم بدل سو او دا دئ یو ټوک ئې چاپ ته تیاراودترجمې کارترپنځه سوو شپوهم اوښتی دئ.

د دې اثر د ترجمې په وخت کي مي دا لاندي متون مخي ته ایښي ول:

## عربي متن:

دا متن د بیروت د المکتبة الشرقیه له خوا په ۱۹۹۴ ع کال په اوو ټوکو (دریو مجلدو) کي چاپ سوی دئ. له دې چاپ څخه ارواښاد نومیالي خپله پښتو ترجمه تهیه کړې وه. ما ته ډاکټر شېرحسن له مسکو څخه زما د غوښتني له مخي د دغه اثر له روسي ترجمې سره یو ځای راولېږل او پخپله دغه فرهنگي پېرزوینه ئې زه تر درانه احسان لاندي کړم.

## دوهم عربي متن:

دا متن هم د بیروت چاپ دئ او د "الدارالنموذجیه" له خوا په ۲۰۱۰ع کال په څلورو ټوکو کي چاپ سوی دئ. دا چاپ ما ته له دوبۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښخه زما ګران خوريي مسعود ګلالي کاناډا ته رالیږلی دئ. پر همت او ځوانی دې برکت وي.

## انګرېزي متن:

دا متن زما د کتابتون نسخه ده چې د "The Arabian Nights" په نامه په ۱۹۹۰ ع کال په نیویارک کې چاپ سوې ده. انګرېزي ژباړونکی ئې حسين حضاوي؟ (Husain haddawy) دئ او دا ژباړه ئې له هغه عربي نسخې څخه کړې ده چې په څورلسمه میلادي پیړۍ کې په سوریه کې استنساخ سوې ده. دا نسخه تر ټولو نورو نسخو قدیمه او زړه نسخه ده. د ژباړې ایډیټ ئې محسن مهدي کړی دئ. حسين حضاوي په بغداد کې زیږېدلی دئ. په امريکايي پوهنتونو کې ئې انګرېزي او مقايسوي ادبيات (Comparative Literature) تدریس کړي دي. اوس په تایلینډ کې اوسي. په دې چاپ کې ۲۷۱ شپې راغلي دي چې نهه کیسې او شپږویشت نکلونه پکښې سته . له دې کیسو څخه زیاتره کیسې د اروابناد نومیالي په ژباړه کې سته. یو شمېر پاته ئې زما په ژباړه کې راغلي دي.

## دوهم انګرېزي متن:

دا متن چې ما ته د کار په جریان کې راورسېد او وروسته مي خپل ټول کړی کار له سره ورسره عیار کړ، (Arabian nights) نومېږي او ژباړونکی ئې (Sir, Richard Francis Burton) دئ. ریچارډ فرانسیس برټن (۱۸۲۱– ۱۸۹۰ع) د خپل وخت کمالداره انګرېز وو. د ده له نامه سره لیکل سوي دي چې "سیاح، جیوګرافر، ژباړونکی، لیکوال، عسکر، ختیځپوه، نخشه اخیستونکی، اتنولوجیسټ، مخبِر (جاسوس)، شاعر او ډیپلوماټ سړی وو. ویل کېږي چې نهه ویشت

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروپايي، آسيايي او افريقايي ژبي ئې زده وې؟ د الف ليلة وليلة ترجمه ئې په لسو ټوکوکي له خورا ډېرو مفصلو حاشيو سره سر ته رسولې ده. په دې لسو ټوکو کي ئې زر او يوه شپه ځای کړې اونور شپږ ټوکه ئې د (Supplemental Nights) په نوم پر زيات کړي دي او په هغو کي ئې نوري مشهوري عربي، هندي او پارسي نکلونه په انگرېزي ژبه اړولي دي. د ريچار ډبرټن انگرېزي ترجمه کلاسيکه انگرېزي ده او فهم ئې، په تېره بيا د شعرونو برخه ئې، يو څه سخت کړی دئ. د ده پر ترجمه باندي د اعتراضو خبره هم مالوستې ده. د کتاب پر لومړي مخ ده کښلي دي چي ترجمه ئې ساده او ټکي په ټکي "plain and literal" ده.

## روسي متن:

دا متن د ميخائيل الکساندرويچ ساليې (۱۸۹۹ – ۱۹۶۱ ع) له خوا له عربي متن څخه ترجمه سوی او د ۱۹۲۹ – ۱۹۳۹ع کلونو تر منځ په مسکو کي چاپ سوی دئ. دا هماغه چاپ دئ چي ارواښاد نوميالي استفاده ځني کړې ده او ما ته ډاکټر شېرحسن له عربي متن سره يو ځای رالېږلی دئ. بيا هم کورودانی ورته وايم.

## فارسي متن:

دا متن په ۱۲۶۰ ه ق = ۱۸۴۴ع کال د نائب السلطنة ميرزا عباس د زوی بهمن ميرزا په امر د هغه وخت د مشهور اديب عبداللطيف طسوجی تبريزي له خوا له عربي څخه په څلورو کلونو کي ترجمه سوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ[1]. د اشعارو انتخاب، انشاء او ترجمه ئې د افصح الشعراء سروش اصفهانی[2] له خوا سر ته رسېدلې ده. دغه حاضر زما مخ ته پروت متن ئې په تهران کي د "کتابخانه علی اکبر علمی و شرکاء" له خوا چاپ سوی دئ او ما ته ګران مطیع الله جان روهیال له کندهار څخه د ګران نجیب الله زیارمل په لاس رالېږلی دئ. د دواړو دي کور ودان وي.

په دې حاضره ترجمه کي زما د کار روش:

ما ته د کار په پیل کي د ریچارډ فرانسیس برټن ترجمه نه وه رارسېدلې او پښتو ترجمه مي د عربي، فارسي او روسي متونو په مرسته پر مخ وهله. خو د خپل کار له سموالي څخه ځکه ډاډمن نه وم چي عربي مي کمزورې او روسي خو مي بالکل د ابجدخوان په سطحه کي وه. کله چي د برټن انګرېزي ترجمه راورسېده، نو مي نه یوازي خپل تر سره سوی کار ورسره عیار کړ، بلکي د راتلونکي کار له پاره مي هم د اصلي نسخې په توګه ځان ته کښېښووله. ترجمه سوي برخي مي ټولي له عربي متن او نورو ترجمو سره مقابله کړي او اختلافي موارد مي د هغو په مرسته سم کړي دي. مشکل ځایونه که په انګرېزي متن کي په مخه راغلي دي او که په عربي متن کي، دواړه مي د فارسي ترجمې په مرسته ژباړلي دي. ما ته داسي ښکاري چي ارواښاد نومیالي صاحب دي هم ترجمه له روسي متن څخه کړې او بیا دي ئې له عربي متن سره مقابله کړې وي. په هر صورت، که مي له عربي څخه مستقیمه ترجمه

---

[1] عبداللطیف طسوجي د پارس د ختیځ آذربایجان په طسوج (تسوج) ښار کي پیدا سوی وو دی د فتحعلیشاه (۱۷۹۷ – ۱۸۳۴ع) او محمدشاه د عصر له فاضلانو څخه وو. د ناصرالدین شاه قاجار (۱۸۳۱ – ۱۸۹۶ع) معلم او د زوی ئې مسعود میرزا خسر کېدئ.

[2] میرزا محمدعلي (۱۸۱۳– ۱۸۶۹ع) ملقب په شمس الشعراء د خپل وخت له لویو فاضلو شاعرانو څخه وو. د ناصرالدین شاه قاجار په دربار کي ئې ډېر قدر کېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای، بیا مي نو په کار کي د دې اوسني سرعت لسمه برخه هم نه پاته کېدله. زما ژباړه له یو سل او اووه لسمي شپې څخه پیل سوې ده. خو وروسته مي له ۱۰۷ مي شپې څخه راوروسته شپې هم پر ورزیاتي کړې. له دې کار څخه مي مطلب دا وو، چي د " تاج الملوک نکل" له هماغه پیل څخه زما پر سلیقه او طرز باندي لوستونکو ته وړاندي کړم.

د سرل ه خوا دغه اته شپې (۱۰۷ – ۱۱۵) د اروابناد نومیالي په ترجمه کي هم سته. د شپو شمېره په دواړو عربي چاپونو، انګرېزي، روسي او فارسي ترجمو کي سره تېره و بېره سوې ده. ما د ریچارډ برټن د انګرېزي ترجمې تسلسل تعقیب کړی دئ، چي له روسي ترجمې سره هم تر زیاتي اندازې خوله په خوله روان دئ. د نومیالي صاحب په ژباړه کي له روسي ترجمې څخه انځورونه هم رااخیستل سوي دي. دا کار ما د ترجمې په پیل کي تعقیب کړ، خو وروسته مي نظر واوښت او له انځورونو څخه تېر سوم.

د اشعارو په برخه کي زیاتره پښتو شعرونه له عربي اصل سره د موضوع له مخي یو څه اشتراک لري. پښتو شعرونه ټول زما له قریحې راوتلي دي خویو څه ئې د عربي متن کټ مټ پښتو ژباړه ده. د زیاترو اشعارو محتوا مي ځای ځای له فارسي څخه انتخاب کړې او د پښتو نظم په قالب کي مي اچولې ده. اروابناد نومیالي صاحب هم لکه چي همداسي روش تعقیب کړی دئ. دوی لیکلي دي: "هغه نظمونه یا بیتونه چي د عربي نسخې له اصله سره سم په دې پښتو متن کي په مخه راځي ځیني ئې کټ مټ د عربي ترجمې دي خو ځیني ئې تش د موضوع په حساب جزئي اشتراک ورسره لري اما په طرز و ادا کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره آزادي ترجمې په خيال تيار سوي دي"[1].

په اصل کي خود زر او يوې شپې اشعار په ټولو ترجمو کي د عربي متن کټ مټ ترجمې نه دي. د فارسي ترجمې شعرونه د هغه وخت مقتدر شاعر سروش اصفهاني ويلي، انتخاب کړي او ترجمه کړي دي. زياتره ئې د کلاسيکو فارسي شاعرانو نظمونه له موضوع سره سم انتخاب کړي او د عربي متن پر ځای ئې ايښي دي. د فارسي اشعارو په انتخاب کي د سروش اصفهاني دا کار او سليقه تر ده وروسته زياته ستايل سوې ده. مرحوم دهخدا د دغي ترجمې د اشعارو په باب کښلي دي: "بهمن ميرزا والی آذربايجان پسر چهارم عباس ميرزا نايب السلطنة فتحعلی شاه از دو نفر از فضلای عهد خود تقاضا کرد الف ليلة و ليلة عربی را از نثر و نظم به فارسی ترجمه کنند، يکی از آن ها ملاعبداللطيف تسوجی پدر مظفرالملک بود که متن نثر الف ليلة وليلة عربی را به نثر فارسی عالی فصيح درآورد. و دوم همين سروش اصفهانی بود که ترجمه شعرهای عربی الف ليلة وليلة به شعر فارسی به او محول گرديد و او از عهده يی اين کار در نهايت خوبی که بهتر از آن تصور نميشود برآمد. به اين معنی که به جای اشعار عربی کتاب مزبور الف ليلة وليلة بعضی جاها بر حسب مناسب سياق، اشعار مشهور اساتيد شعرای فارسی را درج گردانيد و بعضی جاهای ديگر اشعار عربی کتاب مزبور را خود او به شعر فصيح مليح بليغ فارسی ترجمه نمود و بدين طريق اين ترجمه فارسی الف ليلة وليلة که بدست است، يک مخزن الاشعار بسيار نفيسی از بهترين و فصيح ترين و شيرين ترين اشعار فارسی شده است و اشعار فارسی اين الف ليلة وليلة به مراتب عديده از

[1] وګ: زر او يوه شپه – لومړی ټوک – xii مخ – د ۱۹۹۹م چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصل اشعار عربی کتاب مزبور که اغلب اشعار سخیف عامیانه است عالی تر و فصیح تر و بلیغ تر است" (لغتنامه دهخدا، مبحث سروش اصفهانی).

ژباړه:

"د فتح علیشاه د نائب السلطنة عباس میرزا ځلرم زوی بهمن میرزا د خپل وخت له دوو تنو فاضلانو څخه وغوښتل چې د عربي الف لیلة و لیلة نظم او نثر په فارسي وژباړي. په دې د دوو کي یو د مظفرالملک پلار ملاعبدالطیف تسوجي وو چې د عربي الف لیلة و لیلة نثري متن ئې د فارسي ژبې په عالي او فصیح نثر واړاوه. دوهم تن همدا سروش اصفهاني وو چې فارسي ژبي ته ئې د الف لیلة و لیلة عربي شعرونو ترجمه کول د ده پر غاړه واچوله او دی د دې کار تر عُهدې په ډېره ښه توګه ووت، په داسي ډول چې تصور ئې هم نور نه کېږي. په دې معنی چې ده د الف لیلة و لیلة کتاب د عربي شعرونو پر ځای د متن له عبارت او سیاق سره سم د فارسي د مشهورو استادانو شعرونه ځای ځای درج کړل او ځای ځای ئې بیا د دغه کتاب عربي اشعار په ډېر فصیح، بلیغ او خوندور فارسي شعر واړول. په دې ډول نو د الف لیلة و لیلة دا حاضره فارسي ترجمه د فارسي د ډېرو ښو، فصیحو او خوږو شعرونو یو ښکلی مخزن الاشعار دئ او فارسي شعرونه ئې د دغه کتاب تر عربي اشعارو، چې زیاتره عامیانه او د ټیټي درجې شعرونه دي، ډېر لوړ، فصیح او بلیغ دي".

د الف لیلة و لیلة د اشعارو په باب په انګرېزي ژبه د هغو یوه مترجم حسین حضاوي کښلي دي:

ترجمه: "د زر او یوې شپې د کیسو یوه ځانګړې مشخصه دا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې منثور داستان په منظومو ټوټو سره ښکلی کړه سوی دئ. د دغو منظومو ټوټو یوه برخه ئې د اصلي مرتب له خوا پکښې ځای سوې ده او بله برخه ئې د وروستیو کاپي لیکونکو (ناسخانو) له خوا پر زیاته سوې ده. دغه ټوټې له ځای او موضوع سره داسي متناسبي راوړل سوي دي چې ځای ځای ئې د اشخاصو او ځایونو توصیف ته رنګ و روغن ورکړی دئ، کله کله ئې خوشحالي او غم په توضیح کړی دئ، کله ئې د یوې ښځې توصیف و ستاینه پکښې کړې ده او کله ئې بیا اخلاقي پندونه پکښې بیان کړي دي. د دغو منظومو ټوټو په راوړلو کي مقصد یا د یوه کار و عمل برجسته کول، یا د ادبي معیار اوچتول، یا د عاطفي اغېزې زیاتول دي. که څه هم زیاتي منظومي ټوټې خپل دغه هدف ته په رسېدلو کي له دې اسیته پاته راغلي دي چې زیاتره ئې د منځني حد (mediocre) نظمونه دي یعني نه بد دي او نه ښه. تر نیمی زیات ئې د هغو کلاسیکو شاعرانو له کلام څخه ګلچین (anthologized) سوي دي چې تر څورلسمي مېلادي پېړۍ وروسته ئې ژوند کړی دئ. دا نوره برخه ئې د نورو استخدام سوو لیکوالو او حتی ناسخانو په ګډون د کمزورو ناظمانو له خوا ترتیب سوي دي..." [1].

له دې بیانه څخه ښکاري چې د زر او یوې شپې منظومي ټوټې د داستانو اصلي برخه نه ده او د همدې جواز له اسیته فارسي مترجم هم د ټولو عربي اشعارو د کټ مټ ترجمې خواري پر ځان نه ده منلې او پر ځای ئې له کلاسیک فارسي ادب څخه د ګلچین له لاري دغه برخه پوره کړې ده. اروابناد نومیالي صاحب او ما (هوتک) هم دغي برخي ته له موضوع سره د ارتباط له مخي او له عربي

---

[1] وګ: د انګرېزي ترجمې د سریزي – xxxiii – مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشعارو سره د جزئي معنوي اشتراک له رويه له خپلي طبعی څخه نظمونه سربښته کړي دي.

د دغو اشعارو په ترجمه کي يا بايد يو څوک د امانت په حکم کمزوري ترکيبونه او حتی مبتذل شعرونه کټ مټ وژباړي، يا بايد د ادبي معيار د اوچت ساتلو په نيامت دغو کمزورو ترکيبو ته يو څه پالیش او رنګ و روغن ورکړي او د امانت په مقوله کي ځان ډېر ايسار نه کړي. ما (هوتک) دا دوهمه لار ځکه غوره کړې ده چي د زر او يوې شپې شعرونه خو له لويه سره هم، لکه وړاندي چي وويل سوه، د کيسو اصلي برخه نه، بلکي لا وصلي برخه ده. د نظمونو په ترجمه کي مي د زړو تشبيهاتو اوترکيبونوراوړل له دې اسيته لازم وګڼل چي که مي نوي ترکيبونه او عبارتونه راوړي واى، نو دا نوي جامې د زر او يوې شپې د کيسو پر اتلانو باندي سمي نه راتلې. د دغو نظمونو په ترتيبولو کي مې ډېره خواري کښلې ده، خو نه پوهېږم چي د کره کتونکو قناعت به مې تر لاسه کړی وي که نه؟

د نوميالي صاحب په ترجمه کي د هري شپې پيل او پای په جلاجلا عبارتونو او بيتونو سره راوړل سوی دئ. ما هم دغه روش تر يوې برخي پوري وپاله، خو وروسته متوجه سوم چي عربي اصل او انګرېزي، روسي او فارسي ترجمې ټولي شپې په سره ورته جمله شرو او په مشابه جمله پای ته رسولي دي. نو ما هم ټولي شپې په عين جمله پيل او په عين بيت سره پای ته رسولي دي.

د کيسو او نکلو د بيان په ترڅ کي به لوستونکي ځای ځای له داسي عبارتو او جملو سره مخامخ سي چي زموږ د پښتني ژوند له دودونو او نورمونو سره به سمون و نه لري او د لوستونکو سترګي به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا خبره یو څه ور وتخنوي. ما هڅه کړې ده چې دغه برخې یو څه په پوښ کې پوښلي ترجمه سي. خو ځای ځای مې بیا دومره ډېر سانسورهم پر ترجمه باندي نه دئ لورولی، چې د متن خوند و کیفیت دي پکښې ورک کاندم. زما په اند د زر او یوې شپې نکلونه کلاسیک امانت دئ او خوندي کول ئې تاریخي مسئولیت دئ. همدې اند مې د احتساب واهمه له زړه ایستلې ده. زه هیله من یم چې پښتانه وروڼه ما په دغه راز مواردو کې ډېر و نه غندي. د دې نکلو تاریخي روایتونه له ځانه جوړ سوي داستانونه دي او د استناد کار باید ځني وا نه خیستل سي. ښاغلي جهاني صاحب دغه مطلب پخپلو خبرو کې په تفصیل سره بیان کړی دئ.

دا خبره مې باید په سر کې لا هم کړې وای چې د دې پښتو ترجمې ټولې برخې مې خپل خواخوږي او زړه ته راتېر اشنا ښاغلي ډاکټر محمدصدیق ظهیر ته ورلېږلي او هغوی په ډېر دقت کتلي دي. زه ئې د احسانونو مرهون یم. ډاکټر ظهیر یو له هغو دوستانو څخه دئ، چې زه ئې هر وخت د دغه کار سر ته رسولو ته هڅولی یم.

متن دوهم وار ګران مطیع الله جان روهیال هم تر نظر ایستلی او چاپ ته تیار کړی دئ. د ده کار هم د ډېري ستاینې او تقدیر وړ دئ. دا د ده د زیار او ټینګار نتیجه ده چې دا اثر ستاسې ښاغلو لوستونکو تر لاسه دررسېږي.

محمدمعصوم هوتک

آشاوا، اونټاریو، کاناډا

۱۵ داکتوبر ۲۰۱۲ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالباري جهاني

# الف ليلة و ليلة د تاريخي او اجتماعي پلوه

څه باندي لس کاله مخکي زما استاد او ملګري مرحوم محمدانور نوميالي ما ته له ډنمارک څخه په ټليفون کي وويل چي د الف ليلة و ليلة د ترجمې کار ئې پيل کړی دی. ما ئې ډېر تود هرکلی وکړ او دا مي ورته وويل چي د پښتو ژبي دغه لوی او لازم خدمت له تا پرته بل څوک نه سي کولای. خو خپلو ملګرو ته مي وويل چي د نوميالي صاحب روغتيايي حالت او عمر ښايي د دې لوی کار د بشپړېدلو اجازه ور نه کړي. کشکي ئې دا کار يو څه مخکي پيل کړی وای. زما له مرحوم استاد سره رشتيا هم عمر وفا و نه کړه او کار نيمګړی پاته سو. څه موده مخکي زما همصنفي او د وړوکتوب د وختونو ملګري محمد معصوم هوتک په ټليفون کي راته وويل چي د الف ليلة وليلة ترجمه کولو ته ئې ملا تړلې ده، د خپلي ترجمې يوه برخه ئې راولېږله او ما ورته وويل چي تر دغه بهتر کار کول تقريباً غير ممکن دئ. ده وروسته را څخه وغوښتل چي زه د مقدمې ليکلو کار پر غاړه واخلم. ده چي دونه لوی کار ته اوږه ورکړې وه نو ما ئې هم ناز پر مځکه نه سو اچولای. له بده مرغه چي ما الف ليلة و ليلة ډېر پخوا لوستې وه او په هغه وخت کي مي هم په جدي نظر نه وه لوستې. زه مجبور سوم چي د دې لوی کتاب پاڼي له سره واړوم را واړوم او ځيني نکلونه خو له سره په بشپړه توګه ولولم. د مقدمې په نوم مي يو څو پاڼي توري کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای دي وکړي چې د فوکلوري نکلونو د څېړونکو له پاره ګټوري وي. زه هیله لرم چې ګران معصوم هوتک به دغه ارزښتناکه ترجمه ژر بشپړه کړي او د پښتو ادب او فوکلور شاګردانو او څېړونکو ته به ورسېږي.

دا نکلونه په لومړي سر کي یوازي افسانې معلومېږي خو که سړی ښه ورته ځیر سي او په غور ئې ولولي نو ګوري چې په دې نکلونو کي د اسلامي نړۍ او په تېره بیا د عربانو کلتوري او عنعنوي ارزښتونو ډېر څرګند انعکاس کړی دئ او سړی بیخي د هینداري نوم ورکولای سي. البته د فوکلوري نکلونو او عصري، په تېره بیا ریالیسټیکو، داستانونو تر منځ له یوې خوا او د تاریخ او فوکلوري کیسو تر منځ له بلي خوا ډېر زیات توپیر موجود دئ. جدي لوستونکي باید په دې پوه وي چې دوی، داستانونه نه بلکي فوکلوري کیسې لولي. په عصري داستانونو کي لوستونکی هر ځای له لیکوال څخه پوښتنه کوي او ولي؟ او څرنګه؟ ورته وایي. خو په فوکلوري کیسو کي خبره داسي نه وي. په فوکلوري کیسو کي یو عادي بزګر د یوه لوی استاد او عالم په توګه دلایل وایي. یو لوی پاچا د یوه عادي بازاري سړي عقل نه لري، او چې هر څوک هر څه ورته ووایي هغه مني. د یوه پاچا زوی، چې د نکل اصلي قهرمان وي، هم دونه ښایسته وي چې ښایستې پېغلاني او ښځي، حتی شاپېریاني، په یوه ځل لیدلو ورباندي میني سي، هم دونه هوښیار وي چې په لومړۍ ځواني کي ئې د فقهي څخه نیولې تر منطق او نجوم پوري ټول علوم داسي خلاص کړي او زده کړي وي چې لوی پوهان او عالمان سیالي ورسره کولای نه سي او هم داسي پهلوان وي چې د زرو تنو په جنګ ورځي. دغه راز دېبان او له هغوی سره د انسانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقابله او جنګونه، پېریانان، جادو او منتر او په بیزو او سپیو د انسانانو بدلول، شاپېرياني، کوه کاف او تر اوبو لاندي د ډېبانو ښارونه هغه دي چي حتی زر کاله مخکي په داستان کي چا نه سوای یادولای، ځکه چي ځای پر ځای د لوستونکو له سوالونو سره مخامخ کېدی. خو څرنګه چي فوکلوري نکلونه د عادي او بې معلوماتو خلکو له پاره ویل کېږي او لیکل کېږي، نو هر څومره چي مبالغه پکښې زیاته وي په هغه اندازه د اورېدونکو او لوستونکو له پاره په زړه پوري وي. خو سترګه ور او لوستي خلک د فوکلوري نکلونو مبالغو، بې منطقیو او د ناممکناتو برخي ته نه ګوري بلکي په هغو کي د خلکو د عنعناتو، مذهبي عقایدو، عمومي پوهني، د پاچاهانو د خپل سري او استبداد او خرافاتو ته د خلکو او حتی پاچاهانو د عقیدې اندازه لګولای سي.

فوکلوري نکلونه له تاریخ سره ځکه نه سي مقایسه کېدلای او نه تاریخي قضاوت وربانديي کېدلای سي چي فوکلوري نکلونه د لویو سیندونو په شکل منځته راځي. سرچینه ئې یوه وي خو تر هغه وخته پوري چي یو لوی سیند ورڅخه جوړېږي او بیا یوه لوی دریاب یا لوی جهیل ته لوېږي، په سوونو او ښایي په زرونو وړې او لویي ویالې او واړه او لوی رودونه ورسره یو ځای سوي وي. فوکلوري نکلونه هم تر هغه وخته پوري چي پر کاغذ باندي لیکل کېږي په سل هاوو او یا په زرونو ځله خوله پر خوله او سینه پر سینه نقل سوي وي او کله کله ښایي له اصلي سرچینې سره ښځي سر و نه خوري. د الف لیله و لیله نکلونه ښایي په لس هاوو ځله لیکل سوي او وروسته بیا له ټولو لیکل سویو متنونو څخه یو متن جوړ سوی وي. ځیني نکلونه ښایي سل کاله او ځیني ښایي په سل هاوو کلونه د لوستو او نالوستو خلکو په خولو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځېدلي او بيا تر قلم او کاغذ پوري رسېدلي وي. په دې جريان کي نو هر ډول تاريخي اشتباهات نه يوازي ممکن بلکي حتمي دي. تاريخي اشتباهاتو ته ځکه ګوته نه سي نيول کېدلای چي فوکلوري نکلونه د تاريخي پېښو د تشريح کولو له پاره نه بلکي د اورېدونکو او لوستونکو د دلچسپۍ له پاره منځته راغلي وي. هر څومره چي به يو نکل په زړه پوري وو په هغه اندازه به ئې اوريدونکي زيات وه او په هغه اندازه به ئې د نکلچي او نکلچيانو خولې په غوړو کي وه. د مثال په ډول د الف ليلة و ليلة د نکلونو پيل د ساساني شاهنشاهانو څخه کېږي خو اورېدونکي يا لوستونکي دا پوښتنه نه سي کولای چي شهرزاده څرنګه يوه ساساني شهنشاه ته د هارون الرشيد پاچا د زمانې کيسې کوي؟ ځکه چي د ساسانيانو د وروستني پاچا د وژل کېدلو په زمانه کي خو د هارون الرشيد ور نيکه زېږيدلی نه وو. يا مثلاً که د يوه نکل لومړۍ جملې ته چي وايي د يونان په نوم يو پاچا چي د روم په مځکه کي د فارس په ښار کي واکمن وو! د نکل پيل يوه لويه تاريخي اشتباه ده. نو سړی بايد دا نکل بېخي و نه لولي. خو که سړی نکل واوري او يا ئې ولولي نو ګوري چي د نکل هدف د تاريخي حقايقو بيان نه بلکي پند او عبرت او د دې خبري کول دي چي يو پاچا، چي د خلکو د وژلو او له مرګ څخه د ژغورلو واک لري، څرنګه بايد په خپلو قضاوتونو کي له احتياط او عقل څخه کار واخلي او تش د وزير يا کوم بل حسود او مغرض په قول بېګناه انسانان قتل نه کړي.

الف ليلة و ليلة، چي زياتره پښتانه ئې الپ ليلا بولي، د هغو سلګونو نکلونو يوه مجموعه ده چي څه ئې په هند،ايران، افريقا او نورو سيمو کي ايجاد سوي او څه ئې پخپله په بغداد او دمشق کي وربانديٍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات سوي او يا په نورو سيمو کي پر ايجاد سويو نکلونو باندي له سره کار سوی او ليکل سوي دي. که څه هم چي ډېر څېړونکي او ليکوالان په دې عقيده دي چي دا نکلونه زياتره له هند څخه د عربانو ښارونو ته تللي او د هغوی په دربارونو کي ئې وروستی شکل اخيستی دئ، خو که سړی د نکلونو موضوعاتو او نومونو ته متوجه سي نو ګوري چي دې نکلونو، تر هغه چي د يوې سرچينې په باره کي ئې فکر وسي، د ډېرو زياتو کلتوري سيمو سفرونه کړي او ښايي د سل هاوو او لا زرهاوو کلونو په جريان کي بشپړ سوي او بيا ئې نو دغه وروستی شکل غوره کړی وي. البته وروستنی ترتيب سوی شکل ئې، چي تر موږ پوري رارسېدلی او په بېلو بېلو اروپايي او اسيايي ژبو ترجمه سوی دئ، عربي او اسلامي دئ. قهرمانان ئې زياتره مسلمانان دي حتی ډېري زياتي شاپيرياني، دېوان او پېرياني ئې مسلمانان دي، کليمه وايي او زياتره د نکلونو له قهرمانانو سره په داسي کارونو کي مرسته کوي چي د دوی له مرستي پرته ئې کېدل او عملي کېدل ممکن نه دي.

مشهور عرب مؤرخ مسعودي په خپل کتاب مروج الذهب و معادن الجوهر کي، چي څه باندي زر کاله مخکي ئې ليکلی دئ، وايي چي: دا افسانې له هندي، فارسي او رومي سرچينو څخه ترجمه سوي دي. دی وايي دا کتاب د هزار افسانه يا هزار خرافه په شکل ترتيب سوی دئ چي خلک ئې الف ليلة وليلة يا زر او يوه شپه بولي[1].

د مسعودي له ليکني څخه څرګندېږي چي د الف ليله و ليله په نوم نکلونه څه باندي زر کلونه مخکي د عربو په ټولنه کي رواج وه او د کتاب په شکل را غونډ سوي وه. له دې څخه مخکي د هزارافسان په

---

[1] مروج الذهب: لومړی ټوک – ۶۱۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم د نکلونو مجموعه موجوده وه. په دې حساب ښايي د دې نکلونو عمر، د کليله و دمنه په څېر، د ميلاد څخه مخکې کلونو ته ورسېږي. خو د الف ليلة و ليلة مشهور انګرېز مترجم ريچارډبرټن د دغې مجموعې په ملحقاتو کې د الطاف پر افسانه باندې د مقدمې په ترڅ کې ليکي چې اليکزانډر کوتيل Alexander J. Cotheal ما ته د دغې کيسې د قلمي نسخې يوه کاپي را واستوله او پر هغې باندې ليکل سوي وه چې دا يو کتاب دئ چې د پاچاهانو ډېرې زياتې افسانې او د الف ليلة و ليلة کيسې پکښې راغلې دي. ريچارډ برټن ليکي چې د کتاب په پای کې د نسخې د نقلولو نيټه راغلې ده چې په انګريزي حساب ۱۶۸۵ ميلادي کال کېږي. په دې حساب موږ ګورو چې پر دې کيسو باندې، لږ تر لږه، يو نيم زر کلونه کار سوی دئ. ځکه چې د الطاف په کيسه کې د کافي يادونه سوې ده او کافي پخپله تر پنځه سوه کاله زيات تاريخ نه لري. د الطاف د کيسې ليکوال يا نقلوونکی، د نورو زياتو فوکلوري کيسو د ليکونکو يا نقلوونکو په څېر، دونه بېخبره دئ چې د هارون الرشيد په زمانه کې د توپ يادونه کوي. په داسې حال کې چې توپ د هارون الرشيد له زمانې څخه (۱۷۰ – ۱۹۳)، چې د دوهمې هجري پېړۍ وروستي کلونه کېږي، لږ تر لږه پنځه پيړۍ وروسته د جنګونو، فتوحاتو او جشنونو ميدانو ته ورولوېدی.

دا چې الف ليلة و ليلة به څو ځله ليکله سوې او څو ځله به ئې ښايي ليکل سوي متنونه ورک سوي وي، موږ څه نه سو ويلای. که د هزار افسانه نوم قبول کړو نو د الف ليلة و ليلة د موجودو نکلونو مجموعه خو په هيڅ توګه زرو ته نه رسېږي او بايد چې ډېر نکلونه پاته وي چې بايد د نکلونو په دې لوی کتاب کې راغلي وای. او لا يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عقيده پر دې ده چي زر حتماً د زرو د عدد په معنی نه بلکي د ډېرو په معنی ده. داسي ويل کېږي چي شهرزادي زر کتابونه را جمع کړل، يعني ډېرې زيات کتابونه ئې راټول کړل[1].

په پښتنو کي، د زرو عدد لا څه چي، د سلو عدد ډېر لوی بلل کېدی: "پور چي تر سلو واوړي وچه ئې مه خوره" او يا دا چي: "سل په لالي پور دي دا يوه ئې پې د بنګړو". په کندهار کي، او ښايي په نورو پښتني سيمو کي به هم خبره دغه ډول وه، حتی د سلو حساب هم چا نه کاوه بلکي شل ډېر لوی عدد وو او خلکو به د اتيا پر ځای څلور تومنه يا څلور شلي او يا د يوسل څلوېښت پر ځای اووه تومنه ويل. په دې حساب ښايي هزارافسان هم تر زرو نکلونو ډېر کم وي او شهريار پاچا هم ښايي، خپلي خطا ته د متوجه کېدلو له پاره، دونه حوصله نه وي کړې چي زر او يوه شپه د خپلي مېرمني شهرزادي کيسو ته غوږ ونيسي.

د الف ليلة و ليلة نکلونه، د نورو ټولو فوکلوري کيسو په څېر، پر کاغذ باندي تر ليکل کېدلو مخکي په لس هاوو، او لا په سل هاوو، ځله خوله پر خوله سوي او تغيرات ئې ليدلي دي. په نکلونو کي د نومونو له مخي د بېلو بېلو کلتوري حوزو د نفوذ څرک لګولای سو. په نکلونو کي د هند، ايران، بين النهرين، مصر او تر يوه ځايه پوري د ترکانو څرک وينو. د سيندباد په څېر هندي نومونه، د علي بابا او خاتون په څېر ترکي نومونه، د شهرزاد، دنيازاد او شاه زمان په څېر ايراني نومونه پکښې وينو؛ البته زياتره نومونه عربي دي. خو د نکلونو له چوکاټ او د اوډلو له طرز څخه ئې هندی سبک له ورايه ښکاري. لکه ته بايد دا کار و

---

[1] انسايکلو پيډيا آف اسلام – لومړی ټوک: ۳۶۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کړې کنه نو د پلاني په څېر به له ستونزو سره مخامخ سې. مقابل لوری پوښتنه کوي چې د پلاني کیسه څرنګه وه؟ او دلته نکل پیل کېږي[۱].

ځینی ایراني محققین هم په دې عقیده دي چې د عربي الف لیلة و لیلة لومړنی اساس هغه هزارافسانه ده چې هندي ریښه لري. د دغو پخوانیو داستانونو ځیني برخي ښایي ایراني زردشتیانو له هندي سرچینو څخه اخیستي وي او ځیني نخښي ئې تر اوسه پوري په الف لیلة و لیلة کي پاته دي. دوی وایي داسي هم ویل کېږي چې دا کتاب تر هخامنشیانو مخکي په هند کي تالیف سوی او بیا د سکندر له زمانې څخه وروسته ایران ته راغلی او په زړه پارسي ترجمه سوی وي او هزار افسانه نوم ورباندي ایښودل سوی وي[۲].

په ایران کي د فوکلوري کیسو مشهور څېړونکی جلال ستاري وروسته لیکي: "ګواکي الف لیلة ولیلة، په دغه شکل چې همدا اوس زموږ په لاس کي دئ، د یوه سړي او یا یوه ملت او قوم تالیف نه دئ؛ دې کتاب د څو پېړیو په جریان کي د ټول عالم دوره کړې ده او په دې اوږده سفر کي ئې ډېر زیات عجایب لیدلي دي او له هغو څخه ئې یوه توښه برابره کړې ده. هر قوم او هري قبیلې د خپل ذوق سره سم یو څه ورباندي اضافه کړي او کله کله خو ئې یو بشپړ داستان پکښي ور زیات کړی دئ، او په ډېره اوږده زمانه کي دغه کمال ته رسېدلی دئ. شهرزادي د بېلو بېلو قومونو او ملتونو په ژبه خبري کوي. په دې توګه نو الف لیلة و لیلة، کتاب نه بلکي، یوه کتابخانه ده. یو لیکونکی نه

---

[۱] هغه کتاب: ۳۶۲ مخ.
[۲] افسون شهریار: ۵۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري بلکي ډېرو زياتو نکلچيانو برخه پکښې اخيستې ده او په منځنيو پېړيو کي د ټول ختيځ د اولسي ادبياتو يوه خزانه پکښي جمع سوې ده او موږ د پېړيو افسانې پکښي وينو. مګر سره له هغه چي پر ايراني نکلونو باندي عربي نکلونه زيات سوي او يا ورسره نښلول سوي دي، ويلای سو چي که د الف ليلة و ليلة اصلي سرچينه هند او ايران دئ د دې کتاب اوسنی شکل د مسلمانانو او عربانو د کار نتيجه ده، ځکه چي ډېر زيات داستانونه ئې عربو جوړ کړي او دې نکلونو ته ئې اسلامي بڼه ورکړې ده"[1].

ويل کېږي چي مسلمانانو د ايران د ښارونو او ولاياتو د پرله پسې فتوحاتو په لړ کي د ايران په زرهاوو قلمي کتابونه ځکه وسوځول چي فکر ئې کاوه زردشتي او خرافاتي عقايد پکښي راغلي دي. ښايي د هزار افسانه په نوم کتاب هم، چي ويل کېږي د الف ليلة و ليلة زياتره او يا ټولي کيسې ورڅخه اخيستل سوي دي، په دغه لړ کي سوځول سوی وي او موږ ئې هيڅ نسخه په لاس کي نه لرو. د الف ليلة و ليلة لومړنۍ کيسه، چي اصلي موضوع ئې د ښځو بې وفايي ده، د ايران له خاوري څخه پيل کېږي. د افسانې اصلي قهرمانان د ساساني کورنۍ دوه پاچاهان، شهريار او شاه زمان او د لوی پاچا يا شاهنشاه شهريار د وزير دوې لوڼې شهرزاد او دنيازاد دي. عرب کيسه ليکونکو د الف ليلة و ليلة د کيسو او افسانو دغه مقدمه او روح ښايي ځکه ايراني پاچاهانو او شهزادګانو ته منسوب کړی وي چي د خپلو ښځو له پاره ئې دومره بې وفايي او ناپاکي شرم او عار بللی وي. په ورپسې کيسو کي چي هر ځای د مجوسي يا زردشتي نوم يادېږي نو چنداني په ښه سترګه نه ورته کتل

---

[1] هغه کتاب: ۶۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي او حتی د زردشتي له نامه سره خولعنتي استعمالېږي.

اصلي کیسه له هغه ځایه پیل کېږي چې د ساسانیانو یو شاهنشاه، چې د چین او هند پر ټاپوګانو ئې حکومت کاوه، مړ کېږي او د هغه دوه زامن شهریار او شاه زمان پاته کېږي. شهریار د خپل پلار په پایتخت کې، چې نوم ئې معلوم نه دئ، پاچا کېږي او شاه زمان په سمرقند کې پاچا کېږي. شل کاله وروسته، شهریار غواړي چې خپل ورور شاه زمان ووینې؛ هغه خپل پایتخت ته وربولي. شاه زمان د خپل ورور د لیدلو له پاره د روانېدلو په شپه، ناڅاپه کور ته ستنېږي او هلته ګوري چې د ده ګرانه مېرمن د یوه حبشي غلام سره، د ده پر پالنګ پرته ده. خپله مېرمن او غلام دواړه وژني او په شنه زړه د خپل ورور پاچهۍ ته روانېږي. د خپل ورور په پاچهي کې له څه مودې تېرولو وروسته یوه ورځ، چې ورور ئې ښکار ته تللی دئ، خپله ورینداره ویني چې په شاهي باغ کې د یوه حبشي غلام سره مینه کوي. له هغې سره شل تنې ملګري سهیلیاني هم جامې باسي او دی ګوري چې هغه هم لس تنې د ملکې ملګري او نور لس تنه سپین مخي ځوانان دي او ټول په بېغمه زړونو په عیش لګیا کېږي. کله چې خپله کیسه او د ورینداري نکل خپل ورور ته کوي؛ او هغه ټوله کیسه پخپلو سترګو ویني نو دونه خواشینی کېږي چې خپل ورور شاه زمان ته وایي چې راځه د پاچهۍ څخه لاس واخلو او مخ پر غرونو او دښتونو ونیسو؛ ګوندي موږ داسي یو بل څوک هم پیدا کړو چې له هغه سره په دغه اندازه بې وفایي سوې وي او کنه نو تر دې ژوند خو مرګ بهتر دئ. دوی دواړه روانېږي او تر څو ورځو مزلونو وروسته یوه ورځ د دریاب پر غاړه ناست دي چې له لیري له اوبو څخه یو لوی دیب راوزي، چې یو لوی فولادي صندوق

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې پر سر نیولی دئ. دوی له بېرې یوې ګڼې ونې ته پورته کېږي. دیب له صندوق څخه یوه ښایسته مېرمن راباسي او د هغې پر زنګانه سر ایږدي او سمدستي په درانه خوب بیدېږي. ښایسته مېرمن، پاس په ونه کې، دوه پاچاهان ویني او له هغوی څخه د میني غوښتنه کوي؛ د دیب د راویښولو په تهدید ئې میني کولو ته مجبوروي. وروسته له دواړو څخه د هغوی انګشترۍ اخلي او له خپل جیب څخه پنځه سوه اویا انګشتري ورته را باسي او ورته وایي چې له دغسي لنډ وخت څخه په ګټې اخیستلو سره ئې له هر چا سره مینه کړې ده له هغه څخه ئې یوه انګشترۍ د نښانې په توګه اخیستې ده.

شاه زمان د دې پېښې تر لیدلو وروسته خپلې پاچهۍ ته روانېږي او ژمنه کوي چې بیا به هیڅکله واده و نه کړي او د ژوند تر پایه پورې به یوازې پاته سي. شهریار ژمنه کوي چې هره شپه به له یوې ښایستې پېغلې سره واده کوي او هغه به د واده په سهار وژني. ځکه چې، د ده په عقیده، د مځکې پر مخ یکې یوه پاکه ښځه نسته او په ښځې باور نه سي کېدلای. شهریار د خپلې مېرمنې، د حبشي غلام او د هغې د ټولو سهیلیو له وژلو څخه وروسته هري شپې واده کولو ته ملا تړي؛ هره شپه یوه ناوې وژني او په دې توګه درې کاله تېرېږي. د شهریار د وزیر لور شهرزاده د بېګناه نجونو د ژغورلو په منظور له پاچا سره واده کوي. خپلې خور دنیازادې ته وظیفه ورکوي چې هره شپه یا د شپې په پای کې له دې څخه د یوه نکل د اورولو غوښتنه وکړي. په دې ترتیب زر او یوه شپه تېرېږي او پاچا ته خدای درې اولادونه ورکوي او د پاچهۍ نجوني له حتمي مرګه ژغورلي کېږي.

د نکل په اساس، شهریار د ساساني شاهنشاهانو په لړ کې یو مقتدر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا دئ او د وزیر لور شهرزاده، د زرو کتابونو له لوستلو څخه وروسته، له هغه سره واده کوي او د واده له لومړۍ شپې څخه خپل نکلونه پیلوي. شهرزاده په خپلو زیاترو نکلونو کې هارون الرشید ته د یوه پخواني عادل پاچا یا خلیفه په توګه اشاره کوي. په داسي حال کي چي هارون الرشید د ساسانیانو د وروستي پاچا دریم یزدګرد د وژل کېدلو څخه څه باندي یوه نیمه پېړۍ وروسته پاچا سوی دئ. داسي نو د الف لیلة و لیلة تقریباً ټول نکلونه له تاریخي او جغرافیایي پلوه بې اعتباره دي او د دې ګڼو نکلونو د لیکل کېدلو او ترتیبېدلو په وخت کي، واقعیتونو ته د توجه پر ځای، ټاکلو اهدافو ته توجه سوې ده. فوکلوري نکلونه اکثر دغه ډول وي؛ خو لوستل ئې ځکه ګټه لري چي د هغوی څخه د یوه قوم یا کلتوري حوزې ذهنیتونه، د کلتوري ودي اندازه، کله کله د تاریخ ډېري تاریکي پاڼي او پېښي، چي په لیکلو تاریخونو کي یا نه وي راغلي او یا له منځه تللي وي او دغه راز په یوه پراخه سیمه کي پر یوې او بلي کلتوري حوزې باندي د متقابلو اغېزو او اړیکو په باره کي ګټور معلومات راکوي.

د مسعودي په تاریخ کي د الف لیلة و لیلة د نامه له یادېدلو څخه مونږ اټکل کولای سو چي د دې نکلونو لیکل کېدل او یا له فارسي څخه، د ډېرو زیاتو نکلونو ترجمه کېدل به د هارون الرشید او د هغه د زوی مامون الرشید په وختونو کي، چي د عباسي خلافت طلایي عصر دئ، پیل سوي وي؛ مګر د الطاف په نوم نکل کي، چي د هارون الرشید زمانې ته منسوب کړه سوی دئ، د توپ یادونه، چي د هارون له زمانې څخه تقریباً پنځه پېړۍ وروسته د جنګونو میدانونو ته را ووت، او دغه راز په همدغه نکل کي د کافي یادونه چي ایله د پنځلسمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېړۍ په نیمایي کي، یعني د هارون الرشید له زمانې څخه زیات و کم اووه سوه کاله وروسته استعمال سوه، دا ښیي چي پر دې نکلونو باندي تر زر کاله زیات کار سوی، او د نني ورځي شکل ئې اخیستی دئ. دا نکلونه په عمومي صورت دوې برخي لري. یوه ئې داستاني برخه ده، چي نکلچیانو د خپلي غوښتني او طبیعت سره سم په نکلونو کي زیاتی او کمی راوستلی دئ. چي زړه ئې غوښتي دي، یا ئې خپلو قهرمانانو ته پر دې دنیا جنتونه جوړ کړي او یا ئې داسي بدمرغۍ ور په برخه کړي او د داسي ستونزو او مشکلاتو سره ئې مخامخ کړي دي چي سړی ئې پر دې دنیا دوږخ بللای سي. بله ئې ادبي او په تېره بیا منظومه برخه ده، چي په دغه لطافت او ښایست ئې سینه پر سینه انتقالېدل غیر ممکن دي او باید چي قلم پر قلم انتقال سوي او لیکل سوي وي او یا وروسته جلا کار ورباندی سوی وي.

الف لیلة و لیلة زیاتره د کلیله و دمنه په شکل ترتیب سوې ده؛ دا نکلونه، که څه هم، په لومړي سر کي د سات تېري او د ژمي د اوږدو شپو د تېرولو وسیله ګڼله کېږي، خو چي سړی ورته ځیر سي تقریباً ټول نکلونه د خاصو اهدافو له پاره لیکل سوي دي. د شهریار په څېر یوه ظالم شنهشاه سره، چي هره شپه له یوې ښایستې نجلۍ سره واده کوي او سبا ته ئې وژني، او په دې توګه د خپلي ښایستې مېرمني د خیانت کسات د بېګناه نجونو څخه اخلي، د شهرزادي د واده کولو فیصله پخپله ښیي چي ورپسې باید داسي نکلونه راسي چي پاچا ته باید دونه په زړه پوري وي چي که د نکل نیمایي برخه نن شپه واوري باقي پاته برخه ئې باید ورڅخه پاته نه سي. په نکلونو کي باید دونه پندونه نغښتي وي چي شهریار ته دا ثابته کړي چي ټولي ښځي په یوه رنګ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي او په اصطلاح په ځنګله کې کېږي او سمي لښتي سته. البته ټولي کيسې د ښځو پر وفا او پاکۍ باندي شاهدي نه ورکوي او شهرزاده په پنځمه شپه د سوداګر د هغې ښځي کيسه کوي چي د مېړه په غياب کې له بل سړي سره جوړه ده؛ او سوداګر د خپلي ښځي په شيطانت خپل هغه هوښيار طوطي وژني چي د هغه د ښځي د ناروا اړيکو کيسه ئې ورته کړې ده. شهرزاده د نکلونو په جريان کې د نورو داسي ښځو يادونه هم کوي چي کړه وړه ئې د پاکو ښځو سره مناسب نه دي. ګواکي تر يوې اندازې ئې د انډول د ساتلو کوښښ کړی دئ؛ او يوازي د ښځو د مدافع وکيلي حيثيت نه لري. حتی د نکلونو د پيل کېدلو په ديارلسمه شپه خو يو شهزاده هغه پيريان ته چي دی ئې د خپلي معشوقې د خوب په خونه کې نيولی دئ او د هغې ښځي د سر پرې کولو امر ورته کوي چي د شهزاده د سر پرې کولو په برخه کې ئې د پيريان امر نه دی منلی، وايي چي اې غښتلې او قهرمان پيريانه! که يوه ښځه چي نه عقل او نه وفا لري زما د سر له وهلو څخه انکار کوي او دا کار ناروا او غير قانوني بولي؛ زه څرنګه، د يوه نارينه په حيث، د داسي ښځي، چي په ژوند کې مي ليدلې نه ده، سر پرې کړم؟

څرنګه چي په نکلونو کې پاچا پر غوړ وهل کېږي نو زياتره نکلونه د پاچاهانو د اجراآتو په باره کې دي. ګواکي شهريار ته دا ښيي چي د ظالمو او بې عقلو پاچاهانو عاقبت څومره خراب دئ او بې عقلي او بېځايه ظلم څومره پښېماني لري. په تقريباً ټولو او يا زياترو نکلونو کې د خير او شر، حرص او قناعت، مردۍ او نامردۍ تر منځ جګړه روانه ده او په تقريباً ټولو نکلونو کې د ښو پله درنه او برۍ ئې په برخه وي.

د حکيم دوبان په نوم يو ماهر طبيب د يونان په نوم يوه پاچا، چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فارس په ښار کې د روم پر مځکه!! حکومت کوي، د جزام د ناعلاجه ناروغۍ علاج کوي. پاچا روغ رمټ کېږي او د حکیم دوبان ډېر زیات عزت کوي. د هغه قدر ورځ په ورځ دونه زیاتېږي چې حسود وزیر ئې تحمل نه سي کولای. وزیر پاچا ته وایي دا حکیم چې د دونه سختې ناروغۍ علاج ئې په وس پوره دئ سبا کولای سي چې تا له منځه هم یوسي. دا په اصل کې ستا د دښمنانو جاسوس دئ او هغوی ستا د تباهۍ له پاره رالېږلی دئ. پاچا د خپل حسود وزیر په قول کوي او د بېګناه حکیم دوبان سر ورڅخه پرې کوي. خو پخپله هم سزاویني. ځکه د هغه کتاب د پاڼو د اړولو له پاره، چې حکیم دوبان په زهرو لړلی دئ، څو ځله خپله ګوته په ناړو لندوي او ځای پر ځای مري. په دې توګه پاچا د خپل ظلم له امله خپله سزا ویني. البته نکل د ډېرو بېخبرو نکلچیانو په وسیله انتقال سوی دئ. ځکه چې یونان پاچا، د روم په مځکه کې د فارس په ښار کې، په هیڅ توګه نه سره لګېږي. خو هغه درس پکښې راغلی دئ چې د یوه مستبد پاچا له پاره عبرت سي، او بېګناه کسان قتل نه کړي.

د دوهم قلندر په نکل کې، چې د الف لیلة و لیلة په دیارلسمه شپه راځي، پاچا دونه بې عقل او ساده دئ چې یوه بیزو شپږ ډوله عربي خط لیکي، د پاچا په مخ کې پر کاغذ باندي دونه ښایسته شعرونه لیکي چې د لویو ادیبانو او شاعرانو کار دئ او بالاخره حتی پاچا په سطرنج کې ماتوي، خو پاچا لا بیا هم فکر کوي چې هغه یوه عجایبه بیزو ده چې په ډېرو پیسو ارزي. البته دا هغه په زور، کمال او ښایست مغرور شاهزاده دئ چې تصادفاً د یوه پیریان یا دیو پر محبوبا باندي پېښ سوی او له هغې سره ئې څو شپې تېري کړي دي. پیریان خپله هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبوبا چي د واده په شپه ئې تښتولې ده، وژني او له شهزاده څخه په خپل منتر او جادو بيزو جوړوي.

د الف ليلة و ليلة په نكلونو كي، پاچاهان معمولاً عياش او زياتره بې عقلان وي. د مملكت ټولي چاري د وزيرانو په لاس كي وي، چي معمولاً هوښيار او كله كله ډېر شيطان خلك وي او پاچا ته غولوونكي او كله كله تباه كوونكي مشورې وركوي. د ابو تمام په نوم يو سوداګر د يوه ظالم پاچا په مملكت كي ژوند كوي، چي هغه پاچا د ده پيسو ته سترګي خړې كړي دي؛ نو دی د هغه له ويري د عليان شاه په نوم يوه پاچا هيواد ته كډه كوي او د هغه پاچا خدمت كوي. د پاچا وزيران د هغه سره حسد پيدا كوي او د منځه وړلو په فكر كي ئې كېږي. بالاخره د هغه دوه ښايسته غلامان په رشوت تېرباسي او د هغوی په وسيله ئې د پاچا تر غوږه ور رسوي چي ابو تمام د پاچا له نوي مېرمني سره جوړ دئ. پاچا، له تحقيق او پوښتنو پرته، ابوتمام وژني او وروسته متوجه كېږي چي د هغه وينې ئې ناحقه توی كړي دي. وروسته خپل وزيران هم وژني خو پښېماني ګټه نه كوي.

پاچا په جنجالي موضوعاتو كي، په منطق او استدلال نه قانع كېږي بلكه د هغه د قناعت حاصلولو له پاره بايد د پند او عبرت كيسې ورته واورولي سي. خو بدي په دې كي ده چي پاچاهان دومره بې عقلان وي چي د هري كيسې له اورېدلو سره ئې عقيده تغير كوي، او سمدستي د خپلي پخوانۍ فيصلې په خلاف بل تصميم نيسي. الف ليلة و ليلة اصلاً د دغه هدف له پاره ترتيب سوې ده چي پاچاهانو او د قدرت خاوندانو ته وښيي چي ظلم، بې عدالتي او پر غلطو مشورو غوږ نيول ډېر خراب عواقب لري او واكمنان خدای تعالی د خپلو خلكو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقوقو څخه د دفاع له پاره ګومارلي دي. دغه علت دئ چي په الف ليلة وليلة کي چنداني د خوارانو د ژوند له طرز سره نه مخامخ کېږو او د نکلونو ټوله توجه د پاچاهانو، وزيرانو او واکمنانو خوا ته ده. ځکه چي د نکلچيانو په فکر، عادي خلک او خواران د ظلم په کولو او د ظلم په مخ نيولو کي چنداني اثر نه لري. څه چي ليکل کېږي او يا ويل کېږي نو مخاطب ئې بايد هغه کسان وي چي سمي لاري ته په راتللو ئې ټولنه پر سمه لاره روانېږي.

که څه هم چي د الف ليلة و ليلة تقريباً ټول پاچاهان او وزيران مسلمانان دي؛ خو د هغوی په مجلسونو کي شراب چښل کېږي او حتی د نکلونو د پيل په لسمه شپه، چي خليفه هارون الرشيد د خپل وزير جعفر او خپل وفادار غلام او سرجلات مسرور سره د بغداد د ښار د خلکو د حالاتو معلومولو له پاره د شپې بهر ته وتلی دئ او د دريو ښايستو مېرمنو پر قصر باندي ور برابرېږي؛ هلته جعفر او مسرور او په مجلس کي ناست ټول نر اوښځي شراب چښي او يوازي خليفه د حج د نيت کولو په پلمه د شرابو څخه پرهېز کوي. که څه هم په نورو ځايونو کي خليفه هم له جعفر سره يو ځای شراب چښي. څرنګه چي الف ليلة و ليلة د پاچاهانو او اشرافو له پاره ترتيب سوي نکلونه دي او پخوانيو سلطانانو او پاچاهانو زياترو ډېر زيات شراب چښل، نو ځکه په نکلونو کي هم ډېر زيات راغلي دي.

نظام الملک طوسي په سياست نامه کي ليکي: "... او دا چي هر څوک خپله صراحي ورسره راوړي او خپل ساقي ورسره راولي دا روا کار نه دئ، دا هيڅ وخت عادت نه وو او سخت ناوړه کار دئ. ځکه چي هر وخت د خوړلو شيان، شېريني او شراب د پاچاهانو له کورونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړل کېدل نه دا چي د پاچاهانو کورونو ته وړل کېدل. ځکه چي سلطان د خپل قلمرو مشر دئ او اولس د هغه اولاد دئ، نو دا لازمه نه ده چي د پاچا کور ته د خپل عيال له کوره خواړه او شراب يووړل سي"[1].

نظام الملک طوسي د سلطان محمود په دربار کي د شرابو د چښل کېدلو په اړه يوه په زړه پوري کيسه لري او ليکي چي: "ويل کېږي چي سلطان محمود يوه شپه د خپلو نږدېو کسانو سره شراب چښلي وه او سهار وختي ئې هم د شرابو شوق کړی وو. علي نوشتګين او محمد عربي، چي د سلطان سپه سالاران ول، په هغه مجلس کي حاضر ول او کرۍ شپه ويښ وه او له سلطان محمود سره ئې شراب چښلي وه. د غرمې پر مهال د علي نوشتګين سر دروند سو او د شرابو افراط اثر ورباندي وکړ. له سلطان څخه ئې کور ته د تللو اجازه وغوښتله. سلطان ورته وويل چي دا ښه کار نه دئ چي په دا سپينه ورځ په دغه حال او مستي کي دباندي وزې. تر مازديګر پوري دلته پاته سه او چي نشه دي ولاړه ته هم ولاړ سه. که په دغه حال کي دي محتسب په بازار کي ووينې او په درو دي ووهي. ته به هم بې آبه سې، زه به هم غمجن سم او هيڅ به ويلای نه سم.

علي نوشتګين د پنځوسو زرو سپرو سپه سالار وو؛ د خپل وخت تر ټولو زړه ور افسر وو. د هغه په زړه کي دا نه ور تېرېدل چي يوه ورځ به ئې محتسب را ګرځوي. پر خپله خبره ټينګ سو او د کور پر لور روان سو. سلطان محمود وويل چي نه پاتېږي نو پرې ئې ږدئ چي ولاړ سي. علي نوشتګين د خپلو غلامانو او چاکرانو سره د خپل کور پر لور

---

[1] سياست نامه: ۱۴۶ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان سو.

یو ناڅاپه محتسب له خپلو سلو سپرو سره په بازار کي ورباندي پېښ سو. کله چي ئې علي نوشتګين په داسي مستي او نشه حالت کي وليدی نو امر ئې وکړ چي له آسه ئې راکښته کړي. يو تن ئې پر سر کښينستی او بل ئې پر پښو، او په خپل لاس ئې څلوېښت دُرې ورواهه...

سبا چي د سلطان حضور ته ورغی. سلطان د محتسب په باره کي پوښتنه ورڅخه وکړه. ده خپله ملا ورښکاره کړه چي تغمې تغمې وه. سلطان وخندل او ورته وې ويل چي توبه وکاږه چي بيا هيڅکله له کور څخه مست بهر ته و نه وزې"[1].

عنصر المعالي په خپل کتاب قابوس نامه کي، چي د غزنوي سلطانانو په عصر کي ئې ليکلی دئ وايي: "... مګر د شرابو چښل په مازديګر کي پيل کړه. تر څو چي پر تا باندي مستي غلبه کوي، شپه به رارسېدلې وي او خلک به ستا مستي نه ويني... او په دښت او په باغ کي چنداني شراب مه چښه او که ئې چښې نو ځان مه نشه کوه. کله چي کور ته راغلې نو بيا په کور کي مستي کوه. ځکه هغه کارونه چي تر چت لاندي کېږي تر آسمان لاندي نه سي کېدلای"[2].

که څه هم چي، د الف ليلة و ليلة تقريباً ټول نکلونه د ناممکناتو يوه مجموعه ده. د نکلونو قهرمانان، چي زياتره شهزاده ګان او د وزيرانو زامن وي، د داسي خنډونو او ستونزو سره مخامخ کېږي چي پر هغوی باندي غلبه کول په هر صورت ناممکن کار دئ. انسانان د

---

[1] پورته ماخذ: ۵۲ – ۵۳ مخونه.

[2] قابوسنامه: ۶۸ – ۶۹ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېوانو په جنګونو ورځي، کلونه کلونه په غرونو او دښتونو کي پیاده مزلونه کوي، د دریو سوو میاشتو یا پنځه ویشتو کالو مزل په لس ورځي وهي، اوومي مځکي ته کښته کېږي او بیرته را پورته کېږي، او کله کله سړی د دې دونه غیرممکناتو د نکلونو له لوستلو څخه ستړی سي خو په دې نکلونو کي ډېر داسي شیان سته چي اوس هم د پند او عبرت له پاره کار ورڅخه اخیستل کېدلای سي او د عادي نکلونو په ترڅ کي د پخوانیو وختونو ځیني اسرار ورڅخه معلومولای سو. ځینو پېښو ته سړی په لومړي نظر کي د نکل په سترګه ګوري خو کله چي تاریخي متونو ته مراجعه کوي نو ګوري چي په نکلونو کي واقعیتونو کټ مټ انعکاس کړی دئ.

یوه خبره چي موږ د الف لیلة ولیلة په نکلونو کي ورسره مخامخ کېږو هغه جنسي انحراف دئ چي د پاچاهانو څخه نیولې تر شتمنو خلکو پوري تقریباً هر څوک په اخته دئ. د عیلان شاه او ابو تمام په نکل کي موږ ګورو چي پاچا هره شپه د ښایستو هلکانو پر زنګانه یا په غیږ کي بیدېږي، او دا په داسي حال کي ده چي پاچا عیلان شاه تازه د ترکستان د پاچا د هغې ښایستې لور سره واده کړی دئ چي په سوونو شهزاده ګانو او ښایستو ځوانانو د هغې د تر لاسه کولو په لاره کي سرونه بایللي دي. د ابراهیم او جمیلې په نکل کي، چي د شهرزادي د نکلونو په نهه سوه درو پنځوسمه شپه کي راځي، کله چي ابراهیم د جمیلې د پیداکولو او لیدلو له پاره بغداد ته نژدې یوه ښار ته رسېږي هلته ګوري چي یو محترم او ښکلی سړی ناست دئ. ډېر قیمتي کالي ئې په ځان کي دي او پنځه داسي غلامان ورته ولاړ دي چي هر یو ئې لکه سپوږمۍ داسي ځلېدی. په همدغه نکل کي بل ځای ګورو چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابراهیم د بصرې په ښار کې یو خیاط ویني چې لس تنه داسې غلامان لري چې هر یو ئې د سپوږمۍ په څېر ښکلی دئ. ابراهیم خپل یو جیب، چې قصداً ئې څیرلی دئ، په خیاط ګنډي او هغه ته پنځه دیناره مزدوري ورکوي، چې خیاط ئې په یوه هفته کې نه سي ګنډلای. یوه ورځ وروسته بیا د هغه خیاط دوکان ته ورځي او د جېب د ګنډلو په بدل کې لس دیناره ورکوي. خیاط ورته وایي چې ځوانه ته باید ما ته خپل مطلب ووایې. که په دې هلکانو کې پر یوه مین سوی یې نو دا ټول ستا غلامان دي. ځکه ته تر دوی ټولو ښایسته یې او دوی ټول ستا د پښو خاورو ته نه رسېږي. د الف لیلة و لیلة په مقدماتي نکل کې ګورو چې د شاه زمان پاچا له لسو کنیزو یا همبسترو ښځو سره لس تنه سپین پوستي ځوانان ملګري دي، چې ټولو د ښځو جامې اغوستي دي. طبیعي خبره ده چې دا ځوانان باید ټول ښایسته هلکان وي، چې شاه زمان د خپلو جنسي غرایضو له پاره استخدام کړي وي. ځکه چې په ډېره خلک د ښځو په جامو کې نه سي ګرځېدلای.

د عباسیانو په زمانه کې د هارون الرشید د زوی امین الرشید د زمانې څخه نیولې بیا تر لویو سلطانانو پورې ډېر زیات پاچاهان په دغه جنسي انحراف اخته وه او څرنګه چې "النّاس علی دین ملوکهم" نو لویو سپه سالارانو او اشرافو هم د خپلو پاچاهانو لاره تعقیبوله. د پاچاهانو منظمو پوځونو په لویو ښارونو او کلیو کې ځوانان نیول او د غلامانو په بازارونو کې ئې خرڅول. ښایسته هلکان ئې خصي کول او د پاچاهانو په دربارونو او لویانو په کورونو کې په حمامونو او د شرابو او ساز په مجلسونو کې استخدامېدل او په لسهاوو ښایسته غلامان به د پاچاهانو او خلیفه ګانو د خوب په اتاق کې ځیني بیده او ځیني ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه.

عنصرالمعالي په قابوس نامه کي د غلام د اخیستلو په برخه کي د هر ډول غلام خصوصیات تشریح کوي او د هغو غلامانو په باره کي چي د خلوت او معاشرت په نیت رانیول کېږي ډېري زیاتي توصیې کوي او وایي چي غلام باید نه جګ وي نه ګردی وي، نه ډېر چاغ وي نه ډېر ډنګر وي، پوست او تن ئې نرم وي، شونډې یې سرې وي او...[1].او وروسته لیکي چي هر کله د غلام د اخیستلو په نیت بازار ته ځې نو باید چي لومړی خپل شهوت تسکین کړې او بیا غلام رانیسې ځکه چي شهوت به بدرنګه غلام ستا تر ستر ګو ښایسته کړي[2].حتی دا لا هم وایي چي د ښځینه او نارینه غلامانو څخه یوازي یوه جنس ته میلان مه ښکاره کوه، څو له دواړو څخه خوند واخلې او یو جنس درته دښمن نه سي[3].وروسته وایي چي د دوبي په موسم کي باید له نارینه غلام او په ژمي کي د ښځینه کنیزو څخه کار واخیستل سي[4].

د سلطان محمود په دربار کي به څلور زره ترکي ښایسته لغړزني غلامان ولاړ وه. دا غلامان به د عام دربار په ورځ دوه زره راسته خوا ته ولاړ وه. څلورپره خولۍ ئې پر سر وې او د سرو زرو ګروزونه به ورسره وه او دوه زره به پر چپه طرف ولاړ وه؛ دوه پره خولۍ به ئې پر سر وې او د سپینو زرو ګروزونه به ورسره وه[5].

د هارون الرشید زوی خلیفه امین الرشید د غلمان سستم رواج کړ

---

[1] قابوس نامه: ۱۱۲ مخ.

[2] هغه کتاب: ۱۱۸.

[3] هغه کتاب: ۸۶ مخ.

[4] پورته اثر: ۸۷ مخ.

[5] Muslim Slave System, p 106.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د ښايستو غلامانو څخه ئې ناروا جنسي استفاده کوله. د هغه يوه قاضي څلور سوه ښايسته غلامان درلودل. شاعرانو به د خپلو پيسو او انعامونو تر لاسه کولو له پاره دغو پې مخو غلامانو ته قصيدې ويلې[۱].او په شعر کي ئې د خط ستاينه رواج کړه.

د علاءالدين خلجي جنرالانو پر ګجرات باندي په حمله کي د نورو غنايمو تر څنګ د راجا کرن معشوقه کملاديوي او د هغه ښايسته غلام ملک کافور هزار ديناري هم تر لاسه کړل. سلطان پر دواړو مين سو. کمله ديوي ئې ګويا مسلمانه کړه او د ملک کافور له پاره ئې زنار غاړي ته واچاوه[۲].

ضياء الدين برنی ليکي چي د سلطان علاء الدين خلجي په زمانه کي د يوه ښايسته هلک يا نجلۍ بيه له شلو څخه تر څلوېښتو ټنګو پوري رسېدله خو د هغه د زوی قطب الدين مبارک شاه په زمانه کي، چي فسق او فساد زيات سو او له پاچا څخه نيولې تر اشرافو پوري ټول په فسق لګيا وه نو د ښايستو پې مخو غلامانو او ښايستو کنيزو بيه له پنځو سوو څخه تر دوو زرو ټنګو پوري لوړه سوه[۳].

عنصرالمعالي د سلطان مسعود د ښايستو غلامانو په باب يوه کيسه کوي او وايی چي: په غزني کي مي واورېدل چي د سلطان مسعود په خزانه کي لس غلامان وه چي د سلطان د جامو ساتلو او ترتيبولو وظيفه ئې درلوده. په دوی کي يو انوشتګين نوبي نومېدی. پر سلطان مسعود باندي هغه ډېر ګران وو. څو کاله هيڅوک پوه نه سول چي پر سلطان

---

[۱] هغه کتاب: ۱۰۵مخ.

[۲] هغه کتاب: ۱۰۷مخ.

[۳] تاريخ فيروز شاهي: ۵۵۵مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندي په دې لسو غلامانو کي کوم يو ډېر ګران دئ. په دې لسو غلامانو کي هم څوک پوه نه سول چي د سلطان معشوق څوک دئ او نظر ئې پر چا دئ. تر څو چي پنځه کاله وروسته ئې يوه ورځ د شرابو په نشه کي تر خولې ووتله چي هر څه اقطاعات او تنخواوي چي زما پلار اياز ته ورکړي وې هغه د انوشتګين نوبي په نوم وليکئ. وروسته خلک پوه سول چي د سلطان معشوق انوشتګين نوبي دئ[1].

څرنګه چي د الف ليلة و ليلة نکلونه د همدغو سلطانانو او پاچاهانو په وختونو کي ترتيب سوي او ليکل سوي دي نو ځکه دغو ترخو واقعيتونو ځای پر ځای انعکاس پکښې کړی دئ. يوازي د پاچاهانو په دربارونو کي نه بلکي د يوه خياط په دوکان کي هم د لسو ښايستو هلکانو سره مخامخ کېږو چي هر يو ئې د سپوږمۍ په څېر ځلېږي.

که څه هم چي شهرزادي له شهريار سره د دې له پاره واده کړی دئ چي بېګناه ښايستې نجوني د پاچا له غضب څخه وژغوري او هغه ته وښيي چي ټولي ښځي په يوه رنګ نه دي؛ او په دې اساس نو بايد چي د الف ليلة و ليلة ټول يا زياتره نکلونه پر دغي موضوع راڅرخېدلای او ښځي ته ئې ډېر اوچت مقام ورکړی وای. مګر د الف ليلة وليلة د نکلونو تقريباً ټول مهم رول د نارينه په لاس کي دئ. نارينه د دېوانو په جنګ ورځي. پاچاهي جوړوي او خرابوي، د ميني په اور سوځي او د خپلي ميني تر لاسه کولو له پاره د کوه کاف په څېر نامعلومو او خطرناکو ځايونو ته ځي، ګواکي هر څه چي کېږي هغه يا نارينه کوي او يا د نارينه له پاره کېږي . خو د نارينه په مقابل کي ښځه په نکلونو کي چنداني اوچت مقام نه لري يوازي ښايسته ده او يوازينۍ وظيفه ئې د خپل مېړه

---

[1] قابوس نامه: ۸۴مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او محبوب خوشحاله ساتل او وفا ده. حتی د نکلونو په نهمه شپه خو، د پلنډي او د بغداد د دریو مېرمنو په نکل کي، درې ښایستې مېرمني دونه سپین سترګي او لوڅي شهوتي خبري کوي چي په پښتو ژبه کي ئې ترجمه تقریباً غیر ممکنه ده او دا ټولي لوڅي خبري یوازي د نارینه وو د سات تېري لپاره لیکل سوي او د ښځو حیثیت او حیا په نظر کي نه دي نیول سوي. د دې تر څنګ لا په ډېرو زیاتو نکلونو کي د ښځو د بې عقلۍ او شیطانت په وجه مېړونه بدبخته کېږي او د دوی بې عقلي د لویو پاچاهیو د تباهۍ سبب کېږي. د الف لیلة ولیلة د نکلونو په نهه سومه شپه د جلي یاد پاچا کیسه راځي، چي د نورو ټولو نکلونو په څېر، له مبالغو څخه ډکه ده. جلي یاد په هند کي پاچا دئ، چي هم په ځان غښتلی، هم په عقل هوښیار او هم عادل دئ او رعیت ټول ورڅخه خوشحاله دي. دوه اویا پاچاهان ئې تر لاس لاندي دي، درې سوه ښارونه، پنځوس قاضیان، اویا تنه وزیران لري. د ټولو اویا تنو وزیرانو مشر یا صدراعظم ئې شیماس نومېږي. خو کله چي ئې پاچهي د ده زوی ویرد خان ته پاتېږي نو هغه خپل حرم له ښځو ډکوي او له سهاره تر ماښامه خپل وخت په عیش او نوش تېروي. شیماس د نورو وزیرانو په سلا هغه ته وایي چي باید د رعیت له حاله ځان خبر کړي او ټول عمر په حرم کي تېر نه کړي. د ښځو مشورو او خبرو ته غوږ و نه نیسې، او نه د هغوی په عقل او قضاوت باور وکړې. شیماس ورته وایي ما اورېدلي دي چي ډېر زیات مېړونه د خپلو مېرمنو د لاسه تباه سوي دي. خو کله چي ئې تر ټولو ګرانه او ښایسته مېرمن خبرېږي نو هغه خپل مېړه ته وایي چي د شیماس او نورو وزیرانو پر تا باندي ښه ژوند پېرزو نه دئ. د الف لیلة و لیلة د قاعدې سره سم، د پاچا د قناعت د حاصلولو له پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو له پند او یا عبرته ډک، نکل شیماس او بل ئې مېرمن ورته کوي او په پای کي، په نهه سوه یودېرشمه شپه، میدان مېرمن ګټي. شیماس او نور ټول هوښیار وزیران او مشران په پاچا ویرد خان وژني. د پراخ مملکت څخه د دفاع له پاره نه هوښیار سړی او نه یو زورور سپه سالار پاتېږي. یو بل زورور پاچا بالاخره حمله وروباندي کوي او مملکت ئې ورڅخه لاندي کوي. نتیجه دا راوزي چي که پاچا ویرد خان د خپلي ګراني مېرمني پر ځای د شیماس وزیر په قول کړي وای د تباهۍ څخه به ژغورل سوی وای. د نکلونو په پنځه سوه اته اویایمه شپه د ښځو د چلونو او شیطانتونو په نوم یو نکل راځي. د پاچا یوه ښایسته کنیزه، د پاچا له ښایسته زوی سره مینه پیدا کوي، خو چي هر څه کوښښ کوي هغه ئې لاس ته نه ورځي. بالاخره پاچا ته شکایت کوي چي زوی ئې په بده سترګه ورته کتلي او جامې ئې ورڅیرلي دي. پاچا د خپل زوی د وژلو امر کوي. وزیر د هغه د ژغورلو تلاښ کوي او بیا د معمول په څېر د وزیر او ښایستې کنیزي تر منځ د نکلونو سلسله پیلېږي. پاچا، د معمول سره سم بې عقل دئ، چي د هر یوه کیسه اوري تصمیم ئې تغیر کوي. بالاخره وزیر میدان ګټي او ښایسته کنیزه، چي هم ئې درواغ ویلي او هم ئې د خپل مېړه سره بې وفایي کړې او د پاچا له زوی سره ئې، چي په یوه حساب د دې اولاد هم بلل کېږي، د غیر مشروع جنسي اړیکو د ټینګولو تلاښ کړی دئ، په سزا رسېږي.

تقریباً ټولو هغو ښځو ته چي د مېړه سره بې وفایي وکړي د مرګ سزا ورکوله کېږي. خو د مسرور او زین المواصف په نوم داستان کي، چي مسرور یو عیسوی او زین المواصف یوه مړوښې یهودۍ ښځه ده، د غیر مشروع میني او اړیکو درلودل عادي کار ګڼل سوی دئ. دا نکل د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریچارډ برټن په انګلیسي متن کې په اته سوه شپږ څلوېښتمه شپه کې پیلېږي او تر اته سوه څلور شپېتمې شپې پورې دوام کوي. د نکل له متن څخه د سوځنده میني لمبې پورته کېږي. زین المواصف دونه ښایسته مېرمن ده چې هر څوک ئې ووینې په یوه ځل لیدلو داسې ورباندې مین کېږي چې خوب او خوراک پر حرام سي. د هغې مېړه په دغو غیر مشروع اړیکو خبرېږي او خپله مېرمن د یوه کال په مزله لیري بیایي. زین المواصف له خپل معشوق سره لیکونو ته دوام ورکوي او مېړه ئې فیصله کوي چې پښو ته ئې زولنې واچوي. خو مېرمن ئې یوه شپه چې مېړه ئې د واده یوې مېلمستیا ته تللی دئ، د ښار څلورو قاضیانو ته جلا جلا ورځي او خپل حال ورته وایي. څلور سره قاضیان پر هغې باندې زړونه بایلي او هر یو ورته وایي چې له مېړه څخه به ئې طلاق ورواخلي خو په دې شرط چې له ده سره به واده کوي. دا له څلورو قاضیانو سره د واده کولو ژمنه کوي او په هغه شپه له ښار څخه تښتي. قاضیان د هغې د بېلتانه له غمه ټول مري او زین المواصف خپل ځان خپل محبوب ته رسوي. څرنګه چې دا نکلونه ټول په اسلامي محیط کې لیکل سوي دي، نو د دې ناروا میني د بریالي کېدلو او له سزا څخه د ژغورل کېدلو له پاره پرته له دې چې مرتکبین ئې عیسوی او یهودي ده بله هیڅ لاره نه سي جوړېدلای.

داسې نو د الف لیلة و لیلة ټول نکلونه له دغه راز کیسو څخه ډک دي. په څرګنده ښکاري چې، د نورو زیاترو فوکلوري نکلونو په څېر، د الف لیلة و لیلة نکلونه هم یوازې نارینه وو ترتیب کړي دي او چې د ښځو له پاره ئې هر ډول رول خوښ سوی دئ هغه ئې ورته انتخاب کړی دئ. په عمومي صورت ښځه له ښایسته پرته، چې هغه هم د نارینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پاره دئ، بل چنداني صفت نه لري او نارینه د دغه ښایسته او نازک مخلوق د تر لاسه کولو له پاره هغه کارونه کوي چي کله کله عقل ورته عاجز سي. په زړه پوري خبر دا ده چي د الف لیلة و لیلة د سوځنده مینو دا داستانونه د عربو د مجنون او لیلی، د ایران د فرهاد او شیریني، وامق او عذرا او ویس او رامین په څېر افسانو تر اغیزي لاندي نه دي راغلي. هیڅ عاشق او معشوق د یوه بل په دایمي هجران او بېلتون کي له غمه نه مري. میني که هر څونه اورنۍ وي او شهزاده ګان چي په خپلو معشوقو پسي، چي زیاتره یا پر تصویر مین سوي او یا ئې د جمال کیسه اورېدلې وي، هر څومره اوښکي توی کړي، بیا هم د پورته یادو سویو مشهورو نکلونو په څېر معنوي رنګ نه لري او په اصطلاح ټولي دنیاوي او ظاهري بڼې لري. تقریباً ټول نکلونه په نېکمرغۍ او تر مرګه پوري په وصال پای ته رسېږي.

الف لیلة و لیلة، چي د هري ژبي د نکلونو تر تاثیر لاندي ترتیب سوې او یا ترجمه سوې ده خو د انتظار سره سم عربي ژبه او کلتور دونه پکښې مسلط دئ چي قهرمانان ئې په عربي ژبه خبرو کولو کي په هیڅ ځای کي تکلیف نه لري. له مصر څخه تر هند او چین پوري ځي او هر ځای په عربي خبري کېږي. حتي پیریانان، دیوان او شاپیریاني هم په عربي خبري کوي. د لوی سمندر تر اوبو لاندي د شاپیریانو یو لوی ښار دئ او کله چي شهزاده د خپلي محبوبي شاپېرۍ د تر لاسه کولو له پاره هلته ورځي نو هلته هم ټول کسان په عربي پوهېږي. څرنګه چي عربانو په پېژندل سوې نړۍ کي په ډېره پراخه سیمه کي امپراطوري جوړه کړې وه او ډېر زیات ملکونه ئې تر لاس لاندي وه نو ډېره لیري نه ده چي که ئې فکر کړی وي چي که ټول نه وي نو اکثریت انسانان

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په عربي پوهېږي.

د شهرزادي د نکلونو په پنځه سوه اووه شپېتمه شپه د برونز یا ژړو د ښار په داستان کي د یوې نامعلومي جزیرې د اوسیدونکو یو پاچا د کښتۍ سپرلیو ته، چي لاره ئې ورکه کړې او هلته ورغلي دي، وایي چي هلته هیڅ وخت آدمزاد نه دئ ورغلی. مګر بیا ګورو چي پاچا ئې په عربي ژبه خبري کوي، خو په جزیره کي هیڅ بل څوک په عربي نه پوهېږي. د دې جزیرې په څنډو کي ډېر کله د مسو څخه جوړ سوي لوی بوتلونه پیدا کېږي چي خولې ئې سلیمان علیه السلام بندي کړي او مهر کړي وي. کله چي د بوتل خوله خلاصه سي نو له هغه څخه یو دود پورته سي او له دود څخه یو دېب جوړ سي او زاری کوي چي یا سلیمان پیغمبره بیا مي توبه ده او مخ د دښت پر خوا ځغلي. اموي خلیفه عبدالملک بن مروان خپل مشهور سپه سالار موسی بن نصیر ته وظیفه ورکوي چي دغه جزیره به پیدا کوي او ده ته به دغه بوتلونه راوړي. موسی بن نصیر له ډېرو زیاتو خواریو ګاللو څخه وروسته هغه ټاپو ته ورځي. بوتلونه پیداکوي؛ خلیفه ته ئې وروړي او هغه هم څو دېوان خوشي کوي او ننداره ئې کوي. البته ټول دېوان په عربي ژبه خبري کوي. د ماهیګیر په نکل کي، چي بیا وروسته اروپایي هیوادونو ته ورغلی او په لس هاوو رنګونه ئې اخیستي دي، د بوتل څخه آزاد سوی دیو ماهیګیر ته وایي چي د سلیمان علیه السلام وزیر آصف بن برخیا، د پیغمبر په حکم، په دغه بوتل کي اچولی دئ. همدغه آصف بن برخیا د سیف الملوک په نکل کي هم د سلیمان پیغمبر ستر وزیر دئ او د سیف الملوک د پلار له خوا د ورلېږل سوي هیئت هرکلی کوي. زه ګومان کوم چي د پښتنو فوکلوري تاریخ، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېره بیا مخزن افغاني ته به دغه نوم له الف لیلة و لیلة او په تېره بیا د سیف الملوک له نکل څخه، چې په پښتنو کې د الف لیلة و لیلة تر بل هر نکل زیات رواج او شهرت لري، ورننوتلی وي.

که څه هم چې د الف لیلة و لیلة نکلونه په عربي او اسلامي محیط کې یا ایجاد سوي او یا له ایراني او هندي ادبیاتو څخه ترجمه سوي او وروسته عربي رنګ ورکړه سوی دئ او ډېره هڅه سوې ده چې په هر ځای کې هر نکل خپل اسلامي رنګ وښیي، خو له بلي خوا، تقریباً ټول نکلونه له داسي خرافاتو څخه ډک دي چې په اسلام کې هغوی ته عقیده درلودل ناروا او منع دي. په اسلام کې په غیب د اطلاع درلودلو قدرت یوازي د خدای تعالی څخه دئ او دا خبره په آیت ثابته ده. خو پاچاهان او لویان د خپلي آیندې، په زیاته بیا د نوي دنیا ته راغلي اولاد او یا د مور په نس کې اولاد، په باب د فالبینانو څخه پوښتنه کوي او هغوی هم داسي احوال ورته وایي چې ټول تقریباً سم خیژي. که څه هم چې د فالبینانو پېش بیني اکثر وختونه د ډېرو بدو عواقبو څخه خبر ورکوي؛ ګواکي هغوی د قسمت په فیصلو خبر دي او چې څه دوی وایي هغه تغیر نه کوي؛ خو څرنګه چې د الف لیلة و لیلة د نکلونو یو هدف د شر او خیر تر منځ مبارزه ده او د نکلونو په پای کې فیصله هر وخت د خیر په ګټه وي؛ نو د فالبینانو پېش بیني زیاتره، هغه خراب عواقب نه لري لکه دوی چې معلوم کړي او پېش بیني کړي وي. د فالبینانو، جادوګرانو، کوډګرانو، ګرځنده قلندرانو، ملنګانو او لېونیانو خبرو ته بشپړ اعتقاد نه یوازي د هغه وخت د ټولنیزو شرایطو او محیط انعکاس دئ بلکي تر نني ورځي پوري په افغانستان، هند، شاوخوا نژدې هیوادونو، حتی امریکا او اروپا په څېر پر مخ تللیو هیوادونوکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه فالبینان او کوډګران موجود دي او لا اوس هم ډېر زیات خلک عقیده ورته لري.

د الف لیلة و لیلة د نکلونو په دېرشمه شپه دوهم قلندر، د خپلو کیسو په ترڅ کي، د حسد او کینې د خرابو عواقبو په لړ کي، د هغه شیخ کیسه کوي چي د پاچا ناروغه او لیونۍ سوې لور ئې چي ټول طبیبان ئې علاج ته عاجز وه جوړه کړه او پر پاچا باندي دونه ګران سو چي خپله هغه لور ئې شیخ ته په نکاح کړه. شیخ په دې پوه سوی وو چي د پاچا پر لور باندي د ډم ډم پیریان زوی میمون مین سوی دئ او د هغې په سر کي ئې ځای نیولی دئ. د پاچا د لور د ماغزو څخه د میمون پیریان د ایستلو له پاره باید د توري پیشي په لکۍ کي د سپین ټکي څخه اووه ورېښتان وایستل سي او د پاچا د لور مخي ته دود کړه سي. پیریان به وتښتي او نجلۍ به جوړه سي. شیخ له همدې ټوټکې څخه کار اخلي او نجلۍ روغه رمټه کېږي. توري پیشۍ ته زموږ په کلتوري حوزه کي اوس هم عوام د پیریان په سترګه ګوري او د شپې له پلوه ځان ورڅخه ژغوري او کوښښ کوي چي توري پیشي ته ازار ور نه کړي. الف لیلة و لیلة داسي په سلهاوو کیسې لري چي د کوډو، جادو، پیریانانو، په بیزو او سپیو د انسانانو د بدلولو او فالبینانو په باب د ډېرو پراخو او لیري پرتو کلتوري حوزو د خلکو فوکلور او د عوامو عقایدو ته انعکاس ورکوي. البته په تقریباً ټولو کیسو کي دا یو ټکی مشترک دئ چي نکل بالاخره د خیر په ګټه او د شر په تاوان، په خوښۍ او نېکمرغۍ پای ته رسېږي.

د الف لیلة و لیلة نکلونه، که څه هم چي له تاریخي پلوه ډېر سخت بې اعتباره او بې اندازې زیاتي مبالغې پکښې سوي وي، خو کله کله د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتینو تاریخي پېښو یو څرک هم پکښې لګېږي. د مثال په ډول د کابل پاچا تغموس د کابل او بنوشهلان پر مځکو حکومت کوي، لس زره مشران ئې تر لاس لاندي دي چي هر یو ئې سل، په قلاوو احاطه سوي ښارونه، او سل قلاوي لري. (البته د نړۍ په تاریخ کي هیڅ امپراطور یو میلیون ښارونه او یو میلیون قلاوي نه دي درلودلي، خو د تغموس پاچا په باره کي دغه لویه مبالغه د اشکانیانو او کوشانیانو پر عظمت باندي یو دلالت کوي او ښایي په نکل کي د هغوی د پاچاهي قدرت او عظمت مطلب وي) تغموس پاچا بیا هم خپل د قلمرو عالمان، نجوم ګران، ریاضي پوهان او جنتري جوړوونکي را غواړي او له هغوی څخه پوښتنه کوي چي دی به کله د یوه زوی خاوند سي. هغوی ورته وایي چي ستا د زوی برخه یوازي د خراسان د پاچا د لور په واده کولو کي ده او بس. تغموس پاچا خپل هوښیار وزیر عین زر ته وظیفه ورکوي چي د خراسان د پاچا بهروان څخه د هغه د لور په غوښتلو کي د ده وکالت وکړي او د خراسان پاچا ته پنځلس سوه باره ورېښم، قیمتي ډبري، مرغلري، یاقوت او نور جواهرات، سره او سپین زر ورلېږي. د تغموس پاچا نکل د دونه بېځایه مبالغو او د هغه د زوی جهانشاه په مقابل کي د دونه زیاتو، بېځایه او نامعقولو مشکلاتو او خنډونو څخه ډک دئ چي حلول ئې غیرممکن دي. تغموس د هند پاچا کافید ته په جنګ کي ماته ورکوي او هغه د باج په ورکولو مجبوروي. خو کافید وروسته خپل نور راجه ګان ورسره ملګري کوي او د تغموس پاچا پر قلمرو باندي حمله کوي. دا جنګونه سړي ته د سبکتګین او جیاپال تر منځ جنګونه ور په زړه کوي. البته د سبکتګین او جیاپال تر منځ په دوهم جنګ کي هم جیاپال ماته خوري او ډېري زیاتي مځکي له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوي. وروسته د سلطان محمود سره په دریم جنګ کي هم ماتېږي او حتی سلطان محمود ئې ژوندی نیسي او د غلامانو په بازار کي ئې خرڅوي. خو د تغموس پاچا په نکل کي د هند پاچا کافید، د تغموس له پرېشانۍ څخه، چي د خپل زوی جهانشاه د ورک کېدلو له امله ورپېښه ده، استفاده کوي او کابل د یوه کال له پاره محاصره کوي. تر څو جهانشاه د دېوانو له لښکر سره پنځه ویشت کلنه فاصله په لسو ورځو کي وهي او د کافید پاچا پر هغو لښکرو باندي چي د ده د پلار پایتخت ئې محاصره کړی دئ حمله کوي او د لښکرو سره ئې وژني.

په الف لیلة و لیلة کي، د ټولو مبالغو او خرافاتو سره سره، موږ ګورو چي تقریباً ټول نکلونه د خاصو اهدافو له پاره ترتیب سوي او لیکل سوي دي. په ټولو نکلونو کي د اسلام لښکر پر کفارو غالب دئ او د دې خبري علت دا دئ چي دا نکلونه د اسلام د عظمت په وخت کي ترتیب سوي دي او که وروسته ترتیب سوي وي نو لږترلږه مسلمانانو ته خپل تېر عظمت ور په زړه کوي او دا ورته ښیي چي ستونزي او مشکلات که هر څونه ډېر وي، د خدای تعالی او غیبي قواوو مرسته له حق سره ملګرې ده او بری بالاخره د حق په برخه دئ. له بلي خوا د الف لیلة و لیلة په ټولو نکلونو کي داسي نکل چنداني نه په سترګه کېږي چي په یوه او یا بل ډول دي د عربي ټولني او یا شاوخوا ټولنو عقایدو، ټولنیزو شرایطو او یا تاریخ ته انعکاس نه وي ورکړه سوی. ځکه ئې نو د عادي لوستونکو له پاره د سات تېري او د ژمي د اوږدو شپو تېرولو له پاره ښه وسیله او د فوکلور او انتروپولوجۍ د څېړونکو له پاره د معلوماتو یوه خزانه ده.

د الف لیلة و لیلة نکلونه، که څه هم چي سینه پر سینه انتقال سوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولسي نکلونه دي او د تاریخ مسعودي په قول له هزار افسانه څخه ترجمه سوي او بیا وروسته، د پیړیو په جریان کي، اوښتي را اوښتي دي، خو په پای کي داسي ښکاري لکه ټول نکلونه چی د یوه لیکوال تر نظر تېر سوي او د یوه قلم څخه وتلي وي. که څه هم چي نکلونه، په تېره، د متن له مخي ډېر زیات توپیر سره لري خو عمومي هدف، چي د اسلام عظمت او د سُني عقیدې تبیلغ دئ، په ټولو کی یو دئ. په دې لړ کي (د ابوالحُسن او د هغه کنیزه تَوَدّد) په نوم یو داستان ډېر ښه مثال دئ. دا نکل د شهرزادي د نکلونو په څلور سوه شپږدېرشمه شپه پیلېږي او تر څلور سوه دوه شپیتمي شپې پوري دوام کوي. تَوَدّد یوه ښایسته ځوارلس کلنه کنیزه ده چي د هغې ډېوالي سوی څښتن ابوالحُسن غواړي، د هغې په غوښتنه ئې، پر خلیفه هارون الرشید باندي په زر دیناره خرڅه کړي. کله چي خلیفه د هغې د کمالاتو پوښتنه کوي نو دا ورته وایي چي قرآن شریف ئې په یاد زده دئ او په څو طریقو ئې لوستلای سي. احادیث ئې ټول زده دي، په فلسفه، منطق، ساینس، ریاضي، شعر، موسیقي، ګرامر، قضا او مروجه علوموکي ساری نه لري. خلیفه دي د خپل قلمرو ټول عالمان او پوهان ورته راغونډ کړي او له دې سره دي ئې بحث ته کښینوي. خلیفه، په هر علم او فن کي، د خپل قلمرو تر ټولو لوی او مشهور عالمان ورته راغونډوي او نجلۍ د هغوی ټولو سوالونو ته سم جوابونه ورکوي، خو کله چي له هغوی څخه پوښتني کوي نو هغوی ئې د یکي یوه سوال جواب نه لري. البته دا د یوې ځوارلس کلني نجلۍ له پاره څه چي د یوه دوه سوه کلن عالم له پاره هم ممکنه نه ده چي په ټولو علوموکي دونه تبحر ولري چي هر سوال ته جواب ورکړي او د هغه د یوه سوال جواب له چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره نه وي. خو په دې نکل کي، چې زياتره د نکل نه بلکي د تبليغ شکل لري، تقريباً ټول هغه مهم سوالونه مطرح سوي دي چي اهل السنت والجماعت ورسره مخا مخ کېدلای سي. په الف ليلة و ليلة کي بله داسي کيسه نسته، خو د کتاب نور ټول نکلونه په دغه روحيه ترتيب سوي دي. د نکلونو په ټول قلمرو کي، چي له افريقا څخه نيولې تر چين او تر اوبو لاندي د پيريانانو او شاپيريانو تر ښارونو او کوه کاف پوري رسېږي، د اسلام برتري ښودله سوې او حتی دېوان او پيريانان کليمه وايي او د خدای تعالی وحدانيت ته عقيده لري.

د الف ليلة و ليلة د نکلونو د پيل لومړنی پراګراف وايي چي دا د پخوانيو نکلونه د اوسنيو خلکو د پند او عبرت له پاره ليکل سوي دي او د ټولو پېښو مثالونه د الف ليلة و ليلة په نکلونو کي را جمع سوي دي. خو څرنګه چي دا نکلونه د پاچاهانو او لويانو له پاره ليکل سوي دي، او له لومړي سره ګويا د يوه ساساني پاچا په کور کي ويل کېږي، نو په تقريباً ټولو نکلونو کي دا يو اصل په خورا احتياط رعايت سوی دئ چي پاچاهانو، په تېره بيا عربو سلطانانو، ته د احترام په سترګه کتل کېږي. د ټولو پاچانو د عدالت صفتونه کېږي او که چيري کوم پاچا بېځايه ظلم کوي نو هم ئې پړه د مېرمني پر شيطانت او يا د وزيرانو او سلاکارانو پر شيطانت او بدنيتۍ اچوله کېږي. دا نکلونه که څه هم، د عباسي خليفه ګانو په زمانه کي ترتيب سوي او ښايي ليکل سوي وي خو نه يوازي د ټولو عباسي خليفه ګانو، په تېره بيا هارون الرشيد نوم په ادب او احترام يادوي بلکي د اموي خليفه ګانو له نومونو سره، چي عباسي خليفه ګانو ئې له نامه څخه کرکه کوله، هم له ډېر احتياط څخه کار اخلي. ګواکي په ټولو نکلونو کي د "السلطان ظل الله فی الارض"

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصل رعایت سوی او چنداني سرغړونه نه ده ورڅخه سوې.

زردشتیانو او ایرانیانو ته، په تقریباً ټولو نکلونو کي، بې اعتمادي ښودله سوې ده. د حسن بصري په نکل کي، چي زیاتره د ځوانانو له پاره د پند او عبرت په نیت لیکل سوی تربیوي نکل دئ او ځوانانو ته ښیي چي د پلار څخه پاته سوی میراث بېځایه مصرف نه کړي او د زمانې په بې وفا اشنایانو اعتماد و نه کړي، دا خبره په څرګنده توګه وینو. حسن بصري د خپل پلار د ورپاته سوي جایداد او پیسو د بېځایه لګولو او ډېوالي کېدلو څخه وروسته له یوه زرګر سره مزدور کېږي. یو ایراني، چي زردشتي دین لري، حسن ته وایي چي هغه کیمیاګر دئ او کولای سي چي له مسو څخه زر ورته جوړ کړي او دا هنر هغه ته وښیي. خو د حسن مور ورته وایي اې زویه د خلکو له خبرو سره پام کوه. د هر چا خبره زړه ته مه اچوه. په تېره بیا له فارسیانو سره ډېر پام کوه. هغوی چالاک او چمباز دي. د کیمیاګرۍ په نوم خلک غولوي، د هغوی څخه پیسې اخلي او تباه کوي ئې. د حسن بصري په نکل کي د هغه د مور نصیحتونه ټول رشتیا خېژي او هغه سړی، چي په نکل کي د لعنتي ګبر بهرام په نوم اشاره ورته کېږي، پر مظلوم حسن بصري باندي ډېري سختي خوارۍ راولي. البته د الف لیلة و لیلة د تقریباً ټولو نکلونو د روحیې سره سم قسمت د مظلومانو په ګټه فیصله کوي او حسن بصري د ژوند د ټولو هستیو او شتمنیو د تر لاسه کولو تر څنګ له یوې ښایستې شاپیرۍ سره واده کوي، او د عمر تر پایه پوري ئې نېکمرغي په برخه کېږي.

د الف لیلة و لیلة په نکلونو کي، په اخلاقي او اجتماعي لحاظ، د بدبینۍ روحیه حاکمه ده او دا روحیه د شهریار او شاه زمان د لومړني

(c) ketabton.com: The Digital Library



نکل څخه نیولې بیا تر پایه پوري وینو. ډېر لږ کسان وي چې رښتینی زړه سوی او رښتینې مسلماني دي ولري. سړی باید د هر چا سره احتیاط وکړي. پاچاهان باید د ښځو او وزیرانو احتمالي شیطانتونو ته متوجه وي او خلک باید د حسودانو څخه هر وخت خطر احساس کړي او د ځان په فکر کي اوسي. کینه او حسد له ټولو هغو کسانو سره چې دنیا او دولت ولري، چې له پاچاهانو سره ښه او نیژدې اړیکې ولري او پاچاهان وربانديي مهربانه وي، چې ښایسته وي او یا ښایسته مېرمن ولري او یا ښه علمیت ولري کېږي. کینه او حسد هر وخت د انسان نېکمرغي په بدمرغي اړولای سي. خو بیا ګورو چې په تقریباً ټولو نکلونو کي دا روحیه تعقیب سوې ده چې څوک بل ته کوهي کیني پخپله پکښې لوېږي. ګواکي حسد کوونکي ته هم خبرداری ورکړه سوی دئ چې د اسمان فیصله عادلانه ده او یو څوک سته چې د مظلومانو کسات واخلي.

مأخذونه:


۱. مروج الذهب و معادن الجوهر، علي بن حسین مسعودي. مترجم ابوالقاسم پاینده (چاپ هشتم تهران – ۱۳۸۷).
۲. ترجمه تاریخ یمیني، به اهتمام ډاکټر جعفر شعار (چاپ سوم ۱۳۷۴ ) مرکز انتشارات علمي و فرهنګي، تهران.
۳. قابوسنامه، عنصرالمعالي کیکاووس بن اسکندر بن قابوس بن وشمګیر بن زیار، به اهتمام غلام حسین یوسفي (تهران – ۱۳۷۳).
۴. سیاستنامه (سیرالملوک) خواجه نظام الملک طوسي، به کوشش ډاکټر جعفر شعار (چاپ سوم، تهران – ۱۳۴۶).
۵. تاریخ فیروزشاهي، ضیاء الدین برني، ترجمه به اردو ډاکټر سید

(c) ketabton.com: The Digital Library



معین الحق (چاپ ۲۰۰۴، اپرمال لاهور).
٦. افسون شهریار، جلال ستاري (انتشارات توس، چاپ اول ۱۳۶۸).
۷. The Book of the Thousand Nights and a Night by Richard F. Burton.
۸. Encycloeaedia of Islam.
۹. Muslim Slave System in Medieval India, K.S Lal (New Delhi ۱۹۹۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يوسل او اووه مه شپه

په دغه شپه ضوء المکان پاچا وزير ته مخ وروا ړاوه او ورته وې ويل چي اې وزيره! شپه خو دا ده راغله. اوس به نو هغه نکل راته وکړې چي وعده دي راسره کړې وه. وزير ورته وويل چي پر دواړو سترګو! باره نو وزير تر نکل دمخه ورته وويل چي: "اې پاچا! زما داسي نکل زده دئ چي د عاشق او معشوق خورا عجيب و غريب حالات پکښې بيان سوي دي. دا داسي نکل دئ چي غمونه له سره ليري کوي. نو غوږ راته ونيسئ!

# د تاج الملوک نکل[1]

وايي چي په پخوا زمانو کي د اصفهان تر غرونو په ها خوا يو ښار وو. دا ښار ئې مدينة الخضراء باله. په دې ښار کي يو پاچا وو چي ملک سليمان نومېدی. دې پاچا په سخاوت او احسان، په عدل او امان، په لويي او په هوښياري کي نوم ايستلی وو. د ده د پاچهۍ په زمانه کي خلک په نس ماړه او په تن پټ ول. يوه د آرامي ګوله وررسېدله. چا ئې

[1] د دغه نکل نوم په عربي اصل کي "حکايت سلېمان شاه" دئ. د نوميالي صاحب په ترجمه کي هم دغه نوم را اخيست سوی دئ، خو په انګرېزي او روسي او فارسي ترجمو کي د تاج الملوک په نامه ثبت دئ. څرنګه چي ما د انګرېزي ترجمې لار اخيستې ده، نو مي دا نکل هم داسي د تاج الملوک په نامه وکيښ، (هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناحقه دروازه نه ورټکوله. خلک له پاچا څخه راضي ول. خو دې پاچا
ماینه او اولاد نه درلودل. د ده یو وزیر وو چې پاچا ته په خوی او په
اخلاقو کې کټ مټ سوی وو. بس، ګویا یو جوز وو چې پر منځ دوه
ځایه سوی وو. دې پاچا یوه ورځ دا وزیر راوغوښت او ورته وې ویل
چې: "وزیره! دې یوازي ژوند نور په تنګ کړی یم. نه ماینه سته، نه
اولاد. خُلق مي بیخي راته تنګ دئ. د دنیا ټول پاچهان زامن لري،
اولادونه لري، کور لري، کهول لري. پیغمبر علیه السلام فرمایلي دي
چې: "تناکحوا تناسلو تکثروا وافانی اباهی بکم الامم یوم القیمة
ولوبالقسط" یعني ودونه وکړئ! اولادونه وزېږوئ! نسلونه زیات کړئ!
زه به د قیامت په ورځ د نورو امتونو په منځ کي په تاسي وویاړم. نو اې
وزیره! ستا مشوره راته څه ده؟" وزیر ورته وویل چې اې ملک الزمانه!
زما دي سپیني پرې سي چې پر تا به مي دا د څړه توب او جره ګی
ژوند پېرزو وي. د نسل دوام خو په ماینه پوري تړلی دئ. پاچا ورته
وویل چې ما به اوس دستي ماینه کړې وای یوه مینځه به مي رانیولې
وای او ځان ته به مي کښېنولې وای. خو بېره مي له دې اسیته ده چې
نه به ئې په پلار و نیکه خبر یم چې دا اوس له ښه خاندانه ده؟ له بدي
کورنۍ ده؟ په هډ پاکه ده؟ زما وړ ده؟ نو که له اصله بدذاته وه، لیري
نه ده چې له دې څخه به مي داسي اولاد وزېږي چې منافق به وي،
ظالم به وي، ویني به تویوي. داسي اولاد خو ښرنه مځکه ده چې تخم
په وکرې، اغزي به درته شنه کړي. یئه! زه داسي څوک ځان ته نه
کښېنوم. زما خیال دئ، وزیره! چې د پاچهانو یوه لور ځان ته وغواړم.
هم به ئې پلار و نیکه معلوم وي. هم به په چوچ پدرداره ښځه وي. هم
به کمالداره وي او هم به ئې رنګ و سِکه ښکلې وي. زما خیال دئ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دغه شان نجلۍ وغواړم. اوس که تا ته، اې وزیره! داسې کومه خانداني نجلۍ معلومه وي، راوئې ښیه چې زه مرکه ورولېږم. وزیر ورته وویل چې: "دا ارزو دي که خدای کول پوره سوه او د زړه مراد به دي درحاصل سي". پاچا ورته وویل، چې څرنګه؟ وزیر ورته وویل چې اې پاچا! ما اورېدلي دي چې د سپیني مېنې (ارض بیضاء) څښتن ملک زهرشاه یوه خورا ښکلې لور لري. په ښایست، په سِکه، په جمال، په کمال کې ئې د ویلو ځای نسته. نه خدای بله داسې ښکلې پیدا کړې ده او نه هم بله داسې نېک خصلته اونېک صفته .هغه د شاعر خبره ده چې وايي:**

نـرۍ مـلا قـد و قامـت تـه ئـې ده سـروه شـرمنده
د مخ نور ته ئې سپوږمۍ دئ ځان پټ کړی په پرده
د خوږې خولګۍ شربت ئې د عسلو بازار سوړ کړ
تکـو سـرو نـازکو شـونډو ئـې یـاقوت کړلـه کوټـه
سپین غاښونه ئې صدف دي، مرغلري دي سپېۍ دي
جګـه غـاړه ئـې بلـوړ ده، پـسته غېـږه ئـې پو مبـه
توري سترګي ئې خماري، کږې وروځې نمایداري
سره و سپین ئې اننګي دي، سر تر نوکه ښایسته
لېـوني پـسي ځوانـان دي، چـا تـه کلـه وررسـېږي؟
بختـور بـه وي چـي اخلـي لـه دې ښـکلي څـه بوسـه

**وزیر چې د ملک زهرشاه د لور د ښایست او کمال او جمال خبري پاچا ته وکړې، باره نو سلېمان شاه ورته وویل چې زما خو داسې خوښه ده، چې دې نجلۍ ته یو په ژبه پوه او د عقل د خوا پوره څوک ورولېږې او د مرکې ټول آداب او شرایط په پام کې ونیسې. دا نجلۍ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي تا ئې بيان وکړ، دا خو ګويا د جنت حوره ده او په دنيا کي ئې بله جوړه و مثال نسته. نبي عليه السلام فرمايلي دي چي: "لارهبانية فی الاسلام". د پاچا زړه دې نجلۍ ته مايله سو او وزير ته ئې وويل چي د دې خدمت چاري له تا پرته بل څوک نه سي پر مخ وهلای. اوس دي کور ته ولاړ سه او سر له سبا څخه د سفر بندوبست وتړه او دغې نجلۍ ته زما له پاره په مرکه ورسه. ما ته دي سودا راواچوله. نو تر هغو چي دي دا نجلۍ راغوښتې نه وي، دلته به نه راځې. وزير ورته وويل چي پر تکو تورو سترګو. باره ئې د پاچهۍ درانه سوغاتونه برابر کړل. وربښمين ټوکران، سنګيني جامې، اصيلي مرغلري او قيمتي غميان او نوري تحفې ئې پر اسانو بار کړل. سل تنه خادمان او سل تنې ښکلي مينځي ئې ورسره وټاکلې او د زړه ورو يوه ډله ئې هم د ځان ملګرې کړه او رهي سول. ملک سلېمان شاه ورته وويل چي هر څومره چي ژر کېدلای سي، دغه د جنت حوره زما تر کوره پوري راورسوئ. وزير په سفر روان سو. څو شواروزه ئې مزل وکړ. دښتونه و بيابانونه ئې پې کړل، تر غرو او رودونو ورواوښت. په پای کي د ملک زهرشاه ښار ته د يوې ورځي مزل لا پاته وو، باره ئې د يوې ويالې پر غاړه واړول. خپل خاصان ئې راوغوښتل او په هغو کي ئې يو تن د ملک زهرشاه د خبرولو په نيامت وټاکه او وروائې ستاوه. د وزير ايلچي د ملک زهرشاه ښار ته رهي سو او د ښار په دروازه کي ئې خپل پيغام پرېښوو چي د اصفهان اومدينة الخضراء د واکمن سلېمان شاه وزير ستاسي حضور ته راروان دئ او ملک زهرشاه ئې د وزير په راتګ خبر کړ. ملک زهرشاه په دې خبر ډېر خوشاله سو او ايلچي ئې پخپله ماڼۍ کي خپل حضور ته وروباله او پوښتنه ئې ځني وکړه چي وزير دي چيري پرېښوو؟ ايلچي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وويل چي هغه د پلانۍ ويالې پر غاړه ئې اړولي دي او سبا به له خيره سره دلته راورسېږي. آبس، ملک زهرشاه هم خپل وزير ته امر وکړ چي د دولت له لويانو او مخورو سره د وزير هرکلي ته ورووزي. هلته د ملک سليمان شاه وزير تر نيمي شپې پوري د ويالې پر غاړه اړولي ول. شپه چي پخه سوه، مخ پر ښار ئې حرکت راوکړ. سهار چي روڼا سوه، ناڅاپه ئې د ملک زهرشاه وزير او نور لويان په سترگه سول، چي د دوی هرکلي ته د ښار په دوه فرسخي کي منتظر ولاړ دي. د ملک سلېمان شاه وزير هرکلي کوونکي ونازول او هغوی هم په عاجزۍ سره د ده خورا ډېر عزت وکړ. د وزير زړه ته ولوېده چي که خدای کول، کار به سره ورسېږي او غوښتنه به مو ومني. آبس، تا ته دي وويل سي دا دواړه وزيران له خپلو خاصانو او لويانو سره مخ پر ښار وررهي سول. د ملک زهرشاه ماڼۍ ته چي ورسېدل، وزير تر اووم دهلېزه پوري پر آس سپور ورغی. دغه ځای ته تر دغي ورځي پوري هيڅوک پر آس سپور نه وو ورغلی. وزير په دغه اووم دهلېز کي له آسه راټا سو او يوه اوږده سالون ته ورننووت. د دې سالون په سر کي يو غټ په مرغلرو او جواهرو ښکلی کړه سوی تخت پروت دئ. پر تخت باندي زرغون ورېښمين پوښ اوار دئ. د تخت پښې د پيل له هډوکو څخه جوړي سوي وې. د تخت دپاسه ملک زهرشاه ناست وو. شاوخوا ورته د ده نور خاصان او نديمان ولاړ ول. وزير د ملک زهرشاه تخت ته وروړاندي سو او په ډېره خوږه او فصيحه ژبه ئې خبري شرو کړې... کيسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو سل او اتمه شپه

**شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي: وزير د ملک زهرشاه تخت ته ورووړاندي سو او په ډېره خوږه او فصيحه ژبه ئې خبري شرو کړې او دا بيتونه ئې ورته وويل:**

اې ښـــاغلي توريالـيـــه! اې نومــــوړې زمامـــداره!
چـي جهــان پـه تـا نـازېږي، ټـول عـالم دئ خبـرداره
ستا پـه شاني درونـد مېړه بـل زمانې نـه دئ ليـدلی
ستا د بـرم، ستا د عـزت مثـال بـل نستـه اې واکداره
پـه حکمت دي جهان وياړي، پـه سخا دي ټول ماړه دي
ستا د توري تر شپول لاندي ټول رعيت دي پر کراره
سـتا د قهـر پـه اور سـوځي دښـمنان تـر ليـرو ليـرو
ستا د رحم سيوری خپور دئ پر نړۍ باندي تاجداره
پـه نرمـی لکـه اوبـه يـې، بـارورداره لکـه مځکـه
پـه عظمت کي يو لوی غر يې، پـه تمکين يې باوقاره
پـه نړۍ کي چي څه خولې دي پيدا سوي تر دې دمه
ثنــاخواني زهرشـاه تـه، لـه مابنـامه تـر سـهاره
زموږ له عمره دې خدای واخلي ستا پر عمر دي زياتی سي
د خـزان دي درتـه شـا سي، برخـوردار سې لـه بهـاره
دښـمنان دي سـرنگون سـه، بـدخواهان دي دربـدره
سـلطنت دي تــل قــايم سـه، دبدبـه دي پايــداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



رعیت دي آسوده سه، لښکریان دي سو بمن او سه
شــفقت و مرحمــت دي ورســېږه تــر مــا خــواره

وزیر چي دا بیتونه پای ته ورسول، پاچا نژدې وروباله، ډېر ئې ونازاوه. خپل څنګ ته ئې کښېناوه. ښې نرمي او د مهربانۍ خبري ئې ورسره وکړې. وزیر هم په خورا خوږه ژبه له ده سره خبري کولې او تر غرمې پوري ئې ښه د خوند مجلس ورسره وکړ. غرمه چي سوه، سترخانونه اوار سول او د خدای د نعمتو ډک غوري ګان او غابونه پر کتار سول. ټولو ښه په خوند مړۍ وخوړل او یو یو له مجلسه ووت. د پاچا له یو څو تنو خاصانو پرته نور ټول کسان ووتل. وزیر چي مجلس نور له پردیو او بېګانه خلکو څخه خالي ولید، نو راولاړ سو او د پاچا مخ ته ئې مځکه مچ کړه، د پاچا ستاینه و ثنا ئې پر ځای کړه، بیا ئې نو ورته وویل چي: "اې بختور ټولواکه! زما په راتګ کي یو مقصد او مطلب پروت دئ. د دې مقصد تر سره کېدل، ستا په خیر هم دئ. مقصد مي دا دئ چي ته خپله لور په رضا او رغبت سره ملک سلېمانشاه ته په نکاح کړې. د ملک سلېمانشاه زړه ډېر غواړي چي ته ئې په زومواله ومنې".
ملک زهرشاه چي د ملک سلېمانشاه نوم واورېد، جست له ځایه ولاړ سو، مځکه ئې مچ کړه. حاضرین ټول حیران پاته سول. وروسته ملک د پروردګار حمد و ثنا ادا کړه او وزیر ته ئې مخ ورواړاوه او ورته وې ویل: "اې بختور وزیره! موږ ټول د سلیمان شاه رعیت یو او زما لور د ده په مینځیانو کي شمېرل کېږي. له ده سره دوستي اوخپښي خوزمالویه آرزوده". باره ئې سمدستي قاضي او دوه تنه شاهدان راوغوښتل. د سلېمان شاه وزیر وکالتاً د ملک زهرشاه د لور د نکاح اقرار وکړ. قاضي د نکاح خطبه ولوستله او دواړو پاچهانو ته ئې دوعا وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزير راولاړ سو او سوغاتونه او تحفې ئې د ملک زهرشاه مخې ته کښېښوولې. ملک هغه وستايلې او وئې منلې. وروسته ئې د نجلۍ د پوښ او تجهيز کار شرو کړ. د وزير ئې ډېر عزت وکړ. رعيت او سپايانو ته ئې سترخانونه اوار کړل او هر چا ته مړې ورسېدې. دوې مياشتې دغه عيش و عشرت او ډول و ډمامې رواني وې. د ناوي پوښ و قلنگ چې برابر سو، پاچا امر وکړ چې تر ښار دباندې دې خېمې ودرول سي. تر ښار دباندې خېمې ودرېدې. پر قلنگ باندې زرغونه ورېښمين پوښونه وغوړېدل. د روم او ترکانو مينځې ئې ورسره کړې. په ناوي ئې ښه فېشن او سينگار وکړ. د زرو کجاوه ئې ورته جوړه کړه او پر هغې باندې ئې د پاسه اصيلي مرغلري او ياقوت و زمرد کتار کړل. په کجاوه کې ئې دننه ښکلې ځای ورته جوړ کړ او دا د سرو زرو دانه ناوې ئې پکښې کښېنوله. د جهيز او قلنگ سوندوخان ئې پر اوښانو او اسانو بار کړل. قافله رارهي سوه او ملک زهرشاه تر دريو فرسخو پوري ورسره ملگری وو. تر هغه وروسته ئې له لور سره خدای په اماني وکړه او وزير ته ئې هم مخه ښې وويله او بيرته خپل ښار ته په ډېره خوشالي سره ولاړ. د ملک سلېمان شاه وزير د پاچا له لورسره دښتونه په مخه ورکړل، تلل، تلل، تلل... کيسه چې دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او نهمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملک سلېمان شاه وزير شپه و ورځ مزل کاوه. تر دښتونو او بيابانونو او غرونو او رودونو راتېر سو. په پای کي چي د سلېمان شاه ښار ته د دريو ورځو لار پاته سوه، دغه وخت وزير يو څوک ملک سلېمان شاه ته ور واستاوه او د ناوي په راتگ ئې خبر کړ. ايلچي چي ملک سلېمان شاه ته د ناوي د راتگ حال ورساوه، ملک له خوښۍ څخه په کاليو کي نه ځائېدی. ايلچي ته ئې ښه مغزن سوغات ورکړ او لښکر ته ئې امر وکړ چي له يوه غټ جمعيت سره د ناوي مخي ته ورووزي. له ځانو سره ډول و سورنا، چنگ و رباب، داريې او نور د سازوسارنگ سامانونه واخلي. په ښار کي ئې جار وواهه چي د ښار ټولي ښځمني که زړې دي که ځواناني، ټولي دي له يوه مخه تر ښار دباندي ورووزي. ټولو ښځمنو ئې امر ومانه او تر ښار ورووتلې. د دولت ټولو لويانو پر ځان ومنل چي ښې جامې به اغوندي. په کوڅو کي به مشعلونه او څراغان لگوي او ناوې به د شپې پاله ښار ته راولي. د دولت لويان، وزيران او اميران ټول يوه ليکه ودرېدل او په دې وخت کي د ملِکې کجاوه ښار ته راداخله سوه. مينځياني او خادمان ئې په مخ کي روان ول. سپايان د کجاوې پر ښی او کيڼ اړخ ورسره رهي ول. په ټول ښار کي داسي څوک نه وو پاته چي سيل ته دي نه وي راوتلی. چا ډولونه وهل، چا سورناوي ږغولې، چا داريې وهلې او چا ايشلي کولې. يو هشت و مشت وو. دونه مخلوق راوتلی وو، چي مور او زوی سره ورکېدل. د ملِکې کجاوه ئې راوړله او د ماڼۍ مخي ته ئې کښېښووله. ملِکه ماڼۍ ته ننوتله. ټول قصر د دې د مخ په نور روښانه سو. د دې له پاره ئې جلا تخت جوړ کړی وو. پر تخت باندي رقم په رقم جواهر او مرغلري کار سوي وې. ملِکه پر تخت کښېنستله. په دې وخت کي پاچا راغی او ملِکه ئې په غېږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي ونيوله. مبارکی سوې، هی هی سو. يو ګړی وروسته پاچا او ملکه خپلي خوني ته ولاړل. ملِکه په داغه شپه اميندواره سوه. خوشالی سوې، مبارکی سوې. پاچا يوه مياشت له خوني راونه ووت. يوه مياشت وروسته چي له خوني راووت، پر خپل تخت کښېنوست. بيرته ئې د خپلي پاچهی کارونه شرو کړل. د مملکت او لښکر چاري ئې سره سامبالي کړې. ښه د خوشالی شپې و ورځي ئې تېرولې. په دې وخت د ملِکې نهه مياشتي، نهه ورځي، نهه ساعته، نهه ګړيه پوره سول. د لنګون درد ئې راولاړ سو. ډېرېدی، ډېرېدی، خبره معلومه سوه چي د کوچني د زېږېدلو وخت راورسېد. دايي ګاني او قابلې ګاني ئې ورته راحاضري کړې. د لنګون سختی په خير تېري سوې او ولادت هم په خيروعافيت سره سر ته ورسېد. خدای تعالی ملکې ته نارينه اولاد ورکړ چي د نېکمرغی نښانی ئې په تندي کي له ورايه ځلېدې. پر پاچا چي د زوی زېږېدلو زېری وسو، له خوشالی ئې پښې مځکي ته نه ورتلې. زېري کوونکي ته ئې ښېسده غټ سوغات ورکړ. دی پخپله سمدستي حرمسرای ته ورغی. کوچنی ئې ورته راووړ. ده په غېږ کي ونيو، پر تندي ئې مچ کړ. ښايست ته ئې هېښ پېښ پاته سو. د ده په تندي کي ئې د شاعر هغه خبري وليدې، چي ويلي ئې دي:

پر تندي ئې ښځېدلې نېکمرغی و نېک بختونه
له څېرې ئې ښکارېدله د زمري بخت نښانونه
په نڅا ورته راتلله توره سپر ئې و لاسو ته
د ده ښکار ته غرځنيو راا خيستي خپل سرونه
تخت و ده ته پيدا سوی، شاهي ده ته ساتل سوې
سوبه ده ته په تعظيم ده، چي ګټي به ميدانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا شېدې چې په وړکينه دی له تيو څخه روي
دا سرې ويني د دښمن دي تشوي ئې ټول رګونه
له هيبته به ئې تښتي د فتنو توري بلاوي
سلامي به ورته نيسي، بد مرغۍ و آفتونه

وروسته ئې هلک بيرته دايي ګانو ته په لاس ورکړ. هغوی ئې ښه په دوعا او په تکبير سره نو (نوم) ورپرې کړ او تاج الملوک خاران نوم ئې پر کښېښوو. د ده روزنه و پالنه ئې د مخصوصو دايي ګانو پر غاړه کښېښووله. هلک لوئېدی، څو د اوو کالو سو. ملک سلېمان شاه ورته حکيمان او اديبان مقرر کړل چې ده ته علم و حکمت او خط ورزده کاندي. څو کاله ئې پرله پسې په سبق کې تېره کړه. په پای کې ټول علم و فنون په زده کړل. بيا ئې نو زړه ورو او تورزنو ته په لاس ورکړ چې د زړه ورتيا او مېړاني درسونه ورزده کاندي. ښکار او نخښه ويشتل، سپارلي، د توري چلول او نور جنګي هنرونه ئې وروښوول. څو د څورلسو کالو سو. په دې وخت کې چې به ئې له ماڼۍ څخه مازي مخ ورښکاره کړ، سل زړونه به ئې په مينه کې په ټوپونو سول ... کيسه چې دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او لسمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چې: تاج الملوک ته خدای داسي سِکه و ښايست ورکړی وو، چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ماهې شخه یو ګړی وووت ، سل زړونه به ئې په مینه ښکار کړل. د ده د کړو وړو په باب شاعرانو شعرونه وویل:**

دا لــه کومــه راختلــی دئ دا ســتوری چــي ځلېــږي
پــه رونــاوو ، تجــلاوو ئــې د مځکــي مــخ ســو ځېږي
بختوره هغـه خولـه ده چي دا شونډي ئې روزي سي
نېکمرغـي د هغـه سر ده چي لـه دې عـشقه زنګېږي
طالع من به هغه زړه وي چي ځای ورکړي د ده عشق تـه
شاباسـی پـر هغـه چـا چـي د ده مینـي تـه ټینګېـږي

**تاج الملوک چي اتلس کلن سو او برېتو ئې خط وواهه، پر سره و سپین ښایسته باړخو ئې توري پخي راوټوکېدلې، دغه وخت ئې نو د ډېرو زړونه د میني په اور مکوټ کړل. نه ئې چا د کتو تاب درلود، نه ئې د لیدو طاقت. هغه د شاعر خبره چي ویلي ئې دي:**

د کنعان ښاه لره ورسئ، یوسف پوه کړئ پـه دې حال
چي جوړه دي خدای پیدا کړه د ښایست و د جمال
تــا یــوه زلېخا وایــسته ســرتوره لــه خپــل کــوره
دې ښایست په سرتوری کي د ټول ښار واخیست وبال
ننداره و ته ئې راد رومي د درست کلي شوخي نجوني
هره چټه ئې وصلت تـه خـوړي بـوړي ده بـې حال

**پر تاج الملوک چي څو کاله نور هم تېر سول، داسي ځوان ځني وخوت چي خور پر مینه کېدله او له برېتو ئې د زمري زاره چاودله. باره ئې یاران و اشنایان پر رامات سول. هر یوه به دا فکر کاوه چي د پلار تر مرګ وروسته خو ئې د سلطنت تخت ده ته رسېږي، نو ګوندي ما ته هم کوم منصب راورسېږي. د تاج الملوک له ښکار سره ډېره جوړه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه. هر وخت به په ښکار پسي وتلی وو. خو پلار ئې په دې پوهېدی چي دښتونه او بيابانونه د اپت ځايونه دي او دی به ئې هر وخت له ښکاره څخه منعه کاوه. پر تاج الملوک باندي د ښکار شوق دومره غلبه کړې چي د خپل پلار خبره ئې لا هم په دې باب نه منله.

يوه ورځ تاج الملوک خپلو خادمانو ته وويل چي د لسو ورځو ازوغ برابر کړئ او درځئ چي ښکار ته وځو. آبس، خادمانو ئې شيان ميان برابر کړل او دی له خادمانو سره ښکار ته ووت. څورلس ورځي ئې پر دښت و بيابان تېري کړې او آخر يوې سمسوري شنې سيمي ته ورسېد. په دې ځای کي ئې خورا ډېري هوسۍ په سترګه سوې. ښې وني او ښې د بهاندو اوبو چينې هم وې. آبس، تاج الملوک خادمانو ته وويل چي دغه ئې ځای دئ. هلئ! ژر مو دامونه ښخ کړئ او تورونه وغوړوئ. خادمانو دامونه کښېښوول او تورونه ئې وغوړول. په دامو کي خورا ډېر وحشي حيوانات او هوسۍ بندي سوې. تر دې وروسته ښکاريانو د ښکار سپي ايله کړل. شهينان او بازان ئې هوا ته خوشي کړل. غشي و لينده ئې ورته سم کړل او خورا ډېري هوسۍ ئې ښکار کړې. ښکار چي خلاص سو،شهزاده د يوې چينې پر غاړه څنګ واچاوه. ښکاريانو ښکار سره ووېشه. ملک سلېمان شاه ته ئې هم يوه برخه ورولېږله.

دا شپه ئې د هماغي چينې پر غاړه تېره کړه. سهار چي روڼا سوه او لمر راوختی، دې ځای ته يوه لويه قافله راورسېده چي سوداګر، مريان، مينځې او نور ايله جاري مخلوق پکښې ول. قافلې پر همدغه مېنه واړول. تاج الملوک چي دوی وليدل، باره ئې خپل يوه خادم ته وويل چي ته ورسه د دې قافلې د خلکوحال راوړه چي دا څوک دي؟ خادم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ورغی او پوښتنه ئې ځني وکړه، هغوی ورته وویل چې موږ سوداګر یو. دې سیمې ته د استراحت له پاره راغلو. موږ پوهېږو چې دا مځکه د ملک سلېمان شاه او د هغه دزوی ده او د دوی د پاچهۍ قلمرو د امن ځای دئ. موږ ډاډه یو چې دلته زموږ سرومال خوندي دئ. زموږ سره ښه سنګین ورېښمین ټوکران او قیمتي جامې سته چې د تاج الملوک له پاره مو رااخیستي دي. خادم بیرته تاج الملوک ته ورغی او په حال ئې پوه کړ او هغه څه چې له سوداګرو څخه ئې اورېدلي ول، هغه ئې ټول ورته بیان کړل.

شهزاده وویل چې په دې قافله کي زما له پاره هم څه مالونه سته، نو زه تر هغو پوري ښار ته نه ځم چې دغه مالونه و نه ګورم. باره ئې پر آس پښه واړوله او غلامان ئې پر دواړو اړخونو ورسره روان سول او د قافلې خوا ته وررهي سول. قافلې ته چې نزدې ورسېدل، سوداګر ورته راولاړسول. د شهزاده سلام ئې وکړ. د سره اطلس خېمه ئې ورته ووهله. په خېمه کي دننه ئې ورېښمین فرشونه او غالۍ ورته اواري کړې. تاج الملوک دننه کښېنوست او خادمان ئې شاوخوا په خدمت کي تیار ورته ودرېدل. بیا ئې نو سوداګرو ته وویل چې راوړئ، کوم مالونه مو راوړي دي. سوداګرو ئې امر ومانه، هر څه مالونه چې د ده وړ ول، هغه ئې ورته راوړل او مخې ته ئې کښېښوول. شهزاده پکښې وکتل. د خپلي خوښي مالونه ئې ځني واخیستل. قیمت ئې په لاس ورکړ.

آبس، پر آس راسپور سو او کله چې ئې غوښتل خپل اتاق ته ولاړ سي، په دې وخت کي ئې په قافله کي پر یوه ښکلي ځوان سترګې برابري سوې. دې ځوان خورا ښې سنګیني جامې هم اغوستي وې. منګر د ځوان رنګ ته چې دي کتلي وای، له دوستانو څخه د لیري

(c) ketabton.com: The Digital Library



**والي له اسیته تک ژېړ اوښتی وو... کیسه چي دې ځای ته ورسېده ...**

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کیسه پاته ترسبا سوه

# یو سل او یوولسمه شپه

**شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:**

**تاج الملوک چي له قافلې راوتی، په دې وخت کي ئې په قافله کي پر یوه ښکلي ځوان سترګي برابري سوې. دې ځوان خورا ښې سنګیني جامې هم اغوستي وې. منګر د ځوان رنګ ته چي دي کتلي وای، له دوستانو څخه د لیري والي له اسیته تک ژېړ اوښتی وو او اوښکي ئې له سترګو بهېدلې. له ځانه ئې دا بیتونه ویل:**

د بېلتون شپې مي اوږدې سوې واهمې دي راسره
تویوم د فراق اوښکي اندېښنې دي راسره
زړه مي پرېښووی هورې دئ، زه دلې یم لالهانده
تک تنها یم، که هر څو هم قافلې دي راسره

**دې ځوان چي په سرو اوښکو کي دغه بیتونه پای ته ورسول، نو وروسته چوپ سو او سر ئې کښته وځړاوه او بېهوښه ولوېد. یو ګړی وروسته ئې بیرته سر راپورته کړ. تاج الملوک د ده حال ته هک پک تللی دئ. ځوان چي پر هوښ راغی، شاوخوا ئې وکتله او دا بیتونه ئې وویل:**

سترګي نه دي یو جادو دئ، ډک له مکره له افسونه
که ئې چل درباندي جوړ سو، ورځ دي سوه له شواخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښکاره که تکي توري، خماري دي بوري بوري
په باطن تېرې چړې دي، پرې کوي دي اندامونه
پام خطا نه وزئ نیازمنو په خوږو خوږو خبرو
په خوږو کي ئې دي زهر، قتلوي ژوندي سرونه
په پستو نازکو لېچو، په وریښمینو نرۍ ګوتو
ساوي باسي له بدنه، پرې کوي غټ ښارګونه

دا بیتونه چي ئې وویل نو ئې یوه لویه چیغه له خولې ووتله او بیا بېهوښه سو. تاج الملوک چي د ده دا حال ولید. ډېر ئې زړه پر وسوځېد او د ده خوا ته وررهي سو. کله چي د دې ښکلي ځوان سر ته ورسېد، ځوان هم پر هوښ راغی او سترګي ئې روڼي کړې. شهزاده چي ولید، له ځایه را پاځېد او سلام ئې ورواچاوه او مځکه ئې مچ کړه. تاج الملوک ورته وویل چي ولي دي خپل مالونه ما ته راښکاره نه کړل؟ ځوان ورته وویل چي زما په مالو کي داسي څه نه ول چي ستا دي وړ وای. شهزاده ورته وویل چي خیر دئ، هر څه چي وي، ما ته ئې راوړه چي زه ئې وګورم. خپل حال دي هم راته بیان کړه چي دا ولي داسي ژړانده یې؟ ولي داسي په غم اخته یې؟ که چا ظلم درباندي کړی دئ، خو راته ووایه چي غم دي وخورم. که پوروړی یې، خبر مي کړه چي قرضونه دي ادا کاندم. زما فکر و چورت په تا باندي ډېر خراب سو او زړه مي درباندي وسوځېد.

آبس، تاج الملوک امر وکړ چي د عاج او آبنوس لرګي چوکۍ دي راوړل سي. وریښمین فرشونه او غالۍ دي اواري سي. چوکۍ راغلې او غالیاني اواري سوې. تاج الملوک پر چوکۍ کښېنوست او ځوان ته ئې پر غالۍ باندي د ناستي اجازه ورکړه. باره ئې ځوان ته وویل چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دي نو خپل مالونه راوړه چي زه ئې تر نظر وباسم. ځوان ورته وويل چي دا خبري مه کوه، زما مالونه ستا له شان سره برابر نه دي. تاج الملوک ورته وويل چي، هرومرو به ئې رابنکاره کوې. باره ئې پر خادمانو امر وکړ چي د ځوان مالونه د ده له اجازې پرته راوړي. ځوان چي دا حالت وليد، تر سترګو ئې اوښکي تويي سوې او دا بيتونه ئې وويل:

د رنجو احسان راباندي چي ستا سترګي ئې کړې توري
منتباره د کجل يم په لېمو چي دي کړل پوري
د سرو شونډو په شرابو دي سرونه زانګي زانګي
د باڼو غشي دي وزي زما له زړه نه پوري ووري
چي په خيال و تصور کي دي تصوير د ښکلا راسي
پر زړګي مي زلزله سي، اسمان څرخي، مځکه ښوري

څه سردي پرله ګرځوم، ځوان خپلي غوټي موټي سره خلاصي کړې. يو يو ټوکر ئې ځني راايستی او تاج الملوک ته ئې وربنکاره کاوه. په دې مابين کي ئې يوه وريښمينه زرينه خامکي ټوټه هم له غوټو څخه راوايستله چي يو زر ديناره ارزښت ئې درلود. دا ټوټه چي ئې تاج الملوک ته خلاصول، له منځه ئې يوه بله تراډه راولوېده. ځوان چابک پر حمله کړه او تراډه ئې تر زنګانه لاندي پټه کړه. په دې وخت کي ئې دا بيتونه وويل:

زما د رنځ علاج په تا دئ ستا نظر دئ پر بل چا
د بخت ستوری مرور دئ، کړي رونا پر بله خوا
زه فراق يم ننولی، زه بېلتون يم ځورولی
څو تر څو به هجران ګالم، ژوند به کړمه پر سارا

(c) ketabton.com: The Digital Library



که وصال وي که بېلتون وي، زما په برخه دي دردونه
که سفر وي که حضر وي، د غم پېټی مي په شا
مينه څو مره اوږد مزل دئ، د عشق لار ده څومره سخته
نه ئې سر ستنه ئې ښکر سته، نه ئې پای نه انتها

**تاج الملوک د ده دې بيتو ته حيران پاته سو، سر ئې نه په خلاصېدی چي دې ځوان ته څه پېښه ده؟ باره ئې ځني وپوښتل چي دا د ټوکره تراډه دي ولي تر زنګانه لاندي پټه کړه؟ ځوان ورته وويل چي پرېږده ئې، هسي يوه بېکاره ټوټه وه. شهزاده ورته وويل چي ته ئې راښکاره کړه ... کيسه چي دې ځای ته ورسېده ...**

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او دوولسمه شپه

**شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:**

**تاج الملوک ورته وويل چي ته راکه، دغه ټوټه. زه ئې هرومرو بايد وګورم. ځوان جڼه جڼه کړه. تاج الملوک ورته په خښم سو. آبس، ځوان هم تراډه له زنګانه څخه ورته راوايستله او شهزاده ته ئې ورښکاره کړه. په دې وخت کي د ځوان تر سترګو لپي لپي اوښکي وبهېدې او دا بيتونه ئې ورسره وويل:**

ملامت نه يم عالمه، نه وړيمه د پېغور
نه مي څوک چيغو ته غوږ ږدي نه مي اوري د زړه شور
رانه پاته ده په کور کي تر سپوږمۍ ښايسته حوره
د سپين مخ په تجلا ئې نوراني دئ کلي کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژړا مي رخصت واخيست، په غوغا ځني جدا سوم
د بېلتون تر کړاوونو، مرگ بهتر چي پرې کړم پور
د هجران تودې سکروټې نه سړېږي زما په اوښکو
اوښکي نه دي تور باروت دي، اور په اخلي لا تاو نور
زړه تې واچوئ نيازمنو، دروغ ئې مه بولئ زما کريږي
جدايي مي کړه ملا ماته، اخلم گام د زړه په زور
نه په ورځ کي هوسا کېږم نه په شپه خوب و ارام کړم
د عشق څه ناسوري رنځ دئ، خدای دي څوک نه کړي په تور
که طبيب چيرته پيدا سي چي په زهرو مي علاج کا
په دوعاوو به ئې بولم چي رادرومه زما پر لور

ځوان چي دا بيتونه پای ته ورسول، باره تاج الملوک مخ ورواړاوه او ورته وې ويل چي ځوانه! ستا کار ما ته وران ښکاري. ته راته ووايه چي د دې تراړي په ليدلو دې ولي بې اختياره اوښکي راغلې؟ ځوان چي دا واورېده، يو سوړ اسوېلی ئې له خولې وکيښ، په ژړا سو او وې ويل: اې شهزاده! زما کيسه له عالَمه ماسېوا او له دغي تراړي، د هغې له ښتن او له دغه انځور سره تړلې ده. آبس، د ټوکره تراړه ئې ورته وغوړوله. پر هغې باندي د يوې هوسۍ انځور وو چي په سرو گلابتونو روغ سوی وو، دا ئې شهزاده ته ورښکاره کړه. د دې هوسۍ مخي ته بيا د يوې بلي هوسۍ انځور وو، چي دا بيا په سپينو گلابتونو روغ سوی وو. د دواړو هوسيو په غاړه کي د سرو زرو امېلونه رسم سوي ول. تاج الملوک چي د دې انځورونو هنر او کمال ته وکتل، باره ئې له خولې راووتل چي: "سبحان الذي علم الانسان مالم يعلم". پاکي دي وي هغه رب ته چي انسان ته ئې هغه څه ورښوولي دي چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده زده نه ول. د تاج الملوک په زړه کې د دې ځوان کیسې ته ډېره تلوسه پیدا سوه او ورته وې ویل چې ته دې دا خپل نکل او د دې انځورونو او د هغه د څښتن بیان راته وکړه. ځوان ورته وویل چې: "اې شهزاده! غوږ راته ونیسه چې زه خپل داستان درته واوروم". تاج الملوک ورته وویل چې غوږ مې دئ.

# د عزیز او عزیزې نکل

ځوان ول، زما پلار خورا غټ سوداګر وو. له ما پرته ئې بل اولاد نه درلود. زما یوه د کاکا لور وه. دا نجلۍ له پلاره یتیمه پاته سوې او زموږ په کور کې زما سره کوچنۍ لوی سوې وه. زما کاکا دې خدای وبخښي، په ژوند کې لا زما له پلار سره وعده کړې وه چې دا خپله لور به خپل وراره یعني ما ته په نکاح کوي. موږ چې دواړه رالوی سوو، مخپوټی مو په منځ کې نه وو. مور او پلار مو پر دې سلا سول چې سږکال به که خیر وو، د عزیز او عزیزې واده کوو. پلار مې هره ورځ د واده د پوښ او جهیز په برابرولو لګیا وو. زه او دا د کاکا لور مې په یوه خونه کې بېدېدلو، نه په نور ښه و بد پوهېدلو او نه په دې چې سبا ته څه پېښېږي؟ دا نجلۍ تر ما هوښیاره وه او په ډېرو خبرو ئې سر خلاصېدی. پلار مې د واده ټول کار برابر کړ، اوس نو بس یوه نکاح پاته وه چې راوئې تړي. د نکاح له پاره مې د پلار داسي خوښه وه چې د جمعې په ورځ به تر لمانځه وروسته، که خدای کول، نکاح تړله کېږي. آبس، د جمعې ورځې ته ئې خلک خبر کړل. ښه لویه مېلمستیا ئې جوړه کړه. مور مې د نورو سوداګرو ښځمني مېلمستیا ته راوبللې. د جمعې ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي راورسېده. په خونو کې کوربچې اواري کړې. د سراى غولى ئې هم په سرو غاليو فرش کړ. کوربچې او نيالۍ ئې پر اواري کړې. بالښتان ئې ورته کښېښوول. د دالان مخي ته ئې لوى تخت جوړ کړ. د زرغونې بنارسۍ پوښ ئې پر اوار کړ. شاوخوا ئې خادماني ودرولې. ګلاب پاشونه ئې په لاس ورکړل چي پر مېلمنو باندي ګلاب او مشک وپاشي. خلک منتظر ناست ول چي د جمعې لمونځ وسي، نو به ټول سره راغونډ سي او نکاح به وتړله سي. زه ئې حمام ته بوتلم. حمام چي مي وکړ، ښې سنګيني جامې ئې راباندي واغوستلې. عطر ئې رااووهل. لمانځه ته رهي سوم. مسجد ته پر لاري مي يو انډيوال راپه ياد سو، چي بايد دې مېلمستيا ته ئې خبر کاندم. له ځانه سره مي وويل چي د دې انډيوال کور خو دلته نژدې دئ. يو وار به په منډه تر کوره ورسم او خبر به ئې کړم. لمانځه ته به بيرته ځان راورسوم. د انډيوال د کور په کوڅه چي ورننوتلم، کور ئې راڅخه ورک سو. دې خوا ته ولاړم، ها خوا ته ولاړم. د کوڅې سر ته مي الا کړه. بيرته ئې پاى ته راغلم. د يوې خوا له حمامه تازه راوتلی وم او ټول بدن مي په خولو لوند خيشت وو، له بلي خوا دا منډې سوې، آبس، خولې مي پر مخ راماتي سوې. د عطرو خوشبويۍ ټوله کوڅه واخيستله. له ځانه سره مي وويله چي ته راسه، يوه سيوري ته کښېنه، لږ څه به دي دا خولې هم وچي سي او ګوندي يو څوک موک راښکاره سي چي د انډيوال د کور پوښتنه ځني وکړم. باره مي د اوږې دسمال يوه دېواله ته اوار کړ او زه پر کښېنستلم. د خولو د پاکېدلو شى نه وو راڅخه. ځکه دسمال مي تر ځان لاندي کړى وو، په لستوڼي مي خولې نه سواى پاکولاى، ما ول، نه ګانه چي دا نوي پاک کالي مي خيرن نه سي. په دغه چورت کي يم چي دپاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یو چا سپین دسمال راواچاوه. دسمال مي په لمن کي ولوېد. دسمال چي مي له لمني څخه راواخیست، پورته مي وکتل چي ځانته معلومه کړم چي دا دسمال له کومي خوا راولوېد؟ پاس چي مي وکتل سترګي مي د دغو هوسیو د انځور پر ښتن ولګېدې.... کیسه چي دې ځای ته ورسېده ...**

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او دیارلسمه شپه

**شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:**

**تاج الملوک وایي سر چي مي پورته کړ او پاس مي وکتل، سترګي مي د دغه انځور پر ښتن برابري سوې چي د کور په کړکۍ کي ناسته وه. یا پاکه ذوالجلاله! ما د بنیادم په توکم کي داسي ښایست نه وو لیدلی. زه چي ئې ولیدلم چي د دې خوا ته ګورم، باره ئې سر تر کړکۍ ښه راوایست. د شهادت ګوته ئې پر شونډو کښېښووله. بیا ئې منځوۍ ګوته هم ورسره یو ځای کړه او د خپلو تیو په منځ کې تېره کړه. زیاتي نو بیرته تر شا سوه او کړکۍ ئې وتړله. زما پر زړه ئې اور رابل کړ او دې ته چورت یووړم چي دا ئې څه راته وویل او د ګوتو په دې اشاره کي ئې مطلب څه وو؟ آبس، سترګي مي په کړکۍ کي ښخي پاته سوې. کړکۍ تړلې ده او زه تر ماښامه پوري ورته منتظر کښېنستلم. نه مي بیا څوک په سترګه سو او نه مي د چا ږغ واورېد. د کړکۍ له خوا چي ناامیده سوم، باره مي دا سپین کت کړی دسمال راواخیست، سره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ومي غوړاوه. د عطرونو خوشبويي ځني را پورته سوه. دسمال مي ښه واړاوه، راواړاوه. له منځه ئې د کاغذ يوه پيچلې پاڼه راولوېده چي دا بيتونه پر کښلي ول:**

د مينـي دا څـو تـوري د رلېـږم پـه ډېـر هـوس
پرهرتـوري مـي نـه دئ سـپمولی دا خپـل وس
پـوهېږم چي پـه زړه کي بـه درگرځي دا سوالونه
چـي چيرتـه راپيـدا سـوه؟ دغـه نـاوې د جـوس
جواب ته منتظره يم چي ستا لـه خولې نه واورم
"جانانـه ! دا زمـا مينـه تـر تـا زياتـه يـو پـه لـس"

**کاغذچي مي ولووست، وروسته مي دسمال ته وکتل، د هغه پر ځنډو باندي هم دا څو بيته ليکل سوي ول:**

توري کرښي دي پر سپين مخ هسي زېب کا
لکــه مــشق چــي وي ليکلــی خطاطــانو
اننگــي دي ســره و ســپين گــل د گــلاب دئ
بــوري ســـترگي دي زړه وړي د عاشـــقانو

**د دسماله پر دا بله څنډه ئې دا بيتونه کښلي ول:**

سپين بـاڼ خو دي دئ پـه شـان د مرغلرو
زنخــدان دي ســره منــه ده او شــېرينه
توري سترگي دي نازونه او غمزې کړي
ســپينه خولــه دي ده خــوږه تــر انگبينــه

**دا بيتونه چي مي پر دسمال باندي ولوستل، نور نو سمدم اور راولگېد. په زړه کي مي د ميني ولوله ژوندۍ سوه او پسې گړندۍ سوه. کاغذ او دسمال مي دواړه راواخيستله او کور ته رارهي سوم. نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي زړه صبر کاوه او نه مي د وصل لار و لیکه معلوملای سوای. لکه باوله غوندي په دې کوڅه ننوتلم او تر ها بلي راوتلم. نیمه شپه وه، چي کور ته ورسېدم. خوني ته چي ننوتلم، د کاکا لور مي په سرو اوښکو ناسته ده. زه چي ئې ولیدلم، باره ئې اوښکي پاکي کړې. راولاړه سوه. دسمال ئې له اوږې څخه رانه واخیست او پوښتنه ئې راڅخه وکړه چي دا چیري تللی وې؟ دغه راز ئې راته وویل چي د ښار معتبره خلک، مخور او سوداګر ټول راغونډ سوي ول. قاضي او شاهدان راغلي ول. مړې ئې وخوړه. یو ګړی لا ناست ول. آخر چي ستا درک معلوم نه سو، باره بیرته خپلو کورو ته ولاړل. دا ئې هم راته وویل چي پلار دي دومره درته په خښم دئ، چي مه کوه پوښتنه. که په لاس ورغلې،نه هغه به در وکړي. پلار دي قسم اخیستی دئ چي تر راتلونکي کال را په دې خوا به بیا د نکاح مېلمستیا جوړه نه کړي. همدومره پیسې ئې وې، چي په دې مېلمستیا کي ئې ولګولې. بیا نو د کاکا لور راته وویل چي ته چیري ورک سوې؟ ما ورته وویل چي: "آ، زما د کاکا لوري! دا مه راڅخه پوښته چي چیري تللی وم". وروسته مي هغه دسمال او کاغذ ورښکاره کړل او خپل حال مي له سره تر پایه ورته ووایه. د کاکا لور مي دسمال او کاغذ راڅخه واخیست. څه چي پر لیکل سوي ول، هغه ئې ولوستل او تر سترګو ئې اوښکي راغلې او دا بیتونه ئې وویل:

مینه ټوکي نه دي ګرانه! د عشق کار نه دئ اسانه

نامېندی دي، دیدنی دي، سوز و درد ئې دئ پرېمانه

پیل ئې درد دئ، پای ئې درد دئ، د دردونو مجموعه ده

آرامي پکښې کي نسته، سراسر ژوند سرګردانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دردونو په مزله کې هم خوښی سته هم غمونه
بختور به پوري وزي له دې بحر بې پايانه
عشق يو سوز دئ يو گداز دئ، يو پټ سِر دئ يو پټ راز دئ
حقيقي دئ که مجاز دئ، يو د روند رنځ دئ بې درمانه
عشق او ژوند سره تړلي، نه بېلېږي يو له بله
بې له عشقه سر کډو دئ، کډو هر چيري ارزانه
خطرات د ميني ډېر دي، مشقات د عشق بې شمېره
خداى دي ساته په دې لار کې زما زړگيه، زما جانانه

د کاکا لور چې مې دا بيتونه وويل، باره ئې پوښتنه راڅخه وکړه چې د دسمال او کاغذ مېرمني نور څه درته و نه ويل؟ او کومه اشاره ميشاره ئې درته و نه کړه؟ ما ورته وويل چې په خوله خو ئې څه و نه ويل، منگر د شهادت گوته ئې پر خوله کښېښووله، بيا ئې نو منځوی گوته ورسره يو ځای کړه او پر خپله سينه ئې کښېښووله او مځکې ته ئې وکتله. تر دې وروسته ئې کړکۍ وتړله. زه تر لمر لوېدو پوري ورته ناست وم. دا بيرته راښکاره نه سوه. په پای کې زه ځني نااميده سوم او کور ته راغلم. زما نکل دغه وو، چې درته ومې کړ. اوس به خدای کوي، ته به کوې او زما سره به په دې کار کې مرسته کوې. د کاکا لور مې مخ راواړاوه او راته وې ويل چې اې زما د زړه سره، د کاکا زويه! ته چې دا زما سترگې هم راڅخه وغواړې، تر تا به ئې قربان کړم. ولې به ستا سره مرسته نه کوم. لکه ته چې پر دې مين يې، دا خواره هم پر تا باندي مينه ده. ما ځني وپوښتل چې د دې اشارو معنا ئې څه ده؟ عزيزې راته وويل چې پر خوله باندي د گوتي ايښوولو معنا ئې دا ده چې گويا ته د دې د تن له پاره لکه روح داسي يې. يا به ئې مطلب دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي چي ته ورته د عقل د غاښ په شان ورنزدې يې. د دسمال معنا ئې دا ده چي ګويا د عاشقانو په څېر سلامونه درته رالېږي. د کاغذ معنا ئې دا ده چي د دې زړه ستا سره تړلی دئ. او دا چي دوې ګوتي ئې پر خپله سينه باندي د تيو په منځ کي کښېښولې، په دې کي ئې مطلب دا دئ چي دوې ورځي وروسته دلته راسه چي له زړه څخه مي غم ليري سي. نو اې د کاکا زويه! سر خلاص کړه چي دا درباندي مينه ده. د اشارو بيان او معنا خو دغه وه چي درته ومي کړه. که ما د دې اجازه درلوداى چي له کوره دي دباندي ووځم، ډېر ژر به مي تاسي دوه سره يو ځای کړي وای او ستاسي پټ راز به مي هم خوندي ساتلی وای. ځوان سوداګر په دې وخت کي تاج الملوک ته وويل: اې شهزاده! ما چي د کاکا د لور دا خبري واورېدې، له دې څخه ډېر ممنون سوم او دوې ورځي مي غاښ وچيچه. نه له کوره ووتم، نه مي په شي څکه وکړه، نه مي يو څاڅکی اوبه تر ستوني تېري کړې. سر مي د کاکا د لور پر زنګانه ولګاوه. دې به هر ګړی د زړه د جوړې خبري راته کولې. زه به ئې دلاسا کولم او راته ويل به ئې چي ډېر تشويش مه کوه. زړه ور اوسه او همت له لاسه مه ورکوه.... کيسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

***

# يو سل او څور لسمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان سوداګر تاج الملوک ته وویل چې دوې ورځې په دغه ډول راباندې تېرې سوې. دریمه ورځ مې د کاکا لور راته وویل چې زړه دې بیداره لره. همت دې لوړ کړه او ورسه کالي مالي دې واغونده او خپل د وعدې ځای ته دې ورسه. آبس، د کاکا لور مې ولاړه سوه، ما ته ئې جامې مامې راوړې. راباندې وائې غوستلې. عطرمطر ئې راباندې ووهله او زه هم په پوره زړه له کوره راووتلم. هماغې کوڅې ته ورغلم. د دېواله بغل ته پر خرنګ باندې یو آن کښېنستلم. چې ګورم، ناڅاپه کړپ سو. کړکۍ خلاصه سوه. ما چې مخ ورواړاوه، هغه لوبته ناوکۍ مې بیا ولیده. زړه مې ډوب سو. یو ګړی بېهوښه وم. چې پر سد راغلم، بیا مې ورته وکتل، دا وار بیا بېهوښه سوم. پر هوښ چې راغلم او ورته ومې کتل، ایینداره او سور دسمال ئې په لاس کې وو. زه چې ئې ولیدلم چې ورته متوجه یم، باره ئې لستوڼی راوغاړه. د لاس پنځه ګوتې ئې ارتې ونیولې او پر خپله سینه ئې کښېښوولې. بیا ئې ایینداره په دواړو لاسو ونیوله او تر کړکۍ ئې دباندې راوایستله. وروسته ئې سور دسمال درې واره تر کړکۍ لاندې راوځړاوه او بیرته ئې ورکش کړ. سور دسمال ئې دا وار په لاس کې سره ومروړه. تر دې وروسته ئې سر له کړکۍ څخه دباندې راویوست. شاوخوا ئې وکتل. سر ئې بیرته دننه کړ او کړکۍ ئې وتړله او ولاړه. نه ئې خبره راسره وکړه، نه ئې اتره. د لاسه ئې لا په تشویش کې واچولم چې د دې اشارو معنا و مقصد ئې څه وو؟ د ماخستن تر اذانه هورې ورته ناست وم، د دې هیڅ درک و خرک بیا معلوم نه سو. باره رارهي سوم. نیمه شپه وه چې کور ته راغلم. خوني ته چې ورننوتلم، د کاکا لور مې مخ پر دېواله ناسته وه او ژړل ئې. په ژړاکې ئې دا بیتونه ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــه یــم ور ډ بهتــانونو، نــه لایقــه د تهمــت یــم
نــه ګنـاه نــه مــي تعــدا ســته نــه محتاجـه د لعنـت یـم
د ژوګــي اختیـار مــي نــسته، مجبـوري ده مجبـوري ده
چي پر ګل باندي مي مینه، چي له عشقه په زحمت یم
یــم زخمــي پــه تېــره غــشي د خمــارو ســترګو بــورو
ټپ د میني مي اخیستی، خوب مي نسته لټ پر لټ یم
د عــشق درونـد بـار مـي اخیـستی تـر مزلـه بې رسـومه
خدایــه تــوان د ورلـو راکـړه، زه کمـزورې پـه خلقـت یـم
اسوېلي مي اسمان سوځي، زمان سوځي، مکان سوځي
دا چـي ږغ لـه خـولې نـه باسـم، یـم پاپنـده پـر عفـت یـم
خدایــه تــا تــه وه اســانه چــي ژوګــی مــي وای ډېــره
یو خوا زړه تر ګل نازک سو، بل خوا ناسته زه پر پټ یم

**دا بیتونه چي مي واورېدل. غم مي یو په سله سو. باره د خوني په کونج کي ولوېدم. د کاکا لور مي راولاړه سوه. له مځکي ئې راپورته کړم. کالي ئې راځخه وایستل. مخ ئې پخپل لستوڼي راپاک کړ او د حال احوال پوښتنه ئې راځخه وکړه. پر ما چي څه راغلي ول او څه چي مي لیدلي ول، هغه مي ټول ورته بیان کړل. دې راته وویل چي اې، د کاکا زویه! د پنځو ګوتو په اشاره کي ئې مطلب دا دئ، چي پنځه ورځي وروسته بیا راسه. د ایینداري په ښکاره کولو او له کړکۍ څخه د سر په راایستلو، د سره دسمال په راځړولو او مروړلو کي ئې مقصد دا دئ چي د رنګرېز په دوکان کي راته کښېنه چي زما ایلچي به هورې درسي. د کاکا د لور خبري چي مي واورېدې، میني دومره زور راباندي وکړ چي ما ویل اور راولګېد. باره په ژړا سوم او د کاکا لور ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي وويل: "قسم په خداى چي حقيقت دي ووايه. ما په هماغه کوڅه کي د يوه يهودي رنگرېز دوکان وليد". د کاکا لور مي راته وويل چي زړه دي قوي ولره. واسرنگی کېږه مه. نور ځوانان هم په مينه مبتلاسوي دي. کلونه کلونه ئې د عشق دردونه گاللي دي او صبر او تيگا ئې کړې ده. تا ته خو فقط يو پنځه ورځي گوري. ته بيا اوس داسي بې طاقته سوې. د کاکا لور مي دغه شان خبري ډېري راته وکړې او ما ته ئې تر هغو پوري د زړه دلاسايي راکوله، څو ډوډۍ ته ولاړه سوه. سترخان ئې راووړ. يوه گوله ئې ما ته راکړه. زه د څکي لوېدلی وم. خورک و چښنگ مي نه سواى کولاى. د رنگ بڼه مي ځکه الوتې وه چي ما پخوا د عشق سختۍ نه وې ليدلي او د بېلتانه شولي نه وې راپوري سوي. ورځ په ورځ له ډېره غمه څخه تارونار کېدم او د کاکا لور مي بيا زما له غمه پر اور ناسته وه او ورځ په ورځ نښدله. هره شپه به ئې د مينو عاشقانو کيسې راته کولې او راته ويل به ئې چي صبر بايد وکړم. هر وخت چي به له خوبه راويښ سوم، دا به مي ليدله چي ويښه راته ناسته ده او اوښکي راته تويوي. په دې ډول پنځه ورځي تېري سوې. په پنځمه ورځ مي د کاکا لور ولاړه سوه، اوبه ئې تودې کړې. په ما ئې غسل وکړ. پاک خواپاکی ئې کړم. کالي ئې راباندي واغوستل او راته وې ويل چي اوس دي نو خپلي ښايستې ته ورروان سه. خداى دي تر مراده ورسوه. آبس، زه هم له کوره راووتم. د هماغي کوڅې خولې ته ورسېدم، گورم چي د يهودي رنگرېز دوکان تړلی دئ. وروسته مي فکر سو چي رشتيا، نن خو د شنبې ورځ ده. د مازيگر تر اذانه تړلي دوکان ته ناست وم. په پاى کي لمر ولوېد او د ماښام د لمانځه وخت سو. ورپسې تاريکه سوه او شپه راورسېده، خو د هغي ښايستې درک معلوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نه سو. د ځان پر يوازيتوب وبېرېدم. سر مي راته په څرخ سو، باره راولاړسوم. د لاس په ټپرېدو مي ځان تر کوره راورساوه. کور ته چي راغلم، د کاکا لور عزيزه مي وليدله چي يو لاس ئې په دېواله کي پر ټکوهلي موږي او بل ئې پر ځيگر ايښی دئ. ژاړي او دا بيتونه وايي:**

ساراييي عرب که بند سو دا د عشق په کاروبار کي
خدايږو بيا که قدم واخلي له کاروان سره په لار کي
نه به بيا په اوښ پسې سي، نه به بوټي راوړي کور ته
په سکروټو بې د ميني، زړه مکوټ سي په انگار کي
که هر څو ئې نازومه، که هر څو ئې گرانومه
ناست له ماسره په کور کي زړه ئې بند دئ په بازار کي

**بيتونه چي ئې پای ته ورسول، باره ئې اوښکي په لستوڼي پاکي کړې او ما ته ئې په شونډو کي ومسل او راته وې ويل چي د کاکا زويه! نوش جان دي سه دا د نن عيش وعشرت. ولي دي نن شپه له خپلي معشوقې سره هم نه تېروله او د خپل زړه اور دي ولي نه سړ اوه. ما چي د دې دا خبري واورېدې، باره خښم راغی او په لغته مي پر دا ځيگر باندي ووهله، دا پړمخي غوځاره سوه او تندی ئې د دېواله پر موږي برابر سو، موږی په ننووت او د وينو شور سو. .... کيسه چي دې ځای ته ورسېده...**

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او پنځلسمه شپه

**شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان سوداګر وویل چي د عزیزې تندی پر مووړي برابر سو او مووړی په ننووت. د وینو شورهار سو، له تندي ئې راروانې سوې. چوپه پاته سوه او هيڅ ئې و نه ویل. یو آن همداسې ناسته وه، آخر ولاړه سوه، یو زړوکی ئې وسوځاوه، تورکښې ئې د تندي پر ټپ باندي کښېښوول. تندی ئې په یوه بل ټوکره وتاړه. پر مځکه چي وینې تویې سوې وې، هغه ئې پاکې کړې. دا کار چي ما له دې سره وکړ، والله که مې په خپل عمر هم کړی وو. دې چي ځای مای پاک کړ، باره زما خوا ته په خندا راغله او راته وې ویل چي اې د کاکا زویه! دا خبرې چي ما درته وکړې، د خدای په خدایې که مې د هغې شایستې او پی مخې نجلۍ د ریشخندولو په خاطر کړې وې. خوا مه بدوه. ښه سو زما پر سر باندې داسې درد وو چي طاقت مې نه سوای کولای. دا وینې چي راڅخه ولاړې، یو څه مې سر راته سپک سو. ته اوس خپل بیان راته وکړه چي نن ورځ څرنګه دربانديې تېره سوه؟ ما خپل نکل ټول ورته وکړ او په ژړا سوم. دې راته وویل چي مبارک دې سه، که خدای کول خپل مقصد ته رسېږې. د دې نه راتګ له دې اسیته وو، چي ته یې ازمویلې چي په مینه کې دې استقامت او رشتیا وګوري. ته سبا ولاړ سه او پر هغه دوکان ورته کښېنه، بیا به وګورې چي د خوشالۍ وخت دې راسېدلی دئ، که نه؟ مقصد ما ته ئې ډېره خاطر جمعې راکړه. منګر زما غم وار په وار ډېرېدی. دا ولاړه سوه سترخان ئې راووړ او ډوډۍ ئې کښېښووله. ما سترخان په پښه وواهه، لوښې موښې مې ټول پر دا بله راواړول او ورته ومې ویل چي عاشقانو ته خوب و خورک حرام دئ. دې خوارکۍ په ژړاندو سترګو د لوښو ماتې سوي ټوټې ټولې کړې. سترخان ئې ټول کړ او راغله زما څنګ ته کښېنستله. ما ته ئې دلاسایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکوله او ما دوعاوي کولې چې خدای دا شپه ژر تېره کړي. شپه چې تېره سوه، سهار سو. زه هماغي کوڅي ته روان سوم او پر هماغه خرنګ باندي منتظر کښېنستلم، چې ناڅاپه کړپ سو او کړکۍ خلاصه سوه او هغي د جنت حوري په خندانه خوله سر له کړکۍ راویوست. په یوه لاس کي ئې اینداره، یوه کڅوړه وه او یو غلبېل وو چې له زرغونو واښو ډک وو. په بل لاس کې قندیل وو. اول کار ئې دا وکړ چې اینداره ئې په کڅوړه کي واچوله او د کڅوړي خوله ئې وتړله، د خوني په یوه کونج کي ئې کښېښووله. بیا ئې نو خپلي کوڅۍ پر مخ راایله کړې، قندیل ئې یو آن د زرغونو واښو پر غلبېل کښېښوو. وروسته ئې شیان میان ورسره واخیستل او کړکۍ ئې وتړله او ولاړه. د دې له پټو اشارو او خبرو نه کولو له اسیته مي هم عشق و مینه هم حیرت زیات سو. بیرته په ژړا او سرو اوښکو کور ته راغلم. د کاکا لور مي بیا مخ و دېوال ته ګرځولی دئ. زړه ئې د غم او ماتم په اور کباب دئ خو څرنګه چې زه بیخي ډېر پر ګران وم، ما ته ئې ځان خوشاله ښرګنداوه. ما چې ورته وکتل، تندی ئې په ټوکره تړلی وو او سترګي ئې له ډېري ژړا ښخه پړسېدلي وې او په خورا غمناکه توګه ئې دا بیتونه زمزمه کول:

څه او رېدي غمجني شپې دي نه تېرېږي نې تمام سته
څه د ژوند ترخې شېبې دي نه ئې پای نه ئې انجام سته
نه یو دوست سته نه خواخوږی چي په غم ئې را شریک کړم
نه یو ناز سته د نیازمنو، نه اکرام نه احترام سته
زړه مي چوي له ډېر ګرومه، د بې مِهرو له جنونه
د عشق څو مره پیکړې دي، پر عاشق علی الدوام سته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيتونه چي ئې پاى ته ورسول. ما ته ئې پام سو. باره راولاړه سوه، اوښکي ئې پاکي کړې. له ډېره خروښه ئې خبري نه سواى کولاى. يو ګړى پټه خوله راته ولاړه وه. وروسته ئې راته وويل چي نن څه درته پېښه سوه، حال دي راته ووايه. ما ټول بيان ورته وکړ. دې راته وويل چي يو څه صبر لا وکړه، د وصل وخت دي رانزدې سوى دئ. دا چي اينداره ئې په کڅوړه کي واچوله، معنا ئې دا ده چي د لمر تر لوېدو پوري صبر وکړه. دا چي زلفي ئې پر مخ راخپرې کړې، مطلب ئې دا دئ چي شپه تياره سي. له زرغونو وښو ډک غلبېل معنا دا چي باغ ته رانوزه. د قنديل معنا دا چي په باغ کي راځه، راځه، راځه، هر ځاى چي دي قنديل وليد، هورې راته معطله سه. د کاکا د لور خبري چي مي واورېدې، نزدې وو چي له ډېري خوشالۍ څخه چيغي ووهم. باره مي دې ته وويل چي تر څو به مي خطاباسې او داسي ځايوته به مي استوې چي هورې مي د زړه مراد هيڅکله هم نه تر سره کېږي. داسي ښکاري چي دا ستا معنا او تعبير دي سهي نه وي. دې راته وخندل چي ته خو دا نن تر ماښامه پوري طاقت وکړه. شپه چي په خير راغله، ته به هم وصال ته ورسېږي. زما خبري دي زړه ته واچوه. بېغمه اوسه. کار سم روان دئ. بيا ئې نو دا بيتونه وويل:

انتظار پر ختمېدو دئ وخت نزدې د خوشالۍ
د مراد لمر پر راختو دئ، ورځ راځي د کامرانۍ
د غمو کمبله ټوله، اندېښني په تېښته درومي
خزان تېر سو، بهار راغى، په خندا سولې غوټۍ

وروسته ئې ما ته مخ راواړاوه او ښې د زړه د جوړې نرمي نرمي خبري ئې راته کولې، خو زما له ډاره ئې سترخان نه راووړ او مړى ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته تیاره نه کړه. باره ئې کالي راخخه وکښل او راته وې ویل چي یو ګړی کښېنه، زه به دي په مجلس باندي د انتظار شېبې درلنډې کړم. شپه چي راورسېده، ته به هم که خدای کول د خپلي معشوقې بغل ته ورسېږې. زما د دې خبرو ته غوږ نه وو، هسي د انتظار لحظې مي شمېرلې. شپه چي راورسېده، د کاکالور مي په ژړا سوه. د خالصو صندلو یو غټی ئې راکړ او راته وې ویل چي دا صندل به په خوله کي ونیسې او کله چي دي له خپلي معشوقې سره د زړه مراد تر سره کړ، نو به دا بیت ورته ووایې:

د خـدای روی دئ، عاشـقانو راته و وایاست رشتیا
د هغه عشق به پای څه وي؟ چي وي پټ له خپل اشنا

آبس، زه ئې پر مخ ښکل کړم او قسم ئې راکړ چي دا بیت به هرومرو له هغې څخه د راتګ پر وخت ورته وایې. ما ورسره ومنله. د شپې په تیاره کي له کوره راووتم. تلم، تلم، تلم، څو هماغه باغ ته چي په هماغه کوڅه کي د دې کور ته نږدې وو، ورسېدم. د باغ دروازه خلاصه ولاړه وه. باغ ته ورننوتم. له لیري مي یوه روښنایي تر سترګو سوه. هغې خوا ته وررهي سوم. هورې چي وروروسېدم. یو لوی دالان وو. چت ئې د عاج او آبنوس له لرګیو څخه جوړ سوی وو او قندیل ئې په منځ کي راځړېدی. په دالان کي ورېښمین فرشونه او غالۍ اواري وې. تر قندیل لاندي په یوه لویه مجمه کي شمعه بلېدله. دالان ته نږدې د اوبو یو حوض وو. د حوض پر غاړه سترخان غوړېدلی او ورېښمین پوښ پر اوار سوی وو. د سترخان څنګ ته په یوه غټ زرین پتناسه کي ډکه صراحي پرته وه او بلوړین جامونه پر کتار سوي ول. څنګ ته ئې د سپینو زرو غوري پروت وو چي سر ئې پټ وو. سر چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې پورته کړ، رقم په رقم مېوې پکښې وې. د مېوو ځنګ ته ډول ډول خوشبويه ګلان اوډل سوي ول. دا ځای چې مي وليد، نور نو غم او خپګان راځخه ولاړ او ترانداز ې زياته خوښي او خوشالي رابانديي راغله. دالان تش تور ولاړ وو او هيڅوک مي پکښې و نه ليدل....
کيسه چې دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يوسل او شپاړسمه شپه

شهرزادي وويل: اې زمونږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چې:

آبس هغه زلمي و تاج الملوک ته وويله چې په دغه باغ کي نو زمازړه سره وغوړېدی او نفس مي بيخي پکښي ساز سو، خو هلته مي هيڅوک په سترګه نه راغلل له ناچارۍ ځخه د خپلي محبوبې په انتظار يوه بغل ته کښېنستلم. تر نيمي شپې مي و لاري ته سترګي ځلور سوې خو هغه ښکلې محبوبا مي رانغله. له لوږي ځخه مي کولمې بيخي سره وموښتلې ځکه چې د ميني او هجران له زوره مي څو ورځې په ډوډۍ ځکه لا هم نه وه کړې. پر سترخان باندي د ښو و ښاديو بوی مي اشتها يو په دوه کړه او نور مي نو له طاقته ووتله. سترخان ته وروځکېدلم او د يوه لوښي سرپوښ مي پورته کړ. که ګورم چې د سترخان په مابين کي د سرو زرو په يوه لوښي کي ځلور دانې په غوړو کي سره سوي چرګان او پر ځنګ ئې په پتناسه کي ځلور غابه دي چې په هر غاب کي بيا رقم په رقم حلواوي او نور خواږه و تروه پراته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ټوټه د چرګ غوښه مي خولې ته کړه او نور نو حلواوو ته وجوغېدلم له هره غابه مي دوې درې ګولې وخوړلې. بیرته مي د چرګانو خوا ته مخ ورواړاوه او نیم چرګ مي نوش جان کړ. نور مي نو نس یو بام راته ودرېدی، خوب غلبه راباندي وکړه او پر بالښت مي سر ولګاوه، نور نو په ځان پوه نه سوم. آخر لمر راباندي راغلی وو او له خوبه ئې راویښ کړم. که ګورم چي پر نس باندي مي یو څه مالګه او د لاس د ګوتي نخښه پرته ده. راولاړ سوم، کالي مي له دوړو څخه سره وڅنډل، شاوخوا مي وکتله. هیڅوک مي په سترګه نه سول او فرش هم له ځایه ټول سوی وو. بس، له ډېري خواشینۍ پر خاورو پړمخي ولوېدلم. تر سترګو مي اوښکي راغلې. پرخپل ځان مي ډېر وژړل او په افسوس و غم مي مخ پر کور ونیو. کور ته چي ورسېدلم، د کاکا لور مي ولیدله چي په دواړو لاسو خپل ځیګر ټکوي او له ژړا و بوغاروسره دا بیتونه وايي:

کشکي نن مي د مجلس ښایست دلې وای
لـه مـستیو څخـه ډکـي مـو پیـالې وای
خو افسوس چي ها دلدار مي نن بیده دئ
بې لـه ده کـه مي څـه عیش دئ، ګویـا نـه دئ
کـــه نـــشې اوس د شـــرابو بیـــده کـــړی
چي راویښ سو، ګواکي غېږ تـه مي راغلی

د کاکا لور چي زه ولیدلم له ځایه راولاړه سوه، اوښکي ئې پاکي کړې. ما ته ئې مخ راواړاوه او په خورا نرمي ئې راته وویل: ولي، د کاکا زویه، آخر ولي؟ ته د عیش و نوش او میني پر مېلو اوښتی یې او زه ستا د هجران په لمبو کي سوځم. خو خدای دي زما په ازار مه نیسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ئې نو له ډېره خښمه راته وخندل او په مهربانۍ سره ئې جامې راڅخه وکښلې او وې ویل: په خدای مې دي قسم وي چې ستا د هغه چا بوی نه ځي چې له محبوبا سره دي بیده سوی وي. مګر ته کیسه راته بیان کړه، څه پېښه وه؟ باره مې ټوله نکل ټکي په ټکي ورته وکړ. له خندا ئې خوله سره ولاړه مګر په دا عین خندا کي ئې خپل قهر نه سوای پټولای. بیا ئې نو راته وویل: زړه دي راخوږ کړ. خدای دي په هغه چا د ښهاني ورځ نه ویني چې ستا زړه ئې داسي درخوږ کړی او دردولی دئ. دا ښځه به ستا سره نور هم غټ غټ چمونه و مکرونه وکړي. آ د کاکا زو! زما په تا ډېر چورت خراب دئ. پوهېږې چې د مالګي معنا څه ده؟ د دې معنا دا ده چې وایي ته د غفلت په خوب بیده یې اومزه دي تللې ده. زړونه ستا څخه ځغلي. ته باید یو څه شور و کشش په ځان کي پیدا کړې چې د نور چا مینه درسره پیدا سي. ته خو د مینې و عشق دعوه کوې مګر خوب خو پر عاشقانو باندي حرام دئ. په دې ډول خو ته پخپله مینه کي درواغجن سوې. خو، آ زما د کاکا زو! دا خدای وهلې هم په درواغوسره د مینې او محبت خبري کوي. که نه ګانه د دې په زړه کي لږ څه محبت وای، نو اسمان خو نه نړېدی، ته به ئې له خوبه راویښ کړی وای. له دې څخه معلومېږي چې دا هم په محبت کي صادقه نه ده اودا د ګوتي نخښه چې ئې ایښې وه، د دې معنا دا ده چې ته خدای راته مختوری کړې. ته لکه کوچنی هلک په خوب و خورک اخته یې. اورې، د کاکا زو! د دې مطلب په دغو اشارو کي دغه وو، چې درته ومې وایه. خدای دي له دې بلا څخه خلاص که.

د کاکا لور چې مې دا خبري راته وکړې، بس پر سر و ځیګر مې چپلاخې راوګرزولې او له ځان سره مې وویل: په خدای چې رشتیا ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



درته ویلي دي ځکه زه بیده سوم او عاشقان خو خوب نه لري. ځان مي ډېر ملامت کی. زما دښمن دغه خورک و خوب وو. بالا مي پر سترګو سوټې راوګرزول او په رینګټ مي وژړل. د کاکا لور ته مي وویل چي ته به کوې، خدای به کوي، یو چم به راښیې. پر ما باندي رحم وکړه. که نه له غمه به زاره ترکی سم. څرنګه چي د کاکا پر لور باندي ډېر ګران وم، ... کیسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او اووه لسمه شپه

شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

دې ځوان و تاج الملوک ته وویل چي ازبستي چي زه د کاکا پر لور ډېر ګران وم، راته وې ویل: پر دواړو سترګو به ئې دروښیم. خوا ې د کاکا زو! ما څو پلا تاته ویلي دي چي که دي د تګ وراتګ چم زده وی او کولای ئې سې، زه به دي د سترګو په رپ کي د هغې تر غېږې پوري ورورسوم. اوس هم ستاسي په یو ځای کېدلو کي خپل توان و طاقت نه سپموم مګر هو! زما پر خبرو او پند و نصیحت به غوږ نیسې او څه چي درته وایم، هغه به کوې. د شپې بیرته هماغه ځای ته ولاړ سه. هورې کښېنه. احتیاط کوه چي په شي څکه و نه کړې. ځکه په خورک سره پر چا باندي خوب راځي. نه ګانه چي په نیمه شپه کي د دې د راتګ پر وخت بیده نه سې. خدای دي له دې شره خلاص که. د کاکا د لورخبري چي مي واورېدې، له خوشحالیه پرله وڅرخېدم. ما ول

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه ژر شپه راولې چي هغه ځای ته بیا ولاړ سم. څه سر دي پرله گرزوم، شپه راغله او هغه ځای ته مي د تگ تیاری ونیو. د کاکا لور مي راته ویلي ول چي کله چي په هغه ځای کي سره یو ځای سولاست د بیرته راتگ په وخت کي نو بیا هغه بیتونه ورته ووایه چي برایې ما له ځانه سره ویل. ما ول، ښه دئ ستا نصیحت به پر ځای کړم. آبس له کوره راووتم. تلم، تلم، تلم څو هغه باغ ته ورسېدلم. په باغ کي د ها بلي شپې په شان رقم په رقم شیان هر څه تیار او اوډلي پراته ول. راز راز د خورک شیان، د چښنگ شیان، شرابونه، نقلان، پتاسې، شاپیړې، برفي و مټایي هر څه په پېخر پراته ول. زه یو بغل ته په انتظار کښېنستم. بیا مي دو ریجو غوښو بوی تر سږمو سو. شیطان څو واره راته وویل چي څه ته گورې؟ خوره ئې! مگر ځان به مي بیا ټینگ کړ. آخر په دې کي یو ساعت تېر سو او نور مي نو ایمان تر گېډه سو او ځان مي نور نه سوای ورته ټینگولای. سترخان ته وروڅکېدم او له لوښو څخه مي سرپوښونه پورته کړل، که گورم چي پر سترخان باندي په څلورو غابو کي څلور ډوله خواړه پراته دي. د سرو کړو چرگانو غوري گان ئې جلا ایښي دي او د حلواوو غابلمې هم سره اوډلي پرتې دي. ما د هر یوه څخه یوه یوه گوله واخیستله مگر حلوا ته نو مَزَب سوم، ښه مي ځان په وسیخوی. یو څه سور کړی چرگ مي وخوړ. د انارو مربا هم پرته وه، د لېمبو اوبه ئې پر اچولي وې. دا مي یو څه وخوړه او ځان مي په موړ کړ. داسي خوب راغی چي پوښتنه ئې مه کوه. پر بالښته مي څنگ واچاوه، ما ول مازي به تکیه پر وکړم، بیدېږم به نه. چي ځان مي سره ښوراوه، بیا د کیهاوو بیده وم. کله چي راویښ سوم، سره غرمه وه. لمر مي پر سر ولاړ وو. پر نس باندي مي د هډوکو ډک غاب او یو څه د اومې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خرما پوستکي او مندکي پرتې وې. نور مي نو پر هغه ځای باندي هيڅ څه هم و نه ليدل لکه بېگاه شپه چي هلته هيڅ شی هم نه وه. را پورته سوم. هډوکي مډوکي او د خرما پوستکي و مندکي مي له نس څخه ايسته کړل او ليري مي وغورځول. خورا درد راغلی وو او په دغه خښم کي کور ته راورسېدم. که گورم چي د کاکا لور مي بيا ناسته ده سر ئې پټ کړی دئ او په ژړا کي دغه بيتونه وايي:

چـي پـر چـا سـي مهربـان ښـکلی نگـار
شپه و ورځ ئې وي خوښي، سم ئې روزگار
چي يـار بد مخ در تـه ونيـسې، خپـه سـي
وران ويجـاړ بـه دي سـي ټولـه کاروبـار
مـا خپـل زړه پـه ډېـره مينـه ده تـه ورکـړ
پـه بـد مخ ئـې کـړم نامېنـده، زړه آزار
خدايـه تـن دي راتړلـی بنـد پـر بنـد دئ
زړه مـي هر کلـه ايـشنا و کـوي، بخـار

د کاکا لور ته مي خوشکه وکړه، پوچ و رَد مي ورته وويل. ما ول څه! چي بيا دي مخ و نه وينم. دې له مخه اوښکي پاکي کړې، راتېره سوه، په غېږ کي ئې ټينگ ونيولم، مچ ئې کړلم. ما ځان ځني کشاوه او پر ځان مي بد ويل. دې راته وويل، د کاکا زو! لکه چي برابې بيا بيده سوی يې؟ ما ول، هو! بيده سوم او چي را پاڅېدم د هډوکو غاب او يو څه د اومې خرما پوستکي او مندکي مي پر نس پراته ول. پوه نه سوم چي دا ئې بيا د څه له پاره ايښي ول. په ژړاندو سترگو مي د کاکا له لور څخه هيله وکړه چي د دې شيانو معنا راته ووايي او ورته مي ويل چي د دې پلا هم مرسته راسره وکړي او د خلاصون چم راوښيي. د کاکا لور

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي راته وويل: د پوستکو معنا دا ده چي ستا بدن دلته دئ او روح دي بل ځای دئ. پخپله دلې حاضر يې خو زړه دي غايب دئ. گويا د دې مطلب دا دئ چي ته ځان په عاشقانو کي مه شمېره. د خرما د مندکو ځخه ئې مطلب دا دئ چي که ته رشتيا عاشق وای، زړه به دي د عشق په اور سوځېدلی وای او خوب به نه درتلای. د عشق خوند چي هر چا څکلی وي، په زړه کي ئې د ميني اور بل وي او لکه د خرما بوټی چي اور واخلي، له ده څخه هم هغه شان لمبې پورته کېږي. اوس نو تا ته د ايوب عليه السلام صبر په کار دئ. د کاکا د لور دا خبري چي مي واورېدې، په زړه کي مي ناولی لاس ووهل سو، له ځانه سره مي وويل چي دغه مي لا د بدبختۍ نښانه ده چي خدای رابا ندي بې اختياره خوب غالبه کړ. د کاکا لور ته مي وويل چي ته و خدای که به يوه چاره نه راښيې چي زه يو وار هغې ته ورورسېږم.

د کاکا لور مي په ژړا سوه او راته وې ويل چي: "آ، د کاکا زويه! آ، د زړه سره! زما په زړه کي خورا ډېري خبري دي، خو نه ئې سم درته کولای. ته نن شپه يو وار بيا هلته ولاړ سه. مگر گوره تر څو چي خپل مقصد ته رسېدلی نه يې، چي سترگي سره ور نه وړې. زما دغه مشوره ده، زياتي بس، والسلام. بله نه پکښې ځايېږي. ورته ومي ويل چي د دې واري به که خدای کول، نه بيدېږم، د کاکا لور مي ولاړه سوه، د خورک شی مې ئې راووړ. ول اوس ئې نو خوره. هر څونه چي خوړلای سې، خوره ئې. ښه مغزنه ډوډۍ مي وخوړه. چي شپه سوه، د کاکا لور مي ښې سنگيني جامې راوړې او په ما ئې واغوستلې او راته وې ويل چي ته و خدای که به هغه بيتونه هېروې، چي ما له ځانه سره زمزمه کول. او نور ئې هم په ټينگه راته وويل چي هوښ کوه، بيا بيده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه سې. آبس، د کاکا له لور څخه رارهي سوم مخ د باغ پر لوري. باغ ته ننوتلم، پر هغه پخواني ځای باندي کښېنستلم. سترګي مي د باغ دروازې ته وچي کلکي نيولي وې. چي بيا خوب راباندي غالب سو. سترګي مي په ګوتو سره خلاصي کړې، جيبڼمي مې سره کش کړې، سر مي يوې خوا و بلي خواته وښوراوه ... کيسه چي دې ځای ته ورسېده:

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه

د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يوسل او اتلسمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

د سوداګر زوی و تاج الملوک ته داسي بيان کاوه چي: په دغه شپه داسي نابوده خوب راغی چي سترګي مي په ګوتو لا هم نه سره خلاصېدلې. سر مي هر ګړی د خوب له بيري يوې خوا و بلي خوا ته ښوراوه. لوږي داسي زور راباندي وکړ، چي بيخي مي له طاقته ووتله. د خوړو بوی او اشتها بيخي مړ کړم. نور نو د ټينګي نه وم. باره، سترخان ته کښېنستلم. له لوښو څخه مي سرپوښونه پورته کړل او ښه مي ځان په وسيخاوه. وروسته د شرابو صراحي ته وروڅکېدم له ځانه سره مي وويل چي تر يوه ګيلاس بالا به نه چښم. چي يو مي پر سر پورته کړ، باره دوهم سو، دريم سو او خبره لسم ګيلاس ته ورسېده، هغه مي هم اينده کړ. زياتي نو لکه مړی بوڅ راواوښتم او راچپه سوم. کله چي پر هوښ راغلم، لمر راختلی وو او زه تر باغ دباندي پروت وم. پر نس باندي مي دا وار يوه تېره چاړه او يو د اوسپني درهم ايښوول سوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا شیان مي راواخیستل او کور ته راغلم. د کور په دروازه کي یو گړی تکیه سوم، غوږ مي ونیو چي د کاکا لور مي څه وایي؟ دا ناسته وه او له ځانه سره ئې ویل: "زه په دې کور کي اسکېرلې ناسته یم له ژړا و کوکارو پرته بل ملگری نه لرم". کور ته ورننوتلم او درز سو، راچپه سوم. چاړه او درهم هیسته ولوېدل او زه پسي بېهوښه سوم. چي پر سد راغلم، د کاکا لور ته مي د برابې شپې ټوله کیسه وکړه. دې چي زما ژړا و افسوس ته وکتله، خورا ډېره خوابدې سوه او راته وې ویل چي زه نو په تا څه وکړم؟ چي هر څه پند و نصیحت درته کوم، ته لکه غوږ لوښی داسي یې. اوبه دربانديي ښوېږي او زمانصیحت د خاشې اغېزه نه دربانديي کوي. سل واره مي درته وویل چي مه بیدېږه، مه بیدېږه، مه بیدېږه. ما ورته وویل چي ته اوس نوري خبري پرېږده، دا راته ووایه چي دا چاړه او درهم یعني څه؟ مطلب پکښې څه دئ؟ دې وویل چي له درهم څخه ئې مراد خپله سترگه ده او درته وایي چي: "په خپل پروردگار او خپله سترگه مي دي قسم وي، چي که دا پلا بیا راغلې او دلته بیده سوی وې، سر خو دي ولا په دغه چاړه لکه زردکه داسي درپرې کړم". گوره، آ! د کاکا زویه! زه بېرېږم، د دې له مکر و فریبه څخه په بالله بېرېږم، زړه مي له گرومه راته پړسېدلی دئ، په خوله څه نه وایم او پرخپل زړه ئې تېروم. که ته په ځان کي دونه بیچ وینې چي هلته ولاړ سې او بیده نه سې، خو یا بسم الله، ماښام بیا ورسه او خپل د زړگي مراد دي پوره کړه. مگر که داسي وي چي بیا ورسې او هورې له خپل عادت سره سم بوړي بوړي پرېوزې او لکه خټکی داسي بیده سې، نو زما مشوره دا ده چي: "مه ځه". دا پلا د ژوند څکه ولاکه ځني وکړې، وژني دي. د کاکا لور ته مي وویل چي مه کوه، ما و دې بلا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوازي مه پرېږده، مرسته راسره وکړه او ته به کوې، خدای به کوي يوه چاره راوښيه. دې وويل چې زه خو په سرومال درته ولاړه يم، منګر شرط ئې دا دئ چې ته زما پر خبره غوږ ونيسې، زما د امر اطاعت وکړې. که خدای کول، خپل مقصد ته رسېدلای سې. ورته ومي ويل چې منم يې او ستا حکم پر ځای کوم. دې راته ويل چې داسي ده، نو د تګ پر وخت به درته ووايم چې څه وکړه او څه مه کوه. نور ئې نو په غېږ کي ونيولم، د خوب خوني ته ئې بوتلم، لاس و پښې ئې راومونښل، څو چې بيده سوم. د ماښام تر اذانه ئې پيک راباندي واهه. بيا ئې نو راويښ کړم. که ګورم چې پيک ئې په لاس کي دئ، سر ته مي ناسته ده او اوښکي ئې رواني دي. چې ما ته ئې پام سو، خپلي اوښکي ئې پاکي کړې. د خورک شی می ئې راووړ. ما نټه وکړه چې نې خورم. دې ول، نه مي وه درته ويلي چې زما په خوله به کوې. باره مي ورته ښه کړه او يو څه مي وخوړل. بيا ئې د عنابو شيره راته راوړه، بوره ئې په ګډه کړې وه. دا ئې هم راباندي وڅښل، په دسمال ئې لاس را پاک کړ. د ګل ګلابو عطر ئې راباندي ووهل. د شپې تياره چې خپره سوه، په ما ئې جامې واغوستې او راته وې ويل: د کاکا زويه! کرۍ شپه به ورته تېروې، ويښ به ناست يې. دا به که خدای کول د دې پلا په نيمه شپه کي درته راسي او ته به انشاءالله خپل د زړه مقصد ته ورسېږې. منګر زما پيغام درڅخه هېر نه سي. ما ول ستا پيغام څه وو؟ ول، د بير ته راتګ په وخت کي به هغه بيتونه ورته وايې. آ بس، د کاکا له لور څخه مي رخصت واخيست او باغ ته ولاړم. په هماغه پخواني ځای کي کښېنستلم. څرنګه چې موړ وم، خوب نه راتلی او ويښ ناست وم. وخت خورا ورو ورو تېرېدی. شپه چې پخه سوه لا زه ويښ وم. تر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته لوړي زور راباندي وکړ، د واکه مي ووتل او سترخان ته ورتېر سوم. په هر څه مې ښه پوره ځان موړ کړ. سر مي راته درونډ سو، غوښتل مي چي وغځېږم او بيده سم. په دغه حال کي مي د ښو کړپې تر غوږ سو. جست راولاړ سوم. لاس و خوله مي پرېولل. خوب راڅخه ولاړ. ناڅاپه مي سترګي پر دغي د ځورلسم سپوږمۍ وموښتلې چي له خپلو لسو تنو مينځيانو سره راروانه وه. د وربښمو زرغونې جامې ئې اغوستي وې، د سرو زرو پسول په پوري وو او هغه د شاعر خبره چي ويلي ئې دي:

راغلـه څورلـسم سـپوږمۍ جـامې ئـې اووه رنګـه دي
زلفــي ئــې ول ول دي، ســترګې ډکــي لــه نيرنګــه دي
تن مي سره توی سو، سپک د زړه ولاړ چي په غېږ راغله
سره خولګۍ و سرې شونډي ئې راکړې، چي ګلرنګه دي
روح راپکښې پو سو، چي ئې زلفي کړې خپرې پر مخ
لای پر لای ئې مشک و عنبر، کټ پر کټ چنګ چنګه دي

ما ته چي ئې وکتل، په خندا ئې راته وويل: دا څه پېښه ده چي نن شپه خوب نه يې وړی؟ اوس چي دي شپه راته روڼه کړه، نو پوه سوم چي مينه دي په رشتيا ده. د عاشقانو رسم و رواج د شپې بيداري ده. باره ئې مينځيانو ته مخ وروا ړاوه او په سترګو ئې اشاره ورته وکړه. مينځياني ګوښه سوې او دا زما و خوا ته راغله. په غېږ کې ټينګ ونيولم او په سينه پورې وموښلولم. پر يوه خوا ئې مچ کړم، پر دا بله ئې مچ کړم. ما ئې هم شونډي وزبېښلې. تنده مي يو په سله سوه. تر ملا مې لاس راوګرزاوه، کښې مي کښله او مځکي ته سره ورسېدو. جامې مې تر زنګنو پوري ځني وښويولې، د ميني او ناز خبري مو شرو کړې. نور مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نو زياتي رګونه سره سُست سول، شهوت غلبه وکړه، او سره يو تن و وجود سوو. ښه د خوند او مزې شپه مو سبا کړه. لکه شاعر چي ويلي دي:**

براېي چي مي په غېږ کي پروت جانان وو
ګويا حکم مي جاري پر درست جهان وو
تر سهاره مې د مخ ننداره کړله
دلبر نه وو، زما د تن روح روان وو
جانان نه وو، ګلدسته وه د سرو ګلو
ښايسته وربانديي باغ وو هم بوستان وو
تر هغو چي لمر تياره د شپې کړه ټوله
جام د وصل مې په لاس کي شادمان وو

**شپه چي تېره سوه او د سهار روڼا خپره سوه، ما کور ته د تګ اراده وکړه. دې مي لاس ونيو، ول مه ځه، زه غواړم چي يوه خبره درته وکړم ... کيسه چي دې ځای ته ورسېده ...**

د سهار شمال را والوتی روڼا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يوسل او نونسمه شپه

**شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:**

**دې ځوان و تاج الملوک ته پاته کيسه داسي وکړه چي: په هغه شپه ئې زه تر لاس ونيولم چي مه ځه، زه تا ته يو خبره کوم. زه ودرېدلم. دې خپل دسمال خلاص کړ او له هغه څخه ئې د ورېښمو يو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوکر راوایست او زما په مخ کي ئې وغوړاوه. په هغه کي د هوسۍ شکل خامک سوی وو. دسمال مي ځني واخیست او وعده مو سره وکړه چي هره شپه به په همدغه باغ کي پر همدغه ځای حاضرېږو. په خوشالۍ سره مي رخصت ځني واخیست او له ډېري خوښۍ څخه مي هغه بیت کورتې هېر سو چي د کاکا لور مي د ویلو سپارښتنه راته کړې وه. کله چي د وړېښمو هغه ټوکر چي د هوسۍ رسم پکښې خامک سوی وو، ځني اخیست، راته وئې ویل چي: "دا مي د خور کار دئ". پوښتنه مي ځني وکړه چي خور دي څه نومېږي؟ ول، نورالهدی. راته وې ویل چي دا ټوکر درسره وساته. آبس، خدای په اماني مي ځني واخیستله او په خوښه خوشالي سره کور ته راغلم.

سیده د کاکا لور ته ورغلم. له خپله ځایه راولاړه سوه. تر سترګو ئې اوښکي رواني وې، ما ته ئې مخ راواړاوه، پر ځیګر ئې مچ کړم. ول، زما وصیت دي پر ځای کړ. هغه شعر چي مي درته ویلی وو، ورته ودي وایه که نه؟ ورته ومي ویل چي نه، هېر مي سو. د هیري سبب مي هم دغه د هوسۍ شکل دئ. باره مي د وړېښمو ټوکر په مخ کي ورته وغوړاوه. دا جسته ولاړه سوه، بیرته کښېنستله. پر یوه ځای ئې ارام نه کېدی، له سترګو ئې اوښکي جاري سوې او داسي ئې وویل :

په دنیا کي چي هر څو نه هوښیاران دي
د صحبت له رواجو څخه پښېمان دي
په صحبت کي که نفاق، که اتفاق وي
هوښیاران خلک له دواړو ګریزان دي
که نفاق وي زړه دي تل په خوره کېږي
که هجران ئې وو قیمت، بیا دواړه ګران دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ئې نو راته وویل چي: آ! د کاکا زویه ! دا ټوکر به ما ته راکړې؟ ما ورته وویل چي: "تر تا ئې جار". دستي مي ټوکر ورکړ. دې خلاص کړ او د هوسۍ شکل ته ئې په ځیر ځیر وکتل. ماښام چي سو، زما د تګ وخت راورسېد. د کاکا لور مي راته وویل چي ورځه، په مخه دي ښه. منګر هو! د راتګ په وخت کي هغه بیت خامخا ورته ووایه، چي اول مي درته ویلی وو او ستا څخه بیا هېر سوی وو. ما ورته وویل چي ته ئې یو وار بیا راته ووایه چي را په یاد مي سي. دې بیا راته ووایه او نور نو زه ځني رارهي سوم. دننه په باغ کي چي هغه ټاکلي ځای ته ورسېدم. ښایسته نجلۍ مي ولیدله چي ما ته په انتظار ناسته ده. زما په لیدو سره له ځایه راولاړه سوه، مچ ئې کړم او څنګ ته ئې کښېنولم. د خورک و چښنګ کار چي سر ته ورسېد، بازۍ مو شروع کړې. د زړه سوده مي په وکړه. چي مخ مو راګرزاوه، بیا سهار سو. ما د بیرته تګ نیت وکړ او هغه بیت مي ورته ووایه. بیت چي ئې واورېد، شور سو، تر سترګو ئې اوښکي راغلې. په جواب کي ئې دا شعر راته ووایه:

سر ښندل، صبر کول د عشق په کار کي
دي لازم مــلزوم په دغه سختـه لار کي

دا شعر مي څو واره له ځان سره تکرار کړ او حافظې ته مي وسپاره. او دا چي د کاکا د لور پیغام مي وررسولی وو، په زړه کي باغ باغ کېدلم. له باغه راووتلم او د کاکا لور ته راغلم. که ګورم چي دا بیده ده. مور مي سر ته ورته ناسته ده او ژاړي. مور مي چي زه ولیدلم راته وې ویل: دا ستا په رقم د کاکا په زوی خو دي اور پوري سي چي د کاکا لور دي په کټ کي ناروغه پرته ده او ته پوښتنه لا هم نه پر کوې. د کاکا د لور چي سترګي پر ما وموښتلې، سر ئې له بالښته راپورته کړ او پر ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېنستله. سمدلاسه ئې راته وويله : گرانه د کاکا زو! هغه بيت دي ورته ووايه که نه؟ ما ول، هو، ورته ومي وايه او کله چي ئې بيت واورېد، په ژړا سوه او په جواب کي ئې بل بيت راته ووايه. د کاکا لور مي راته وويل چي ته ئې راته ووايه چي څه ئې ويلي دي. بيت چي مي ورته ووايه. دونه ئې وژړل چي مه کوه پوښتنه. په پای کي ئې دا بيت راته ووايه:

کې زده نه وي سـربښـندنه او په صـبر نه توانېږي
پای د دې عاشق به څه وي، غم بې څرنگ اسانېږي

راته وې ويل: دا پلا چي هغي شاپېری ته ورغلې، دغه بيت به ورته ووايې. ما ول، که د خدای رضا وه، ورته و به ئې وايم.

د شپې بيا د پخوا په شان باغ ته ولاړم . زما او د هغي ښايستې په منځ کي چي څه پېښ سول، نه په ژبه د ويلو دي او نه په قلم سره د کښلو. د راتگ په وخت کي مي د کاکا د لور هغه بيت ورته ووايه. تا چي ويل د اوښکو پر ځای ئې ويني تر سترگو راغلې. دې هم دا وار بل بيت راته ووايه:

چي نه توان لـــري د صـبر، نه ئې زده وي سـربښـندنه
سر ئې چټ په توره بويه په تول ژوند به خوار خسته وي

دا بيت مي هم ښه په ياد کړ چي نور نو د هېرېدلو ووت. کور ته راغلم. د کاکا لور مي په کټ کي بېهوښه بوړي بوړي پرته ده. مور مې سر ته ناسته ده. زما د راتگ ږغ چي د کاکا لور واورېد، سترگې روڼې کړې، راته وېويل چي: "گرانه! زما بيت دي ورته ووايه". ما ورته وويل چي: هو! ورته ومي ووايه. خورا ډېر ئې وژړل او په جواب کې دا بيت ستا له پاره راکړ. بيت چي مي د کاکا لور ته ووايه، بوڅه راواوښته او بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سده ولوېدله. چي پر هوښ راغله. دا بيت ئې راته ووايه:

ښـــــه مي واورېـــده، مـــنم ئې نذرانه مي دل و جـــان
تر هغه عاشق ښه څوک دئ، چي سر کښېږدي پر جانان

مانښام چي خپل ټاکلي باغ ته ولاړم هغه د څورلسم سپوږمۍ مي وليده چي زما په انتظار ناسته وه. څنگ ته ئې ورغلم. ډوډۍ موډۍ و شراب مراب مو سره وخوړل و وچښل. د زړه مراد مو سره حاصل کړ. پر هغه ځای تر الايي سهاره بيده وو. کور ته د بيرته راتگ پر وخت مي د کاکا د لور هغه بيت چي راته ويلی ئې وو، ورته واوراوه. لويه چيغه ئې تر خوله ووتله ، سوړ اسوېلی ئې وکيښ او وې ويل: "قسم مي دي په خدای وي، چي د دې بيت ويونکی مړ دئ". په ژړا سوه او په دا عين ژړا کي ئې راخخه وپوښتل چي د دې بيت ويونکی دي له خپلوانو څخه وو؟ که پردی وو؟ ما ورته وويل چي هغه مي د کاکا لور ده. ويل ئې: "نه، درواغ وايې. که دي د کاکا لور وای،خو درباندي گرانه به وای. لکه ته چي پر دې گران وې. د دې قاتل ته يې، خدای دي په داغه ډول د مځکي له سره واخله ، لکه دا چي دي مړه کړه. قسم مي دي په خدای وي، که دي په اول سر کي زه پوه کړې وای چي ته دغه شان د کاکا لور لرې، هيڅکله به مي ځان ته نزدې پرې ايښی نه وای". ما ورته وويل چي د شعر ويونکې مي هغه د کاکا لور ده چي ستا ټولي اشارې ئې ما ته معنا کولې. تر تا پوري زما رسېدل د دې د ښه تدبير نتيجه ده. پی‌ء مخي نجلی‌ء په جواب کي راته وويل: "آيا هغې زه وپېژندلم". ما ورته وويل: "هو". دې راته وويل: " هی، د مغزي پر دړه غوزار سې، په ځواني دي ارمان مه خېژه. لکه دا خواره چي دي په ځوانه ځواني نيمه خوا کړه، ته هم په دغسي غضب اخته سې".

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس څه! او په حال ئې ځان خبر کړه.

زه رارهي سوم. چورت مي ډېر خراب وو. د کوټې خولې ته چي راورسېدم، د ژړاوو ږغ مي واورېد. له يو چا څخه مې پوښتنه وکړه، ول، عزيزه د خوني په دروازه کي مړه پرته ده. کور ته ورننوتم. مور چي وليدم، اواز ئې راباندي وکيښ، ويل ئې: "خدای ته بې وروړې. د دې د قتل بازخاست به خدای ستا څخه وکړي"... کيسه چي دې ځای ته ورسېده...

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادي کيسه پاته ترسبا سوه

# يوسل او شلمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

هغه ځوان و تاج الملوک ته د برابري شپې د کيسې پاته برخه داسي بيان کړه:

کور ته چي ولاړم او مور چي مي راته وويل: "د دغي خوارکۍ خون ستا په غاړه دئ. خدای به د دې د خون بازخاست درڅخه وکړي"، بيا مي نو پلار هم راغی. د گور و کفن سرښته ئې وکړه. جنازه مو پر اوږو واخيستله او په هديره کي مو خاورو ته وسپارله. درې ورځي مي و قبر ته تېري کړې. له سهاره تر ماښامه به ورته ناست وم. وروسته نو بيا کور ته راغلم. د کاکا په لور مي داسي خوا بده وه چي مځکي گرسره ځای نه راکاوه. خو غم مي پر زړه تېراوه. يوه ورځ مي مور راته وويل چي دا د کاکا په لور دي آخر څه وکړل؟ چي زاره دي ور وچاودله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړه دي کړله. ته وخدای که به نه راته وايې. څه دي په وکړه، چې خواره مړه سوه. ما ول، هيڅ مي ولاکه په کړي وه. مور مي راته وويل چې خدای بې قصاص ستا ښخه واخلي او ستا تر سر به وخېژي. دې ويرژړلي تر پایه پوري سپوږ لا هم تر خوله راته و نه یوست. د مرگي تر ساعته ئې خپل حال راښخه پټ وساته. ستا ښخه به ئې هر وخت رضائيت ښکاره کاوه. کله چې ئې د نفس غرغړ خولې ته راغی، راته وې ويل: کاکا ناوي ! ستا زوی دي خدای زما په مرگ نه نيسي. زما له دې دنيا ښخه کوچ و بار دئ. زه ئې په خوله کي ورولوېدلم، ورته ومي ويل: دا خبري مه کوه! خدای به دي ټک و پتری کړي، ځوانه جهانه پېغله يې، جوړه به سې. د ناجوړۍ په باب مي څو واره وپوښتل، هيڅ ئې راته و نه ويل. مازي به ئې ومسل، صرف دونه قدر ئې راته وويل: زوی چې دي هر وخت خپل د عادت ځای ته ځي، ورته ووایه چې د بيرته راتگ په وخت کي دا دوې خبري ورته وکړي چې: "وفا ښېگڼه ده او مکر و دروه و جفاکرغېړنه ده". هغې دا هم راته وويل چې يو شی د ده له پاره درکوم. دا له ده سره يوه مهرباني ده، چې ورسره کوم يې. داسي مهرباني چې په مرگ و ژوند به ئې په ښه ورسي. بيا ئې نو هغه شی ما ته راکړ خو قسم ئې راکړ چې تر هغو به ئې نه ورکوې تر څو چې دي زوی په ما پسې ژړا و بوغاري نه وي کړي. مور مي ويل: "دا شی زما سره سته. هر وخت چې مي ته په هماغه حالت کي وليدلې، بيا ئې نو دخيره سره درکوم". مور ته مي وويل چې همدا اوس ئې راکړه، نته ئې وکړه او رائې نه کړ. زما هم خدای پر عقل داسي توره شپه کړې وه، چې د کاکا د لور خبره مي گرسره پر خوله لا نه راوړله. ما غوښتل چې شپه و ورځ له خپلي معشوقې سره واوسم. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مابين کې څلور ورځې تېرې سولې او په دا څلرمه شپه بيا باغ ته ولاړم. په باغ کې مې خپله د سرو زرو دانه معشوقه بيا پر هغه ځای وليدله. پر ما چې ئې سترګې وموښتلې، راولاړه سوه او په غاړه کې ئې لاس راواچاوه، د کاکا د لور پوښتنه ئې راځخه وکړه. ما ورته وويل چې د هغې سره دې خدای ښه وکړي، مړه سوه، نن ئې پنځمه ده چې ښخه مو کړه. دا چې ئې واورېده، په سرو اوښکو کښېنستله او په خښم ئې راته وويل: "نه مې وه درته ويلي چې دا اريانه تا مړه کړه. که تا د دې خوارکۍ تر مرګ دمخه زه پوهولې وای، ما به د دې د نېکيو مجراينه ورکړې وای. دې خو پر ما ډېر احسان کړی وو او ته ئې تر ما پوري راورسولې. که دا نه وای نو خدای خبر چې زما و ستا وصال به ميسرېدلای. زه اوس پر تابېرېږم چې د دې د مرګ له اسيته ته پر يوه بلا وانه وړې. ما ورته وويل چې د کاکا لور مې تر مرګ دمخه لا زه بخښلی وم، ما ته ئې خپل خون رابخښلی وو. دلته مې نو د خپلې مور هغه خبره ورته وکړه چې ما ته ئې کړې وه. دې په جواب کې راته وويل چې دا پلا چې دې مور وليدله، د هغه شي پوښتنه ځني وکړه چې د کاکا لور دې ورسپارلی وو. ما ورته وويل چې مور مې د کاکا د لور د خولې دا وصيت تر ما پوري راورساوه چې ورته ويلي ئې وه، هر وخت چې دې زوی له خپل عادت سره سم هغه باغ ته ولاړ، زما له خوا به ورته ووايې چې د راتګ په وخت کې دې خپلې معشوقې ته ووايي چې:

"وفا ښېګڼه ده او جفا کرغېړنه ده". دا خبره چې مې معشوقې واورېده، ما ته ئې مخ راواړاوه او وې ويل: "پاک خدای دې دا وبخښي، چې ته ئې راځخه خلاص کړې. که نه، زما په زړه کې وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا ته به ایداد درکوم". اوس ېغمه راته کښېنه. خير خيريت سو. ما په تعجب ورغبرگه کړه چي: "خيال دي وو، چي ما ته تاوان راورسوې؟ زما و ستا تر منځ خو مينه و محبت دئ". راته وې ويل چي: "ته به زما په مينه کي بيخي ډېرسرابښ يې او زه ډېره دربانديي گرانه يم. ته کوچنی الک يې او زړه دي له چل و ول څخه پاک دئ، خو خدای دي د ښځو په مکرونو مه خبروه. د کاکا لور که دي ژوندۍ وای، ته ئې لکه ها بل واري چي ئې مرسته درسره وکړه، دا وار ئې بيا له دې مصيبت څخه خلاصولې". معشوقې مي ورپسې زياته کړه چي زما پند هم په غوږ کي ونيسه او "له ښځو څخه ليري گرزه، ليري!" هغه څوک چي د ښځو مکر ورمعلوم وو او تا ته ئې د هغو اشارې معنا کولې، هغه اوس د گور بندي ده. زه بېرېږم چي په داسي يوه بلابه اخته سوی يې چي بيا به ځان نه سې ځني خلاصولای.... کيسه چي دې ځای ته ورسېده...

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او يوويشتمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:
هغه ځوان سوداگر و تاج الملوک ته د برايې شپې په بيان پسې داسي وويل: چي نجلۍ ويل: "بېرېږم چي په يوه مصيبت کي و نه لوېږې. د کاکا تر لور وروسته دي داسي څوک هم نسته چي له دا مصيبته دي خلاص کړي. ارمان، ارمان چي د کاکا لور دي ژوندۍ وای. کشکي خو له دې سره ما د دې په ژوند کي پېژندلای او د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېکیو اداینه مي کړې واې چي زماسره ئې کړي وې. خداى دي دا وبخښي. که دا نه واى، نو ته به چيري تر ما پوري رارسېدلاى. خو گوره! نن مي يو ناز واخله او هغه دا چي يو وار مي د دې قبر ته بوزه، چي زه ئې زيارت وکړم او د قبر پر ډبره ئې يو څو بيته وکاږم. ما ول، سبا دي له خيره سره بيايم. آبس، زه و دا سره پرېوتو. د شپې به ئې هر گړى دا خبره راته کوله چي: "کشکي دي د کاکا د لور تر مرگ دمخه زه خبره کړې واى".

د دې تر خبرو وروسته ما پوښتنه ځني وکړه چي د "وفا ښېگڼه ده او جفا کرغېړنه ده" څخه زما د کاکا د لور مطلب څه وو؟ او د دې خبري معنا و مقصد څه دئ؟ دې څه و نه ويل ځان ئې گول واچاوه. څه سر دي پرله گرزوم، چي سهار سو، نجلۍ ولاړه سوه، خپله د زرو امياني ئې راواخيستله، ول درځه، قبر راوښيه چي زيارت ئې وکړم، څو بيته ئې پر مزار باندي وليکم، پر قبر ئې ښه ښکلې گومبته ورجوړه کړم، ختمونه و خيراتونه و صدقات پسي وکړم. ما ول ښه دئ، راځه چي ځو. زه دمخه سوم او دا ښکلې نجلۍ راپسې ده. پر لاري ئې درگرده مسکينانو او فقيرانو ته خيراتونه ورکول او ورته ويل به ئې چي د دې ثوابونه دي ځکه عزيزې ته ورسېږي، چي هغې په ژوند کي خپل راز پټ وساته او خپله مينه ئې رسوا نه کړه. تر دې اندازې ئې ځان ټينگ کړى وو، چي آخر ئې د مرگي جام پر سر پورته کړ. لنډه ئې دا چي دې نجلۍ دغه خيراتونه وه، چي ورکول يې. څو په پاى کي قبر ته ورسېدو. قبر چي ئې وليدى، پړمخي پر غوزاره سوه. خورا ډېري اوښکي ئې پر توى کړلې. بيا ئې نويو فولادي قلم راوکيښ او د گور پر شنختنه ئې دا بيتونه وکښل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



های، افسوس چي ها د گلو سره غنچه د گور بندي سوه
په ماتم کې بلبل گونگ سو، پر گلانو شنه اغزي سوه
ډېرو اوښکو آن تمام کړ د اسمان اوريځ سوه وچه
د نرگس ملا ئې کړه ماته د گلاب تور پر تندي سوه
تازه گي د گلشن نسته گلان ټول په غم غمجن دي
وای، ښکلا د بوستان ولاړه پر خپل عشق باندي ستي سوه

د بيتو د کښلو پر وخت د نجلۍ له سترگو څخه د اوښکو رودونه روان ول. آخر، راولاړه سوه، زه هم ورسره ولاړ سوم تر باغه مي راورسوله. باغ ته ننوتو. په دغه وخت کي ئې مخ راواړاوه او راته وې ويل: "د خدای روی مي دروړی دئ، چي زما سره د ميني پيوند، و نه شلوې". ما ويل تر خپله وسه خو به کوښښ و نه سپوم. تر دې وروسته نو هر وخت ورتلم او شپه مي له دې سره تېروله. ډېره ښه وضعه ئې راسره کوله. بيخي ډېر پر گران وم. بې له خورک و شرابو، بې له عيش و نوشه مي بل کار نه درلود. نس مي موړ او تن مي په نازکو ورېښمينو جامو پټ وو. له ډېره خورکه او ډېر عيش و نوش څخه آخر سره وپړسېدم. ژوند مي داسي خوښ خوشاله وو، لکه پر گرده دنيا چي غم و خواشيني بيخي وجود نه لري. يو کال په دغه عيش و نوش کي تېر سو. د دا بل کال په سر کي يوه ورځ حمام ته ننوتم، حمام مي وکړ، راووتم، يو گيلاس شراب مي پر سر پورته کړل، مشک و عنبر او نور رقم په رقم عطرونه مي په ځان ووهل. ما ته د دنيا د ټگماري بوډۍ مکر، ټگي او د زمانې دروه و چمبازي نه وه معلومه او نه په پوهېدلم. شپه چي يو څه تاريکه سوه ما غوښتل چي خپلي محبوبې ته ځان ورسوم او هماغه باغ ته ولاړ سم. خو سر مي راته درونږ وو او نه پوهېدم چي چيري ځم. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نشې په حالت کې په یوه کوڅه ننوتلم. دا کوڅه ئې د ملک کوڅه (syndic street) بلله. کوڅې ته چې ورداخل سوم، نابېره مې مخې ته یوه بوډۍ راغله. په یوه لاس کې لګېدلې شمعه او په بل لاس کې سره پېچلی کاغذ وو. ... کیسه چې دې ځای ته ورسېده ...**

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادې کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او دوه ویشتمه شپه

**شهرزادې وویل: اې زمورږ بختور پاچا! په یاد خو به دې وي چې سوداګر ځوان ته د کوڅې په خوله کې بوډۍ په مخه ورغله په یوه لاس کې لګېدلې شمعه او په بل لاس کې سره پېچلی کاغذ وو. له ځانه سره ئې ژړل او په ژړا کې ئې دا بیتونه هم زمزمه کول:**

برایې مې خوب لیدی یو توپان راسي
ورپسې سپوږمۍ پر مخ د اسمان راسي
مځکه ټوله سي روښا، تیارې سي ورکې
زلزلې پر کندوالو د بیابان راسي
په تعبیر کې یو هوښیار راته وې غوږ سه
له سفره به دې تللی جانان راسي

**زه چې ئې ولیدلم، را بېغ ئې کړه چې: "آزویه ! خط لوستلای سې؟" ما ورته وویل: "هو! ادې، لوستلای ئې سم". کاغذ ئې راکړ، ویل ئې دغه خو راته ووایه چې څه پکښې لیکلي دي. کاغذ چې مې خلاص کړ، پکښې نوشته وه چې: "دا د دوستانو له پاره د ډېرو پخوا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمانوڅخه راپاته سوی کتاب دئ". بوډی چي زما د خولې دا جمله واورېدله. ډېره خوشاله سوه او ما ته ئې ډېري دوعاوي وکړې. ويل ئې: "د ستارې و دبارې سې، زويه. غم دي داسي درڅخه ليري سي، لکه زما څخه چي دي ليري کړ". کاغذ ئې راڅخه واخيست او رهي سوه. يو دوه گامه ئې واخيستله، بيرته راوگرزېدله. زما لاس ئې مچ کړ. ويل ئې: "آ ځوانه، په ځواني دي ارمان وخېژه. دلته حضوره زما کور دئ، تر دغه کوره به راسره ولاړ سې او دغه د کتاب خبره به ته پخپله د کور خلکو ته وکړې، نه گانه چي زما د خولې به ئې زړه ته و نه لوېږي. که درباندي تکليف نه وي، زويکه، راسره ولاړ سه او دا خط به هورې ته پخپله ورته ووايې". ما ورته وويل چي دا خط له کمه ځايه راغلی دئ. ويل ئې: "زويه! دا مي د بچي خط دئ. لس کاله کېږي چي په مسافري تللی دئ. هيڅ حال ئې په دا لس کاله نه وو راغلی. موږ بيخي لاس ځني پرېولی وو او په زړه کي به مو راگرزېده چي مړ سوی به وي. اوس ئې دا کتاب موږ ته راورسېد. د ده يوه خور ده چي په ده پسې له سهاره تر ماښامه ژاړي. زه که اوس و دې ته ووايم چي ورور دي شکر روغ رمټ دئ، ښايي زړه ته به ئې و نه لوېږي او راته و به وايي چي يو څوک راوله چي زما په مخکي دغه کتاب راته ولولي چي زما زړه هم په پوړه سي. نو دې بوډۍ پسي زياته کړه چي زويکه! تا ته خو به معلومه وي د عاشقانو او حريصانو زړونه د ډېري په شان وي. بدگوماني ئې بيخي ډېره وي. ته که پر ما باندي د دغه کتاب د لوستلو احسان واچوې او راسره ولاړ سې، هورې د پردې تر شا ودرېږې او کتاب په زوره زوره ولولې، نو د دغې هجران ځبلي نجلۍ غوږو ته چي ستا اواز ورسېږي، خدای تعالی به تا ته په دنيا و آخرت کي خورا ډېر ثوابونه درکړي. نبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرور فرمايلي دي: "من نفس كربة عن مكروب نفس الله عنه اثنين وسبعين كربة". نو ما چي اوس تا ته پناه راوړې ده، مه مي نامېنده كوه. آنو خود، ما د دې بوډۍ په خوله وكړه. بوډۍ دمخه سوه، زه په پسې سوم. دا دئ يو خورا ښه كور ته راورسېدو. زه تر دروازې دباندي ودرېدم. بوډۍ د عجميانو په ژبه يو چا ته ورناري كړه. چې گورم، يوه مسته چاغه شلنده نجلۍ راووتله. د پرتاگه پايڅې ئې تر زنگنو پوري پورته كړي او د بلوړو په شان سپيني پونډۍ ئې لوڅې ښكاره كړي دي. هغه د شاعر خبره چې ويلي ئې دي:

د پونډيو و ښايست ته ئې وگوره
لطافت تې ستر گي ځيري له هر لوره
عاشقانو ته د حال په ژبه وايي
چي دا ځاى د و مره سيمين ! توبه له نوره

بس نو تا ته دي وويل سي، پر سپينو پونډيو ئې زرين خالونه پاشلي وه، لستوڼي ئې پورته كړي او تكو سپينو مړوندو ئې د كتونكو پر زړو باندي د اور لمبې گرځولې. په غوږو ئې د مرغلرو او لاجوردو واليگان ځړېدل. پر رخچينه باندې د اصيلو مرغلرو او گلابتونو كارونه سوي وه. له ډېره نازه شانه ورانه كېدله او دروازې ته راغله. زه چې ئې وليدلم، په ناز و نخرو ئې مور ته وويل: "موري! دا هغه سړى دئ چې د كتاب د لوستلو له پاره دي راوستلى دئ؟" بوډۍ ئې په جواب ورته وويل: "هو! لوري". باره نو نجلۍ لاس رااوږد كړ چې كتاب راكړي. ما هم لاس وروغځاوه چې كتاب ځني واخلم. بس چې يو څه ورنژدې سوم، د شا پاله بوډۍ ورپوري وهلم او چې مخ مي رااړاوه، بيا د سراى په منځ كي ولاړ وم. بوډۍ په درب دروازه پېش كړه او كولپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ئې ورواچاوه. په دغه وخت کې ... کیسه چې دې ځای ته ورسېده ...**

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او دروېشتمه شپه

**شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:**

**اې، زموږ تاجداره پاچا! تخت و بخت دي برقراره اوسه. تاج الملوک ته هغه ځوان نوره کیسه داسي کوله: بوډۍ چي زه سرای ته ورپوري وهلم او د سرای دروازه ئې ټینګه وتړله. دا هم زموږ و خوا ته راغله. نجلۍ چي ولیدل چي دروازه تړلې ده او زه د سرای په منځ کي ولاړ یم، باره، زما خوا ته رارهي سوه، غېږ ئې راباندي راوګرځوله، پورته ئې کړم او د مځکي ئې راوویشتلم. دا مي پر ځیګر کښېنستله، پر نس باندي ئې ټینګي ټینګي نوکاري راکړې. بیا ئې له مځکي څخه پورته کړم او کورخراپي داسي ټینګ په غېږ کي کښېکښلم چي قسم ده، که مي ښور ځني خوړلای سوای. باره ئې نو د کور پر خوا یووړم. بوډۍ دمخه او شمعه ئې په لاس کي ده. یو څه حد چي ولاړو، اووه دهلېزونه په مخه راغله. تر دې ټولو دهلېزو ورتېر سولو او یوه پراخ انګړ ته ورسېدو. شاوخوا ئې څلور دالانونه وه چي ټوله د مرمرو او رخام له ډبرو څخه جوړ سوي ول. اصیلي غالۍ پکښې هواري وې او د ورېښمو نازکي پردې پر راځړېدلي وې. د دالان په مابین کي لوی تخت پروت وو چي په سرو زرو او یاقوتوسره جړاو (مرصع) سوی وو. ما چي تخت ته وکتل په زړه کي مي وویل چي دا تخت خو له پاچهانو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره ښايي. په دې وخت کي نجلۍ راته وويل چي: "ګوره، ګرانه! په مرګ و ژوندکي دي کم يو خوښ دئ". ما ورته وويل: "ژوند". دې ويل چي داسي ده نو زما سره نکاح وتړه. ما ورته وويل چي دا به ما ته مناسبه نه وي چي ستا په شان نجلۍ سره زما نکاح وتړل سي. دې راته وويل چي که زما سره نکاح وتړې، د هغي بلي مرداري رنډۍڅخه به دي هم خدای سهي و سلامت وژغوري. ما ورته وويل: مرداره رنډۍ څوک ده؟ راته وې خندل، ول، عجب! يو کال و څلور مياشتي دي ورسره تېري کړي دي او ته ئې لا نه پېژنې. خدای دي هغه په تېره کړي تر هغې چمبازه ښځه پر دنيا بله نسته. پخوا ئې تر تا ښه ښه ځوانان وژلي دي. زه نه پوهېږم چي دا ته ئې ولي تر اوسه پوري نه يې وژلی. د دې نجلۍ خبرو ته هک پک پاته سوم. آخر مي ورته وويل چي ګوره، اې نجلۍ، تا دا ښځه څرنګه وپېژندله؟ دې په جواب کي راته وويل چي زه ئې بيخي ښه پېژنم، خو اوس غواړم ستا په ماجرا پوه سم او په دې خبره مي سد خلاص سي چي ستا د ژوندي پاته کېدلو سبب څه دئ. باره، ما خپله ټوله کيسه تر ايکه و تر بيکه ورته وکړه. د کاکا د لور عزيزې نکل مي هم ورته بيان کړ. دا نجلۍ چي د عزيزې په مرګ خبره سوه. ډېر ئې زړه باندي وسوځېد، بې اختياره اوښکي ئې تر سترګو راغلې. د افسوس لاسونه ئې سره وموښل. ما ته رانزدې سوه، ول، آګرانه! خدای دي د دې پر مړينه د زړه صبر درکړي. دا د کاکا لور ستا د ژغورني سبب سوې ده. که دا نه وای، دغې مرادري پليتي به ته د يو وختو لا مړ کړی وای. چي رشتيا سي زه اوس لا هم ددې څخه بېرېږم چي مړ دي نه کړي مګر نو څه درته ووايم. ما ورته وويل: "څه چي خدای پېښ کړي وي، هغه به کېږي. بله چاره نسته". دې سر وښوراوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وې ويل چې بله عزيزه به خدای خبر چې پيدا کوې. ما ورته وويل چې د کاکا لور مې د زکندن پر وخت وصيت کړی وو، چې زه دې ښځې ته دغه دوې خبرې وکړم چې"الوفاء مليح و الغدر قبيح" يعني وفاښېګڼه ده او مِکر و جفا کرغېړنه. دې ويل، بس، بس، بس اوس پوه سوم زماګرانه. قسم په خدای چې ته همدې کلمو له مرګه ژغورلی يې او د همدې دوو کلمو له اسيته ئې ته نه يې وژلی. د کاکا پر لور دې خدای ورحمېږي په ژوند او مرګ دواړو ئې تا ته نجات درکړی دئ. زما هر وخت دا آرزو وه چې يوه ورځ تر تا پورې ځان در ورسوم. مګر نه سره رسېده. څو دا دئ نن مې په يو چم ته تر دې ځايه پورې راوستلې. ته لا اوس کوچنی يې، د ښځو په مِکر و چمبازيو نه پوهېږې. ما "لاحولُ" وويله. دې راته وويل چې اوس بېغمه اوسه . که دې د کاکا لور مړه ده، زه خو شکر ژوندۍ يم او د دې پر ځای يم. څرنګه چې ته ډېر ښکلی زلمی يې نو د خدای په حکم او د پيغمبر د سنتو له مخې غواړم چې ستا سره نکاح وتړم او ته مې مېړه سې. هر څه چې غواړې هغه درکوم. تر سنګينو کاليو او نورو ټولو ښووښاديو پورې چې هر څه ته دې زړه وغواړي، درکوم يې. زما له خوا به تا ته هيڅ راز تاوان و نه رسېږي. تل به دې خولۍ په غوړو کې وي اود دنيا له ښو و ښاديو څخه به هر څه درته حاضر و آماده پراته وي. غم به په ټول ژوند و نه وينې. زه ستا څخه هيڅ هم نه غواړم. مه زما له پاره خواري کاږه او مه په ما روپۍ مصرفوه. يوازې يو شی درڅخه غواړم او هغه دا چې ملا دې ټينګه وتړه او زړه دې د زمرې په شان قوي ولره. بيا ئې نو بوډۍ ته ورمخ وروااړاوه چې هر څه چې حاضر دې راوئې غواړه. چې ګورم، څلور تنه شاهدان راغلل څلور شمعه ئې ولګول. شاهدان زما خونې ته راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سلام ئې راواچاوه او کښېنستل. نجلۍ ولاړه سوه پوړنی ئې پر سر کړ او په شاهدانو کي ئې یو تن د ځان د مهرو د نفس وکیل وټاکه. بیا ئې نو شاهدانو ته د ټولو په مخ کي اقرار وکړ چي ټول مهر دې ته ورسېدلی دئ. دغه راز ئې اقرار وکړ چي د دې د ټول مال و جایداد و شتمنۍ لسمه برخه زما ده.... کیسه چي دې ځای ته ورسېده ...**

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه

د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یوسل او څلېرویشمه شپه

**شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:**

**د دنیا په غمو غمجن ځوان شهزاده تاج الملوک ته د خپل بیان په دوام وویل: نجلۍ د حاضرو کسانو په مخ کي اقرار وکړ چي د ټول مهر غاړه ئې وتلې ده او د دې په مال و جایداد کي زما د حصې له بابته لس زره درهمه زما برخه سوې ده چي دا مبلغ له دې سره خوندي دئ. شاهدانو د دې دغه اقرار په کتاب کي وکیښ. خپله شکرانه و قلمانه ئې واخیستله او رخصت سول.**

**په دې وخت کي نجلۍ راولاړه سوه. خپلي د تن جامې ئې وایستلې او یو خورا سنگین اوږد زرین کمیس ئې واغوست. زما لاس ئې پخپل لاس کي ونیو او راته وئې ویل: "په یقین سره ئې زړه ته واچوه چي زه به ستا وفاداره ماندینه واوسم او غواړم چي ته هم زما په حق کي یو صمیمي، په زړه پاک مېړه واوسې چي په دې ډول موږ د خپل ژوند یو څو شپې په خوښۍ او خوشالۍ سره تېري کړو، د دنیا له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



غمو او د ژوند له جنجالو څخه ځانونه ليري وساتو، خدای تعالی راته اهل و صالح اولادونه عنايت کړي چي وکولای سو خپل وخت د هغو په تربيه او روزنه باندي مصرف کړو او زما په دغه خدای راکړې شتمني او هستي چي نه تمام و زوال سته او نه به که خدای کول زوال ومومي، خپل عمر په بېغمۍ او پوره زړه سره ترپايه ورسوو. زه به کوښښ کوم چي ستا د کاکا د لور په شان وفاداره نصيحت گويه پاته سم او تا د زمانې له ناخوالو څخه وژغورم ..." . يو ساعت قدر زما او د دې تر منځ دغه راز خبري اتري يو و بل ته سره تبادله سوې. زياتي نو سره پرېوتلو او تر سهاره پوري په خواږه خوب بيده وو. سهار چي وختي راپاڅېدم، غوښتل مي چي له کوره ووزم، نجلۍ له کټ کټ خنداسره زما خوا ته راغله او راته وئې ويل چي: "پر ما دي هم لکه د هغي پليتي و رنډۍ نجلۍ خيال کړی دئ. دا چورتونه دي له سره باسه. ته اوس د پاک خدای په حکم او د نبي رسوالله په سنت زما مېړه او څښتن يې. غوږ ونيسه، داکور چي ته پکښې اوسې، په کال کي ئې يو وار دروازې خلاصېږي. اوس درځه چي د کور تماشه درباندي وکړم. زه هم راولاړ سوم. د کور دروازې ته ولاړم. دروازه تړلې وه او د اوسپني غټې مختبيلې ئې پر وهلي وې. نجلۍ ته بيرته راغلم او ورته ومي ويل چي پر دروازه خو مختبيلې ټکوهل سوي دي.

دې راته وويل: "آ زما د زړه سره! زموږ سره دونه اوړه، وريجې، غوړي، ميوې، بوره او د چرگانو و پسو غوښې سته چي څو کاله بازار ته نه احتياج کېږو. د کور دروازه مو سر له دا نن څخه حساب ورته کوه، پوره يو کال باد يا وروسته خلاصېږي. زه پوهېږم چي په دې يوه کال کي به ستا وجود دلې وي خو کولمې به دي بل ځای گرو او روح به دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته وي". ما په جواب کي ورته وويل چي: "معاذالله". دا شنه د خندا ولاړه او په دا عين خندا کي ئې راته وويل چي: "پر تا ئې څه فرق دئ، يا دلته يا هلته. د کولنگي چرگانو د روزني چم خو خداى در زده کړى دئ".

ما هم ورسره وخندل او خبره مي ورسره ومنل. هورې ورسره پاته سوم. ځان مي د کولنگي چرگانو په ساتنه و روزنه مصروف وساته. چي مخ مو راگرزاوه، دوولس مياشتي بيا تېري سوې او دا پري جماله زما څخه اميندواره سوه. گلالى بچى خداى ورکړ. د نوى کال د شروع په ورځ ئې د کور دروازه خلاصه کړه. درگرده پنډيان وجواليان راروان دي د اوړو و وريجو گونياني او د غوړو زکان، ډوډياني و بورې ئې په پېخر راوچلولې. ما غوښتل چي تر کور دباندي ووزم. نجلۍ رانزدې سوه او راته وې ويل چي: "تر ماښامه صبر وکړه" ما هم تر ماښامه پوري انتظار وکيښ. ماښام چي راوتلم له وهم او بېري څخه يو دود وم. نجلۍ راته وويل: "تر هغو د خداى په خدايي که گام راڅخه واخلې چي اول زما سره قسم وانخلې چي ماښام به دمخه تر دې چي زموږ د کور دروازې وتړلي سي، بيرته راستنېږې".

ما ئې خبره ومنله او خورا سخت قسمونه مي ورته واخيستل او ورته ومي ويل چي: "ستا نمک مي دي وشرموي، ماينه دي راباندي طلاقه وي، د خداى پاک کلام دي راپسې سي، چي که ماښام بيرته رانغلم". نور مي نو رخصت ځني واخيست او لمغوټې باغ ته ولاړم. د باغ دروازه خلاصه ولاړه وه. خښم راغلى او له ځانه سره مي وويل چي زه دا يو کال کېږي له دې ځايه مي مخ پرته سوى دئ، اوس چي ناڅاپه بيرته راغلم، دروازه هغسي لا خلاصه ولاړه ده! آيا هغه نجلۍ به

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر اوسه پوري لا په هماغه حالت کي پاته وي، کنه؟ خیر، له ناچارۍ ځخه، دمخه تر دې چي مور ته مي ورسم، باغ ته مي د ننوتلو اراده وکړه. غوښتل مي چي په موضوع ځان خبر کړم چي څه پېښه سوې ده؟ د ماخستن اذانونه وه چي باغ ته ورننوتلم ... کیسه چي دې ځای ته ورسېده ...**

د سهار شمال را والوتی روښا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او پنځه ویشتمه شپه

**شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:**

**غمجن زلمي تاج الملوک ته نوره کیسه داسي بیان کړه: باغ ته ورننوتلم، یو څه حد ولاړم. هغه پخواني ځای ته ورسېدم چي ګورم مرداره و پلیته رنډۍ ناسته ده، سر ئې پر زنګنو ایښی دئ، د مخ رنګ ئې تک ژیړ اوښتی دئ، سترګي ئې له ډېري ژړا ځخه پړسېدلي او تکي سرې اوښتي دي. زه چي ئې ولیدلم، وې ویل: "الحمدﷲ، شکر دي وي خدایه". غوښتل ئې راولاړه سي، ازبستي چي ډېره کمزورې سوې ده، درز ئې سو، بیرته پر مځکه ولوېدله. زه له دې ځخه یو څه خجالت سوم، سر مي کښته وځړاوه خو ورمخ ته سوم، مچه مي ځني واخیستله. ما ول ځرنګه پوه سوې چي زه نن شپه پر دغه وخت راځم او ته راته په انتظار کښېنستلې. دې وویل: "په راتګ خو دي نه وم خبره، منګر په هغه خدای مي دي قسم وي چي زه و ته ئې دواړه پیدا کړي یو، چي په بسته یوه کال د سترګي پټېده راباندي نارو. په هغه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ چي ته راځخه ولاړې او وعده دي وکړه چي ماښام ته بیرته راځې، زه تر دا ننه پوري هره شپه ستا په انتظار دلته کښېنستلم. عاشق باید همدغسي وي. اوس دي خپل بیان راته کوه، دا یو کال چیري وې؟" ما دا خپل ټول نکل له سره څخه تر پایه ورته وکړ. ک

له چي په دې پوه سوه چي ما بله ښځه کړې ده، د رنګ بڼه ئې پر دا بله واوښته. بیا چي مي ورته وویله چي زه فقط دا نن شپه راغلی یم او بیرته ژر ځم، یو دم ئې مخ راواړاوه او راته ئې وویل: "دې چي ته خپل مېړه کړې او په چم و چمبازۍ ئې یو کال بندي وساتلې، هغه ئې لا بس نه دي چي اوس ئې بیا د اورتي د طلاق قسمونه درڅخه اخیستي دي چي بیرته به ژر راځې. دا ئې هم نه لوربدله چي یوه شپه خو دي له مور او یوه شپه هم زما سره تېره کړې. په هغه مور مسکیني دي حال لرې، چي پر څه حال ده، جوړه ده، ناجوړه ده؟ د کاکا لور عزیزه دي خدای وبخښه او هغه چي پر دې خواري راغلي ول، خدای دې پر بل چا نه راولي. هغې خوارکۍ خو دونه صبر او تیګا وکړه چي د انسان په توکم کي چا نه وه کړې. د ظلم او جفا له اسیته خوارکۍ مړه سوه". ورپسې ئې راته وویل: "په هغه ورځ چي ته زما څخه ولاړې، په سلو رګو کي مي یوه لا هم نه راته ویله چي ته دي بیرته رانه سې. ما ول ژر به بیرته راسې. که زه داسي پوهېدلای، نو چیري مي پرېښوولې. ما کولای سول چي بندي دي کړم او پسې مړ دي کړم". دلته نو له خښمه سره تاو تاو سوه او په قهروغضب ئې راته وکتله، تر سترګو ئې د غضب اورونه غورځېدل. ما چي په داسي حالت کي هغه ولیدله، وبېرېدلم، بدن مي لړزې واخیست، پټاکۍ راڅخه ورکي سوې، غړي مي وتښتېدل. دې ورپسي زیاته کړه چي: "ته اوس خدای د ښځي او اولاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



څښتن کړې. ته نو نور زما د معاشرت وړ نه يې. زما داسي لوی لونده سړی نه دئ په کار چي زه دي لکه رنځۍ خوښه سوم. خپله دي راباندي وکړه او زياتي پسي ولاړې. په خدای مي دي قسم وي چي پر دې بلي ښځي مي هم زړه خوږېږي چي ستا سره اخته سوه. داسي کانه به درباندي وکړم چي نه زما سې او نه د هغې". باره ئې لو چيغه وکړه. مينځيانې ئې سمدستي ورته راحاضري سوې. زه ئې پر مځکه راغوزار کړم. نجلۍ هم راولاړه سوه او چاړه ئې راواخيستله راته وې ويل چي: "اوس دي لکه پسه داسي غاړي درپرې کوم او د هغو بديو مجازات درکوم چي د خپلي کاکا د لور سره دي کړي دي". ما چي خپل ځان ته وکتل چي د مينځيانو په لاسو کي گرفتار سوی يم، مخ مي په خاورو ککړ او دا راته چاړه په لاس ولاړه ده، خدای سته چي مرگ مي زړه ته ولوېده... کيسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه

د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او شپږويشتمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

د سوداگر زوی عزيز و تاج الملوک ته خپل نور بيان داسي ووايه: آبس، مرگ مي پخپلو گناهکارو سترگو وليد. هر څه عذر و زارۍ و جگۍ چي به مي ورته کولې، دا به نوره هم خښمېدله. پر مينځيانو ئې امر وکړ. هغو زما لاسونه ټينگ راوتړل او ستوني ستخ ئې پرې ايستلم. دا مي پر نس باندي کښېنستله. دوو مينځيانو مي د پښو گوتي ټينگي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې او دوې مې پر لېنګيو راکښېنستلې. آخر هغه دوو نورو مينځيانو او دې پخپله راباندي راواچوله. اوس نو مه پوښته چې کم ځای دې خوږېږي. داسي د مرګي وهل ټکول ئې راکړل چې بېسده سوم. کله چې پر هوښ راغلم له ځانه سره مې وويل چې تر دې وهلو، ټکولو، شکنجو او زحمتو خو حلالېدل سل واري ښه دي. د کاکا د لور خبره مې را په ياد سوه چې ويل ئې: "خدای دي د دې له شره وساته".

له بېوسۍ څخه مې وژړل او دې ظالمې چاړه پر کاڼي باندي راته اچوله او تېره کوله ئې. پر مينځيانو ئې امر وکړ چې رانزدې ئې کړئ. په دغه وخت کي مې لکه يو الهام چې راته وسو، د کاکا د لور هغه دوې خبري مې را په زړه سوې چې ما ته ئې را زده کړي وې: "الوفاء مليح والغدر قبيح". دا کلمات مې نجلۍ ته تکرار کړل. کله چې دا کلمات واورېدل، لويه چيغه ئې وکړه او له خروښه څخه سره وڅرخېدله په دا عين خروښ کي ئې وويل: "عزيزې! خدای دي وبخښه چې د کاکا زوی ته دي په ژوند و په مرګ دواړو کي نجات ورکړ". بيا ئې نو ما ته مخ راواړاوه ويل: "په خدای مې دي قسم وي چې د دغو دوو کلمو په خاطر راڅخه خلاص سوې. منګر دغسي خو دي نو نه پرېږدم. يو نوغی درپوري کوم. داسي نوغی چې د هغي بلې فاحشې چې ته ئې زما څخه پټ کړی وې، زړه خو هم په کباب کباب سي". بيا ئې نو پر مينځيانو باندي چيغه کړه چې: "پښې و لاسونه ئې په رسۍ وروتړئ". هغوی چې ئې امر پر ځای کړ، دې په اور کي يوه د اوسپني ميله کښېښوله، چې لکه اور تکه سره سوه. وروسته نو دا ما ته راغله او زما د نارينتوب آله ئې غوټه پرې کړه. زه لکه ښځه داسي سوم. د اوسپني تکه سره ميله ئې د ټپ پر ځای باندي کښېښوله اوداغ ئې کړ چې د وينو د بهېدو مخه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونيسي. زه نور په ځان پوه نه سوم خو پر هوښ راغلم، يو گيلاس شراب ئې راباندي وچښل او راته وې ويل: "اوس نو هغه چا ته ولاړ سه چي ته ئې مېړه کړی وې او ته ئې ما ته د يوې شپې له پاره هم نه را پرېښوولې. د کاکا لور عزيزه دي خدای وبخښه چي نن ئې هم تا ته نجات درکړ. که دي د هغې دغه دوې جملې راته ويلي نه وای، اوس به مي وخت بيا وژلی وای. اوس نو ورسه هغه چا ته چي غوښتی ئې وې. زما دي چي کوم ځای په کار وو، هغه مي درڅخه پرې کړ. نور مي نو په کار نه يې". تر دې خبرو وروسته ئې ټينگه لغته په تشي کي راکړه او راڅخه رهي سوه. زه په ډېر زحمت راولاړ سوم. د تگ نه وم. کرار کرار مي گامونه اخيستل. کور ته ورسېدلم. دروازه خلاصه وه. ورننوتلم. ښځه مي راغله زه ئې خوني ته بوتلم. هورې ئې وکتلم چي نارينتوب مي نور نسته راڅخه پرې کړی ئې دئ. خوب غلبه راباندي وکړه او بيده سوم. سهار چي راپاڅېدلم، که گورم چي د باغ په دروازه کي پروت يم... کيسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او اووه ويشتمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

زلمی عزيز وايي چي سهار مي سترگي روڼي کړې، د باغ په دروازه کي پروت وم. راپورته سوم او ورو ورو د کور پر خوا وښکېدلم. کور ته چي ورسېدم، مور مي ناسته ده ژاړي. زه ورنږدې سوم او ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي په غېږ کې ورواچاوه. راته وئې کتله او پوه سوه چې حال مي خراب دئ او ناکوکه یم رنګ مي تک ژیړ اوښتی دئ. ما ته مي د کاکا د لور عزیزې نېکۍ را په زړه کېدلې او پر ژړا ئې راوستلم. مور مي هم سر راسره پټ کړ او راته وې ویل چې: "زویه! پلار دي مړ سوی دئ". ما ته خښم راغی خو ژړا زور راباندي وکړ. دونه مي وژړل چې بېخي له حاله بېحاله سوم. چې پر هوښ راغلم او سترګي مي د کاکا د لور پر ځای ولګېدلې، بیا مي سر پټ کړ. ژړا مي ګرسره نه درېدله. تر نیمي شپې مي دغه اوښکي وې چې تر سترګو مي بهېدلې. مور مي بیا راته وویل چې: "پلار دي نن لسمه ده چې مړ سوی دئ". ما ورته وویل چې زما د کاکا د لور پرته بل څوک په فکر کي نسته. هغه څه چې ما ته رارسېدلې دي، د هغولایق وم. باید رارسېدلي وای. هغې زما سره مینه درلوده خو ما ورڅخه لاس واخیست . مور مي راته وویل چې: " آخر تا ته اوس څه پېښه ده؟" ټول بیان مي ورته وکړ. باره مي مور هم په ژړاسوه. یو آن ئې وژړل. بیا ئې نو څه د خورک شی می راوړل. یو ګوله قدر مي ځني واخیستله او خپله کیسه مي دوهم وار بیا مور ته وکړه. هغې په جواب کي راته وویل: "چې اوس شکر الحمدالله، خدای دي نه سي ناراضه. شکر چې وژلی ئې نه یې. بیا مي نو مور زما په علاج مصروفه سوه د دې د علاج له برکته مي په بدن کي څه شمه پیدا سوه. کرار کرار مي مخ پر ښه کېدو سو تر څو خدای جوړولم، جوړ سوم. وروسته مي مور راته وویل چې: "زویه! اوس نو د دې وخت رارسېدلی دئ چې هغه د کاکا د لور امانت دي دروسپارم. د کاکا لور دي ما ته سوګند راکړی وو چې دا امانت به تر هغو پوري تا ته نه درکوم تر څو چې ته هغه یاده نه کړې او ورپسي و نه ژاړې. اوس چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګورم چي ته په هغې پسې ژړا و فرياد کوې، له نورو کسانو سره دي علاقه شکولې ده او دا ځانګړتياوي په تا کي ليده کېږي نو زما خيال دئ چي د امانت درسپارلو موقع همدغه ده. باره نو ولاړه سوه، سوندخ ئې خلاص کړ او هغه ټوکر ئې راوايست چي د هوسۍ انځور يا رسم باندي کار سوی وو او ما مي د کاکا لور ته ورکړی وو. ټوکر چي مي وغوړاوه، په منځ کي ئې يو کاغذ پروت وو او دا بيتونه پر ختلي وه:**

په خاطر کي مي لا نه وه چي به داسي ژر تنېږم
له نامراده زماني سره په جنګ کي به ماتېږم
ما لا يو ګل له ګلانو څخه بوی نه کړ خزان سو
ژوند مي ژر مازيګری وو، لمر ول هله چي نور لوېږم
د اجل په ملګرتيا دي د لحد کړم بند پوانه
نه دي او ښکه پر ما توی کړه، نه يو آه چي وسوځېږم
په لحد کي زما وښنګ ته زړګی پاڼي پاڼي پروت دئ
ته په غېږ د ښايسته وو کي لوبېږې، درپو هېږم
نه به چاته ور په ياد سم، نه به څوک غوږ سي کيسې ته
خاطره به مي هم مړه سي، لکه زه چي خاوري کېږم

**د کاغذه پر دا بل مخ ئې عين مطلب داسي کښلی وو:**

هيڅ ګومان مي نه کاوه چي داسي ژر دي
سي پوره زما د ژوندون دا يو څو شپې
نه مي وختی ارمان او نه مي بوی کړل
له ګلانو څه يو ګل د دې باغچې
ارمانونه سربسته راسره ولاړل
هوسونه مي تالا کړل زماني

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه مي دوست و خسمانې ته راله راغی
نه کوم بل چا مي حال وپوښت د کوڅې
د جفا په اور مکوټ لمبه لمبه سوم
زمانه ده ستمگاره، کې منې

دا بیتونه چي مي ولوستل، تر سر مي دودان وختل. په ځان نه پوهېدلم. په چپلاخه (څاپېړه) مي دا خپل مخ وواهه او له هغې څخه یو بل کاغذ راولوېدی چي باندي کښلي ئې وه: اې د کاکا زویه! ما خپل خون تا ته دربخښلی دئ او امید لرم چي ته او محبوبه دي پخپل منځ کي سره جوړ سئ. خو که هر وخت تا ته د دغي پلیتي او رنډۍ نجلۍ له خوا تاوان در ورسېد، نور نو مه دې ته بیرته ورځه او مه کومي بلي ته. صبر او سَکته وکړه او غم و مشقت دي په صبر سره وزغمه. ته باید پوه سې چي اجل دي نه وو پوره سوی، که نه وخت به لا مړ وای. خو سل شکرونه دي وي پاک خدای لره چي زه ئې تر تا دمخه واخیستلم او زما مرگ ئې تر تا د وړاندي کړ. ته دغه ټوکر چي د هوسۍ رسم باندي کار سوی دئ، درسره وساته ځکه چي ستا د غیابت په وخت کي دغه انځور زما یوازنی مونس او همرازه وو... کیسه چي دې ځای ته ورسېده...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او اته ویشتمه شپه

شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر کاغذ باندي عزيزې ليکلي وه چي: دا انځور ورک نه کړې. ته چي به هر ځای تللی وې، دغه انځور يوازنی مؤنس او همراز وو، چي ما به زړه ورته تشاوه او ستا دي وي که هر وخت د دغه انځور رسم کوونکی او مصوِّر درباندي پېښ سو، ډېر به ليري ځني ښورې. ورنزدې کېږې به نه، واده به نه ورسره کوې او تر هغې پرته نورو ښځوته هم مه نزدې کېږه. پوه سه، چي د دې انځور انځورگر هر کال خپل تصوير کاږي او ليري ليري ښارو ته ئې استوي. دا کار له دې خاطره کوي چي د ده نوم تر هره ځايه پوري خپور سي او دی په دنيا کي مشهور او شهره آفاق وگرزي او د کمال اوازه ئې ټول جهان ته ورسېږي. کله چي دغه انځور سوی ټوکر ستا د مرداري او پليتي اشنايي تر گوتو ورسېد، هر چا ته به ئې ورښکاره کاوه او ويل به ئې چي دا د دې د خور په گوتو کار سوی دئ. مگر دې مرداري رنډۍ درواغ ويل. خدای دې په شرمو وشرموي. ما به دا وصيت تا ته نه وای ليکلی خو، پوهېږم چي تر ما وروسته به جهان پر تا يوه الغه سي او په غاړه کي به دي ولوېږي. ډېره ورسره تړلې ده چي له کوره به ورک سې او پر ښارو به وگرزې. د دغه انځورگر آوازه به دي تر غوږو پوري درورسېږي، غواړې به چي ورسره وگورې او وئې وينې. نو پوه سه چي د دې تصوير انځورگر د کافور د ټاپوگانو (جزيرو) د پاچا لور ده.

دا کاغذ چي مي ولووست او په مطلب مې ځان وپوهاوه. د زړه له سوخته مي خورا ډېر وژړل. زما پر ژړا باندي د مور هم زړه نری سو او سر ئې راسره پټ کړ. ډېري اوښکي ئې تويي کړې. بس چي کاغذ ته به مي وکتل، بې اختياره به اوښکي راايله سوې تر ماښامه مي دغه حال وو. تر هغه وروسته مي پوره يو کال هره شپه  په ژړا تېروله. کال چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره سو. دغوسوداګرو بارونه وتړل او د سفر تیاری ئې شرو کړ. مور مي راته وویل چې ولاړ سه له دغو سوداګرو سره په سفر ووزه. ګوندي غم دي لږ څه سوړ سي. دوه درې کاله له دغو سوداګرو سره ښار په ښار وګرزه. نوکی به دي د زړه سوده په وسي. ما هم د مور په قول وکړه او له همدې قافلې سره مي سفر پیل کړ. خو بیا مي هم اوښکي نه درېږي. پر هر رباط چې واړوو، زه دغه د تصویر ټوکر مخې ته وغوړوم. ورته ګورم او د کاکا لور مي پر یادوم او ورسره سم مي له سترګو اوښکي رارواني وي. ژاړم او له ځانه سره وایم چې دا پر ما مینه وه او زما له ستم و جفاڅخه ځوانیمرګه سوه. دې زما ښه و نه لیدل او ما د دې بد نه وو لیدلي.

دا دئ کال ووت چې زه له دې قافلې سره په سفر کي یم. غم و ماتم مي زیات سوی دئ، کم سوی نه دئ. د غم د زیاتېدو وجه مي دا هم ده چې ما د کافور اته ټاپوګان او د بلوړوکلا وغوښتله اوترپښومي وکښله. د هغه ځای حاکم ملک شرمان نومېدی. د دې حاکم یوه لور چې دنیا نومېدله. ما ته هورې چا وویل چې د هوسۍ دغه تصویرونه دغې نجلۍ کښلي دي او دغه د خامک ټوکران چې زما سره دي، دا د دې د هنر محصول دي. د دې خبري په پوهېدو مي غم یو په دوه سو. چورتونو واخیستم او په فکرونو کي ډوب سوم. پر خپل ځان باندي ژړا راغله ځکه چې د نارینتوب د ورهڼي نه وم او هغه ئې راڅخه اخیستې وه نور نو لکه ښځه داسي وم. دې نجلۍ ته مي د رسېدو نه حیله درلوده، نه وسیله. آ، شهزاده، څه درته ووایم. له کومې ورځې چې د کافور له ټاپوګانو څخه راوتلی او ځني لیرې سوی یم، زړه مي د کوټلو وینو ډک دئ. ګوره چې پر دغه حال به خپل کور و کلي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ورسېږم کنه؟ ګوره چې پر مرګ به مې مور حاضره وي که یا؟ ژوند بیخي راباندي بار دئ او نور ورڅخه موړیم. مرګ وا ووه زره ښې.**

**دا خبري چې ځوان وکړې، بیا ئې سر پټ کړ او ژړا ئې پیل کړه. یو وار به ئې د هوسۍ تصویر ته وکتل بیا به ئې بیرته مخ ځني واړاوه او دغه بیتونه به ئې تکرارول:**

چې د ورځې و د شپې په میاشت و کال دې زړه ملال
نه کافر نه مسلمان یې، نه دې نور د ښې اعمال

نه په رنځ راحت پوهېږې نه په وصل نه په هجر
په دې ژوند نو څه ده جوړه، مرګ بهتر تر دې جنجال

**تاج الملوک د دې ځوان کیسې ته هک پک حیران تللی وو... کیسه چې دې ځای ته ورسېده ...**

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یوسل اونهه ویشتمه شپه

**شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چې:**

**تاج الملوک چې د دغه ځوان کیسه واورېدله، له حیرانۍ څخه داسې منګ تللی وو. ځوان ته ئې وویل، په خدای مې دي قسم وي چې دغه حال خو پر دا څلور کونجه دنیا باندي پر هیڅ بنیادم نه دئ راغلی. خو یوه پوښتنه مې غوښتله چې درڅخه وئې کړم. عزیز ورته وویل: وایه پوښتنه دي، اې د پاچا زویه ! ستا ئې پوښتنه زما ئې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



جواب. غوټه دي په زړه کي مه پرېږده. تاج الملوک ورته وويل چي ته تر دغي نجلۍ پوري، چي دا انځور ئې کښلی وو، څرنګه ورسېدلې؟ ځوان ورته وويل چي ما خو په يوه چم و حيله تر دې پوري ځان ورساوه. چم و حيله داسي وه، کله چي قافله يا کاروان د دغي نجلۍ ښار ته ورسېدی، نو زه له قافلې څخه راووتم. يو څه حد چي ولاړم يو خورا غټ باغ مي مخي ته راغی. دې باغ ته ورننوتلم. د باغ باغوان يو بوډا شيخ وو. له دې شيخ څخه مي پوښتنه وکړه چي: "دا باغ د چا دئ؟" شيخ په جواب کي راته وويل چي دا زموږ د پاچا د لور "بي بي دنيا" باغ دئ. په هفته کي يو وار دې باغ ته راځي او خپله تفريح کوي. شيخ ته مي وويل چي يو احسان خو راسره وکړه او يو ګړی خو مي په دې باغ کي د پاچا د لور تر راتګه پوري پرېږده چي زه خو هم د دې په ليدو سره خپلي سترګي مشرفه کړم. شيخ ويل: "سل کرته". ما هم يو څو درهمه د شيخ په لاس کي ورکښېښوول چي ولاړ سه يو څه د خورک شی مې راوړه. شيخ په درهمو باندي خورا ډېر خوشاله سو او په باغ کي ئې زما سره چکر شروع کړ. يو ځای ته راورسېدو چي د هر راز مېوو درختي پکښې ولاړي وې. شيخ راته وويل چي ته دلې کښېنه زه بيرته ژر راځم. د هغې خوا چي بيرته راغی يو سربسته د پسه کباب سوی وری ئې ورسره رااخيستی وو. باره مو په خورک شرو وکړه. ښه پوره مو ځانونه ماړه کړل. چي رشتيا سي زما تر خورک، د پاچا د لور و ديدن ته ډېره تلوسه وه. زه لا په دغه چورتو کي وم چي نابېره د باغ دروازه خلاصه سوه. شيخ راته وويل: "درغورځه، ځان يو ځای پټ کړه". زه هم چټک راوغورځېدم او يو ځای غلی ودرېدم. چي ګورم له دروازې د پاچا عمله و فعله راننوتله. حبشيان خواجګان ئې په مخ کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



راروان دي. شیخ ئې مخې ته ورالا کړه. دوی له شیخه پوښتنه وکړه چې څوک موک خو به په باغ کې نه وي. شیخ ویل، نه صاحبه، دخدای بنده په باغ کې نسته. خواجه سرا ورته وویل چې د باغ دروازه ټینګه وتړه. شیخ چې دروازه وتړله ، آبس تا ته دي خدای نېکه ورځ درکړي، بي بي دنیا له یوې دربچې څخه راښکاره سوه. تا چې ویل د ځورلسم سپوږمۍ په باغ راننوتله. چې دا ورته ومې کتله، سد مي له سره څخه ولاړ، خوله مي وازه پاته سوه او پر زړه مي د دې د وصال داسي لمبه راغله لکه پر چولاوه او تږو کسانو چې د فرات رود د لیدلو پر وخت راځي. د پاچا لور یو آن چکر وواهه او تفریح ئې وکړه، بیرته ولاړه او دربچه ئې په ځان پسي وتړله. زه هم له باغه راووتم او د خپل ځای و جایګیر پر خوارارهي سوم. پوه سوم چې دې ته نه سم رسېدلای. زه وګوره، دا وګوره. دا د پاچا لور او زه د یوه سوداګر زوی. او بیا خو نوخبره بله هم وه او هغه دا چې زه خو د ښځي په شان وم، د نارینتوب ښېګڼه مي نه درلوده. آبس یارانو چې بار و بنه وتړله زه هم د دوی سره په سفر روان سوم. غوښتل مو دغه ښار ته راسو او هغه وو چې په دغه ځای کې پر تا باندي پېښ سولو. دغه وو زما ټول سرګذشت چې درته بیان مي کړ. تاج الملوک چې دا خبري واورېدلې، زړه ئې پر بي بي دنیا باندي نادیده بایلو. پر خپل آس ئې پښه واړوله او عزیز ئې هم له ځانه سره ملګری کړ. هله هله دا دئ د خپل پلار ښار ته راورسېد. عزیز ته ئې جلا کور ورکړ او د ژوند ټول د اړتیا وړ سامانونه ئې ورته راوچلول. پخپله خپلي ماڼۍ ته ولاړ. منګر تر سترګو ئې اوښکي رواني وې. په دغه حال کې پلار پر راغی. خپل زوی چې ئې پر دې حال ولید، ول خیر کې زویه، څه پېښه ده، حال راته ووایه. تاج الملک

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ټاپوګانو د پاچا د لور بي بي دنیا کیسه له سره څخه تر پایه ورته وکړه او پلار ئې پخپل مینتوب هم خبر کړ. پاچا ورته وویل چې د دې نجلۍ پلار له لویو پاچهانو څخه دئ او ښار ئې هم له دې ځایه ډېر لیري دئ. ځه، زویه د خپلي مور ماڼۍ ته دي ولاړ سه او دا فکرونه دي له سره وباسه ... کیسه چې دې ځای ته ورسېده...**

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه

د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او دېر شمه شپه

**شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چې:**

**وزیر دندان ضوء المکان ته داسي نکل کاوه چې په هغه ورځ د تاج الملوک پلار خپل زوی ته وویل چې: "بچیه! ته ولاړ سه د مور ماڼۍ ته. هورې پنځه سوه تنې د حورو په شان د مینځیانو لوڼي دي. هره یوه ئې په ښایست کي تر ها بلي بالا ده. هره یوه چې دي پکښې خوښه سوه هغه تر لاس ونیسه او له ځانه سره ئې بوزه". که دي په هغو کي څوک خوښه نه سوه، نو به بیا د کوم پاچا لور دروغواړم چې تر بي بي دنیا به سل چنده ښه وي. تاج الملوک ورته وویل چې پلاره! زه بې له دغي نجلۍ څخه بل څوک نه غواړم دا هغه څوک ده چې دغه د هوسۍ رسمونه ئې کښلي دي. زه له دې څخه پر بله مخ نه سوای اړولای. یا به دغه نجلۍ راغواړې، یا نو مخ پر بَوښو او بیابانو نیسم او ځان وژنم. پلار ئې ورته وویل چې: "مه کوه، زویه! ما ته فقط لس ورځې مهلت راکه چې زه ئې پلار ته مرکه ورواستوم او تا خپل مقصد**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ورسوم. مور مي دي هم په دغه شان وغوښتله. که داسي وو چي مرکې ته ئې د نې جواب ورکړ، پر مملکت بې داسي چپاو وروړم او دونه لښکر به وروباسم چي يو سر ئې دلته وي او بل ئې د دوی ښارته ورسيږي". تر دې وروسته نو پاچا هغه عزيز نومی ځوان خپل حضور ته راوغوښت او پوښتنه ئې ځني وکړه چي: "بچيه! تا ته د کافور ټاپوګانو لارولیکه درمعلومه ده؟"

عزيز ورته وويل: "هو! صاحبه". پاچا ورته وويل چي: "بچيه، غواړم تا له خپل وزير سره هغه ځای ته ولېږم". عزيز ورته په جواب کي وويل چي بيخي سمه ده. آبس نو پاچا وزير ته وويل چي د تاج الملوک کار ورسم کړه . تاسي دوه به يو ځای د کافور ټاپوګانو ته ولاړ سئ او د کافور ټاپوګانو د پاچا لور ته به زما د زوی له پاره مرکه وکړئ.

وزير د سفر په کار پسې سو او تاج الملوک خپل استوګنځي ته ولاړ. غم و حسرت و شواخون ئې يو په دوه سو او دا بيتونه ئې له ځانه سره وويل:

نــه پريــږدي مــي دا ســتا فکر و آرام تــه
ســتا پــه يــاد ورځ رســومه و ماښــام تــه
خيــال پلــو دي د وصــال تــل راســره وي
که څه هم نسته نسبت زمـا ستا و نـام تـه
پر لېمو که دي د پښو خاوري بار نه کړم
نــه رســېږم ښايــسته مــخ د دلارام تــه

دا بيتونه چي ئې پای ته ورسول، نور نو په ځان پوه نه سو. تر سهاره پوري بېسده پروت وو. سهار ئې پلار ورته راغی. که ګوري چي د تاج الملوک بڼه تر پخواږه سوې ده. پلار ئې د زړه د ډاډ خبري ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړې او دی و عزیز دواړه ئې له وزیر سره یو ځای له خورا سنګینو سوغاتو سره ولېږل. دوی هم رخصت ځني واخیستی، د سفر دوعاوي سره وسوې، اوبه ئې پسې تویي کړې. هله، هله، هله، څو شواروزه ئې تګ وکړ، آخر د کافور ټاپوګانو ته نزدې ئې د یوه سیند پر غاړه واړوله. وزیر د ټاپوګانو پاچا ته یو استازی ورواستاوه او د خپل راتګ حال ئې ورکړ. د آخوا، څو ساعته وروسته د شهرمان پاچا وزیر له خپلو غټانو او مخورو سره یو ځای د دوی هرکلي ته راووتل. له ښار څخه یو رباط لیري دواړو خواوو سره ولیدل. روغبړونه، ستړې مسي، د جوړ و ناجوړ پوښتني ئې سره وکړې. باره ئې نو د ښار پر خوا حرکت وکړ. تر څه مزله وروسته د شهرمان پاچا ماڼۍ ته ورسېدل. د پاچا په مخ کي ئې سوغاتونه کښېښوول. نور نو له درباره راووتل. څلور ورځې و څلور شپې ئې په ښار کي تېري کړې. چي ښه ئې ستړیا واچوله په پنځمه ورځ وزیر له عزیز سره د پاچا حضور ته ورغی. د پاچا په مخ کي ئې تر لازمو آدابو وروسته خپل حال او د راتګ سبب ورته بیان کړ. پاچا اریانۍ واخیستی، سمدلاسه ئې د جواب څه نه درلودل. ځکه دی پوهېدی چي د ده لور مېړه نه کوي. یو آن ئې سر ځړولی وو، آخر ته ئې سر راپورته کړ او یوه نوکر ته ئې امر وکړ چي بي بي دنیا ته ورسي او هغه څه چي اوس ئې واورېدل، ورته بیان کړي او د وزیر د راتګ په حال ئې خبره کړي. نوکر مځکه مچ کړه او رهي سو. یو ګړی وروسته بیرته دربار ته راغی او پاچا ته ئې تر احترام کولو وروسته وویل چي: "اې، ستر ټولواکه! بي بي دنیا ته چي مي دا بیان وکړ او د وزیر د راتګ سبب مي ورته ووایه. داسي خښم ورغی چي نزدې وو، زه ئې لا ډبولی وای. ما په وچه تاخته ځان ځني راخلاص کړ". پاچا و وزیر او عزیز ته مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راواړاوه او ورته وئې ویل چي ستاسي پاچا ته به زما سلام ورسوی او دا کیسه به ټوله ورته بیان کړئ، ورته و به وایاست چي زما لور لوړلي دي چي مېړه به نه کوي... کیسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او یو دېرشمه شپه

شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

شهرمان پاچا و وزیر او عزیز ته وویل: څه مو ولیدل او څه چي مو واورېدل، دا ټول به خپل پاچا ته زما له سلام سره یو ځای بیان کړئ او ورته وبه وایاست چي زما د لور له مېړه کولو سره نه ده جوړه. آبس وزیر او ملګري ئې ناولی لاس د پاچا له درباره راووتل. مزلونه ئې سر پر سر ووهل څو خپل پاچا ته راورسېدل او ټول بیان ئې له ایکه تر بیکه ورته وکړ. پاچا سمدلاسه پر خپلو امیرانو امر وکړ چي لښکر د جنګ له پاره تیار کړي. وزیر ورته وویل چي ستا قربان سم پاچا، دا کار مه کوه. د شهرمان پاچا ئې څه ګناه، څه تعدی، دی خو هیڅ ملامتیا نه لري. ملامتیا خو ئې د لور ده. ځکه زموږ په مخ کي ئې خپل پلار ته پیغام راواستاوه چي که ئې د دې له رضا پرته مېړه ته ورکړه، اول به مېړه ووژني او بیا به خپل ځان مړ کړي.

پاچا چي د خپل وزیر له خولې دا خبري واورېدې، پر تاج الملوک باندي وبېرېدی چي له شهرمان پاچا سره جنګ وکړم او مات ئې هم کړم، بي بي دنیا به ځان ووژني. نو دا خو هم نه شابس. باره ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاج الملوک په دا ټول حقیقت باندې خبر کړ. تاج الملوک چې د پلار له خولې ټول بیان واورېد، پلار ته ئې وویل چې زه د شهرمان پاچا له لور څخه لاس پر سر کېدلای نه سم، نو ښه خبره دا ده چې پخپله د دې ښار ته ولاړ سم او د دې د وصلت په لارکي چې مې څه د وسه کېږي، وئې نه سپوم. پرېږدم خو ئې نه چې سر مې هم په دې لار کي ولاړ سي، پروا ئې نه لرم. پلار ئې ورته وویل چې تر هغه ځایه پوري نو ځرنګه ځې؟ ده ورته وویل چې د سوداګرو په ټولۍ کي ځم. پلار ئې ورته وویل چې داسي ده، نو وزیر او عزیز هم درسره ملګري کړه.

آبس پاچا د خزانې سندوخان خلاص کړل تاج الملوک ته ئې د یو لک دینارو په اندازه مال برابر کړ. چې تاج الملوک او عزیز دغه شپه د عزیز په کور کي تېره کړه. د تاج الملوک طبیعت ډېر خټه وو، خوب نه ورتلی او پخپلو چورتو کي ډوب وو د خپلي محبوبا په آرزو ئې دا بیتونه له ژړا سره سم تر خولې راووتل:

له نظره مي پناه زما محبوبې پر خدای دي سپارم
زړه مي اور واخیست مکوټ سو، شپه و ورځ درپسي ژاړم
که دي ځای وي په بابل کي د هاروت په شان په څاه کي
پر لېمو که تګ محال سو د ساحر مرسته به غواړم
او بوم ئې په سرو او ښکو ستا د عشق تخم په زړه کي
کې حاصل د وصل راکړ، نو بیا واه، څومره به ویاړم

عزیز ته بیا خپله د کاکا لور عزیزه ور په زړه سوه او د هغې په یاد ئې اوښکي تویولې. دواړو کرۍ شپه تر سهاره پوري په سرو اوښکو تېره کړه. سهار چې سو، تاج الملوک د سفر موزې په پښو کړې د سفر سامانونه ئې سره وتړل نو ولاړ چې له موره څخه حق پلیت واخلي. مور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ورغی او ټول حال ئې ورته ووایه. مور ئې رخصت ورکړ او پنځوس زره دیناره ئې هم ورکړل. بیا نو د پلار ماڼۍ ته ورغی او تر اجازې اخیستلو وروسته ورننووت. پلار ئې پنځوس زره د سرو زرو دیناره ورکړل او امر ئې وکړ چې تر ښار دباندې دې د ده له پاره لوی تجیر یا خېمه ودرول سي. دوې ورځې و دوې شپې ئې په دغه خیمه کې تېرې کړې. دریمه ورځ ئې رخصت واخیست او مخ پر سفر روان سو. تاج الملوک له عزیز سره څنګ پر څنګ روان وو. عزیز ته ئې وویل: "ورورکه ! زما بې تا چاره نسته او نه ستا د بېلتون توان لرم". عزیز ورته وویل: "که ما وپوښتې، ما ته هم بې له تا ګوزاره سخته ده. زړه مې غواړي چې ستا په پښو کې ومرم، خو زما ورورکه! په مور مې بیخي ډېر زړه کښانده دئ". تاج الملوک ورته وویل چې: "کله چې خپل مقصد ته ورسېږو، نور کارونه به خدای ګرده اسانه کړي، چورت مه پکښې وهه". په لار کې به وزیر تاج الملوک ته د زړه ډاډ ورکاوه او د صبر توصیه به ئې ورته کوله، عزیز به سوزناکه شعرونه او د دنیا د عجایباتو نکلونه ورته کول. څه سر دې پرله ګرزوم، تر دوو میاشتو شپه و ورځ مزله وروسته د معشوقې ښار ته نژدې ورسېدل. د تاج الملوک له اوږو څخه د غم پېټي شیوه سول او خوشالي ورباندې راغله. د سوداګرو په ټولۍ کې ښار ته ورننوتل. په یوه لوی کاروانسرای کې چې د خورا مړو او هستمنو سوداګرو کاروانسرای وو، واړول. تاج الملوک له عزیز څخه وپوښتل چې د سوداګرو کاروانسرای همدغه دئ؟ عزیز ورته وویل: هو! منګر دا هغه ځای نه دئ چې ما پکښې اړولي ول خو دا ځای تر هغه ښه دئ.

باره ئې اوښان دلې چو کړل، بارونه ئې ځني راکښته کړل. ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



سامان ئې په کوټه کې واچاوه. وزير خپلو نوکرانو ته ئې امر وکړ چې د دوی له پاره ښه غټې او پراخ اطاقونه کراهيه کړئ. وزير او عزيز له تاج الملوک سره يو ځای هغه په اطاق کې سره راغونډ سول او د خپل راتلونکي کار له پاره د تدبير او حيلې په باب ئې فکرونه ووهل. د تاج الملوک سد کار نه کاوه او حيران پاته وو چې څه وکړي. آخر وزير داسي تدبير وسنجاوه چې د ښار په منځ کې د بزازانو په چارسو کې تاج الملوک ته دوکان ورونيسي. دوباره ئې تاج الملوک و عزيز ته مخ ورواړاوه، او ورته وې ويل چې که داسي لاس تر زني کښېنو، خدای خبر چې مقصد ته به رسېږو. تاج الملوک و عزيز ته ووېل چې: "بس، ته مشر يې، هر راز چې دي مصلحت وي موږ هغسي کوو".

وزير ورته وويل چې زما خو داسي خوښه ده چې .... او نورئې خپله نخشه ورته بيان کړه. وزير ورته وويل چې د بزازۍ دوکان ستا له پاره ښه دئ. ته به پر تخته دان کښېنې او د مالو د خرڅلاو کارونه به پر مخ وهې. ته چې پر دوکان کښېنې، تا ته خدای ښايسته شکل و سيکه درکړې ده انشاءالله د ټول بازار سترگه به درواوړي او دوکان به دي ښه په چل کې سي. لاکن عزيز به له ځانه نه ليري کوې. دی به هم پر دوکان درسره کښېنوې. تاج الملوک ته د وزير نخشې ښه خوند ورکړ او خوښه ئې سوه. دستي په دستي ئې د سوداگرو جامې له سوندخه راوايستلې، وائې غوستلې او مخ پر چارسو رهي سو. نوکران تر شا پسي روان ول. ده يوه نوکر ته زر ديناره ورکړل او ورته وې ويل چې په دې باندي د دوکان اسباب رانيسه او دی پخپله د بزازانو بازار ته روان سو. بازار ته چې ورسېد او د سوداگرو سترگې پر وموښتلې، د ده ښکلې سيکه، جگه دنگه تنه، سره و سپينه جوله چې ئې وليدله د ټولو خولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وازي پاته سوې. ټولو ویل چي دا د بشر له ذاته نه دئ. دا حور دئ چي له فردوس جنته ښخه دې نابودي دنیا ته رالېږل سوی دئ. یوه وویل:**

دا ښایست نه دئ، اې خلکو، دا به وي چشم بندي
په کمال و په جمال کي میدان وړي له سامري
دا سي سرې شکري شونډي بل ځای نسته پر دنیا
په خبرو کې پېیلي مرغلري، سره غمي

**ها بل پر راږغ کړه:**

دا سپوږمۍ د ښور لسم ده راختلې پر اسمان
پر نېک فال باندي ئې نیسئ دا نر حور ماه تابان
و دې قد و دې قامت ته سروه ولوېده له لافو
و دې حسن د یوسف ته په حیرت دئ ټول کنعان

**په دې مابین کي یو سپین ږیری راوړاندي سو او وې ویل:**

سپلني بویه چي دود سي و دې حسن دې جمال ته
دا زموږ د مجلس شمعه دي خدای نه پرېږدي زوال ته
مړېده نسته په وصف د دې مخ او د دې حسن
شکرانه ئې تسلیمي ده و خالق لایزال ته
دا جلوه نه ده راغلې نه به بیا راسي دې ښار ته
دا عطای الهي ده، شکر بویه ذوالجلال ته

**د صفتونو او تحسینونو په دې باران کي دوی د چارسو د دوکاندارانو تر وکیل پوري چي یو شیخ وو، راورسېدل. شیخ ورته ولاړ سو. سلام و تعظیم و احترام ئې پر ځای کړ. په نظر ئې داسي ورغلل چي تاج الملوک او عزیز د دې بل سړي یعني وزیر، زامن دي. د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوکاندارانو وکیل پوښتنه ځني وکړه چي: "که ما ته څه امر و خدمت وي، اجرا کېدو ته ئې پر دواړو سترګو حاضر و آماده یم". وزیر ورته وویل: هو! ستاسي سره مو کار وو. زه سپین ږیری سوی یم. دا دوه ځوانان مي زامن دي خدای دې غم نه راویني. دوی ښار پر ښار ګرزوم. په هر ښار کي یو کال تېروو چي دغه زامن مي تفریح وکړي او د ښار له خلکو سره وپېژني. اوس چي ستاسي ښار ته راورسېدو نو ستا څخه مي هیله دا ده چي پر یوه ښه ځای باندي چي د عام و خاصو د تګ راتګ لار وي، و دوی ته یو دوکان ورکړې چي دوی خپل کاروبار او بیعه و شرا پکښې شرو کړي. په دې ترڅ کي به دوی ستاسي په ښار کي هم وګرزي، چکرونه به ووهي او د دې ځای له ښو خلکو څخه به نېک اخلاق هم زده کاندي.

شیخ ورته وویل چي: "دا کار به پر دا دواړو سترګو اجراء کاندم".
د شیخ تر سترګو دا دوه ځوانان داسي ښه وایسېدل چي ته به وایې بیخی پر مین سوی وو. له ځایه راولاړ سو او و دوی ته ئې پر یوه خورا ښه موقع باندي خورا پراخ او غټ دوکان وروښود. د دوی تر موافقې وروسته ئې د دوکان کیلۍ وزیر ته وسپارلې او ورته وې ویل چي: "خدای دي دا دوکان ستا پر زامنو باندي مبارک کړي".

وزیر راولاړ سو او پر خپلو نوکرانو او خادمانو باندي ئې ږغ وکړ چي هغه د وربښمو سنګین ټوکران ټول دې دوکان ته راوچلوي ... کیسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو سل او دوه دېرشمه شپه

شهرزادې وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چې:

وزیر چې ځان د سوداګرو په جامه کې راایستلی وو، پر نوکرانو باندې دوکان ته د مالو راچلولو امر وکړ. آبس، نوکرانو هم په یوه دوړدنګ راوچلول. د دوی سره خو د پاچهۍ په شاني سنګین مالونه ډېر وه. ټول ئې په دوکان کې واوډل. شپه چې تېره سوه، سهار ئې وختي په تاج الملوک او عزیز باندي حمامونه وکړل. دې دوو ځوانانو ته خدای داسې ښایسته رنګونه وسیکې ورکړي وې چې هغه د شاعر خبره:

انګـي ئـې تـه وا ، لمـر وو ، ځلېدلـه
لـه زلفـانو ئـې عنبر مـشک توئېدلـه
پـه کتــو ئــې تــن و روح تـازه کېدلـه
پــه مجلـس ورتــه سـرونه زنګېدلـه

یو ګړی ئې په حمام کې تېر کړ او پاک خواپاکي راووتل. شیخ چې خبر سوی وو، چې دوی حمام ته تللي دي نو د حمام د دروازې مخ ته په انتظار ورته ناست وو چې ناڅاپه د جنت دوه غلمان راښکاره سول، بدنونه ئې د سپیني نقرې په شان پاک خواپاکي، انګي یا بارخوګان ئې د لاله ګلو په شان تک سره راختلي، سترګې په کجلو توري د هوسۍ د کبلیانو په شان شانه ورانه له حمامه راووتل. شیخ ورته وویل بچیانو! خدای مو تل همداسي روغ رمټ، خوښ خوشاله لره. تاج الملوک په ډېره شېرینه او فصیحه ژبه جواب ورکړ، چې کشکي ته هم له موږ سره وای. بیا نو تاج الملوک او عزیز دواړو د شیخ لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورمچ کړل او مخ پر دوکان رارهي سول څو تر دوکانه پوري راورسېدل. شيخ تر شا په پسې وو او کله چي ورته راورسېد، دا بيتونه ئې ورته وړغول:

مبارک دي دا سهار وي، ښه راغلی دي وي راتلو ته
زموږ لېمه په انتظار دي، ستاسي پښو و قدمو ته
هغه ورځ ده بختوره، چي پر تا باندې نظر وي
دا مريی نه دئ آزاد دئ، چي رهي ستا و څنگو ته
بل نېکمرغه ښار به چيري، پر نړۍ هسي پيدا سي
بختور ئې دي ها خلک چي راځي ستا هرکلو ته

باره نوشيخ دوی ته د دوعا خوله پرانيستله او د وزير څنگ ته کښېنوست. له يوې خوا او له بلي خوا سره وږغېدل خو د شيخ لوی مطلب د تاج الملوک او عزيز د ښکلا نندار ه وه او پر شونډانو ئې دا زمزمه جاري وه چي:

زړه مي ستا سره خو سترگي مي بل ځای دي
ځان له خلکو پټوم چي ټول بد رای دي

وزير د دوکاندارانو شيخ ته په خبرو کي وويل چي دا حمام هم خورا لوی نعمت دئ. شيخ په جواب کي ورغبرگه کړه چي تا او ستا زامن دي خدای له ټولو زميني و اسماني بلاوو وژغوري او له بدو سترگو دي په امان وي، آيا د حمام په باب به دي کوم بيت ميت په ياد وي کنه؟ تاج الملوک ورته وويل چي د حمام په صفت کي زما دا دوه بيته په حافظه کي سته:

څه عجب گرم و تود يې، منوره و روښان
د ښامار په شاني خېژي دي تر خولې د اور دودان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېب، پېريان و شاپېرۍ دي په لمن کي يو ځای لامبي
ستا په گرمه تـوده غېږ کي هم زاړه دي هم ځوانان

**تاج الملوک چي دا بيتونه وويل، عزيز هم راوړاندي سو، ويل ئې زما هم په دې باب يو دوه بيته زده دي. شيخ ورته وويل، وايه ئې، څه ته گورې زما گرانه!**

ته په شاني د هېلۍ يې پر اوبو دي دئ وطن
يا خو سم دم سمندر يې پر سکروټو دي مسکن
الوتني دي پر کښته، وزرونه دي پر ځوړ دي
کښېنسته دي پر فلک دي، پر اسمان دي الوتن

**شيخ د دوی فصاحت و بلاغت ته گوته په غاښ ونيوله او وې ويل: قسم دئ چي په فصاحت و بلاغت کي درباندي ختمه ده. زه به هم يو دوه بيته درته واوروم او بيا نو په خورا جوش و خروش او په ښه آواز سره داسي وويل:**

له اوبو څه دي پاکي ده له ټکوره دي آرام
په اوبو دي کاميابي ده او رنجات دئ د ناکام

ته پخپله يې تود و خه خو گرمي په اوبو مينځې
رطوبت ستا سبب کېږي د رېزش و د زکام

په اوبو و په سکروټو دي زړه تود سترگي لندې دي
په مثال زموږ د سلطان د دښمنانو يې بدنام

**د دې بيتو تر ويلو وروسته ئې سترگي په دغو دوو ځوانانو کي ښخي وې او د هغوی د حسن په باغ کي ئې د خيال په دنيا کي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چکرونه وهل او دا بیتونه ئې ورسره زمزمه کول:**

د فردوس جنت مثال یاست د رحمت یاست ننبانې
عنایت دئ چې ایږدی زموږ پر لېمو دا خپلې پښې
د فاتح لښکر په منځ کې د بیرغ په شان رپیږی
په ښېگڼو د نړی یاست نازولي زمانې
عشق چې هر چیرته استېږي لار د عقل هلته نسته
چا لیدلي پر یو ځای دي دوه شاهان دوې ملکې
عقل نه سي ټینگولای ځان د مینې و لښکر ته
تعقل تسلیم دې زور ته سستي، پُستي ئې پایې

**تر دې وروسته نو شیخ دوی ته د مېلمستیا ښه ټینگ ست وکړ، خو هغوی و نه مانه او عذر ئې ورته وکړ او خپل استوگنځي ته ولاړل. د حمام ستړیا ئې هورې واچوله، ډوډی موډی ئې وخوړله او ارامه و اسوده شپه ئې تېره کړه. سهار وختي راپاڅېدل، لمونځ و اودس ئې وکړ. لمر چې ځری وواهه او دوکانونه خلاص سول، دوی هم له کوټې راووتل او دوکان ته راغلل. نوکرانو وختي لا دوکان خلاص کړی وو، د دوکان مخ ئې اوپاشي کړی وو. شاوخوا ئې وریښمین ټوکران اوډلي ول. تاج الملوک د دوکان پر یوه خوا کښېنوست او عزیز پر ها بله خوا. وزیر د دوکان په منځ کې ځان ته ځای وټاکه. نوکران د دوکان مخ ته یوه لیکه ودرېدل، چې مخ دي راگرزاوه د دوکان اوازه له یوې خولې بلې ته او له بلې ځخه ها بلې ته خپره سوه.**

**خلک پر دوکان باندې رامات سول. تانونه تانونه مال په یو ځو ورځې کې ویلي سو او خرڅ سو. د دوکان شهرت په ټول ښار کې تیت سو. په هیڅ مجلس، په هیڅ حجره او دېره کې د دغه دوکانه پرته بله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره نه کېدله. څو ورځې په همدې شان تېرې سوې او له هري خوا به خلک ډلي ډلي ورته راروان ول. وزیر و تاج الملوک ته وویل چي هوښ کوئ، چا ته مو خپل حال تر خوله راونه وزي او خپل راز به همدغسي پټ ساتئ. عزیز ته ئې د پټ راز د ساتلو سپارښتنه وکړه. کور ته چي ولاړل، تاج الملوک و عزیز پخپلو منځو کي مجلس کاوه، تاج الملوک ورته وویل چي خدای خو دي وکړي چي د بي بي دنیا له خوا یو څوک دوکان ته راسي. له ډېر انتظاره مي سترګي څلور سوې. شپه و ورځ مي د دې خیال له سره نه وزي. میني ئې داسي لېوني کړم چي اوس نو بیخي مخ رالګېږي. تاج الملوک د بي بي دنیا په مینه کي تل ډوب وو، خوب و خورک ئې نه کاوه. په دې مابین کي یوه ورځ ناڅاپه یوه بوډۍ له دوو مینځیانو سره دوکان ته ورغله ... کیسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او دري دېرشمه شپه

شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

تاج الملوک یوه ورځ په دوکان کي ناست وو چي نابېره یوه بوډۍ له دوو مینځیانو سره دوکان ته ورغله. تاج الملوک ورته پاڅېد. بوډۍ د ده قد و قامت، ښایست و ښکلا، ځوانۍ و تندرستۍ ته هسي منګه تللې وه او هیڅ ئې سترګي نه ځني اړولې. له ځانه سره ئې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دي سیال سته په ښایست کي، نه الفاظ ئې د بیان سته
په هر څه کي دي جمال دئ، د ښایست پکښې نښان سته
سر تر نوکه لطافت یې، عجائب شکل و قامت یې
سفید پوشه پاک صورت یې، پاکیزه دي روح روان سته
نه پر وچه چا لیدلی، نې په بحر کي موندلی
نه کتاب کي چا لوستلی، چي دا ستا په شان انسان سته
نه آبي یې نه خاکي یې، لطافت یې درست پاکي یې
ته چینه د سکندر یې، په او بو کي دي درمان سته

بوډۍ و تاج الملوک ته ورتېره سوه. تاج الملوک ورته ولاړ سو او په موسکیو شونډو ئې څنګ ته د کښېنستلو ست ورته وکړ. بوډۍ ئې څنګ ته کښېنستله. هوا ګرمه وه او تاج الملوک پیک پر واهه تر څو بوډۍ یو څه هوسا سوه. دا ټول کارونه تاج الملوک د عزیز په اشاره و لاربنوونه سر ته رسول. بوډۍ تاج الملوک ته مخ راواړاوه او پوښتنه ئې څني وکړه چي: "زړګیه! ستا بلا دي زما پر سر سي، ته د همدې ښار یې؟" تاج الملوک ورته وویل: نه، دغه مي اول وار دئ چي دې ښار ته راغلی یم. بوډۍ ورته وویل، راواړوه، څه دي درسره راوړي دي. آیا داسي سنګین ټوکران لرې چي د مخورو او معززو نېکانو وړ وي. تاج الملوک د بوډۍ په غوښتنه یو څه تلولی سو، بوډۍ ته ئې ویل: زما په دوکان کي داسي ټوکران لرم چي د پاچهانو او د پاچهانو د لوڼو وړ دي. ته راته ووایه چي د چا له پاره ئې غواړې چي زه ئې له شانه سره سم ټوکر درته راواخلم. بوډۍ ورته وویل چي د شهرمان پاچا د لور بي بي دنیا له پاره ئې غواړم. تاج الملوک چي د خپلي معشوقې نوم واورېد، په زړه کي باغ باغ سو او عزیز ته ئې وویل چي د دوکان تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو ښه او سنګين ټوکران ورته راواخله. عزيز هم د ټوکرانو بوخچه راواخيستله او د دوی مخ ته ئې کښېښووله. تاج الملوک بوډۍ ته وويل چي هر ټوکر چي د پاچا د لور له پاره مناسب وي، پکښې خوښ ئې کړه. دا مال په ټول بازارکي بل څوک نه لري. بوډۍ هغه ټوکر پکښې خوښ کړ چي زر ديناره ئې بيه وه او پوښتنه ئې څني وکړه چي دا ټوکر په څودئ؟ تاج الملوک ورته وويل چي دا ټوکر خو زموږ او ستاسي تر اول وار پېژندګلوي پوري هيڅ ارزښت نه لري. تر تاج ار دئ، وائې خله. بوډۍ ورته ورته وويل چي: "څونه د خير او د ښې خولې سړی يې، خدای دي له بدو سترګو څخه پخپل حفظ و امان کي وساته. دا به کمه بختوره وي چي ستا سره پرېوزي، ستا دغه رعنا و زيبا قد په غېږ کي ونيسي، ستا له ښکلي مخ څخه مچه واخلي. او دا خو به بيا تر ښو لا ښه وي چي هغه هم ستا په شان د حسن و ښکلا څښتنه وي. تاج الملوک د بوډۍ په دې خبره له خندا شين سو او په زړه کي ئې وويل چي اې د محتاجانو مرستندويه خدايه، زما د زړه ارمان مي د دغي بوډۍ په لاس درڅخه پوره غوښتی دئ. بوډۍ مخ ورته راوګرزاوه او وې ويل: "زويکه! نوم دي څه دئ؟"

ده ورته وويل: تاج الملوک.

بوډۍ ورته وويل چي دا نوم خو له شهزاده ګانوسره ښايي او ته د سوداګر زوی يې، دا څرنګه؟

عزيز ورته وويل چي: دی پر مور و پلار باندي بيخي ډېر ګران وو، د ډېره نازه ئې دغه نوم پر کښېښوو. بوډۍ وويل: "رشتيا وايې، خدای دي تاسي دواړه د حاسدانو له شر و فتنې څخه وساتي". بوډۍ هغه سنګين ورېښمين ټوکر واخيست او بي بي دنيا ته ئې ورووړ او ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې ويل: آ، د پاچا لوري! نن مي داسي ښايسته او سنګين ټوکر درته راوړی دئ چي حيرانه به ورته پاته سې. بي بي چي ټوکر وکوت ورته وې ويل: "عمه جاني! ما خو پخپل عمر په دې ښار کي داسي ټوکر نه وو ليدلی". بوډۍ ورته وويل چي د دې ټوکره ګنښتن تر هغه زرکوټي ښايسته او سنګين دئ. هی، ارمان چي دا نن شپه ستا په غېږ کي پروت وای. ځوان نه دئ چي يو د خدای عطا ده چي د تفريح له پاره دې ښار ته راغلی دئ. بي بي دنيا چي د بوډۍ دا خبري واورېدې، شنه د خندا ولاړه، بوډۍ ته ئې وويل: "خدای دي ووهه، دا څه پرتي وايې، عقل دي له سره تللی دئ، که څه؟ چي داسي اپلاتي وايې". بيا ئې نو ټوکر دوهم وار په لاسو کي سره واړاوه، راواړاوه. حيرانۍ ورته واخيستله. د دې په عمر ئې داسي نفيس وربښمين ټوکر نه وو ليدلی. بوډۍ ورته وويل چي: "بي بي! د دې ټوکر ګنښتن مه ووينې. د مځکي پر مخ په ښايست او جمال کي نه بل داسي بشر پيدا سوی دئ او نه به پيدا سي".

بي بي پوښتنه ځني وکړه چي تا نه ځني وپوښتل چي زموږ په ښار کي خو به کوم مشکل نه لري، کوم شي مي ته خو به اړتيا نه لري". بوډۍ ورته وويل، آفرين دي ستا پر هوښياري سي. انسان دئ، خامخا به کوم شي مي ته اړوي، منګر ما پوښتنه ځني و نه کړه. بي بي ورته وويل چي ولاړه سه، دوکان ته ئې ورسه او زما سلام به وررسوې. پسله سلامه به ورته ووايې چي بي بي ويل: "زموږ ښار ته ښه راغلې، هرکله راسې. هر وخت که دي کوم شي ته اړتيا وه، پر موږ ږغ وکړه چي اړتيا دي درپوره کاندو". بوډۍ سمدلاسه راولاړه سوه او برابر هغه دوکان ته ورغله. د تاج الملوک چي سترګي پر وموښتې له خوشالۍ پرله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وځرخېدي. ورولاړ سو، بوډۍ ئې تر لاس ونیوله او څنګ ته ئې کښېنوله. بوډۍ چي یوه ساه واچوله، باره ئې تاج الملوک ته د بي بي دنیا پیغام واوراوه. تاج الملوک د پیغام په اورېدو سره د زړه له کومي خوشاله سو، طبیعت ئې ورته وغوړېدی، له ځانه سره ئې وویل چی که خدای کول کار سم سو. بوډۍ ته ئې وویل چي زما د خوا به دا دوې ګوتي خط ورورسوې. بوډۍ ورته وویل: پر دواړو سترګو به ئې ورورسوم. باره نو تاج الملوک قلم و مشواڼۍ راواخیستله او دا بیتونه ئې ورته ولیکله:

موږ د لیري مسافریو، بنایستې تا ته راغلي
آرزوګاني مو دي ډېري، امیدونه مو سخلي
تې منه چي راوهلي مو اوږده اوږده مزلونه
هوسایۍ مو ستا په تورو اوږدو زلفو کي لیدلي
موږ د جام و د ساقي، می و پیالې سرود په تمه
یو راغلي و محفل ته، زُهد، تقواوي مو شړلي

د کاغذه سر ته ئې داسي عنوان وکیښ:

دا لیک د هغه هجران ځپلي او د فراق په لمبو مکوټ سوي له خوا درته لیکل سوی دئ چي نه خپلي معشوقې ته د رسېدو لار ورمعلومه ده او نه د وصل ګودر. د بېلتانه اور ئې په شپو شپو هډونه ورسوځلي دي.

دلته ئې نو نور د اوښکو رود تر سترګو راایله سو او دا بیت ئې نور هم پر ورزیات کړ:

ستا په دید سره به پایم، په نغمو کي به دي ستایم
د بېلتون په تاریکو کي، د روڼ مخ په تمنا یم

کاغذ ئې کت کړ او خپل مهر ئې پر ولګاوه. بوډۍ ته ئې په لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړ. د سرو زرو یو زر دیناره ئې د بوډۍ په لاس کي ورکښېښوول ورته وې ویل چي: دا زما له خوا د سوغات په ډول ومنه. بوډۍ کاغذ و پیسې راواخیستې، تاج الملوک ته ئې دوعا وکړه او د بي بي پر لور رارهي سوه. کله چي هغې ته ورسېده، بي بي پوښتنه ځني وکړه چي اې زړې بوډۍ، هغه ځوان خو به شي مي ته اړ نه وو، چي غم ئې وخورم. بوډۍ ورته وویل چي دغه کاغذ ئې ستا له پاره راکړ، ویلی مي نه دئ چي څه به ئې پکښې کښلي وي. بي بي چي کاغذ خلاص کړ او وئې وایه، لکه مار پر ځان راتاو سوه او وې ویل: دا د سوداګر بچي په کوم جرئت غوښتي دي چي زما سره خط و کتابت وکړي. په بالله مي دي قسم وي چي که له خدایه نه بېرېدلای، په هغه دوکان کي به مي سر ورچټ کړی وای. بوډۍ ورته وویل، خیر کړې، څه ئې لیکلي دي چي داسي ورته په خښم کي سوې. د چا د ظلم له لاسه ئې شکایت کړی دئ او که ئې د ټوکره د پیسو غوښتنه کړې ده؟ بي بي ورته وویل: "دا یو ئې هم نه دي لیکلي، بس درګرده ئې د میني و محبت خبري کښلي دي. او دا ټوله زه ستا څخه انګېرم. که نه نو څرنګه به دې کثیف سړي دا رنګه خبري کولای سولای. بوډۍ ورته وویل: اې زما بي بي ! ته په داسي ټینګه او محکمه ماڼۍ کي اوسې چي د هوا مرغۍ ئې د پاسه د الوتلو جرئت نه سي کولای. دا چي یو سپی له ځانه سره وغاپي، ته ئې پر ځان مه درنوه او پر ما باندي هم مه په قهر کېږه. داسهي ده چي کاغذ ما راوړی دئ. منګر ما خو ئې مضمون نه وو کتلی. زما اوس داسي خوښه ده چي ته یو سخت جواب ورته ولیکې او داسي ئې وبېروې چي بیا د دغه راز اوتو بوتو او چټیاتو د لیکلو جرئت و نه کړي. بي بي ورته وویل: "جواب که مي ورته وکیښ، نه ګانه چي تمه و امید ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا نه سي". بوډۍ ورته وويل چي نه، داسي به پېښه نه سي که خدای کول. زما دا خيال چي کله ئې ستا سرزنش و ترټنه ولوستله، نور به نو پر خوله لاس ونيسي. باره، نو بي بي ويل قلم و مشوانۍ راته راوړئ. قلم و مشوانۍ چي ئې ورته راوړل، دا کښېنستله او دا بيت ئې ورته وکيښ:

ته له کومي خوا ږغېږې، زما و ستا وصـل هيهات
چيرته لمر، چيرته کڅلکی، چيري زه، ستا چټيات

دا بل بيت ئې هم پر ورزيات کړ:

د سيمرغ مرغه ځالۍ ته مچ تلای نه سي په هوا
د خپل ځان آن به تمام کړي، رســوايي لا پر بالا

کاغذ ئې کت کړ او بوډۍ تې په لاس ورکړ. ورته وې ويل چي دا کاغذ به ورورسوې او ورته وبه وايې چي د دې خبرو څخه لاس واخلي.

بوډۍ کاغذ ځني راواخيست او شپه ئې بېغمه پخپل کور کي تېره کړه. سبا سهار وختي د تاج الملوک د دوکان لور ته رهي سوه. د تاج الملوک چي بوډۍ په سترگه سوه، خورا ډېر خوشاله سو. بوډۍ ته ولاړ سو، څنگ ته ئې کښېنوله. بوډۍ له جيبه کاغذ راوکيښ او تاج الملوک ته ئې ورکړ او ورته وې ويل چي بي بي ستا د خط له اسيته بيخي ډېره په خښم سوه. خو ما په مهربانۍ او ښه خوله د دې پر قهر باندي سړې اوبه توبي کړې. دا مي راضي کړه او دې ته مي واداره کړه چي پر تا ئې زړه وسوځي او د خط جواب دي درته وليکي. آبس، تاج الملوک خط واخيست. بوډۍ ته ئې کوروداني ووايه او پر عزيز ئې ږغ وکړ چي بوډۍ ته يو زر ديناره نور ورکړي. خط چي خلاص کړ او وئې لووست. تر سر ئې دودان ووتل تر سترگو ئې اوښکي راغلې. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډۍ زړه پر وسوځېد او پوښتنه ئې ځني وکړه چي: "زويکه! په خط کي ئې څه کښلي دي، چي داسي ورته ژاړې". تاج الملوک ورته وويل چي گوانبلی ئې يم او زما د وژلو وعده ئې کړې ده او له نور خط و کتابته ئې منعه کړی يم. خو زه که دې ته ليک وانه ستوم نو تر دې ژوند په مرگ ډېر راضي يم. نو خدای به کوي ته به کوې د دې ليک جواب به زه درته وکاږم او ته به ئې تر هغې پوري وروړسوې. بوډۍ ورته وويل چي زما دي ستا په سر و په ځوانی قسم وي چي زه به خپل ځان غرغړې ته ورکړم خو انشاءالله تا به خپل مقصد ته ورسوم. تاج الملوک ورته وويل هر څونه نېکي چي دي راسره وکړه، هغونه سل چنده به مجراينه درکړم. باره نو تاج الملوک کاغذ راواخيست او دا بيتونه ئې ورته وکښل:

مه کره دا تخم د بدی چي ډېر او بال لري
روک جواب عاشق ته ورکول هم ډېر جنجال لري
خدای لره لويي ښايي بنده له عاجزي په کار
څله به مغرور وي څوک په حسن چي زوال لري
تېغ د جفا نه ښايي چي کش پر مظلومانو سي
خوی ئې د وفا وي، زړه چي مينه مالامال لري
بده وينا زهر ده، نېکانو لره نه بويه
خاص ييا ښايستو لره چي حسن و جمال لري

د دې بيتو تر کښلو وروسته ئې اوږد اسوېلی وکيښ او دونه ئې وژړل چي بوډۍ ئې لا هم پر ژړا راوسته. بيا ئې کاغذ له تاج الملوک څخه واخيست او ورته وئې ويل چي غم ئې مه کوه، که دي زما سر و نه خوړ، د خدای په مرسته دي تر خپل مقصوده پوري رسوم... کيسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او څلور دېرشمه شپه

شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:
د تاج الملوک پر ژړا باندي د بوډۍ پر زړه باندي د رحم اوبه توی سوې، زړه ئې پر وسوځېد او ورته وې ویل، چي: خوا مه بدوه انشاءالله د زړه مقصد ته به دي ورسوم. باره ئې کاغذ واخیست او بي بي ته ئې ورساوه. بي بي د تاج الملوک د ها بل کاغذ له اسیته سره وشنه کېږي او کله چي ئې دا دوهم کاغذ تر لاسه کړ، خشم ئې یو په دوه سو. بوډۍ ته ئې وویل: "نه مي درته ویل چي د کاغذ په جواب ئې امید زیاتېږي". بوډۍ ورته وویل: "دی څوک دئ، د کم ځای دئ ،څه رتبه ئې ده چي تا ته ئې امید پیدا سي". بي بي ورته وویل چي: "چابک ورسه او ورته ووایه چي که دي له دې کاغذ و کاغذبازۍ څخه لاس وانه خیست، نور دي نو وژنم". بوډۍ په جواب کي ورغبرگه کړه چي ستا بلا دي پر ما سي، دغه خبري چي دي وکړې، پر یوه کاغذ ئې ولیکه او زه به ئې دستي په دستي ورورم او دی به نور وبېرېږي.
آبس، بي بي کاغذ و قلم راواخیست او دا بیت ئې ورته وکیښ:

د عنقا ښکار ډېر مشکل دئ دام دي بیرته کړه درټول
هلته هښمي د بادو دي، پراخ بیابان دئ دښت و چول

او ورپسي ئې دا بیت هم ورسره پټلېس کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرغۍ که ډېر هوس وو د شهين و اشنايۍ ته
پخپل ځان نه ده خبره، سمه د مه ځي زندۍ ته

**کاغذ ئې کت کړ او د بوډۍ په لاس ئې ورکړ. بوډۍ په سترګې ساه هغه تر تاج الملوک پوري ورساوه. تاج الملوک بوډۍ ته ولاړ سو او ورته وې ويل چي خدای دي قدم نېکمرغه لره او تا دي خدای زموږ له سره نه اخلي. وروسته ئې کاغذ خلاص کړ او وئې لووست. له ژړا شين ورته ولاړ او وې ويل: ما ته خو مرګ د زوی زېری دئ. کشکي داسي څوک پيدا سي چي ما د دنيا له دغو جنجالو او غمو څخه خلاص کړي او و مي وژني. باره ئې قلم ته لاس کړ او پر کاغذ باندي ئې دا بيتونه ورته وکښل:**

ګرانې! ولي مي ګوابښې تل په وژلو
زه مين يم زما مسلک د سر بايللو
زما پر غاړه ستا خنجر دئ وربښمين توکی
ما ته مرينه ده مېله د باغ د ګلو
څه له ګورې زما ګراني قتلوه مي
په دې قتل کي زما ژوند دئ څملوه مي
اقتلوني اقتلوني يا ثقاة
ان في قتلي حياة في حياة

**کاغذ ئې ونغاړه او بوډۍ ته ئې په لاس ورکړ او ورته وې ويل چي تا ته مي په لوی لاس جنجال او سرخوږی پېښ کړ. کشکي يو څه تر وتلي وای او څه ګټه ئې رسولې وای. عزيز تې مخ ورواړاوه او ځني وئې غوښتل چي بوډۍ ته زر ديناره ورکړي. بوډۍ ته ئې وويل چي دا ليک به يا ما تر خپل وصاله پوري ورسوي، يا به نو د عمري بېلتون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبب سي. بوډۍ ورته وويل چي زه خو گرده عمر هغه څه غواړم چي ستا خير پکښې کي وي. زما خو تلاښ دا دئ چي د هغي ماه جبيني ستا په شان ښکلی ځوان په نصيب سي. زه چي تاسي دوه سره يو ځای نه کړم، ژوند راته بې معنا ايسي. ما ته خلک ناحقه بوډۍ نه وايي. شپېته کاله مي مکرجني کړې ده او په چم و خدعه و فريب کي مي سر سپين کړی دئ. تاسي دوه به څرنگه سره يو ځای نه کړای سم. آبس، بوډۍ له تاج الملوک څخه رخصت واخيست ، د زړه ډاډ ئې ورکړ. ول ته چورت مه خرا پوه.

بوډۍ رارهي سوه او خط ئې د خپل چوټي په لای کي کښېښو. بي بي ته چي راورسېده. سر ئې وگراوه او بي بي ته ئې وويل. ته راسه زويه په دا سر کي خو مي راوگوره. دا ډېر وخت مي حمام نه دئ کړی. سر مي لکه چي شپږي کړي دي. بي بي لستوڼی راوغاړه او د بوډۍ سر ئې وروغوړاوه. سر ئې ورشنی اوشپږي ئې ځني ټولولې چي په دې وخت کي کاغذ پر مځکه راشيوه سو. بي بي ورته وويل چي دا کاغذ د چا دئ؟ دې ورته وويل. زه د سوداگر د زوی په دوکان کي ناسته وم، ودي سي چي دا کاغذ به راپوري موښتی وي. رائې کړه چي بيرته ئې وروړم. بي بي چي کاغذ خلاص کړ او په مطلب ئې پوه سوه. بوډۍ ته ئې وويل دا ټوله ستا مگتی او چمبازۍ دي. که دي زه کوچنۍ نه وای لويه کړې، اوس مي ښه سخت ايداد درکاوه. ته بيا دې د سوداگر زوی ته گوره چي زما د پښو کوښکه سوه او په بلا ورسره اخته سوم. خو دا هر څه چي ما ته رارسېږي، دا ټوله ستا سرخورکي د لاسه رارسېږي. زه نه پوهېږم چي دا ځوان د کم ځای دئ. تر دا ننه خو هيچا زما سره د داسي خبرو کولو جرئت نه وو کړی. بېرېږم چي خبره رسوايي ته راونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزي په تېره بیا له دې پردي سړي سره چې نه مې سیال دئ او نه ئې پېژنم.

باره بوډۍ ورته وویل چې ستا د پلار له بېرې او ستا له خپلې دبدبې څخه خو هیڅوک دا زړه نه سي کولای چې دا راز تومتونه دي پر تا وتړي. که ته وده ته د (رد) جواب ورکړې، د دې کار تاوان په څه کي دئ؟ بي بي ورته وویل چې اې زما مهرباني دایي! دا ارمچک بیخي ډېر زړه ور دئ. څرنګه له سلطانه و نه بېرېدی او دا راز خبري ئې ما ته ولیکلې. زه خو چې رشتیا سي، په دې سِر نه پوهېږم او هکه پکه ورته تللې یم. که ئې وژنم، خو هم ښه کار نه دئ او که ئې پر خپل حال پرېږدم ،لا پسي زړه ور کېږي. بوډۍ ورته وویل چې ته خو یو بل خط لا هم ورته ولیکه، ودي سي چې دا وار وبېرېږي او زړه ئې درڅخه تور سي. باره بي بي قلم راواخیست او دا بیتونه ئې ورته وکښل:

که منلي یو چا نه وه د پتنې په شان سوځل
پر هغه باندي حرام دئ د اشنا کوڅې ته تلل
پر دې لاره خطر ډېر دئ اجتناب ورڅخه بویه
دا د سر سره دي لوبي، له ژوندونه لاس پرېولل
ستا قوت به د مچ ډېر وي، مګر او سپنه ده کلکه
نه ښایي په دې جوال کي په لوی لاس ځان اچول

کاغذ ئې وپېچه او بوډۍ ته ئې په لاس ورکړ چې د سوداګر زوی ته ئې ورسوي. بوډۍ کاغذ تر تاج الملوک پوري ورساوه او هغه هم سمدلاسه خلاص کړ او وئې لووست. په مطلب ئې ځان پوه کړ. له ځانه سره ئې وویل چې د بي بي دنیا زړه د ډبري څخه جوړ دئ. دې ته د تاج الملوک رسېده سخت کار دئ. باره ئې وزیر ته خپل مشکل وواېه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تدبير غوښتنه ئې ځني وکړه. وزير ورته وويل چي بله لار نه ده پاته، بې له دې چي د نرمۍ مخ پر کښېږدې او عاجزي ورته شروع کړې. تاج الملوک عزيز ته مخ ورواړاوه، ول ورورہ! ته خو زما له خوا يو خط ورته وکاږه. باره عزيز قلم و کاغذ راواخيست او داسي ئې ورته وليکل:

زه يو خوار غريب عاشق يم، پر ما باندي نظر بويه
ستا په تمه دلته ناست يم، پر دې خوار يو گذر بويه
د عاشق په وژلو مينه هم له مېني څه تولېږي
خنجر ليري کړه له لاسه له دې چاري حذر بويه
زه روان يم له دې ځايه بېلتون هم راسره مل دئ
بل څه نه دي راته پاته خوار عاشق مات ځيگر بويه
وبېرېږه زما له آهه، مځکه سوځي اسمان سوځي
د پاک خداى پر در قبوله، آه فرياد د سحَر بويه

عزيز چي خط تول وکيښ، تاج الملوک ته ئې ورکړ. هغه ولووست، حيران ورته پاته سو. باره ئې خپل مهر پر ولگاوه. بوډۍ ته ئې خط په لاس ورکړ او هغې بي بي ته ورساوه. بي بي چي کاغذ ووايه. د بلي دنيا درد و خښم ورغی. ول دا توله د دغي ناولي بوډکي له لاسه ماته رارسېږي. آبس، پر مينځيانو ئې ږغ وکړ چي ورسئ، دغه مکاره بوډکه ونيسئ او دونه ئې وډبوئ چي له اخه و له توخه ولوېږي. مينځياني هم ورغلې او بوډۍ ئې په چپلکو و لښتو دونه ووهله چي بوڅه راواوښته او بېسده سوه. چي پر هوښ راغله، بي بي ورته وويل چي گوره، بوډکي! که له خدايه نه بېربدلای، د ژوند څکه دي ولاکه راڅخه کړې وای. بيا ئې نو پر مينځيانو امر وکړ چي يو بل د مرگ لگاو لا ورکړئ. بوډۍ ئې بيا داسي وډبوله چي تر مرگه ئې ورسوله. آخر ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینځیانو ته وویله چې وئې باسئ او دباندې ئې وغورځوئ. بوډۍ ئې دباندې وغورځوله. کله چې پر هوښ راغله، په څڅېدو ئې ځان تر کوره ورساوه. تر سهاره ئې شپه په کور کې په یوه ناره تېره کړه. بیا نو د لاس په ټپربېدلو د تاج الملوک دوکان ته ولاړه او خپل ټول بیان ئې ورته وکړ. تاج الملوک اریانۍ واخیست بوډۍ ته ئې وویل چې دا خوارۍ چې ستا پر بدن تېرې سوې دي، زما پر زړه اوس تېرې سوې. منګر نو څرنګه ئې کوې تقدیر همداسې راغلی وو. بوډۍ ورته وویل چې خوا مه بدوه زه بیا هم کوښښ کوم چې تا تر دغې خدای وهلې پورې ورورسوم. دې خدای ناترسې زه بېخې ډېره وځورولم. تاج الملوک له بوډۍ څخه پوښتنه وکړه چې د بې بې ولې داسې له نارینه وو بد راغلې دي او ولې ئې نارینه ته تور پر تندې دې؟ بوډۍ ورته وویل چې دا ټوله د هغه خوب تاثیر دئ، چې دې لیدلی وو. تاج الملوک ول څه راز خوب ئې لیدلی وو؟ بوډۍ ورته وویل چې بې بې یوه شپه خوب ولید چې یو صیاد وي، دام ئې غوړولی وي، دانه ئې پر پاشلې وي او دی پټ ورته ناست وي. پر دام یا تور باندې مرغان راټول سول او په دې وخت کې یوه نر او ماده کوترې هم په تور کې کښېنې. د نر کوتر پښه په لومه کې بنده سي، سرپکې و ترپکې شرو کړي، نور مرغان ټول والوزي. صیاد راسې دام بیرته ورته سر کړي. دا وار بیا مرغان راسې او هغه ماده کوتره هم ورسره راسې. په دې وار ماده کوتره په لومه کې بنده سي او د هغې په سرپکو ټول مرغان والوزي او هغه نر کوتر هم ورسره والوزي او له سترګو نیهام سي او پخپله ماده پسې بیا راونه ګرځي. صیاد راسي ماده کوتره له لومې خلاصه کړي او حلاله ئې کړي. په دغه وخت کې بې بې له خوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغورځي او وايي چي نارينه ټول دغسي بې وفا دي او ښځو ته ئې خير نه رسېږي.

تاج الملوک چي د بوډۍ دا بيان واورېدی، ورته وې ويل چي خدای به کوي ته به کوې زه بايد يو وار له بي بي سره وګورم، که څه هم دا کتنه مي د سر په بيه تمامه سي، لا هم پروا داره نه يم. هرومرو ئې بايد ووينم. ته يو چم جوړ کړه چي زه خو فقط يو وار ورسره وګورم. بوډۍ ورته وويل چي د دې تر ماڼۍ لاندي يو باغ دئ چي دا په مياشت کي دوه واره د سيل و چکر له پاره ورته راځي او لس ورځي په باغ کي تېروي. اوس باغ ته د دې د ورتګ ورځي رانږدې سوي دي. هر وخت چي دا باغ ته راغله زه به تاسي ته حال راوړم او خبر به مو کړم. تاسي به باغ ته ورسئ او دا به ووينی. منګر له باغه مه راوزئ. ښايي ستاسي د ښايست و ښکلا په ليدو سره ئې په زړه کي مينه پيدا سي. تاسي پوه سئ چي مينه او محبت د وصال لويه وسيله ده. د تاج الملوک دا خبره پر زړه ښه ولګېده. باره دی و عزيز له دوکانه راولاړ سول، بوډۍ ئې تر خپله کوره ورسوله او خپل کور ئې هم بوډۍ ته وروښووه. باره نو تاج الملوک عزيز ته مخ ورواړاوه ول، اې وروره! ما ته تر دې وروسته نوري ټکي و ډبري په مخ کي ګوري. دوکان و دوکانداري نو نوره راڅخه پاته ده. دغه دوکان مي له ماله سره تا ته دربخښلی دئ. ته پوه سه او دوکان دي. زياتي ئې نو له هري خوا رقم په رقم بيانونه او خپل د سترګو حالونه سره بيان کړل. عزيز خپلي د ژوند کيسې ورته وکړې. آخر ته راولاړ سول او د وزير کره ورغلل او د هغه څخه ئې هم مشوره وغوښتله. وزير ورته وويل چي درځئ چي باغ ته ځو دخيره. آبس، سنګيني او معتبري جامې ئې واغوستلې، باغ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورننوتل. باغ نه وو، بلاتشبیه لکه جنت داسي ځای وو. یو سپین ږیری باغوان ئې په دروازه کي ناست وو. دوی ورغلل او سلام ئې ورواچاوه. باغوان علیک ورته ووایه. وزیر دستي په لاس کي د سرو زرو سل دیناره ورکښېښوول او ورته وې ویل چي دا پیسې واخله موږ مسافر یو او غواړو په دې باغ کي تفریح وکړو، نو که دي د خورک شی می راته راووړ. باغوان پیسې واخیستلې او دوی ته ئې وویل چي تاسي مو خپله تفریح کوئ تر څو زه خواړه ماړه درته راوړم. دوی خپل چکر واهه چي د هاخوا باغوان یو سور کړی او بریان کړی وری ورته راووړ. دوی ښه په خوند وخوړ، لاسونه ئې پرېوول او پخپلو خبرو سره مشغول سول. وزیر له باغوان څخه وپوښتل چي دا باغ دي خپل دئ که دي په اجاره اخیستی دئ.

سپین ږیري باغوان ورته وویل چي دا باغ د پاچا د لور بي بي دنیا دئ. وزیر ځني وپوښتل چي تا ته د میاشتي څو تنخواه درکوي. باغوان ورته وویل چي د میاشتي یو دینار راکوي. دوباره نو وزیر په باغ کي وگرځېد، که گوري چي د باغ په یوه کونج کي خورا لویه او ښخوانۍ ماڼۍ ولاړه ده.

وزیر باغوان ته وویل چي: "باغوان اکا! زه غواړم چي دلته یو د خیر کار وکړم چي خلک به مي بیا نوم پر یادوي." باغوان ورته وویل: "دا به څه راز کار وي؟" وزیر درې سوه دیناره ورکړه، ول: اول خو دا دړواخله بیا به د کار دا هم درته ووایم. باغوان چي پیسو ته وکتل، له خوښۍ څخه ئې پښې ځمکي ته نه ورتللې او ورته وې ویل: "هر څه چي دي زړه غواړه، کوه یې". وزیر ورته وویل چي انشاءالله دلته به د خیر یو کار وکړم. باره نو له باغه راووتل او کور ته ولاړل. سبا چي سو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیر یو خټګر و یو نقاش له ځان سره باغ ته بوتلل او د دوی د اړتیا وړ شیان ئې ټوله ورحاضر کړل او ورته وې ویل چې ماڼۍ به ټوله سپینه کړئ او رنګارنګ انځورونه به وربانديي وکاږئ. بیا ئې لاجورد او د سرو زرو اوبه ورته راوړې او انځورګر ته ئې امر وکړ چې په دې به د دالان پر دېواله باندي یو صیاد رسم کړې چې تور ئې غوړولی وي او دی پټ ورته ولاړ وي او یو نر کوتر په دام کي بندوي. انځورګر چې دا رسم وکیښ، بیا ئې نو ورته وویل چې اوس د دېوال پر دا بل سر باندي به بیا صیاد رسم کړې چې تور ئې غوړولی وي او دا ځل ئې په تور کي ماده کوتره بنده وي. صیاد هغه رااخیستې وي او پر غاړه ئې چاړه ورایښې وي. پر سر به ئې د شهین یو انځور وکاږې چې هغه نر کوتر ئې په منګولو کي نیولی وي. انځورګر دا ټول اوامر پر ځاي کړل. وزیر نو نور له باغوان سره خدای په اماني وکړه او کور ته ولاړ. هورې ئې له یوې خوا او له بلي خوا ګپې سره کولې.

آخر تاج الملوک و عزیز ته وویل چې یو څو بیته راته ووایه چې له زړه څخه مي د غم زنګ پاک کړي، چورت مي یو څه راته سم سي او د زړه لمبه مي لږ څه په سړه سي. عزیز غوږ ته ګوته واچوله او دا بیتونه ئې ورته وویل:

زما مینه پر مینه، خو، اشنا کوي کینه
بل څه نه دي بخت دئ ازمویښت و زمانه
ځای د قدم ګوره بیا نو پل ایږده دلبره
دا پخه خبره اولنۍ ده دېرینه
مینه د پوهانو په نظر مار دئ، لنډۍ ده
نېښ ئې زهرناکه په ښکاره ده رنګینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند څه دئ؟ خطر دئ، مشقت دئ، جنجالونه
مینــه کــي دا هــر یــو دئ زرچنــده، تــې منــه
دام کي د زمري نیول زور نه غواړي مېړه ته
خو مینه هسي دام دئ چي مېړه کړي ارتینه

عزیز و تاج الملوک ورځ په همدې خبرو اترو تېروي او بوډۍ هم پر کور کښېنستله، نه له کوره وزي او نه هم پر بي بي باندي ورگرزي. کله چي بي بي ته د باغ د تفریح هوا ورولاړه سوه، نو ئې بوډۍ ته نوکر ورولېږه او کور ته ئې راوبلل. ځکه دا بې له بوډۍ څخه هیڅ وخت باغ ته نه تلله. بوډۍ ئې بیرته دلاسا کړه او ورته وې ویل چي باغ ته مي هوا سوې ده او غواړم چي د گلانو او شکوفو له لیدلو څخه یو څه خوند واخلم. بوډۍ هم ورسره ښه کړه او ورته وې ویل چي زه به هم کور ته ولاړه سم او خپل کالي به الیش کړم. بي بي ورته وویل چي سمه ده، منگر ژر راسه چي بیا ناوخته کېږي. بوډۍ د بي بي له کوره سیده تاج الملوک ته ورغله او ورته وې ویل چي ژر کوه، ښې سنگیني جامې دي واغونده، باغ ته ولاړ سه، باغوان ته سلام ورواچوه او په یوه ځای کي ځان نیهام کړه. بوډۍ له تاج الملوک سره یو پټ رمز کښېښوو او نور ئې نو بي بي ته ځان ورورساوه. عزیز و تاج الملوک هم خپلې ښې جامې واغوستلې. تاج الملوک د ورېښمو کالي واغوستل، د سرو زرو کمربند ئې، چي د یاقوتو و زمردو دانې پکښې کار سوي وې، تر ملا وتاړه او باغ ته روان سول. د باغ دروازې ته چي ورسېدل، باغوان ئې پر خپل ها پخواني ځای باندي ناست وموند. دوی ته ولاړ سو او ښه پوره تعظیم ئې وکړ او ورته وې ویل چي ولاړ سئ او په باغ کي مو خپله تفریح وکړئ. باغوان نه وو خبر چي په همدې ورځ د پاچا لور هم باغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته راروانه وه. تاج الملوک و عزیز باغ ته ننوتل. یو ګړی چې تېر سو، دا دئ د مینځیانو او نوکرانو ږغونه ئې تر غوږو سول چې باغ ته د ها پټې دربچې له لاري راننوتل. باغوان چې هغوی ولیدل وارخطا سو، چټک ئې تاج الملوک ته ځان ورساوه او خبر ئې کړ چې بي بي او مینځیاني باغ ته راننوتلې.

تاج الملوک ورته وویل چې ته ری مه وهه، موږ به ځانونه د درختو تر شا پټ کړو. د باغوان هم ورسره خوښه سوه او ټینګار ئې پر وکړ چې ځانونه هرومرو کوم ځای پټ کاندي. د پاچا لور چې له خپلو سهیلیو سره باغ ته راننوتله، بوډۍ فکر وکړ چې که دا سهیلیاني او نوکراني راسره وي، خدای خبر چې مقصد ته به رسېږو، باره ئې مخ د پاچا لور ته ورواړاوه او ورته وې ویل چې دې نجونو او نوکرانو ته حاجت نسته، دوی خپل سر ته پرېږده چې خپلې مستۍ وکړي. بي بي ورسره خوښه کړه، ول رشتیا دي وویل او پر سهیلیانو ئې ږغ وکړ چې تاسي نو په باغ کي سره تیتې سئ او خپل سات مو تېر کړئ.

نجوني او نوکراني خوشاله سوې او په باغ کي ئې خپل چکرونه و اتڼونه شرو کړه. بي بي او بوډۍ کرار کرار قدم واهه. تاج الملوک هم د خپلې معشوقې د حسن و جمال او قد و اندام په ننداره کي ډوب وو او له ځانه سره ئې ویل:

معشوقه مې په څه ناز و ادا راغله
د ښایست له غلو څه پټه په غلا راغله
هر کلي ته ئې مرغان د چمن درومي
ښه راغلې ته ئې غونچه په خندا راغله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګل عکس ئې دئ د دې له مخ اخيستی
نـازکۍ تـه ئـې پرخـه پـرژړا راغلـه
شيخان ټول دي پر ګونډو و لاسنيوي ته
مـستان ټـول د خرابـات پـه دوعـا راغلـه
کرامات چي ئې د ښکلي مخ ښکاره کړل
زاهـدان ټولـه پـر رقـص و نڅـا راغلـه
زه عاشق بې د پښو ګرد سترګو ته يوسم
کـه يـو ځلي مـي د مينـي پـر خـوا راغلـه
زه بېوزلـه د هغـې شـيبې پـه تمـه
کـه مـي غېږې تـه دا ښـکلې رعنـا راغلـه
بـل څـه نـه لـرم، خپـل سر بـه تـر قربـان کـړم
کـه د مينـي بازارتـه پـه سـودا راغله
د ښـکلاوو رونـق هغـه ورځ ورټـول سـو
چـي چمـن تـه ښايـسته محبوبـا راغلـه

بوډۍ پخپلو خبرو باندي بي بي اخته کړې وه او ورو ورو ئې د هغې ماڼۍ و خوا ته بوتله چي د وزير په حکم نقاشي سوې وه. بوډۍ او بي بي ماڼۍ ته ورننوتلې. بي بي چي د مرغانو، صياد، دام او کوترې انځور ته وکتل، سبحان الله ئې ورته وويل او زياته ئې کړه چي دا کټ مټ هغه شکلونه دي چي ما په خوب ليدلي ول. بيا ئې نو بوډۍ ته مخ راوګرزاوه، ورته وې ويل: "ګوره! زما مهرباني دايي، دې تصويرونو ته وګوره، ما چي به تل نارينه ملامتول او له هغو څخه مي ښه نه راتلل. ته اوس ښه ورته وګوره، صياد نر او ماده کوترې دواړې په دام کي نيولي دي، نارينه کوترځان خلاص کړی دئ او دومره نه کوي چي ماده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوتره هم له دامه وژغوري. رڼې سترګې ئې ورته نيولې دي او شهين په هغې خوارکۍ کي منګولي ښخې کړي دي. څه سر دې پرله ګرزوم، بي بي دا خبري و بوډۍ ته کوي خو بوډۍ ځان ګول اچولی دئ او په نورو خبرو ئې ځان مشغول کړی دئ. دوی کرار کرار رارواني دي څو هغه ځای ته ئې بي بي راوستله چي تاج الملوک پکښې پټ دئ. بوډۍ تاج الملوک ته هغه مخصوصه اشاره وکړه او د انځورونو ماڼۍ ته ئې راوباله.

د بي بي ناڅاپه هغې خوا ته پام سو او تاج الملوک ئې وليد. د ده و ښايست او جمال او ښو کړو وړو ته داسي هکه پکه ولاړه. بوډۍ ته ئې وويل:

دغه باز دئ که شاهين چي ښکاروي زړونه مهرونه
او که تورک د خراسان دئ اېلوي د پارس ملکونه

بوډۍ ورته وويل: ولچي، زه ئې هم نه پېژنم خو فکر کوم چي د کم پاچا زوی به وي. آبس، بي بي دنيا د تاج الملوک و ښايست ته هېښه پېښه تللې وه چي داسي ښکارېده چي د دغه نازنين بشر د ميني غشي ئې پر زړه ولګېد. ميني دونه غلبه پر وکړه چي عقل ئې ورمغلوب او شهوت ئې پر خروښ راووست. بې اختياره ئې بوډۍ ته تر خوله ووتله چي دغه د ګلابو ګل بېخي ډېر ښکلی دئ. که څه هم هر وخت مي ويلي دي چي زړه به له چاسره نه پيوندوم، خو د دې ځوان د ميني په دام کي پخپل اختيار او خپله خوښه ولوېدلم. او دا بيتونه ئې وويل:

که مي زړه راښخه غواړي خو تر جار ئې
که مي دام ته کشوي، خوښه، اختيار ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه دې ره نــه ده غوښــه ده نرمېــږي
پر دې عشق سرور کوم که وي، په کار ئې

بوډۍ ورته وویل چي رشتیا هم دا بلاوهلی مه کې، دونه ښایسته دئ چي ما په دا خپل ټول عمر داسي ښایست نه وو لیدلی. بوډۍ تاج الملوک ته په رمز وویل چي نور نو خپل کور ته ولاړ سي. تاج الملوک خوش خوش روان سو، له باغوانه ئې خدای په اماني واخیسته او تر باغ ووت. کور ته چي راغی د میني اور ئې په زړه کي داسي لمبې بل کړې او شوق ئې دومره زیات سو چي، نور ئې له توانه ووتله. دا بیان ئې وزیر او عزیز ته وکړ او ورته وې ویل چي بوډۍ ولي زه له باغه وتلو ته مجبور کړم. دوی ورته وویل چي البته بوډۍ به په همدې کي ستا خیر او مصلحت لیدی، کنه نه نو له باغه د وتلو اشاره به ئې نه درته کولای. وزیر او عزیز نو پرېږده چي له تاج الملوک سره نور پند تړي، د پاچا لور پسي راواخله. د پاچا پر لور باندي میني تر اندازې زیات زور وکړ، بوډۍ ته ئې وویل چي له دغه پریروی سره د وصال کار ستا پر غاړه دراچوم. ته به کوې خدای به کوي، دا کاربه سره رسوې. بوډۍ ورته وویل چي شیطان ولاحول کړه. تا خو له نارینه وو څخه داسي بد وړل لکه مار چي له شینشوبي څخه بد وړي. ولي دي د دغه ځوان په لیدو سره نابېره حال بل سو او لمبې درباندي راغلې. منګر، هو! قسم مي دي په خدای وي چي تر دغه ګل بشر نو بل ښوک ستا د غېږي وړ هم نسته. د پاچا لور ورته وویل چي اې مهرباني دایي! زموږ په وصال کي به ځان نه سپموې. که دي دا کار سره ورساوه، زر دیناره دي نغدچغد وګټله. او که دي و نه رساوه، زه مرم، ولاکه ژوندۍ پاته سم. بوډۍ ورته وویل، ته خپل قصر ته ولاړه سه، خدای د کراري مل دئ. زه خپل ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوښښ کوم.

که هاروت غونډي په څاه کي د بابل وي
پخپل سِـحر بې له څاه څـخه بېرون کړم

آبس، بي بي دنیا خپلي ماڼۍ ته ولاړه او بوډۍ تاج الملوک ته ځان ورورساوه. تاج الملوک چي ولیدله. جست ورته ولاړ سو او بوډۍ ئې خپل څنګ ته کښېنوله. بوډۍ ورته وویل چي خوشاله اوسه، چي دا وا رزموږ حیلې او خِدعې کار وکړ. باره ئې نو ټوله بیان ورته وکړ او په آخر کي ئې، نور ئې له توانه ووتله، ورته وویل چي: "سبا دخیره د ملاقات ورځ ده". تاج الملوک امیانۍ ته لاس کړ او زر دیناره ئې بوډۍ ته په زېړي کي ور وبخښل.

بوډۍ دینارونه او سوغاتونه غوټه کړل او د بي بي دنیا کره په منډه ورغله. بي بي چي بوډۍ ولیدله، ورته وې ویل: "څه خبر دئ ملاچرګک موږ ته راوړی"، او په ناز ئې پوښتنه ځني وکړه چي اې مهرباني دایي! زما د محبوب له خوا دي کم د خیر خبرمبر راوړی دئ که یا؟ بوډۍ ورته وویل چي کور مې پیدا کړ، سبا که ژوند باقي وو، درته راولم ئې انشاءالله وتعالی. بي بي دونه خوشاله سوه چي سمدستي ئې زر دیناره نغد او د زرو دینارو په بیه یو ټوکر په زېړي کي ورکړ. بوډۍ غوټه راواخیستله او سیده کور ته ولاړه. شپه ئې تېره کړه. سهار وختي د تاج الملوک کره ورغله. په ده ئې د ښځو جامې واغوستلې، چادري ئې ور پر سر کړه او ورته وې ویل چي: "په ما پسې راځه. چابک چابک مه ځه، تلوار مه کوه، که چا خبري درسره کولې، هیڅ مه ورته وایه. تاج الملوک چي ئې په دې ټولو خبرو ښه پوه کړ، باره نو له کوره راووتل، بوډۍ دمخه ده او تاج الملوک د ښځو په کالیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي په پسې دئ، څو دا دئ، و قصر ته راورسېدل. بوډۍ په قصر ننوتله او تاج الملوک سم په پسې دئ. دروازې خلاصي سوې او په دهلېزو کي تېر سول څو تر اوو دروازو ووتل او اتمي ته ورسېدل. دلته بوډۍ و تاج الملوک ته وویل چي بېرېږه مه، زړه وانه چوې. که ما درباندي په زوره ږغ وکړ چي: "اې مينځې! چابک ورسه او کور ته ورننوزه"، ته بله مه کوه او چټک په کور ننوزه. چي کور ته ننوتلې، تر دهلېز به ووزې،کيڼ لور ته به راوګرزې، يو دالان به ووينې، په دالان کي به پنځه دروازې وشمېرې او په شپږمه به ورننوزي ستا د زړه مطلب هورې دئ. تاج الملوک ورته وويل چي ته به نو چيري يې؟ دې جواب ورکړ چي زه ځای نه ځم دلې يم، منګر ښايي له پيره دارانو سره په خبرو کښېوزم او شا ته به پاته سم. تاج الملوک د بوډۍ خبري په غوږ کي ونيولې او هغې دروازې ته ورروان سو چي لوی پيره دار پکښې ولاړ وو. پيره دار چي له بوډۍ سره بله مينځه وليدله، له بوډۍ څخه ئې وپوښتل چي دا مينځه چيري ځي؟ بوډۍ ورته وويل چي د دې مينځې په باره کي بي بي څه اورېدلي وه چي ډېره کمالداره او نمايداره نجلۍ ده، نو بي بي غواړي چي دا مينځه رانيسي. پيره دار ورته وويل چي زه دي په کمالداره و بې کماله نه پوهېږم، زه بې له تلاښۍ څخه څوک نه پرېږدم چي ماڼۍ ته ننوزي. ما ته پاچا همداسي امر کړی دئ او زه ئې امر پر ځای کوم... کيسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو سل او پنځه دېرشمه شپه

شهرزادې وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چې:

لوى پيره دار بوډۍ ته وويل چې د پاچا له امر سره سم، زه ځوک بې له تلاښى قصر ته نه پرېږدم. بوډۍ پر رابوږرکې سوه او په خښم ئې ورته وويل چې ما ته خو ته ډېر ادبناکه او هوښيار سړى ښکارېدلې، دا نن ولې مخ درلګېدلى دئ. زه به دي په بي بي پرېږدم! ولا چې دا ټول نکل مې نه وي ورته کړى چې ته د دې مينځيانو ته لاس اچوې. بيا نو بوډۍ پر تاج الملوک باندې په لوړ اواز ږغ وکړ چې: "ځه! مينځې ننوزه". تاج الملوک هم په چټکې سره سوپ ته ننووت. د پيره دار خوله ګونګه پاته سوه او هيڅ ئې و نه ويل. تاج الملوک چې تر سوپ رااووت، چپه لاس ته کاټ سو، دروازې ئې وشمېرلې، يو، دوه، درې، څلور، پنځه، پر شپږمه دروازه ورننوت چې ګوري بي بي دنيا بيا وختې راغلې ده او په انتظار ورته ناسته ده. بي بي چې پر تاج الملوک سترګي وموښتلې، وې پېژانده، او سمدلاسه ئې غېږ پر راوګرزوله او ټينګ ئې ونيو. په دغه حال کې بوډۍ هم راورسېده او يوه بله مينځه ئې تر لاس ونيوله او تر قصر ووتله چې چوکيدار ته دا وروښيي چې مينځه بيرته له ماڼۍ ځخه ووتله. بوډۍ بيرته ماڼۍ ته راغله. بي بي ورته وويل چې دايي انا! ته به په دروازه کې کښېنې، ځوک به نه راپرېږدې.

باره نو بي بي او تاج الملوک خوله په خوله سول او نور نو مه کوه خبري. ښه د خوندشپه ئې تېره کړه، سهار سو، بي بي په تاج الملوک پسې دروازه راوتړله او دا يو بل سراى ته ولاړه. له عادت سره سم ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینځیاني راوغوښتلې. د هري یوې چي څه غوښتنه وه، یا ئې څه کار وو، د هغه له پاره ئې پر نوکرانو باندي امرونه وکړل او لازم هدایتونه ئې ورکړل. یو آن ئې لا د دا نورو مینځیانو سره ګپ شپ وکړ، باره ئې ورته وویل چي اوس نو تاسي ووزئ، زه غواړم چي یو آن یوازي اسرهت وکړم. مینځیاني چي ووتلې، دا بیرته تاج الملوک ته راغله، ښه مکلفه ډوډۍ ئې وخوړه او نور ئې خپلي بازۍ شرو کړې. دا شپه ئې هم تېره کړه او دا سبا ئې د تېري ورځي په شان په تاج الملوک پسې دروازه وتړله او دې خپل کارونه مارونه وکړل او د مینځیانو مشکلات ئې ورحل کړل. په دې ترتیب یوه میاشت همداسي تېره سوه. دوی نو دلې پر پړده چي خپل عیشونه کوي، د وزیر او عزیز حال راواخله.

غوږ مو دئ! وزیر او عزیز چي ولیدل، تاج الملوک د پاچا د لور ماڼۍ ته ولاړ او هورې پسي پاته سو، نو ئې زړه ته ولوېده چي دا سړی د ځای وو، د ځای سو. بیا ئې راوتل ناممکن دي منګر په مرګ راووزي. وزیر عزیز ته وویل چي: "بچیه! اوس کار خراپ سو. که زه او ته د تاج الملوک پلار ته بیرته ور نه سو او په حال ئې خبر نه کړو، باره به ملامتي ټوله پر موږ وي". باره ئې پر کډه لرګی واچاوه مخ د ملک سلیمانشاه پر لور رارهي سول. هله، هله، هله . څو شواروزه وروسته خپل ښار ته راورسېدل. پاچا ته ورغلل او ورته وې ویل چي: "له کمي ورځي چي تاج الملوک د پاچا د لور ماڼۍ ته تللی دئ، بیا ئې هیڅ حال نسته".

پر پاچا باندي د قیامت ورځ راغله پر خپل کار باندي ډېر پښېمانه سو. منګر اوبه تر ورخ اوښتي وې. باره ئې جارچي راوغوښت او امر ئې ورته وکړ چي په ښار کي د جهاد جار ووهه. چي مخ دي راګرزاوه، لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لښکر تيار سو. تر ښار دباندي ئې خېمې ووهلې. پاچا پخپله مخصوصه خېمه کي کښېنستلی تر څو چي له ليرو ځايو څخه ټول لښکريان راورسېدل، باره ئې د "کوچ" امر ورکړ او د اسمان د ستورو په اندازه له لوی لښکر سره د خپل زوی تاج الملوک دژغورني له پاره وررهي سول. هلته تاج الملوک او بي بي دنيا شپږ مياشتي په عيش و عشرت کي سره تېري کړې. ورځ په ورځ ئې مينه سره زياتېدله. په پای کي تاج الملوک خپل راز ورته څرګند کړ اوبي بي ته ئې وويل: "اې زما د زړه محبوبي! ما دلته ډېري شپې درسره تېري کړلې او مينه مو ورځ په ورځ زياتېږي، منګر زه خپل مراد ته نه يم رسېدلی".

بي بي په جواب کي ورته وويل چي: "ستا خاطر دي خدای نه مانده کوي، وايه ! مطلب دي وايه! که بازی دي، که عيش و عشرت دئ، خو هغه دئ کوو ئې. که نور څه په زړه کي لرې، راځه! زه ستا يم". تاج الملوک ورته وويل چي مقصد مي دا نه دئ، بلکي مطلب مي دا دئ چي ته پوه سې چي زه د سوداګر زوی نه يم، زه د پاچا زوی يم. پلار مي ملک اعظم ملک سليمان شاه دئ. هغه ملک سليمانشاه چي خپل وزير ئې ستا له پاره په مرکه رالېږلی وو او ما ته ئې راغوښتلې. تا نټه وکړه. باره ئې خپله کيسه له سره څخه تر پايه پوري ټوله ټکي په ټکي ورته وکړه او ورته زياته ئې کړه چي اوس به خپل پلار ته ولاړ سم. هغه به ستا پلار ته خپل ايلچي راولېږي او تا به ما ته په حلاله نکاح راوغواړي. زياتي به مو نو زړونه بېغمه سي او له دې پټ پټاني به راووزو. د بي بي دا خبره بيخي خوښه سوه. هغه شپه ئې په دغه خيالونو و چورتونو تېره کړه او عهدوپيمان ئې سره يو سو. خو د خدای کارونه دي په دغه شپه پر دواړو باندي خوب ډېره غلبه وکړه او تر لمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختو پوري راويښ نه سول.

هلته شهرمان پاچا پر خپل تخت ناست وو او له خپلو وزيرانو او امراوو سره ئې دربار کاوه چي ناڅاپه د زرګرانو مشر راغی. يوه سندوخچه ئې ورته راوړه او پاچا ته ئې ورکړه. په سندوخچه کي يو امېل پروت وو چي خورا غټ غټ غميان پکښې کار سوي وه. زر ديناره ئې بيه وه. پاچا چي امېل وليد، خوښ ئې سو او هغه لوی پيره دار ئې راوغوښت چي د هغه او بوډۍ تر منځ څه موده پخوا د تاج الملوک پر سر ګفتګوی پېښ سوی وو. پاچا دې پيره دار ته وويل چي دا امېل به واخلې او بي بي دنيا ته به ئې وروړې. پيره دار چي د بي بي خوني ته راغی، ګوري چي د خوني دروازه تړلې ده او بوډۍ ئې وليدله چي د دروازې په خوله کي ناسته ده. پيره دار له بوډۍ څخه پوښتنه وکړه چي بي بي ولي نن تر سرې غرمې بيده ده، بوډۍ وارخطا سوه او وې ويل چي دلته تکيه سه، زه به کيلۍ راوړم. باره ئې دوې پښې دغه وې، دوې نوري پور کړې او ولاړه، وتښتېده.

پيره دار په شک کي سو، دروازه ئې ماته کړه او خوني ته ورننووت. چي ګوري د پاچا لور د تاج الملوک په غېږ کي بيده پرته ده. اريانۍ واخيستی، غوښتل ئې پاچا خبر کړي، چي په دغه وخت کي

بي بي له خوبه راويښه سوه. پيره دار چي ئې وليد د رنګ بڼه ئې ژړه سوه او پيره دار ته ئې وويل: "ګوره زموږ پرده پوښه سه، خدای به ستا پرده پوښه سي". پيره دار په جواب کي ورته وويل چي زه له پاچا څخه هيڅ شی نه سم پټولای. د سرای دروازه ئې وتړله او بيرته پاچا ته ورغی. پاچا څني وپوښتل چي امېل دي بي بي ته ورکړ. پيره

(c) ketabton.com: The Digital Library



داروړته وويل امېل ممېل پرېږده، زه نه غواړم چي هيڅ خبره ستا څخه پټه وساتم. پوه سه چي بي بي مي نن له يوه ښکلي ځوان سره په يوه بستر کي بيده وليدله.

پاچا دوی دواړه راوغوښتله او پوښتنه ئې ځني وکړه چي دا مو څه شوډنګ راايستلی دئ. باره خښم ورغی اوغوښتل ئې چي د تاج الملوک سر په توره غوڅ ځني پرې کړي. بي بي دنيا ځان پر وغوړاوه او پلار ته ئې وويل چي اول ما مړه که، بيا به دی وژنې. پاچا دا تر لاس کش کړه او نوکرانو ته ئې امر وکړ چي خپل سرای ته ئې بوزي. بيا ئې تاج الملوک ته مخ راواړاوه چي ته ارمچک څوک يې؟ د کم ځای يې؟ د پلار نوم دي څه دئ؟ او څرنګه دي دونه زړه کړی دئ چي د پاچهانو لوڼو ته لاس واچوې. تاج الملوک ورته وويل چي که ته ما ووژنې، پاچهي به دي پر دا بله راواوړي او ته به هم خپل سر پکښې وخورې. ملک و وطن به دي ويران سي او بيا به پښېماني هم څه ګټه در ونه رسوي. پاچا ورته وويل چي ولي به پښېمانه سم او ولي به مي ملک و وطن خراب سي؟ تاج الملوک ورته وويل چي سر خلاص که، زه د ملک سليمانشاه زوی يم. چي مخ رااړوې د پلار سپاره و پلی لښکر به مي راورسېږي.

شهرمان پاچا چي دا خبري واورېدې، يو څه له دردہ سوړ سو او غوښتل ئې چي وئې نه وژني او زندان ته ئې ولېږي تر څو چي د ده د خبرو رشتيا و درواغ معلومېږي. په دې وخت کي د شهرمان پاچا وزير راوړاندي سو او پاچا ته ئې وويل چي د دې سپي په وژلو کي به ځنډ نه کوې. ده د پاچا پر لور باندي تېری کړی دئ. باره ئې پر جلات امر وکړ چي دا خاين ووژني. جلات توره تر سر وڅرخوله، لاس ئې پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ، خو پاچا نه غوښتل چې دی ووژل سي او له امراوو څخه ئې یو په یو مشوره پیل کړه.

وزیر ورته وویل په دې کار کي مشوره نه ځایېږي. باره پاچا ته هم درد ورغی او پر جلات ئې امر وکړ چي: "وهه ئې!" جلات توره پورته کړه او غوښتل ئې چي سر او تن ئې سره بېل کړي چي په دغه وخت کي ... کیسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال را والوتی روښا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او شپږ دېرشمه شپه

شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

جلات چي توره پورته کړه او غوښتل ئې د تاج الملوک سر غوڅ ورپرې کړې. لاس ئې لا په هوا کي وو چي په دې وخت کي ناڅاپه د ډول و سورنا ږغونه او د خلکو فریادونه او د اسانو ششنی له ښاره را پورته سو. دا ږوږ په ښار کي راتاو سو. دوکانونه وتړل سول. پاچا پر جلات چیغه وکړه چي: "لاس دي نیسه! چي مړ ئې نه کړې". باره ئې سړی واستاوه چي د ښار حال راوړي چي څه پېښه ده؟ سړی ولاړ او د هغې خوا ئې حال راووړ چي: "اې پاچا! دونه لوی لښکر پر ښار راغلی دئ چي سروپای ئې نه معلومېږي، شمېر ئې د اسمان تر ستورو، د درختو تر بلګو او د بیابان تر شګو زیات دئ. د یوه خروښنده رود په شان رابهېږي، اسان ئې راپونده کړي دي او رانزدې کېږي. خو د لښکر د راتګ په سبب پوه نه سوم چي ولي او پر څه راروان دئ؟" پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وارخطا سو، پر خپل ځان او خپل مملکت وبېرېدی. وزیر ته ئې وویل چي آیا زموږ سپاهیان هم مقابلې و جنگ ته وروتلي دي که یا؟ د ده لا دا خبره په خوله کي وه چي د پاچا پیره داران دربار ته راننوتل او د یرغلي لښکر د پاچا استازي هم ورسره ملگري دي. په استازو کي د نوموړي پاچا وزیر هم شامل وو. پاچا هغوی ته ولاړ سو او ځان ته ئې نږدې راوبلل او د هغوی د راتگ دلیل ئې ځني وپوښت.

د استازو له مابین څخه وزیر رامخ ته سو او داسي ئې وویل: "اې پاچا! پوه سه چي دې وطن ته د راغلي لښکر سلطان د پخوانیو پاچهانو په شان نه دئ" ملک شهرمان ځني وپوښتل چي دا کم پاچا دئ؟ وزیر په جواب کي ورته وویل: "دا سلطان سلیمانشاه عادل او د صفاهان د پراخې مځکي څښتن دئ. دې وطن ته ئې د لښکر د راتگ سبب دا دئ چي زوی ئې ستا په ښار کي دئ. که ئې خپل زوی سهي سلامت او روغ رمټ ولید، تا ته به هم نوازش ورسېږي او که هغه په دې ښار کي ورک سي یا کمه صدمه وزیان وروړسېږي یا وررسېدلی وي، نو مرگ ته دي ځان تیار کړه. همدامي پیغام وو، زیاتي والسلام". پاچا چي دا پیغام واورېدی، رېږد واخیست او وبېرېدی. د خپل دولت پر لویانو ئې اواز راوکیښ چي: "ولاړ سئ او ټول وطن پسې وپلټئ، د زوی درک ئې ورمعلوم کړئ."

د پاچا زوی تاج الملوک خو د جلات تر توري لاندي پر مځکه پروت وو، له ډېر وهم څخه بې حاله سوی وو چي ناڅاپه د یوه استازي سترگي پر ولگېدې او وئې کتل چي خوارکی د اعدام پر تخته پروت دئ. داغسي ئې ورالا کړه او د شهزاده په پښو کي ورولوېدی. نورو استازو هم وروځغستل او په پښو کي ورولوېدل. باره ئې اولچک و

(c) ketabton.com: The Digital Library



زولنې ځني خلاصي کړلې راپورته ئې کړ او لاسونه و پښې ئې ورمچ کړل. تاج الملوک چي د خپل پلار وزیر او د سوداګر زوی عزیز وپېژندل، له ډېري خوشالۍ څخه بیا بېهوښه سو. ملک شهرمان چي دا حال ولید، اریانۍ واخیستی، وهم پر غالب سو او بیخي ډېر وبېرېدی ځکه پوه سو چي د دې لوی لښکر د راتګ سبب همدغه ځوان دئ چي ده د جلات تر تېغ لاندي پرې ایستلی وو. باره راولاړ سو، تاج الملوک ئې پر سر مچ کړ، تر سترګو ئې اوښکي راغلې او وې ویل: "زویه ! زما د کړي عمل جزا ما ته مه راکوه، پر ما رحم وکړه او زما دا سپیني ږیري ته وګوره. مملکت او وطن مي مه راورانوه". آبس، تاج الملوک ئې هم لاسونه ورمچ کړل او وې ویل چي دا ستا ګناه نه وه. ته زما د پلار پر ځای یې. خو بېرېږم چي زما ګراني محبوبې ته کمه صدمه نه وي رسېدلې". پاچا ورته وویل: "اې ځوانه! د هغې غم مه کوه. خوښه خوشاله ناسته ده او د سر وېښته ئې لا هم نه دئ ضایع سوی".

څه سر دي پرله ګرزوم، ملک شهرمان داغه عذرونه دي چي تاج الملوک ته ئې کوي، بخښني ځني غواړي. د سلیمانشاه وزیر ته هم عذرونه کوي او بې شمېره وعدې ورکوي چي دی به کوي او خدای به کوي او دغه لیدلی حال به له خپل پاچا څخه پټوي. خپل پاچا به په دې حال باندي نه خبروي. بیا ئې نو پر خپلو غټانو باندي امر وکړ چي تاج الملوک حمام ته بوزي او د پاچهۍ ورېښمني جامې په واغوندي. غټانو ئې امر پر ځای کړ او تاج الملوک ئې په خوله لغړولی دربار ته راووست. تاج الملوک چي د ملک شهرمان دربار ته راننووت، پاچا او د ده ټول درباریان ورته ولاړ سول. بیا نو تاج الملوک کښېنوست او خپل سرګذشت ئې خپل پلار، وزیر او عزیز سوداګر ته ووایه. دوی بیا خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیان ورته وکړ چي ځرنګه ئې ملک سلیمانشاه ته خبر یووړ چي زوی دي د ملک شهرمان د لورپه ماڼۍ ننووت او بیا ئې نو پته ورکه سوه. دا ئې هم ورته وویل چي پلار چي دي دا بیان واورېد، زیاتي ئې له طاقته ووتل او په هغه ګړی ئې لښکر تیار کړ او دا دئ چي تر تا پوري مو ځان راورساوه. وزیر پسي زیاته کړه چي: "دا د خدای ډېره مهرباني ده چي زموږ راتګ ستا د ژغورني او خوښۍ و خوشالۍ سبب سو".

تاج الملوک په جواب کي ورته وویل: "ستاسي راتګ دي تل مبارک وي" . دوی پخپلو منځو کي په خبرو اخته دي چي ملک شهرمان د خپلي لور ماڼۍ ته ورغی. که ګوري چي لور ئې بي بي دنیا په تاج الملوک پسي په رینګټ ژاړي. خنجر ئې راایستلی او پر مځکه ئې لګولی دئ. د خنجر څوکه ئې خپل ټټر ته نیولې ده او غواړي چي ځان ووژني. له ځانه سره ګډه ده او وایي چي له تاج الملوک پرته نو پر ما ژوندون حرام دئ، پلار ئې چیغه پر وکړه چي: "مه کوه! اې نجلۍ دا کار مه کوه. پر خپل پلار او خپل ښار دي رحم وکړه، داسي کار مه کوه چي د هغه په سبب دي پلار ته تاوان ورسېږي". زیاتي نو ورغی لور ئې راپورته کړه او ټوله کیسه ئې ورته وکړه چي ستا معشوق خو د ملک سلیمانشاه زوی دئ. غواړي تا په نکاح کړي د نکاح کار اوس تا ته معطله دئ.

لور ئې موسکۍ سوه او ورته وې ویل چي: "نه مي درته ویل چي دا ځوان شهزاده دئ. زما خبرو تا ته دوه درهمه ارزښت نه درلود. ځوان دي واخیست د جلات تېغ ته دي وتاړه". پلار ئې ورته وویل چي: "ستا د روزني او لویولو حق مي دربخښلی دئ خو ته هم زما تر دې خطا راتېره سه". باره نو بي بي ورته وویل چي چابک به تاج

(c) ketabton.com: The Digital Library



الملوک راته راولئ. پاچا دستي ورته راووست. د بي بي سترگي چي پر وموښتې، تر هر نام وننگ تېره سوه او د پلار په مخ کې په غېږ کي ټينگ ونيو او ورته وې ويل چي: "زه پر تا وم ، ما ول نه گانه يوه ډېره نېکمرغه، بله بدمرغه، چي خداى دي نه کړي يو څه ئې درکړي نه واى". بيا ئې نو پلار ته مخ وروا ړاوه او ورته وې ويل: "ته و خداى، دغه ښايسته بشر او دغه ځواني د مرگي لايقه وه". باره نو ملک شهرمان له کوره راووت، دروازې ئې وتړلې او د تاج الملوک د پلار وزير ته راغى او ورته وې ويل چي ملک سليمانشاه ته حال ورکړئ چي زوى ئې سهي سلامت و روغ رمټ او پخپل عيش ونوش کي ډوب دئ. بيا ئې نو امر وکړ چي د ملک سليمانشاه د لښکر هر نفر ته دي د هر راز خواړو و مېوو او حلواوو سربښته ونيسي. د ملک شهرمان فرمان چي پر ځاى سو، وروسته ئې د ملک سليمانشاه له پاره د ده له شانه سم سوغاتونه و تحفې و اسان، اوښان، و مينځې و مريان ورولېږل. د هغې خواملک سليمان شاه ده او د ده د دربار مشرانو ته اجازه ورکړه چي ورسره ووينې. ملک شهرمان او درباريان ئې هم سمدستى تر ښار ورووتل او هلته چي ملک سليمانشاه د دوى په ورتگ خبر سو، ورو ورو ئې د ملک شهرمان د ښار پر لور حرکت وکړ. کله چي دا دوه پاچهان او د هغو عمله و فعله سره يو ځاى سول، ملک سليمانشاه او ملک شهرمان يو له بل سره د غېږي روغبړ وکړ.

ملک شهرمان ته ئې پر خپل تخت باندي د ځان له څنگه سره ځاى ورکړ. باره ئې مجلس شرو کړ. د مجلس په ترڅ کي هر راز خواړه و حلواوي راوړل سوې. لږ آن وروسته تاج الملوک راغى. پلار ئې ورولاړ سو او په غېږ کي ئې ونيو. يو آن سره وږغېدل. باره نو ملک

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلیمانشاه و ملک شهرمان ته وویل چې غواړي د خپل زوی نکاح د ده له لور سره په همدغه مجلس کی وتړل سي. ملک شهرمان ورسره ومنله. دستي ئې قاضي و د نکاح شاهدان راوغوښتل. قاضي راغی کتاب ئې ورسره راووړ او د دوی دوو نکاح ئې وروتړله. لښکریانو خوشالۍ وکړې. ملک شهرمان د خپلی لور د خوښی (جهیز) په کار اخته سو. بیا نو تاج الملوک خپل پلار ته عزیز ورمعرفي کړ چې دې سوداګر زما سره خورا ډېري نېکۍ کړي دي، زما خذمتونه ئې کړي دي، زما سره د دغه لوی سفر تکلیفونه و زحمتونه ئې پر ځان ګاللي دي او زه ئې تر خپل مقصده رسولی یم. دی دا دوه کاله کېږي چې له خپله کوره راورک دئ او پلاره! زما داسي خیال دئ چې و ده ته هم دسوداګرۍ ښه مزبوته مال برابر کاندم او خپل ښار ته ئې ولېږم. د ده ښار زموږ تر ښار دې ځای ته نژدې دئ. پلار ئې ورته وویل چې بیخي مي خوښه ده. باره ئې نو عزیز ته د سلو اوښانو بار سنګین او قیمتي مالونه برابر کړل. عزیز ته ئې وویل چې: "وروره ! دا ستا له پاره یوه کوچنوټې تحفه ده".

عزیز هم په خوشالۍ سره ومنله. زیاتي ئې نو خدای په اماني سره وکړه. عزیز د تاج الملوک او د هغه د پلار پښې و لاسونه ورمچ کړل او پر آس ئې پښه واړوله. تاج الملوک هم تر یوه فرسخه پوري ملګري ورسره وکړه. بیا نو عزیز ورته وویل چې که مي د سپین سري مور غم راسره نه وای، هیڅکله به ستا څخه جلا سوی نه وای. خو ته دونه نېکي لا هم راسره وکړه چې خط و کتابت دي راسره جاري وساته. آبس، اخره خدای په اماني ئې بیا سره وکړه او عزیز مخ پر خپل ښار روان سو. ښار ته چې ورسېدی، سیده خپل کور ته ولاړی چې ګوري مور ئې د سرای په منځ کي قبر کیندلی دئ او دا پړمخي باندي پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ده. وربښتان ئې پر قبر غوړولي دي او ساندي وايي. له ساندو سره دا بيتونه هم وايي:**

د ځوانانو تر مرګ وروسته راته نه ښايي ژوندون
چې ګلان ټوله خازه وي، څې بلبل څې شواخون
زما د ژوند ثمر، زما ګل خو په ژوندوني راڅه ورک دئ
نه ئې ليک چا راته راوور، نې د ژوند و مرګ څه سپوڼ
چې زما په درد و آه به نه سوځي، دا کنګل زړونه
خدايه ته ئې زما په شان کړې چې مدام وي ځګرخون

**دا بيتونه ئې لا پوره کړي نه وه چې عزيز په کور ورننووت. د دې چې پر خپل زوی سترګي وموښتې، داغسې راالا کړه او په زړه پوري ئې ټينګ ونيو، ول: "دا چيري وې، آ زما د زړه سره! خوارکۍ مور خو دي له ډېره غمه زاره ترکې سوه". عزيز خپل ټول بيان ورته وکړ او دا ئې هم ورته وويل چې تاج الملوک اوز اوښان سنګين مالونه ورکړي دي. مور ئې ډېره خوشاله سوه او عزيز نور له خپلي مور سره يو ځای ژوند شرو کړ. منګر هروخت به هغي کانې ته اريان تللی وو، چې ها مرداري پليتي په ده پوري کړې وه. عزيز نو دلې پرېږده، تاج الملوک پسي راواخله.**

**د تاج الملوک نکاح چې وروتړله، باره ئې بي بي دنيا ته ورواستاوه. دوی دواړو د واده د اولي شپې دود و بايده سره پر ځای کړه. باره نو په دا سبا ملک شهرمان خورا ډېر سنګين سوغاتونه ملک سليمانشاه او تاج الملوک او بي بي دنيا ته ورکړل او دوی ټول د خپل ښار پر لور رهي سول. ملک شهرمان هم له دوی سره درې ورځي و درې شپې مزل وکړ. په پای کي ملک سليمانشاه قسم ورکړ چې نور نو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



گام ولاکه راسره واخلې. باره نو ملک شهرمان هم خدای په اماني ورسره وکړه، تاج الملوک له خپل پلار او خپلې ماينې سره مخ پر کور راروان سو. مزل پر مزل څو خپل ښار ته نزدې ورسېدل... کيسه چې دې ځای ته ورسېده...

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او اووه دېرشمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چې: ملک سليمانشاه له خپل زوی او نږور سره خپل ښار ته نزدې سول. په ښار کي ئې د دوی له پاره مينابازار جوړ کړی وو. ډولونه وه ډمامې وې، اشت ومشت وو، خلک غولۍ غولۍ کېدل، ټکان وه سورسورانکي وې، لگه درگه وه ... پاچا پر خپل تخت کښېنوست تاج الملوک ئې څنگ ته ودرېد. پر خپل رعيت و لښکر باندي ئې ډېري روپۍ ووېشلې. درې ورځې و درې شپې ئې د جشن امر وکړ. تاج الملوک تر دې وروسته له خپلې معشوقې سره د عيش و عشرت ژوند ته دوام ورکړ.

# د ضوء المکان د کيسې پاته برخه

وزير دندان چې نکل تر دې ځايه راورساوه، باره نو ضوء المکان ورته وويل چې ياره! ته خو د پاچا د نديمۍ لايق يې. د اوو وزيرانو عقل در څخه دئ. منگر گوره، اې بختور وزيرصاحبه! پوره څلور کاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېر سوه چي پر دې مځکه پراته او د قسطنطنيې د کلابندۍ له اسيته په بلاوو ککړ يو. شپه و ورځ مو له جنګه پرته بل کار نسته. پر سپاهيانو باندي اوس دا مسافري غمېدلې ده او غواړي چي بيرته وطن ته ستانه سي.

آبس، ملک ضوء المکان دستي په دستي امير بهرام، امير رستم او امير ترکاش راوغوښتل. کله چي هغوی حاضر سول، ملک ضوء المکان ورته وويل چي ګورئ اميرانو! څو کاله کېږي چي موږ پر دې مځکه اړولي دي او خپل مقصد ته هم نه يو رسېدلي. زموږ مقصد خو دې ملک ته له راتګ څخه دا وو چي د ملک نعمان انتقام واخلو. اوس دا دئ زما ورور شرکان هم ووژل سو. يو غم مو دوه غمه سول او د دې ټولو مصيبتو سبب هغه کور خراپې بوډۍ ذات الدواهي ده چي اول خو ئې ملک نعمان پخپل مملکت کي وواژه او صفيه ملکه ئې وايستله. په دې ئې لا هم بسنه و نه کړه او راولاړه سوه زما ورور ئې هم وواژه. ما خو د خدای په نامه سره لوړلي دي چي د خپل پلار او ورور غچ به اخلم. ستاسي جواب به څه وي؟ د لښکر اميرانو ټولو سرونه ځړولي وه او سپوږ ئې تر خوله نه راووت. ټولو د سترګو تر بغلو وزير دندان ته وکتل چي مانا دا جواب نو په تا اړه لري.

وزير دندان هم راوړاندي سو، د امير د پښو مځکه ئې مچ کړه، غاړي ئې تازه کړې او وې ويل چي: "اې برميالی پاچا! زما په خيال خو په دې ځای کي زموږ نور پاته کېدل هيڅ ګټه نه لري. زما نظر خو دا دئ چي شاکوچ به وکړو، وطن ته به ولاړ سو، څه زمانه به هورې تېره کړو او وروسته به بيا د بت پرستانو جهاد ته راسو". پاچا وويل چي داسي ده، نو زما هم درسره خوښه ده. سپاهيان د خپلو اولادو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلوانو د لیدلو تږي دي او زما هم خپل زوی کان ماکان او خپله وربره قضی مکان یادیږي. لښکریانو چي دا زیری واورېدی، بیخي ډېر خوشاله سول. وزیر دندان ته ئې دوعاوي وکړې. تر دې وروسته نو ملک ضوء المکان امر وکړ چي تروم ووهئ چي لښکریان دي شاکوچ ته تیار سي.

آبس سپاهیانو د سفر بندوبست وکړ. درې ورځي وروسته ئې ډولونه ونغارې ووهلې، بیرغان ئې اوچت کړل. وزیر دندان د لښکر په مخ کي ودرېدی. ملک ضوء المکان له لوی پیره دار سره یو ځای د لښکر په منځ کي ځانته ځای غوره کړ نور لښکر ټولی ټولی پر ښی او کیڼ اړخ ورسره روان سول. یو شواروز ئې مزل وکړ څو بغداد ته ورسېدل. د ښار له خلکو څخه غم لیري سو او ټول خوشاله سول. د لښکر قومندانان او مشران خپلي چوڼی ته ولاړل او ملک ضوء المکان خپلي ماڼی ته ولاړ او خپل زوی کان ماکان چي اوس اووه کلن سوی وو، ورغلی. ځان ئې هوسا کړ او دمه ئې وکړه. زیاتي نو حمام ته ولاړ. حمام ئې وکړ او پر تخت کښېنوست. وزیر دندان ئې راوغوښت. نور امیران او قومندانان هم حاضر سول. باره نو پاچا خپل پخوانی یارو اشنا تونتاب هم راوغوښت. تونتاب چي هم حاضر سو، پاچا ورته ولاړ سو او خپل څنګ ته ئې کښېناوه. ملک ضوء المکان و وزیر دندان ته د تونتاب د ښو کارونو او نېک چلند په باره کي معلومات ورکړل او تونتاب ئې تر خپل وزیر او نورو امیرانو پوري ډېر وغټاوه. تونتاب ازبستي چي ډېر خورکونه او ډول ډول خواړه خوړلی وه، دونه پړسېدلی وو چي غاړه ئې د پیل د غاړي په شان وه او څټ ئې له ډېره چاغښته کوت کوت سوی وو. پاچا ئې ګرسره و نه پېژندی. پاچا په ورین تندي او ښوښو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرو سره د ده ستاینه وکړه او ورته وې ویل چي څرنګه دي بیا ژر هېر کړم. تونتاب چي ښه ځیر ورواچاوه، باره ئې پاچا وپېژاند. ورته راولاړ سو او ورته وې ویل چي زما مهربان اشنا! دا ته څرنګه پاچا سوې؟ پاچا په خندا سو.

په دې حال کي وزیر رامخته سو او تونتاب ته ئې کیسه وکړه او ورته وې ویل چي پاچا خو ستا د ورور په رقم یار وو، منګر اوس د ټوله ملک پاچا دئ. تا ته به د ده له خوا خورا ډېري ګټې درورسېږي. ته دا زما خبره په ښی غوږ واوره چي هر وخت که پاچا درته وویل چي: "څه غواړې؟"، هوښ کوه چي په سپک شي غاړه و نه باسې، د غټ منصب او سترو شیانو غوښتنه ځني کوه. ولي چي ته د پاچا په نزد ډېر د عزت خاوند یې. تونتاب ورته وویل چي مه کوه، یو شی به مي ځني غوښتی وي، بیا به ئې یا نه راکوي، یا به ئې تر وس تېر وي. وزیر ورته وویل چي ته پر یو شي ګوته کښېږده، بیا وګوره چي پاچا ئې دستي درکوي که یا؟ تونتاب ورته وویل چي داسي ده نو زما دي هم قسم په خدای وي چي هغه د خپل زړه شی ځني و نه غواړم. که ئې رانه کړ، بیا ورته وایم اوکه ئې بیا هم رانه کړ، بیا غوښتنه ځني کوم. وزیر ورته وویل چي بېغمه اوسه، ولاچي د دمشق ښارځني وغواړې، چي تر تا خو ئې جار کړي او دستي به دي هورې والي مقرر کړي. آبس تونتاب ولاړ سو، پاچا اشاره ورته وکړه چي کښېنه. تونتاب ورته وویل، معاذالله، هغه ورځي تېري سوې چي زه به ستا په مخ کي ناست وم. پاچا ورته وویل چي اوس دي هم زما په نزد رتبه تر پخوا زیاته ده. زما و ستا اشنایي خو د یو څو ورځو نه ده. هغه پخوانۍ ورځي نه دي تېري سوي او تل به پر هماغه پخواني حال پاته وي. دا په دې درته وایم چي زما ژوندخدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



راساتلی دئ، سبب ئې ته سوې. په خدای مي دي قسم وي چي ته هر څه راشخه وغواړې، که څه هم دا زما نیمه پاچهي وي، چي دستي خو ئې درکړم.

تونتاب ورته وویل چي مه کوه! بیا به مي یو شی درڅخه غوښتی وي او په وس به دي پوره نه وي. پاچا ته خښم ورغی، ورته وې ویل چي ته خو خوله په پوري کړه چي څه غواړې؟ تونتاب ورته وویل چي د قدس ښار د ټولو تونتابانو مشر مي وټاکه. حاضر مجلس ټول په خندا سول. پاچا ورغبرګه کړه چي له دې پرته بل څه وغواړه. تونتاب جواب ورکړ چي نه مي درته ویل چي بیا به یو څه درڅخه وغواړم، ستا به تر وس تېره وي. وزیر ځو واره اشاره ورته وکړه چي بله غټه غوښتنه ځني وکړه. ده به بیا ورته وویل چي د قدس د ښار د دزبالانو؟ مشر مي کړه. حاضرین بیا له خندا شنه سول. وزیر په ځنګل وواهه.

تونتاب مخ ورواړاوه او ورته وې ویل چي: "څله مي په ځنګل وهې؟ تا ویل چي له پاچا څخه غټه غوښتنه وکړه، هغه ده ومي کړه. چي په وس ئې پوره نه ده، پرې مي ږدئ چي خپل ښار ته ولاړسم". باره حاضر مجلس پوه سو، چي تونتاب ټوکي کوي. مجلس یو آن چپ سو، په پای کي پاچا بیا ورته وویل چي یوه غټه چوکۍ راڅخه وغواړه. تونتاب ورته وویل چي. آښه دئ د دمشق پاچهي غواړم. سمدلاسه د دمشق د پاچا په توګه د ده فرمان ولیکل سو. پاچا وزیر دندان ته وویل چي ته به هم ورسره ولاړ سې او له هغې خوا چي بیرته راځې، زما ورېره قضی فکان به هم درسره راولې. وزیر په جواب کي ورته وویل: "پر دواړو سترګو مي د پاچا امر منلی دئ" باره ئې له تونتاب سره د سفر تیاری ونیو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملک ضوء المکان پر حاضر مجلس مخ راواړاوه او ورته وې ویل: " پر هر چا چې زه گران یم، باید تونتاب ته یو ښه سوغات ورکړي". ده پخپله تونتاب د (سلطان زبلکان) په نامه ونوماوه او د "مجاهد" لقب ئې ورکړ. په یوه میاشت کي ټول کارونه سر ته ورسېدل. آبس سلطان زبلکان له وزیر دندان سره پاچا ته د خدای په امانۍ له پاره ورغلل. پاچا ورته ولاړ سو او په غېږ کې ونیو، او ورته وې ویل چې د جهاد وسایل برابر کړه او نور ئې د جهاد د وخت تر زمانې پوري د عدالت او له خلکو سره د چال چلند لارښووني ورته وکړې. نور ئې نو مخه ښه ورته وویل. د پاچا امراوو چې هم د سوغات په ډول مریان راوستلي ول، شمېر ئې پنځو زرو تنو ته ورسېد. دا ټول ورسره سپاره سول. له سلطان زبلکان مجاهد سره د پاچا لوی حاجب او د دیلم امیر بهرام، د ترکانو امیر رستم او د عربو امیر ترکاش د خدای په امانۍ له پاره ورسره رهي سول. درې ورځې ئې مزل ورسره وکړ، آخر بیرته بغداد ته ځني راوگرځېدل. سلطان زبلکان او وزیر دندان خپل سفر ته ادامه ورکړه تر څو دمشق ته ورسېدل.

د دمشق خلک پخوا لا غوربېدلي ول چې ملک ضوء المکان د دمشق له پاره د زبلکان په نامه سلطان رالېږلی دئ او لقب ئې مجاهد دئ. کله چې ښار ته د دوی د رسېدلو اوازه خپره سوه، د دمشق ټول خلک بازارو ته راووتل. په بازار کي ئې د هرکلي له پاره دروازې جوړي کړې، پر دوکانو باندي ئې رنگه رنگه ټوکران وځړول او ټول ښار ئې د نوي سلطان د هرکلي له پاره سینگار کړ. خلک د سړکانو پر دواړو غاړو باندي د هرکلي له پاره لیکه ودرېدل. سلطان ښه په ډول و ډمامو د دمشق ښار ته داخل سو او پر تخت کښېنوست. وزیر دندان ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر څنګ ودرېد او د ښار لوی لوی امراء او غټان ئې ورته معرفي کول. امیران هم یو یو په ډېر ادب رامخ ته کېدل او د سلطان لاس ئې ورمچاوه او د ده د سر د سلامتۍ دوعا ئې کوله. سلطان زبلکان هم پر دوی باندي د مهربانۍ ږغ کاوه، پوښتنه و ګروېږنه ئې ځني کوله او په سوغاتو او تحفو ئې نازول. سلطان د خزانو دروازې خلاصي کړې او سپاهیانو ته ئې د دوی له مقام و مرتبې سره سم سره زر و سپین زر ښندل. تر دې مراسمو وروسته ئې نو د ملک شرکان د لور قضی فکان د سفر سرښته وکړه. کجاوه ئې ورته راوغوښتله دا ئې پکښې کښېنوله. مینځیاني او خذمتګاراني ئې ورسره ملګري کړې. د وزیر دندان مخي ته ئې هم ښه ډېرمالونه او روپۍ کښېښوولې، خو هغه ئې له اخیستلو څخه نټه وکړه او ورته وې ویل چي ته نوی پر تخت کښېنستلی یې، نه ګانه ستا خپله روپو ته اړتیا پیدا سي. ښه دئ چي په لاس کي دي څه وي. وزیر چي پر آس سپور سو سلطان زبلکان هم تر یوه ځایه پوري سپور ورسره ولاړ. بیا ئې نو مخه ښه ورته وویله او دی بیرته خپل مملکت ته ځني راغی. له دغي ورځي څخه ئې د جنګ د آلاتو او اسبابو راغونډول شرو کړه. له سپاهیانو او رعیت سره ئې هم ښه ګزاره کوله او د ملک ضوء المکان فرمان ته په انتظار ناست وو.

سلطان زبلکان نو دلې پرېږده چي خپله سلطاني کوي، وزیر دندان پسي راواخله. وزیر دندان او قضی فکان چي رارهي سول، خوش خوش ئې لار وهله څو بغداد ته راورسېدل. پاچا ته ئې څوک ورولېږل او پخپل راتګ ئې خبر کړ. ملک ضوء المکان هم د خپل وزیر د هرکلي له پاره تر ښار راووت. کله چي د وزیر سترګي پر وموښتلې، غوښتل ئې چي له آسه راکښته سي، خو پاچا قسم ورکړ چي ستا دي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که به راکښته کېږي. دواړه خواوي سپاره یو بل ته نږدې سول. د سفر د ستړیاوو او دجوړوناجوړ پوښتنه ئې سره وکړه. پاچا د سلطان زبلکان د حال احوال پوښتنه هم له وزیر څخه وکړه.

وزیر د سلطان د جوړتیا او نور خیرخیریت اطمنان ورکړ او د بي بي قضی فکان د راوستلو زېری ئې هم پر وکړ. پاچا بیخي ډېر خوشاله سو او وزیر ته ئې وویل چي درې ورځي اسرهت وکړه او د سفر ستړیاوي دي واچوه. بیا دخیره سره دربار ته راحاضر سه. وزیر د پاچا فرمان ومانه او خپل سرای ته ولاړ او پاچا په ماښۍ ننووت چي له خپلي ورېرې قضی فکان سره وګوري. دا نجلۍ اته کلنه وه او پاچا ئې په لیدلو د زړه له کومي خوشاله سو. د دې په لیدلو سره ئې شرکان هم ور په یاد سو او د زړه ئې ارمان سو. نجلۍ ته ئې زرینې مرصع جامې وروبخښلې او امر ئې وکړ چي د خپل کاکا له زوی کان ماکان سره دي یو ځای سبق ته ادامه ورکړي او د روزني او ښووني کار دې پر مخ ووهل سي. قضی فکان چي وه، ډېره هوښیاره په ژبه پوه نجلۍ وه او پخپلو کارو ئې ښه پوره سر خلاصېدی. منګر کان ماکان چي وو، پر هغه باندي د ښو اخلاقو له خوا ختمه وه او جوړه ئې نه درلوده خو په کارو کي یو څه تنبل شانته وو. دواړو یو ځای سبق سره وایه. چي مخ دي راګرزاوه، دواړه لس کلن سول. قضی فکان به د خپل کاکا له زوی سره پر آس باندي سارا (صحرا) ته وتله د توري او نېزې لوبي به ئې زده کولې. یو دوه کاله نور هم پر تېر سول او دوولس کلنۍ ته دواړه ورسېدل. په دې وخت کي پاچا د جهاد په چارو بوخت سو، وسلې او نور سامانونه ئې سره برابر کړل.

باره ئې وزیر دندان راوغوښت او ورته وې ویل چي: "وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحبه! خیال مي دئ چي دا خپل زوی کان ماکان سلطان کړم. زه به د مقابلې کارونه پر مخ وهم او دی به د سلطنت. ته څه پکښې وایي او څه مشوره راکوې؟" وزیر دندان مځکه مچ کړله او د احترام مراتب ئې پر ځای کړل او ورته وې ویل چي: "اې زموږ سلطانه! ستاسي په رایه کي ویل نه ځایږي او بیخي ښه کار دئ. منگر په دا اوس وخت کي ئې په دوه اسیته ښه نه گڼم. اول خو دا دئ چي دا زوی دي کم سِنه دئ یعني عمر ئې لږ دئ او دوهم دا چي د اولنو خبره ده وایي د زوی سلطان کول، د خپل عمر راکمول دي". پاچا ول، چي داسي ده نو به ئې کوټوال (حاجب) ته ورسپارم. هغه زموږ د خپل کور سړی او اخښی مي دئ. خور مي ورته ناسته ده او ما ته د ورور په ځای کي دئ.

وزیر ورته وویل: "هر راز چي د پاچا خوښه وي، موږ ئې پر سر او پر سترگو منو". باره، پاچا کوټوال راوغوښت او د دولت نور غټان ئې هم راوبلل. هغو ته ئې وویل چي: "تاسي ته دي معلومه وي چي زما زوی کان ماکان د جنگ و جگړې په کار کي ساری نه لري او ما دی پر تاسي باندي سلطان مقرر کړ او کوټوال مي د ده وزیر وروټاکه". بیا ئې نو کوټوال ته مخ راواړاوه چي تاسي ټوله دي شاهدان یاستئ چي ما خپله وریره قضی فکان خپل زوی ته کان ماکان ته په نکاح کړې ده. باره ئې خپل زوی ته هم د دې فیصلې خبر ورکړ او خپل خور نزهت الزمان ئې هم په دې خیښي باندي خبره کړه. نزهت الزمان ډېره خوشاله سوه او وې ویل چي دا خو بیخي ښه کار وسو. دواړه مي اولادونه دي. بیا نو ضوء المکان خپلي خور ته وویل چي: "خوري! زما په دنیا کي د خدای احسان دئ، هر ارمان مي پوره سوی دئ. د زوی له بابته هم شکر دئ بېغمه سوم. نور مي نو دا خپل زوی او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور پر خدای سپارلي او تر خدای رالاندي مي پر تا سپارلي دي". د خدای پېښي دي، په دغه شپو ورځو کي چي ضوء المکان خپل زوی کان ماکان او خپله ورېره قضی فکان و کوتوال او نزهت الزمان ته وروسپارل، دی پخپله هم ناجوړه سو او ناروغي ئې پسې درنه سوه او د ځای ئې کړ او بستر ته ئې ورساوه. د رعیتو واکمني د کوتوال پر غاړه وه.

په دې ترڅ کي یو کال ووت. ضوء المکان چي دا خپلي ناروغۍ ته وکتله چي اوږده سوه، نو ئې خپل زوی کان ماکان او وزیر دندان راوغوښتل. زوی ته ئې وویل چي: "بچیه! دا وزیر ستا د پلار په ځای کي دئ. پوه سه چي زما اخیره ده او د ژوند شپې مي پر ختمېدلو دي. د دنیا ټول ارمانونه مي پوره سوي دي خو دا یو ارمان مي لا په زړه کي پاته دئ او هیله ده چي دا ارمان مي نو ته را پوره کړې". زوی ئې ځني وپوښتل چي کوم ارمان؟

ضوء المکان ورته وویل چي: "بچیه! زما مرگ وینې چي را نزدې دئ، خو ستا د نیکه ملک نعمان او ستا د کاکا ملک شرکان واری یا کسات و انتقام مي له ذات الدواهي بوډۍ څخه نه دئ اخیستی. خدای به کوي، ته به کوې او د خپل نیکه او اکا واری به نه پرېږدې او هرومرو به ئې اخلې. منگر، هو! د ذات الدواهي بوډۍ مِکر او چمبازۍ ته دي هم پام وي. هر څه چي وزیر دندان درته وایي، هغه به په ښې غوږ اورې. دی ستا د پاچهۍ ستنه ده". شهزاده ورته وویل چي هر څه چي پاچا امر وفرمایه، هغسي به که د خدای رضا وه، وسي. تر دې وروسته نو د پاچا ناروغۍ زور وکړ. ورځ تر بلي ئې حال بدتر کېدی. د مملکت کارونه د کوتوال پر غاړه وه. د پاچا ناروغي څلور کاله اوږده سوه او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دې ځلورو کالو کې د مملکت ټول کارونه او اوامر کوتوال اجرا کوله او رعيت ئې هم خوشال ساته. خو کان ماکان چې وو، ټوله ورځ دی وو او د اسانو سپارلي و نيزه بازي. دی او د کاکا لور قضی فکان چې به سهار په خړه سارا ته ووتل، د شپې ناوخته به کورو ته راستانه سول. قضی فکان به د خپلې مور کره ولاړه او کان ماکان به د خپلي مور کره. مور به ئې د پلار سر ته ناسته وه او ورته ژړل به ئې. کان ماکان به د شپې د پلار خذمت ته ولاړ وو او سبا به بيا هغه آش هغه کاسه وه، په شنه خړه به د کاکا له لور سره سارا ته ووت.**

**د ضوء المکان ناروغي بيخي ډېره اوږده سوه. يوه ورځ نامېندي ورته ودرېده او دا بيتونه ئې تر خوله راووتل:**

هـی، توبـه ! مـسلمانانو ،آه، هيهـات لـه زمـانې
جور و ظلم تې پای نسته د بېلتون شپې ئې اوږدې
زمـا د عمـر بېـړی وينـئ چـې ډوبېـږی او غرقېـږي
عـيش عـشرت رانـه پـاتېږي، غـم انـدوه ئـې راپـسې
دا خندانه ده غمدا ده زما پر شونډو چې ئې وينی
دا ژړانـــه ده، دا وينـــي زمـــا د زړه وهـــي دارې

**د دې بيتو تر ويلو وروسته ئې سر پربالښت کښېښوو، سترگې سره ورغلې او خوب يووړ. په خوب کې ئې وليدل چې يو څوک ورته ووايي چې: "زېری مي درباندي، زوی دې ټول جهان ونيو او تر خپل فرمان لاندې راووست". ضوء المکان چې له خوبه راويښ سو، زړه ئې ډېره بيداري کوله او د خوشالۍ نخښې ئې پر مخ ښکاره کېدلې. خو له مرگې څخه تېښته نسته، څو ورځی وروسته پاچا جامې کت کړې. د بغداد په خلکو کې يو لوی ماتم خپور سو، داسي ماتم ،چې د اوښې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومانو لا په زانگوگانو کي له ژړاوو څخه ځانونه ستخ کړل. څه زمانه وروسته د خلکو غم يو څه سپک سو او کرار کرار پاچا هم د خلکو له خاطرو څخه هېر سو. داسي هېر لکه ضوء المکان چي گرسره له موره نه وو پيدا سوی. زوی ئې کان ماکان هم د بغداد خلکو پسې واخيست او له تخته ئې معزول کړ. د کان ماکان مور چي په دې خبره سوه، باره کوټوال ته چي دغه وخت په بغدادکي د پاچهۍ پر تخت ناست وو، ورغله. که گوري چي هغه د پاچهۍ پر تخت ناست دئ . باره، د هغه ځايه څخه نزهت الزمان ته ورغله او ورته وويل چي: "په تاسي دي خدای د خوارۍ ورځ نه ويني او تخت و بخت مو تل برقراره اوسه. تا ته خو بهتره معلومه ده چي موږ پر پاچا باندي څومره گران وو او څونه مال و هستي ئې موږ ته رابخښلې وه. اوس زموږ د بخت کاسه نسکوره سوې ده او د بل لاس ته محتاج سوي يو. اوس ستا د مرستي په اميد دلته راغلې يمه". تر دې خبرو وروسته ئې خپلي اوښکي تکيه نکړای سوې او تر سترگو ئې راوبهېدلې او پر څنگ ئې دا بيتونه هم ورسره زمزمه کړل:

بنــــه پـــــو هېږم نــــه ټيټېــــږي ککــــرۍ د ســــردارانو
کــه ئــې لــږ څــه نــوک څرخېــږي، تمــه نــه کــوي يــارانو
د احتياج دي کور خراب سي، هسک سرونه ځوړند کاندي
د غــرور مغــزي کــاږه کــړي، سـي پــه شــمار د ســائلانو
چي کاسه د بخت چپه سي، همت هم سي نوکي نوکي
پــه احتيــاج کــي سيالان لــوېږي لــه سيــاليه د سيالانو

نزهت الزمان چي دا خبري واورېدې، باره ئې ضوء المکان ته دوعا وکړه او د کان مکان مور ئې څنگ ته نزدې کښېنوله، د زړه ډاډ ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړ او ورته وې ويل چې د دنيا کارونه همداسې وي. نن ته احتياج يې او موږ ته خداى هر څه راکړي دي. دا چې ستاسې پوښتنه مې نه ده کړې، خامخا به دي زړه درته لږ سوى وي. اوس که يو سوغات درولېږم ، نه ګانه چې ته ئې خيرات و نه ګڼې. حقيقت خو دا دئ چې دا زموږ ټوله ارګاه وبرګاه، مال وشتمني ټوله ستا د مېړه يا خاوند له اسيته موږ ته رارسېدلې ده. آبس، باره ئې ښې سنګينې جامې په واغوستې، خپلې ماڼۍ ته نزدې ئې يو سراى ورکړ او نور نو د کان ماکان او د هغه د مور خولۍ په غوړو کې سوه. په شهزاده ئې د پاچهۍ جامې واغوستلې او مينځياني و نوکراني ئې و خدمت ته ورته وګومارلې. نزهت الزمان د خپلې وريندارې بيان و خپل مېړه ته هم وکړ او د دوى پر حال ئې وژړل.کوتوال ورته وويل چې که غواړې د ښو نوم دي په دنيا کې ولاړ سي، له نورو سره ښه کوه. ته هم له خپلې وربنداري سره ښه چلند کوه... کيسه چې دې ځاى ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او اته دېرشمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چې:

د نزهت الزمان مېړه و نزهت الزمان ته وويل چې له خپلې وربنداري سره دي ښه کوه. هر څه ته چې اړه وي، ورکوه ئې. آ ښه، تاسې ته دي خداى نېکه ورځ در په برخه کړي نزهت الزمان دوى نو پرېږده پر خپل حال باندې، د کان ماکان بيان پسې راواخله. کان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ماكان او د كاكا لور ئې قضى فكان د پنځلسو كالو سول. قضى فكان داسي ښايسته نجلۍ وه چي ګل پوري نښتى. سوروسپين مخ، سپين مړوندونه، نرۍ ملا، جګ قد و اندام، بس نو څه درته ووايم، مخ ئې لمر شا ئې سپوږمۍ وه. هغه د شاعر خبره چي ويلي ئې دي:**

توري زلفي ئې تور مشک دي له کشمېره څه راغلي
د رخسار سپيني شوغلې ئې اسمانونو ته ختلي
د وامق و د مجنون په شان ئې ډېر عاشقان ګرزي
داستانونه د عذرا و د ليلا ئې ټول هېر کړي

**پر كان ماكان باندي هم په ښايست كي ختمه وه. داسي جمال خداى وركړى وو، چي خور پر مينېدله. له تندي څخه ئې د شجاعت او مېړاني نخښي له ورايه ښكارېدلې. نريو بريتو ئې داسي خوند ورسره كاوه چي هغه د شاعر خبره:**

خط پر مخ د صنم راغى كه سپوږمۍ شوه په هاله كښې
دا ئې غاښ په خوله كښي زېب كا كه ژاله شوه په لاله كښي

**د خداى شپې و ورځې دي تېرېږي، د اختر په يوه ورځ قضى فكان د خپلو خپلوانو كره د اختر مباركۍ په نيامت له كوره راووتله. نوكراني و سهيلياني ئې پر څنګ ورسره رواني دي. د ښكلي مخ جلوو ئې د كوڅې ټوله فضا نوراني كړې وه او د ناز و نخرو تګ ئې د نر او ښځو زړونه له ځايه بې ځايه كړي ول. كان ماكان ئې پر څنګ ورسره روان او دوې سترګي ئې د دې د حسن په ننداره كي ښخي كړې وې او دا بيتونه ئې ورته ويل:**

اې سپوږمۍ د څورلسمي! زړه مي د ركړ، تا را نه كړ
ميني يو مخ لېوني كړم، د زړه راز مي رسوا نه كړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه مي پلار ستاسي غلام وو، نه مي مور وه ستاسي مینځه
زه مريي ستا د درگاه سوم، حق مي هیڅ ادا نه کړ

قضی فکان چي دا بيتونه واورېدل، سره وخښمېدله او دی ئې ډېر ملامت کړ او په خښمېدلې لهجه ئې ورته وويل چي: "ستا ايداد ئې پر ما پور، چي کور ته ولاړسو، بيا دي نو حال گوره!" کان ماکان چي د خپلي معشوقې دا تهديدآمېزه خبري واورېدې، ده ته هم خښم ورغی او مرور سو، له نیمي لاري بيرته کور ته راوگرځيد. قضی فکان هم پسې راغله او ماڼۍ ته ننوتله. سمدلاسه ئې خپلي مور ته د کاکا د زوی له لاسه شکايت وکړ.

مور ئې وويل چي: "لوري! هغه خوارکی يتيم هلک دئ، په بده ئې دا خبره نه ده درته کړې. هوښ کوه چي دا خبره بل چا ته و نه کړې، نه گانه چي سلطان خبر نه سي او خدای مه کړه د کاکا د زوی ژوند ته دي د سلطان له خوا خطر پېښ نه سي. خدای مه کړه بلي دنيا ته به ئې استولی وي او سنه به ئې ورختمه کړې وي".

څه سردي پر له گرزوم، د نکل کار دئ، د کان ماکان او قضی فکان د مینې خبري په هر مجلس کي کېدلې. ښځمنو خو بل بيان نه درلود بې له د دوی د مینې او عشق له داستان څخه. خو کان ماکان په زړه کي سره خوړل کېدی، چورت ئې خراب وو. نور ئې نو تر وس تېره وه غوښتل ئې چي خپل پټ راز ميدان ته راوباسي او له بېلتانه څخه په شکايت شرو وکړي. خو بلي خوا ته چي به ئې وکتل د قضی فکان له خښمه په بېره او واهمه کي وو او دا بيتونه ئې ويل:

زړه مي غواړي زړه مي غواړي ستا د مینې مجلسونه
معشوقه ده رانه ليري زړه مي ډک له شوا خونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړګـــي ډکـــي اوريځـــي اوروي بـــاران د اوښـــکو
زما د عشق پټې شنه نه سول، تش پراتـه دي وچ ډاګونـه
معـــشوقه ده کبرجنـــه، نـــه مـــي بـــولي د زړه کـــور تـــه
د رقيـب لـه ويـري زه هـم، نـه سم کـړای ورتـه سـوالونه

**... کيسه چي دې ځای ته ورسېده ...**

د سهار شمال را والوتی روڼا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او نهه دېرشمه شپه

**شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:**

**کله چي د بغداد سلطنت کوتوال ته ورسېد او دی ئې ملک ساسان وباله. څه موده لا نه وه تېره چي له قضی فکان سره د کان ماکان د ميني خبري د سلطان غوږو ته هم ورسېدې. باره خپلي ماينې نزهت الزمان ته ورغلی او ورته وې ويل د دغه هلک و نجلۍ يو ځای ګرځېدل خو زما نه خوښېږي او ما ته راز په راز اندېښنې په زړه کي رالوېږي. دا وراره خو دي اوس شکر ځوان مېړه دئ او ښځي خو د نارينه له لاسه په امان نه دي. خير به مو په دې کي وي چي کان ماکان له قضی فکان څخه منعه کړو او قضی فکان دي نور له ده څخه په حجاب کي ګرځي".**

**نزهت الزمان ورته وويل چي دا خو دي رشتيا خبره وکړه. آبس، سبا چي کان ماکان له خپل عادت سره سم خپلي ترور نزهت الزمان ته راغلی، سلام ئې واچاوه او ترور ئې سلام وربيا کړ. باره ئې ترور ورته وويل چي يوه خبره مي په زړه کي ده، که څه هم نه مي غوښتل چي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



درته وئې کړم خو نن ئې درته کوم. کان ماکان ورته وویل: "کمه خبره ده، چې ته یې راته کوې؟"

نزهت الزمان په جواب کې ورته وویل چې: "پاچا له قضی فکان سره ستا په مینه غوړېدلی دئ او امر ئې کړی دئ چې هغه دې نور ستا ښخه مخ پټوي". اوس که ستا له هغې سره څه کارمار وي، باید چې د دروازې له شا ښخه ورسره خبرې وکړې او نور هغې ته کتلای نه سې. کان ماکان چې د ترور دا خبرې واورېدلې، هیڅ ئې و نه ویل او سیده واووت او د ترور خبرې ئې خپلې مور ته وکړې. مور ئې ورته وویل چې دا ټول کارونه ستا د ډېرو خبرو له اسیته پېښ سوي دي. په هر ځای کې چې کښېنستې، بله خبره دې نه وه، بې له قضی فکان ښخه. ستا په کیسو باندې ټولو نر او ښځو شخوند واهه. دا خو هم د خدای لار نه ده چې ته د دوی پر نمک ناست یې، د دوی ډوډۍ خورې او له لور سره دې بیا تار اچولی دئ او مینه ورسره کوې.

کان ماکان ورته وویل، چې داسې ده، نو په حلاله نکاح به ئې وغواړم. هغه مې د ترور لور ده او زه هم تر بل هر چا د دې له پاره مناسب ځوان یم. مور ئې ورته وویل چې دا خبرې مه کوه. سبا به ملک ساسان خبر سوی وي او تا ته به کمه ټکه مکه پېښه سوې وي، پر مور به ئې د شپې رزق وروزي درولې وي. که نه ګانه مور له دې ښاره پسې واخلې، نو بیا خو د غم اوښ راته چو سو او له لوږې به مړه سو. کان مکان چې د مور دا خبرې واروېدلې، غم ئې یو په دوه سو او دا بیتونه ئې له ځان سره زمزمه کړل:

زړه تـې مـه اچـوه مـوري! چـې لـه مینـې بـه تېرېـږم
مـا تـه مـه وایـه پند ونـه، ګراني مـوري نـه ستنېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چي عقل ته تسليم واى، نو مي مينه څه کوله؟
زړه مي ور د عشق اخيستى، په ښه بد نو ر نه پوهېږم
نه مي زړه په پند راګرزي، نه بېرېږمه له لوړي
ښه پوهېږم لوى درياب دئ، خو ناچار يم په ګډېږم
دا به هم د خداى لار نه وي چي پر مينه کړم تا هېره
نو به هم خپل عشق پالمه، هم به ستا په درد رسېږم

دا بيتونه چي ئې وويل نور ئې مخ مور ته ورواړاوه چي: "موري! نور له ترور او د هغو له ډلي سره زموږ ګوزاره سخته سوه. مجبوره يم چي له دې ماښې څخه ووزم او تر ښار دباندي له کوم چا سره د ګاونډي په توګه واړوم". دا ئې وويل او له ماښې څخه ووت او تر ښار دباندي ئې يو ځاى له يو چا سره د همسايه په حيث واړوله. خو مور ئې د ملک ساسان کور ته د پخوا په شان تګ راتګ کاوه او له هغه ځايه ئې د خورک دونه څه راوړل چي دا او زوى ئې له مرګه په راوګرزي. يوه ورځ قضى فکان د کان ماکان له مورسره په يوه پټ ځاى کي مخامخ سوه.

قضى فکان ورته وويل چي: "کاکاناوي! د زوى حال دي لرې، څرنګه دئ؟" د کان ماکان مور ورته وويل چي: "غمجن او ژړاند دئ. ستا په مينه کي بند او په تا پسي لېونى دئ". قضى فکان د دې خبري په اورېدو سره په ژړا سوه او وې ويل چي: "په هغه خداى که زه د نامهربانۍ له وجي له ده څخه ګوښه سوې يم. زه پر ده باندي وبېرېدم چي دښمنان يو څه په و نه کړي. زما هم له ده سره زر چنده مينه سته. که دى يو څه په خوله کي سست نه واى او خوله ئې لږ څه په واک کي واى، پلار مي پر ده باندي خپل احسان او وسيله نه بندوله او دى ئې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منعه کاوه. خو زه خدای ته امید لرم چې دا بېلتون به یو وخت په وصال بدل سي" . قضی فکان چې دا خبري وکړې، باره ئې تر سترګو اوښکې راغلې او دا بیتونه ئې زمزمه کړل:

دا غمجنې شپې و ورځې بـه سـي تېـري زمـا ګلـه
زما یقین دئ چې به شونډې زموږ ورسي یو لـه بله
زړه لـه میني نـه راګرزي او رد عـشق هيڅ نـه سرېږي
دا تیـاره بـه رونـا کېـږي، خـود بـه نـه وي تـل تـر تلـه

د کان ماکان مور د دې پر خبرو آمین ووایه او دې ته ئې دوعا وکړه. باره ئې نو دا حال خپل زوی ته هم بیان کړ. کان ماکان د دې په خبرو لکه ګل داسي وغوړېدی، وې ویل چې زه خو خپله معشوقه پر یو زر حورو هم ولاکه ورکړم. ده هم دا بیتونه له ځانه سره وړغول:

پـه څلور کونجـه دنیـا کـي ستـا پـه شـان نسته آغلـې
د جنت حـوره بـه نـه وي، هـم دا ستـا پـه شـاني ښـکلې
چي سبا دي پـه جنت کـي حـوري حسـن تـه وګـوري
که انصاف لرو ورسره وي، باید کونج کـي کښېني غلـې

په دې مابین کي څه زمانه تېره سوه او کان ماکان د پخوا په شان د بېلتانه په اور کباب ژوند تېراوه. اوس نو د اوولسو کالو زلمی وو، خو بېلتانه داسي سره نښتېځلی وو چي په شپو شپو به ئې سترګه لا هم نه وي پټه کړې. یو ورځ ئې له ځانه سره چورت واهه او ویل ئې چي تر څو به داسي د میني په اور کي سوی ګرزم او خپلې آرزو ته به نه رسېږم. زه خو بل عیب نه لرم ، بس تش لاس مي دښمن دئ. نو ښه به دا وي چي د کاکا د لور له ښاره څخه لیري کم ځای ته ولاړ سم چي دا هم زما په فراق کي له ژوندانه څخه لاس پر سر سي. د چورتونو دغه راز

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هښمي ئې په مغزو کي ګرزېدلې او په خوله ئې دا بيتونه ورسره ويل:**

ځمه ځمه ګراني ځمه، زړه مي ډک په ځګرخون
توان مي نه کېږي پر مځکه، څه کانې دي د جنون
راڅه پاته دا ژوندون دئ، راڅه ورکه مي ځواني ده
زما قد لکه الف وو، ميني خم کړ لکه نون
خو د ميني دنيا بله، د عشاقو قانون بېل دئ
په دې ښکلې دنياګۍ کي، پاچهي ده د مجنون

**آبس، کان ماکان په يوه کميس و پرتوګ کي لڅي پښې و سرتور سر له کوره څخه په نيمه شپه ووت. يوه وچه د درو شپو سړه ډوډۍ ئې ورسره واخيستله او مخ پر بيابان رهي سو. د بغداد ښار دروازې ته چي ورسېد، دروازه تړلې وه. دی هم ورته معطله سو. سهار چي په شنه خړه دروازه وان دروازه خلاصه کړه، اول سړی چي له ښاره ووت، هغه کان ماکان وو. ده د دښت و سارا لار په خوله ورکړه. تلی، تلی، تلی، څو شپه پر راغله. هلته ئې مور اريانه په ده پسي ګرزېدله، هر څه توري تپي چي ئې وکړې، زوی ئې پيدا نه کړ. دنيا ټوله يوه الغه سوه او د دې په غاړه کي ولوېدله. زبون ئې بند سو، له څکي ولوېدله. لس ورځي ئې انتظار وکيښ، د زوی درک و خرک ئې معلوم نه سو. په ډېرو ژړاوو و بوغارو نوره ستخ سوه. لکه لېونۍ د ځانه سره به ګډه وه او ويل به ئې چي اې زويه! زما غم خو دي رادوباجه (دوه چنده) کړ. زه دي په دې خوارۍ و دربدرۍ، يوازي يکي تنها په کور کي پرېښوولم. زه اوس په تا پسي چيرته ولاړه سم؟ کم ښار درپسي ولټوم؟ له چا څخه پوښتنه وکړم؟ په دغه ګروم او ژړا کي به ئې دا بيتونه ويل:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي تـه نـه يـې پـر دې مېنـه، نـور ژونـدون بـه څـه کـوم
چي ستامخ نه سواى ليداى ستر ګي ليدون به څه کوم
هغه شپه چي ته رهي سوې زما د اوښکو سېل جاري دئ
دا رودونــه چــي بهېــږي نــور جيحــون بــه څــه کــوم
خسماني تـه ئې نه غواړم، بې لـه تـا زمـا ګرانـه زويـه!
مـرګ د خـداى حقـه کاسـه ده، دا بېلتـون بـه څـه کـوم
چــي شــړل دي زمــا لــه ســره د اجــل درنــې لــښکري
چي ستـا تـوره و سپر نـه وي نـور شبخون بـه څـه کـوم
زما په سر دي اورپسې سي، غمګي ستا دئ چي ژړېږم
چــي تــه نــه يــې، دا نغــرى، دا اورلــړون بــه څــه کــوم

وايــي درد د بېلتانــه تــه ښــه درمــل صــبر و زغــم دئ
منګــر زمــا دا ازمويــښت دئ، دا آزمــون بــه څــه کــوم

**څه سر دي پرله ګرزوم، دې ښځي دونه (دومره) ژړاوي او بوغاري وکړې چي آخر په ټول ښار کي د دې د غم اوازه خپره سوه. خلکو به ويل چي آ، ضوء المکانه، چيري يې؟ دا ته د ګوربندي يې چي پر زوى کان ماکان دي داسي بده ورځ راغلې ده. له وطنه ورک دئ او خواره مور ئې په فراق کي زاره تره کې، زاره چاودې ناسته ده. دا خبري تر ملک ساسان پوري هم ورسېدې ... کيسه چي دې ځاى ته ورسېده ...**

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادي کيسه پاتـه تر سبا سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو سل او څلوېښتمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

د ملک ساسان د دربار لويانو چي د کان ماکان په حال باندي سلطان خبر کړ، نو ئې ورته وويل چي دا هلک خو زموږ د پاچا زوی او د ملک نعمان لمسی دئ او اوس اورو چي هغه په داسي غربت او بېچاره ګۍ کي ژوند کوي، نو د دې خو يوه چاره په کار ده. ملک ساسان چي د خپلو درباريانو دا خبري واورېدلې، نو ئې د ضوء المکان هغه ټولي نېکۍ او ښهاني ستر ګو ته جګي ودرېدلې، چي له ده سره ئې کړي وې. باره ئې چورت ډېر خراب سو. امر ئې وکړ چي دا هلک بايد هرومرو پيدا سي. امير ترکاش ئې له سلو تنو سپرو سره پسې واستاوه چي درک ئې معلوم کړي.

لس ورځي وروسته امير ترکاش خالي لاس راستون سو او وې ويل چي هيڅ درک و کرښپل ئې ورمعلوم نه سو. د دې خبر په اورېدلو سره ملک ساسان ډېر خوابدی سو او د کان ماکان مور خو له ډېره غمه بيخي چورلېونۍ سوه. دوی نو پرېږده چي په کان ماکان پسي اوښکي تويوي، پخپله کان ماکان پسې راواخله چي پر ده څه راغلي او تېر سوي ول.

کان ماکان چي له بغداده ووت، دښت ئې په خوله ورکړ، درې ورځي ئې يکې تنها ښه ډېر مزل وکړ. پر لاري نه سپور په مخه ورغی نه پلی. هغه وچه کلکه سړه ډوډۍ خو ئې په اوله ورځ تمامه سوه. دا نوري دوې ورځي ئې د وښو او شنه ګياه په خورک ګوزاره وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلرمه ورځ دا دئ یوه تک شین چمن او شین کوړم سیمي ته راورسېدی. باره ئې د پلار ښار ور په یاد سو او د زړه له شنوختته ئې دا بیتونه وویل:

شپې او ورځي د دنیا دي، پرله اوړي او تېرېږي
خو پر ما باندي چي راسي مروري سي پڅېږي
ته به وایې چي اسمان راسره قول و قسم کړی
وای چي زه پرله ځرخېږم، ستا ماغزه دي هم ایشېږي

تر دې بیتو وروسته ئې له چمن څخه یوه چمبه واښه پرې کړل او وې خوړل، بیا ئې د روانو اوبو پر غاړه اودس تازه کړ، د خدای فرض ئې پر ځای کړل. هورې ئې په هغه چمن کي څنګ ورته واچاوه. د څو ورځو ستړی وو، ښه دمه ئې وکړه. آخر شپه پر راغله. هورې پسې بیده سو. نیمه شپه وه چي له خوبه راپاځېد او سترګي ئې روڼي کړې، د یو چا ږغ ئې واورېد چي دا بیتونه ئې ویل:

څه ښه پسرلی وو چي مي یار راسره مل وو
ژوند ټوله خوښي وه پر غمونو ئې یرغل وو
خوښ خوشاله ناست دي په کورو کي سره خاندي
نه کوم ګیله، د دوی بخت خپل دئ زما دا خپل وو
اور د بېلتانه چي مي پر سر دئ لګېدلی
هجر ئې مه بولئ بس کټ مټ ته وا اجل وو

کان ماکان چي دا بیتونه واورېدل، د غم پېټی ئې یو په سله پر اوږو باندي درونډ سو، بې اختیاره ئې تر سترګو اوښکي راغلې، په زړه کې ناولی لاس ووهل سو. راولاړ سو چي د دې ږغ څښتن پیدا کړي. تکه توره تاریکه وه، هیڅوک ئې و نه لید. باره خوب هم ځني ولاړ. له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله ځایه رارهي سو د چمن په څنګ کي د یوې ویالې پر غاړه کښېنوست. په دغه وخت کي ئې هغه شناخته اواز تر غوږ سو، خو دا وار ئې په یو څه لوړ آواز دا بیتونه ویل:

زه مین پر هغه چا یم چي ئې سترګي تکي توري
چي ئې زلفي زما د زړه په شان زنګېږي هیسته دوري
خدایه څونه اوږدې شپې د بېلتانه تا پیدا کړي
زه حیران و دا خپل زړه ته چي بې یاره څنګه ښوري
چي یادونه مې پر زړه سي هوسونه په نڅا سي
چي جفا ئې را په یاد کړم، لو بلا ده راته ګوري
له سرو اوښکو نه مي جوړ سوله سیندونه و رودونه
د زړه وینې مې خوټېږي، د غم اور رابانديي اوري
دا غاټول چي تاسي وینئ، زما په وینو اوبه سوی
دا اوریځي چي پاس ګرزي، اسوېلې دي زما سرخوري
هی توبه ئې تر بترو، نوري سختي سته په مځکي
دا لا اوس د پېټي سر دئ، سختۍ نوري دي لا نوري

کان ماکان چي دا بیتونه واورېدل او د هغو ویونکی ئې پیدا نه کړ، نو ئې له ځانه سره وویل چي دا هم زما په شان عاشق دئ، له وصاله څخه نامېنده سوی دئ او مخ ئې پر بوښو نیولی دئ. باید هرومرو ئې پیدا کړم. ودي سي چي یو له بله سره انس پیدا کړو. یو د بل په حال سره خبر سو، یو بل ته د خپل بېلتانه حالونه ووایو او خپل غمونه سره سپک کړو. باره ئې وروږغ کړه چي: "آ، د توري شپې ملګرې! دلته نزدې راسه. خپله کیسه دي راته وکړه. ښایي چي مرسته درسره وکولای سم او د غم پېټی دي لږ څه درسپک کړم". د آواز څښتن د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هاخوا راناري کړه: "آ، سړیه! ځان راوښیه، انسان یې که پېری؟ دمخه تر دې چې هلاک سې، جواب راته ووایه. زما نن شلمه ده چې په دې دښت و بیابان کي گرزم. ما د انسان بږغ تر غوږو سوی نه دئ. که پېری یې، ځه، خپله لار دي وهه او که انسان یې، تر سهاره پوري صبر وکړه".

آبس کان ماکان پر هغه ځای باندي معطله سو. د سهار روڼا چي خپره سوه او لمر راوخوت، د برایي شپې د اواز ښتن ئې ولید چي یو سارایي سړی دئ. کان ماکان وروړاندي سو او سلام ئې ورواچاوه. سارایي ئې سلام بیا کړ. خو چي د کان ماکان کم سن، زړو جامو او ځیرو گرالبو ته ئې وکتله، تر نظر ئې سپک معلوم سو او ورته وئې ویل چي: "اې ځوانه! ته د عربو د کومي طایفې ښخه یې او په دې تکه توره شپه څرنگه راوتلی یې؟ دا خو د زړه ورو خلکو کار دئ، او برایي چي مي ستا خبري واورېدې، دا خو د هنرمندانو او دلاورانو خبري وې. ته اوس زما سره اسیر و بندي یې. خو دا چي عمر دي کم دئ، نو بخښم دي خو دلې دي له ځانه سره د نوکر په توگه ساتم". کان ماکان چي د ده خبري واورېدې، پوه سو چي سارایي د کوم غریب چا خیال پر کړی دئ. باره ئې ورته وویل چي: "اې د عربو سرداره! ته زما په کم عمر کي ری مه وهه او زه هم له خدمتگارۍ ښخه نه تښتم. خو دا راته ووایه چي په دې بڼي بیابان کي پر څه داسي یکي تنها گرزې او بیتونه وایې؟"

سارایي ورته وویل: گوره ځوانه! پوه سه چي زه صباح بن رماح بن همام یم. په خټه د شام عرب یم. یوه د کاکا لور لرم چي نجمه نومېږي. داسي رنگ و سکه خدای ورکړې ده چي په کتلو ئې روح تازه کېږي او په خندا ئې په چا اور لگېږي. پلار مي دي خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبخښي، کله چي دی مړ سو، زه خپل کاکا يعني د همدغي نجمې پلار په بغل کي ونيولم او رالوی ئې کړم. دواړه سره رالوی سوو. خو څرنګه چي زه غريب و بېوزلی وم نو دا ئې راڅخه پټه وساتله. ما د قبيلې لويان او د عربو مخور د کاکا لور ته د مرکې په نيامت ورواستول چي ما ته ئې راوغواړي. کاکا مي د دوی خبره نه سوای ورماتولای، نو ئې ومنله او نجمه ئې ماته راکړله. خو دا شرط ئې کښېښوو چي په ولور کي به پنځوس اسان، پنځوس اوښان، لس مريان، لس مينځي، پنځوس باره غنم او پنځوس باره اوربشي راکوي. دا ولور ئې ځکه داسي درووند کښېښوو چي دی پوهېدی چي دا زما تر وس تېره خبره ده. نو دغه سبب دئ چي زه له شام څخه د عراق پر لور رارهي سوم او دا نن مي شلمه وه چي په دې بټې بيابان کي روان يم. له تا چپه مي بل بنده په سترګه سوی نه دئ. خيال مي دئ چي بغداد ته ولاړ سم او هر وخت چي له بغداد څخه د يوه غټ سوداګر قافله راووتله، زه به په پسې سم، سړي به ئې ووژنم او مالونه به ئې ځني واخلم او اوښان به ئې له بارو سره يوسم. سارايي چي خپل بيان وکړ نو ئې مخ پر ده راواړاوه چي اوس دي نو ته خپل نکل راته وکړه چي څوک يې؟

ده ورته وويل چي زما کيسه هم ستا نکل ته ورته ده خو زما غم ستا تر غم زيات او زما کار ستا تر هغې غټ دئ. په دې چي زما د کاکا لور پلار پاچا دئ او دا شيان چي تا وويل، د هغه له پاره کفايت نه کوي او غاړه نه په باسي. صباح ورته وويل چي هلکه! داسي معلومېږي چي يا بيخي شوده و بې عقل يې، يا به نو مخ درلګېدلی وي او له ډېره عشقه به لېونی سوی يې. نو ستا د کاکا لور چي شهزادګۍ ده، ته ولي داسي د بلا په ټکي لړلی يې؟ زه خو په تا کي د پاچهانو نښانې نه وينم. يو خوار

(c) ketabton.com: The Digital Library



لغړ هلک يې، ستا و د شهزادګۍ ئې سره څه؟ کان ماکان ورته وويل چي اې سارايي! دا نو د دنيا کارونه دي.

زمانــــه ده دا ئـــې کـــار، دا ئـــې روزګـــار
ګـاه دي غـټ کـړي پـه عـزت کلـه دي خـوار
چي اسمان چپـه غوبـل دربانـدي جـوړ کـړي
بيا نه ګوري چي دا څوک، او څوک ئې پـلار

نوکه غواړې چي ما وپيژنې، نو زه کان ماکان نومېږم د ضوء المکان زوی او د بغداد و خراسان د پاچا ملک نعمان لمسی يم. زمانې راسره جفا کړې ده او زما د پلار و د نيکه پاچهي ئې ملک ساسان ته ورکړې ده. زه له بغداده د شپې راووتلم چي څوک راخبر نه سي. دا شل ورځي په دغه بتهی بيابان کي روان يم څو دا دئ ته راباندي پېښ سوې. زما و ستا کيسه سره ورته ده.

صباح چي دا خبري واورېدې، لو چيغه ئې تر خولې ووتله او وې ويل: "بس، اوس مي چټهی مهر سوه چي ته زما لاس ته ګرو ولوېدلې. ځکه ته که څه هم د غريبانو په جامه کي يې خو د پاچهانو اولاده يې. خپلوان دي ستا په ورکه هرومرو خپه دي. که په دې پوه سي چي ته دلته يې، ناچاره دي چي په عوض کي به ډېرمالونه په فديه کي راکړي. زه به ستا پښې و لاسونه دروتړم او وربه دي ولم". بېوزلي شهزاده ورته وويل چي: "يا اخ العرب! دا خبري پرېږده، د دښمنۍ لار مه اخله. ما ستا څخه څوک په سرو و سپينو نه رانيسي. زما سره اشنايي واچوه. د عراق له خاوري به ووزو. خدای مهربانه دئ، خپل مقصد ته به ورسېږو. دواړه به د خپلو کاکاګانو له لوټو سره يو ځای سو".

صباح چي دا واورېده، له ډېره خښمه څخه سور و شين واوښت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وې ويل: "شوده سړيه، ته لا غټې غټې خبري هم کوې. لاسونه دي رانږدې کړه چې دروئې ترم. که دي رانږدې نه کړل، په ځان پوري خو دي ولا حيران کړم". کان ماکان ورته ومسل او وې ويل: "لاسونه مي پر څه راتړې. په تاکي لکه چې د مېړاني هيح اثر نسته. ته د عربو له پېغوره نه بېرېږې چې يو ځوان ناحقه په ناحقه بندي کوې. نه دي په ميدان کي ورسره معلومه کړې ده او نه دي په دې کي فکر کړی دئ چې آخر، دی خو به هم پر اينه تريخی لري کنه؟"

صباح په خنداسو، ول: "کوچنی مي نه ليدی او دونه غټې خبري. دا خبري خو له دلاورو سره ښايي". کان ماکان ورته وويل چې د ځوانمردۍ لار دا ده چې ته دي دا وسله ايسته کړه، جامې دي وکاږه او راځه چې غېږ سره وباسو. هر څوک چې غوزار سو، هغه به د دا بل نوکر وي". صباح په کټ کټ وخندل، ول: "ياره لکه چې اجل دي پوره سوی دئ". باره ئې وسله هيسته وغورځوله، پايڅې ئې را پورته کړې، لستوڼي ئې راوغښتل او کان ماکان ته راوړاندي سو او په غېږ سره ورغلل. سارايي ته په دا اول ځرخ کی ورمعلومه سوه چې حريف ئې تر ده څو کوټې بالا دئ. د ده زور د هغه و زور ته داسي ايسېدی لکه په "ايکي کي غاز". د حريف پښې ئې لکه دوه غرونه چې پر مځکه ولاړ وی. سارايي پوه سو چې له ده سره ئې په وس نه ده پوره. په زړه کي پر دې کار هم ډېر پښېمانه وو چې ولي ئې وسله له ځانه ليري کړې ده. په دې وخت کي کان ماکان پر زينګي پورته کړ، په مړوند کي ئې داسي ټينګ کښېکيښ چې پوښتۍ ئې يو بل ته سره ورغلې او کولمې ئې سره تاو سوې. چې اوس ئې نو له مځکي راويشت، د سارايي بوغاري سوې، ول: "ځوانه! ايله مي که". کان ماکان هم له مځکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپورته کړ او غوښتل ئې چي ويالې ته ئې وروغورځوي.

سارايې چيغي کړي چي: "ځوانه دا څه راکوې؟ کان ماکان ورته وويل چي په دغه وياله کي دي اچوم چي د دجلې رود ته دي ورسوي، د دجلې رود دي بيا د عيسى ويالې ته يوسي، د عيسى وياله دي تر فرات سينده پوري ورسوي او فرات دي خپل وطن ته يوسي. هلته به دي خپله طايفه وپېژني او ستا زړه ورتوب به هم ورمعلوم سي. صباح زارۍ و جګۍ ورته شرو کړې چي: "مه کوه، ځوانه پرې مي بږده. د خدای روی مي دروړی دئ، پرې مي بږده". کان ماکان پرېښوو او خوشي ئې کړ. سارايي چي ځان ته وکتل، د توري و سپر خوا ته ئې هڅه وکړه. هغه ئې راواخيستل او په دې سوچ کي وو چي بريد پر وکړي که يا؟

کان ماکان ئې په نيت پوه سو او ورته وې ويل: "درپوهېږم چي غوارې څه وکړې؟ توره و سپر چي په لاس درغلل، په زړه کي دروګرزېدل چی په غېږ کي خو مي زور په و نه رسېد، راسه د توري بريد پر وکه". زه دا وخت هم درکوم چي بيا دي په زړه کي ارمان پاته نه سي. خو داسي وکه چي سپر ما ته راکه او توره ته واخله او حمله رابانديي وکړه. يا به دي مړ کړم يا به مي مړ کړې." باره سارايي سپر ورکړ او په توره ئې سخت بريد پر وکړ. سارايي د توري واري پر کوي او کان ماکان ئې په سپر دفع کوي. په دغه زور ازمويلو کي سارايي له اخ و ټوخه ولوېد. نور ئې نو په موټه کي سبک پاته نه سو. کان ماکان چي وکتل، په حريف کي ئې نوره شمه نه ده پاته، زياتي ئې پورته کړ او له مځکې راوويشت. د توري د ټوکره په پوښ ئې لاسونه ټينګ وروتړل، باره ئې تر پښې ونيو او د ويالې خوا ته ئې کش کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صباح ورته وويل چي: "اې زړه ور او نامي ځوانه! غواړې څه راوکړې؟" کان ماکان ورته جواب ورکړ، چي نه مي درته ويل چي د دغي ويالې له لاري دي خپل قوم و ته‌ېر ته استوم. وام نه ګانه سترګي پر لار به وي او دغه راز دي د کاکا د لور فراق هم اوږد نه سي". صباح ورته په ژړا سو او زارۍ ئې ورته وکړې چي: "اې نامي او غښتلې ځوانه! مه کوه، دا کار مه کوه. ما پخپلو مريانو کي وشمېره". په داسي حال کي چي اوښکي ئې تر سترګو بهېدلې، دا بيتونه ئې وويل:

پر بدي باندي نېکي خورا ښه کار دئ
د نېکـــانو مېړنـــو دغـــه کـــردار دئ
تـه نېکي ورسره کړه که چا بدي کړه
همدغه سزا ئې بس چي شرمسار دئ

آبس، د کان ماکان هم زړه پر وسوځېد او ټينګ عمدوپيمان ئې ځني واخيست چي د لاري سمه ملګري به ورسره کوي. باره ئې دی خوشي کړ. سارايي غوښتل چي د کان ماکان لاس ورمچ کړي، کان ماکان نټه وکړه. باره سارايي خپله بنۍ خلاصه کړه او درې دانې اوربشيني ډوډۍ ئې راوايستلې. دوی دواړه کښېنستل او ډوډۍ ئې وخوړه. وروسته ئې اودس مودس تازه کړ او لمونځ ئې وکړ. تر لمانځه وروسته ئې د دنيا د جفا او د زمانې د چپه ګردش په باره کي ډېري کيسې سره وکړې. کان ماکان ورته وويل چي اوس دي خيال څه دئ؟ چيري ځې؟ سارايي ورته وويل: "بغداد ته ځم. تر هغو پوري هورې پاتېږم چي د ولور پيسې پيدا کړم". کان ماکان ورته وويل چي: "دا ئې ته، او دا ئې د بغداد لار. ځه په مخه دي ښه". سارايي هم خدای په اماني ځنی واخيسته او د بغداد لار ئې په خوله ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کان ماکان له ځانه سره وویل: "خدای خبر چې په دې حال او په دې تش لاس و وږې ګېډه به بیرته کور ته ستنېږم". باره ویالې ته ورکښته سو، اودس ئې تازه کړ، دوه رکعته نفل ئې وکړل او خدای ته پر خاورو باندې پر سجده پرېووت. ول: "اې خالقه پروردګاره! اې هغه ذاته چې بارانونه اوروې، په وچو ډبرو کې کوچنیو خزندو ته رزق و روزي وررسوې! تا ته التجاه کوم چې ما ته هم په دغه بتې بیابان کې روزي رامقرره که. په دغه حال کې سر له سجدې څخه راپورته کړ. یوې خوا او بلې خوا ته ئې وکتله. نه لار ورمعلومه وه او نه ګودر. که ئې کتل چې له لیرې څخه یو سپور رابنکاره سو. د آس جلو ئې خوشې کړی او آس پر خپل سر رهي دئ. کان ماکان ورته کښېنستې تر څو سپور ورته راورسېد. د سپور آن تمام معلومېدی او آخري ساه پکښې چونېدله. ډېر سخت ټپي سوی وو. کان ماکان ته چې نزدې راغی تر سترګو ئې اوښکې راتوی سوې او ورته وې ویل چې اې د عربومشره! ما درسره ملګری کړه چې زما په رنګ به بل ملګری پیدا نه کړې. اوس دستې یو غوړپ اوبه راکه، که څه هم ټپ ته مې اوبه ښې نه دي. پوه سه ځوانه! که خدای له دې ټپه جوړ کړم او ژوندی پاته سوم، داسې څه به درکړم چې په ټول ژوند کې بیا چا ته احتیاج نه سې او که مړ سوم تا ته به خدای د خپلې نېکۍ ثوابونه درکړي. دا سړی پر یوه داسې آس سپور وو چې د درواغجن د قوله په ټوله دنیا کې به ئې جوړه نه وه. د آس پښې ئې د رخام ستونانو ته ورته وې. کان ماکان چې و آس ته وکتله، له حیرانۍ څخه ئې ګوته په غاښ کې ورته ونیوله. له ځانه سره ئې وویل چې ګومان مې نه کېږي چې د دې آس جوړه دي په دا څلور کونجه دنیا کې بله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آبس کان ماکان سړی له آسه راکښته کړ، یو غوړپ اوبه ئې ورکړې. یو آن ئې ورته وکتله چي د سپاره یو څه دمه سازه سوه او ساه ئې واچوله. بیا نو کان ماکان د ځای ځایګي پوښتنه ځني وکړه او هم ئې ځني وپوښتل چي دا څوک وو، چي ستا سره ئې دا بدي وکړه. سپاره ورته وویل چي تا ته به ټول حقیقت بیان کړم. کیسه داسي ده چي زه د آسانو غل یم او نوم مي غسان دئ. ما واورېدله چي دغه آس د روم په ښار کي له ملک افریدون سره ولاړ دئ. د آس نوم قانول وو خو دوی د مجنون لقب باندي ایښی وو. زه د دې آس له خاطره قسطنطنیې ته ولاړم او په دغه آس پسي مي سترګه وړله او پسي څارو وم. په دې ترڅ کي یوه ښځه پیدا سوه . دا ښځه د روم پر خلکوباندي ډېره ګرانه وه. نوم ئې ذات الدواهي وو. دغه آس د دغې ذات الدواهي په کور کي ولاړ وو. د آس د روزني له پاره ئې لس تنه نوکران و شاطران ګومارلي ول. دې ښځي بغداد ته د تګ نیت کړی وو او غوښتل ئې ملک ساسان ته ورسي او له هغه سره روغه جوړه وکړي. زه د دې آس په هیله په دوی پسې سوم. راتلو، راتلو، راتلو، خو زما پر آس باندي هیڅ چم نه جوړېدی دا ځکه چي نوکرانو خورا سخته پیره پر کوله. هغه وو، چي تر دې ځایه راورسېدلو. زما سره دا اندېښنه وه چي بغداد ته به ورسېږو او زما به پر دغه آس باندي چم جوړ نه سي. له ځانه سره مي د دغه آس په باره کي چورت واهه، چي نابېره دوړي سوې، داسي دوړي چي ټوله مځکه ئې ونیوله او پر دوه ګامه باندي دي څوک نه سوای لیدلای. دوړي چي یو څه سره کښېنستلې، پنځوس تنه سپاره راښکاره سول چي د سوداګرو د چور له پاره ئې لار نیولې وه. د دې سپرو مشرګهرداش نومېدی او د نر زمري په شان غښتلی وو... کیسه چي دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځای ته ورسېده ...**

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او یو څلوېښتمه شپه

**شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:**

**دې ټپې سپاره کان ماکان ته وویل چي ګهرداش او ملګرو ئې دا ښځه ټینګه وتړله او آس ئې له ځانه سره بوت. ما له ځانه سره وویله چي خوارۍ دي هسي اوبو یووړې. یو آن مي صبر وکړ چي ته وده، څه پېښېږي. چي ګورم ښځه ناسته ده ژاړي او ګهرداش ته وايي: "اې زړه وره! تا چي آس واخیست نو له دې سیاسري او نوکرانو سره به ئې څه کوې؟ باره ئې غوړي ونرمي خبري ورته شرو کړې. د ټګۍ و برګۍ جالونه ئې ورته وغوړوله او ګهرداش ته ئې د خدای و د رسول رویونه ونیول. آخر ګهرداش هم دوی ایله کړل او دی له خپلو نوکرانو سره ولاړ. ما هم د دوی کرښپل پسي راواخیست او د داسي موقع په لټه کي وم چي کله به مي پر آس چمبه صافه سي. هغه وو، چي په یوه ترخ کي مي پر آس حمله کړه او ښه مي پر واړوله. ما چي غمچینه ورسره کړه، دوی خدای وهلي راخبر سول او په یوه آن کي راباندي راوګرزېدل. د غشو او نېزو وارونه ئې راباندي کول. زه پر آس سپور وم او آس زما پر ځای په ښو او په خوله د هغو مقابله کوله او په دغه چم ئې زه د دوی له میدانه راوایستلم. ما څو ټپه اخیستي ول او درې ورځې و درې شپې مي د دغه آس پر شا تېري کړي دي. نه مي په شي څکه کړې ده او نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مي سترګه سره وروړې ده. د بدن سېک مي نو نور تمام سوی وو، چي خدای ته رابانديي مهربانه کړې. ده چي دا خبري خلاصي کړې، باره ئې کان ماکان ته وویل: "ته ولي داسي لڅ پڅ يې؟ له رنګه خو داسي ښکارې چي د کومي لويي کورنۍ غړی به يې. ته خپل حال راته ووايه".

ده ورته وویل چي نوم مي کان ماکان بن ضوء المکان بن ملک نعمان دئ. پلار چي مي مړ سو، زه يتيم پاته سوم. د پلار تر مرګ وروسته يو ډېر پست او نامرده سړی د بغداد سلطان سو. نور ئې نو ټوله کيسه له سره تر پايه ورته وکړه. د ټپي سړي زړه پر وسوځېد او ورته وې ويل چي ته له غټه خاندانه يې او په تندي کي دي د ټول جهان د پاچهۍ نښانې زه وينم. اوس که ته دونه وکړې چي ما بيرته پر دا آس کښېنوې او تر خپله ځايه مي ورسوې. تا ته به خدای هم په دې دنيا او هم په هغه جهان اجرونه وثوابونه درکړي. په ما کي اوس دونه سېک نه دئ پاته چي ځان دي پر آس ټينګ کړای سم. که زه په لاره کي مړ سوم. دغه آس ئې ستا په ځان او ما دربخښلی دئ. تر تا ئې بل لايق څوک سته هم نه. کان ماکان ورته وويل چي غم ئې مه کوه چي پر دا خپلو اړو دي رسوم، لا به ئې درڅخه و نه سپوم. که مي د مرګ و ژوند اختيار درلودای، دا خپل نيم ژوند خو مي تا ته درباخښه. زه په داسي کورنۍ کي لوی سوی يم چي احسان ئې په خټه اخښلی وو او له بېوزلو سره به ئې تل مرسته کوله. باره ورتېر سو، بسم الله ئې وويله چي آس ته ئې ورپورته کړي، سړي ورته وويل چي ته يو ګړی صبر وکه. د سړي سترګي سره ورغلې، لاسونه ئې له ځانه سره سم ونيول، د شهادت کليمه ئې وويله، مرګ ته ئې ځان تيار کړ او دا بيتونه ئې تکرار کړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریغـه ورځـی سـبا کېـږي ژوندونونـه فنـا کېـږي
بهارونه دي رادرومي ګل غوټۍ دي چي غوړېږي
ډېـر بـه راسـي تـر مـوږ وروسـته اهاړونـه، خزانونـه
موږ به نه یو پر دې مځکه هډوپوست دئ خاوري کېږي
پر مزار که مو ګذرسو، په نېکۍ سره مي یاد کړئ
هلته هیڅ شی په درد نه خوري، بس دوعا چي ښه په کېږي
دا نـامراده دنیـاګۍ د بـاور نـه ده، لاس تـرې مینځـئ
و انجـام تـه خـو ئـې ګـورئ، چي مرګـي تـه ودرېږي
مرګی څه دئ، یو ناکام دئ څه په کور څه په سفر کي
و هـا بـل لیـري جهـان تـه بـس همـدا لاره رسـېږي

دا بیتونه ئې لا په خوله کي ول، چي خوله ئې درې واره وازه کړه او له یوې غټې چیغي سره ئې روح والووت. کان ماکان پر دغه ځای باندي قبر ورته جوړ کړ او دی ئې پکښې ښخ کړ. باره ئې آس تر کیزه ونیو او رارهي ئې کړ، آس ته داسي ارښۍ اخیستی دئ او له ځانه سره وایي چي داسي آس خو د ملک ساسان په طبیله کي لا هم نسته. په دې وخت کي قافله راورسېدله او کان ماکان په ټول هغه حال خبر سو چي پر ملک ساسان او وزیر دندان باندي د ده د غیابت په شپو کي راغلی وو. ده ته وویل سوه چي وزیر دندان و ملک ساسان ته یاغي سوی دئ. د هغه اطاعت ئې نه مانه. نیم لښکرد وزیر دندان ملګری سو او قسم ئې اخیستی دئ چي تر کان ماکان پرته به بل سلطان ته غاړه کښېنږدي. وزیر دندان هغو ته ډاډ ورکړی دئ او له هغوی سره د هند ټاپوګانو او د بربریانو ملک او د سودان ښارو ته تللی دئ چي له هغو ځایو څخه د اسمان د ستورو او د بیابان د شګو په شمېر لښکر برابر کړي. بغداد ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راسي او له خپل دښمن سره ئې معلومه کړي او دا ئې هم لوړلي دي چي تر څو کان ماکان د پاچهۍ پر تخت کښېننوي، توره به تېکي ته وانه چوي. سوداګرو کان ماکان ته دا هم وويله چي ملک ساسان اوس په دې پوه دئ چي د وطن لوی او واړه د ده پر خلاف دي. چورت ئې خورا ډېر خراب دئ. لار و ليکه ځني ورکه ده. د خزانو دروازې ئې خلاصي کړي دي، بس روپۍ دي چي بادوي ئې. وايي ګوندي کان ماکان پيدا سي چي دی مهرباني ورسره وکړي، پر سر ئې لاس ورتېر کړي او د خپل لښکر امير ئې کړي. کان ماکان چي د سوداګرو له خولې دا خبري واورېدلې، باره ئې پر هغه آس پښه واړوله او مخ ئې پر بغداد پونده کړ.

ملک ساسان چي د ده د راتګ خبر واورېد، باره ئې خپل ټول لښکر له نورو غټو غټو معتبرو اميرانو سره د ده هرکلي ته وروايست. د هغې خوا ئې کان ماکان په خورا درب ودروب سره چي پياده لښکر ئې په مخ کي روان وو، د پاچا ماڼۍ ته راورساوه. خواجه ګانو منډه کړه او د کان ماکان پر مور ئې زېرى وکړ. مور ئې په يوه تراټ راورسېده. زوى ئې پر تندي مچ کړ، په غېږ کي ئې ټينګ ونيو. کان ماکان ورته وويل: "موري! ته مي پرېږده چي ملک ساسان ته ورسم ، ولي چي ډېر احسانونه ئې راسره کړي دي؟!" په دې ترڅ کي د دولت غټانو ملک ساسان ته د آس صفت هم وکړ او د سپاره د زړه ورتوب خبري ئې هم ورته وکړې. آبس، ملک ساسان پخپله رارهي سو او کان ماکان ته ولاړ. د هغه سلام ئې وکړ. کان ماکان چي ملک وليد، ورته ولاړسو. لاس و پښې ئې ورمچ کړل او آس ئې په سوغات کي وروړاندي کړ. ملک ورته شاباسي ووايه، د ده د غيابت له بابته ئې خپله خواشيني ورته بيان کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بیا ئې د ده د سلامتۍ له خاطره د خدای شکر ادا کړ. تر دې وروسته ئې نو آس ته وکتل، وې پېژاند چې دا هغه قاتول دئ چې مجنون ئې لقب وو او ده د ملک شرکان د وژلو پر وخت د روم له پاچهانو سره لیدلی وو. باره ئې کان ماکان ته وویل چې: "له پلار ضوء المکان سره دي خدای ښه وکړي، که ئې دغه آس په هغه وخت کې په یو زر اسانو خرڅولای، ده به رانیولی وای. ما ته راورسېدی خو اوس دي تا ته مبارک وي. دا د شکر ځای دئ چې حق و حقدار ته ورسېدی".

باره نو ملک ساسان امر وکړ چې اوس نو د کان ماکان له پاره سوغاتونه راوړئ. سوغاتونه راوړل سول. ښه ښه اسان ئې وربخښل. په غټه ماڼۍ کې ئې د ده د اوسېدلو ځای ورته جوړ کړ او د خدای ښې و ښادۍ ئې پر واورولې. کان ماکان ته د ښادیو مخ سو، ملک څکه تر اندازې زیات ونازاوه چې د وزیر دندان له خوا ئې غوږ په هوا وو او په واهمه کې وو. څه سر دي پرله گرزوم، د کان ماکان د غم شپې تېرې سوې، خوښه خوشالي سوه، د مور کره ورغلی، د کاکا د لور پر حال ئې پوښتنه وکړه. مور ئې ورته وویل چې زه ستا غمو پر سر اخیستې وم، بل چا ته مې پام نه وو. کان ماکان ورته وویل: "درځه چې اوس ئې پوښتنه وکړو، ښایي اوس مخ راڅخه پټ نه کړي". مور ئې ورته وویل چې: "تمه مه کوه، تمه بد شی ده، د مېړنو سره نه ښایي چې تمه وکړي. دا خبري پرېږده، سر مه په گرزوه. ولې دي د خولې خوند په خرابوې . زه پخپله نه هغې ته ورځم او نه خبري ورسره کوم". کان ماکان چې د مور خبري واورېدې، ول د آس د غله له خولې مې هم دغه خبري اورېدلي وې. هغه راته ویلې ول چې ذات الدواهي دې ښار ته راغلې وه او غوښتل ئې چې بغداد ته ننوزي. دا خو هماغه ښځه ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما نیکه او کاکا ئې راوژلي دي. زه بله چاره نه لرم بې له دې چي د هغو غچ ځني واخلم. دا خو زموږ د خاندان پر لمن باندي يوه لکه ده او بدنامي ده. زه غواړم چي دا لکه پاکه کړم. باره، له مور څخه رارهي سو او يوې بوډۍ ته ورغی چي (محتاله سعدانه) نومېدله. هغې ته ئې د قضی فکان ټوله کيسه له سره تر پايه وکړه او ځني وئې غوښتل چي قضی فکان ته ورسي او پر ده باندې مهربانه کړي. بوډۍ ورته ښه کړه او قضی فکان ته ورغله. ښې ښې د مهربانۍ خبري ئې ورته وکړې او د هغې زړه ئې د کان ماکان پر لور راواړاوه. باره نو بيرته کان ماکان ته راغله او ورته وې ويل چي: "قضی فکان سلامونه درباندي ويل او په نيمه شپه به که خدای کول، درته راسي".... کيسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادي کيسه پاته ترسبا سوه

# يو سل او دوڅلوېښتمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:
بوډۍ کان ماکان ته راغله او ورته وې ويل چي قضی فکان سلامونه درباندي ويل او په نيمه شپه به که خير وو، درته راسي. کان ماکان د کاکا د لور په وعده بيخي ډېر خوشاله سو. ورځ بيخي پر اوږده سوه. شپه راغله ، پسي نيمه شپه سوه. په دغه وخت دی خوب وړی وو چي قضی فکان راورسېده. دی ئې له خوبه راويښ کړ او په خندا ئې ورته وويل: "دا څرنگه مينتوب دئ. مين خو به د خپلي معشوقې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**انتظار کړۍ شپه سترګي نه سره وروړلې". کان ماکان ورته وويل: "قسم دئ که به مي د خوب په خاطر سترګي سره وروړي وي. مطلب مي دا وو چي ګوندي په خوب کي مي ستا په ليدو سترګي روښانه سي". قضی فکان غوښتل چي ټوکي ورسره وکړي، نو ئې دا بيتونه پخپل خواږه اواز ورته وويل:**

و عاشق ته نه خورک سته او نه خوب
مينه رنځ دئ، بېخوبي ده لېوتتوب
که ئې خوب کړ، هم خورک هم د عشق لافي
نه ښکارېږي په دې عشق کي رښتينتوب

**د دې بيتو په اورېدلو سره په کان ماکان باندي يو څه سترګي وځړېدې، خو ژر پوه سو چي معشوقه ئې ټوکي ورسره کوي. باره ئې غبرګ پر راوګرزوله، ددواړو شونډي سره ورغلې او چي مخ ئې راګرزاوه، بيا سهار سو. کان ماکان ته زړه نرۍ سو او د جوشه ئې دا بيتونه زمزمه کړل:**

نه حسابل کېږي دا سي شپه په ژوندانه کي
سر چي پر بالښت وي د نګار په يارانه کي
زلفي چي پر سپين مخ راخورې لکه ماران وي
غاړه وي لاسونه وي ولچک په زولانه کي
ږغ د مؤذن لکه مرد ک دربان دي نښلي
يو دي دوست ته بولي بل دي پرېږدي بېلتانه کي

**دا بيتونه چي ئې وويل، باره قضی فکان رخصت ځني واخيست او خپلي ماڼۍ ته ولاړه. خپل راز ئې و يوې خذمتګاري ته تر خوله وووت. هغې دستي ملک ساسان ته خبر يووړ او د هلک و نجلۍ د براېې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپې بيان ئې ورته وکړ. ملک ساسان توره کش کړه او غوښتل ئې چې د قضی فکان سر ورغوځ کړي چې په دغه وخت کي ئې مور نزهت الزمان پر راورسېدله او په لوړ اواز ئې ورته وويل: "هوښ کوه چې لاس لا ور نه وړې. که دي له دې سره بد وکړه، ټول مخلوق به خبر سي. د دنيا پاچهان به ملامتي درباندي ووايي. د هيڅا زړه ته نه لوېږي چې کان ماکان دي بدلمنی ځوان وي. ټول خلک هرومرو تا ملامتوي. او بل ته مه ترله وزه، په حال ځان خبر کړه. تا ته نور جنجالونه په مخ کي دي. نن د بغداد په خلکو کي پس پسی وو، چې وزير دندان خورا لوی لښکر له ځو ښارو څخه راغونډ کړی دئ او غواړي چې کان ماکان تخت ته ورسوي او سلطان ئې کړي. ملک ساسان وويل چې داسي ده، نو کان ماکان بايد داسي کاړي کوړم ته واچوم چې بيا ئې د راوتلو لار نه وي او نه د بغداد خلک بيا و ده ته زړه ښه کړي. ملک ساسان نو پرېږده چې خپل چورتونه وهي، راځئ چې د کان ماکان په حال ځان خبر کړو.

د نکلچيانو له خولې روايت دئ چې کان ماکان په دغه ورځ د مور کره ورغلی او ورته وې ويل چې: موري! زما خيال دئ چې سوداګرو ته لار ونيسم، مالونه ئې په زور ځني واخلم، رمې و مينځياني و مريان ئې ټول ځني راولم او دا ټول مال و شتمني چې مي راغونډه کړه، بيا نو خپله د کاکا لور قضی فکان ځانته وغواړم او واده ورسره وکړم. مور ورته وويل چې: "آزما زويکه! د خلکو مالونه خو داسي مفت نه دي. هر مال خپل څښتن لري او هر څښتن ئې له زمريو سره ډغري وهلای سي او د پړانګانو په جنګ ورتللای سي. لږ څه فکر وکړه". کان ماکان ورته وويل چې خدای يو مالګي تروې دي، که له دا خپل عزمه څخه راوګرزم. چې يا خپل مقصد ته ورسېږم او يا سر په دې لار کي کښېږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**باره ئې د بوږۍ په لاس قضی فکان ته پیغام واستاوه او په هغه کې ورته کښلي ول چې په اوږده سفر ځمه چې ستا له پاره د درانه ولور پیسې برابري کړم. بوږۍ ته ئې وویل چې جواب ئې هم درسره راوړه. بوږۍ ولاړه. د ده پیغام ئې وروړساوه او د ها خوا ئې د قضی فکان جواب هم راووړ چې پکښې کښلي ئې وه، چې نن شپه مه ښوره، زه به نیمي شپې ته ځان درورسوم. کان ماکان تر نیمي شپې پوري ورته ناست وو، چې ناڅاپه هغه د څورلسم سپوږمۍ په کور راننوتله او په خورا ناز ئې ورته وویل چې: "ځان دي وخورم، ته تراوسه پوري ویښ ناست یې". کان ماکان وروړلاړ سو او داسي ئې ورته وویل:**

آزما د زړه مرهمه! آزما روحه، زما تنه
په بېلتون باندي دي سوځم مرم بې گور و بې کفنه
ستا دیدن زما ژوندون دئ، ستا کاته راته بقا ده
چي ته نه یې زه رنځور سم د ناسور ټپ مي دننه
که مي څوک بې تا وربولي د وړمونو و گلشن ته
بې تا، ما ته تور زندان دئ، تې منه زما گلبدنه
زما قسم چي نه ستنېږم، ستا له میني ستا له عشقه
پر دې لار به سر ایږدمه روح به باسم له بدنه

**بیا ئې نو قضی فکان ته خپله اراده او نخشه ټوله بیان کړه. پر قضی فکان باندي د خپل یار تگ درووند سو او بې اختیاره ئې تر سترگو اوښکي راغلې. کان ماکان ورته وویل چې د کاکا لوري! ته مه ژاړه. خدای چې جدایي و بېلتون پیدا کړي دي، وصال ئې هم ورسره پیداکړی دئ. آبس کان ماکان د سفر سامان راواخیست، توره ئې تر ملا کړه، له مور څخه ئې رخصت واخیست او له ماڼۍ څخه راووت. د ښار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کوڅو کې راتېر سو او د ښار دروازې ته ورسېد. له دروازې سره ئې ناڅاپه پر خپل اندېوال صباح بن رماح باندې سترګې ولګېدلې. صباح چې هم دی ولید، د پښې رکاب ئې ورمچ کړ. بیا ئې پوښتنه څني وکړه چې حال ووایه وروره! دا آس دا مال دا دې له کمې خوا پیدا کړل. زه خو له هغې یوې توری پرته بل هیڅ نه لرم. کان ماکان ورته وویل چې په هغه ګړې ته له ماښخه بېل سوې، زما بخت خدای بیداره کړ. آیا اوس زما سره ملګري کولای سې او خپله اندېوالي او پاک زړه په اثبات رسولای سې؟

سارایي ورته وویل چې په مکه مبارکه مې دې قسم وي که مې یوه ورځ لا د زړه څخه وتلی یې. ګرده عمر مې دغه خدایه خدایه درلوده چې ستا سره مې د اندېوالۍ نصیب وسي. باره ئې توره غاړې ته کړه او توبره ئې اوږې ته او د آس په مخ کې روان سو. څلور ورځې همداسې روان ول. هوسۍ به ئې ښکارولې او غوښې به ئې کبابولې او خوړلې. د چینو پاکې او زلالې اوبه به ئې چښلې. پنځمه ورځ دا دې یو لوی کوتل ته راورسېدل. د کوتل په بېخ کې یو پراخ څړځای وو او په هغه کې دونه اوښان و غوایي و پسونه څرېدل چې د پښو د ایښوولو ځای نه وو پاته. کان ماکان چې دا رمې و ګلې ولیدلې، زړه ئې سره وغوړېدی. باره ئې سارایي ته وویل چې: "څنګه، خوښه دې نه ده چې دا مالونه درسره لوټ کړو،زما و ستا دواړو چاره په کېدلای سي او اړتیاوې مو را پوره کولای سي".

سارایي ورته وویل: "باداره! د دې مالو څښتنان لویه ډله ده او په هغو کې داسې غښتلي پهلوانان سته چې مه کوه پوښتنه. زه و ته که له دوی سره ځان اخته کړو، بیابه د وتلو لار هم پیدا نه کړو". کان ماکان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وخندل او پوه سو چي انډيوال ئې بې زړه دئ. باره ئې دی دلې پرېښوو، پخپله په يوازي سر د مالو پرخوا وررهي سو او دا بيتونه ئې زمزمه کول:

مېړنـــی چـــي د يو کـــار اراده وکـــړي
بيا نـو فکر نه پـه غـره نه پـه راده کړي
د بلا غـشي تـه خپلـه سينه سپر کړي
د اجـــل د ماســـلانو پـــروا نـــه کـــړي

باره ئې پر مالو باندي آس ورپونده کړ. ټول ئې په مخه کړل. د هاخوا د مالو څښتنانو توري کش کړې د ټولو په مخ کي يو تورکی پهلوان وو چي د دنيا سړې و تودې ئې ډېري ليدلي وې دې پهلوان پر کان ماکان باندي حمله وکړه او چيغه ئې کړه: "ته لکه چي نه ئې خبر چي دا مالونه د چا دي؟ دا د روميانو د يوه قوم مالونه دي. د هغه چا مالونه دي چي له پهلوانانو څخه ئې ټوله دنيا سترگه کوي او خار ځني خوري. دوی په شمېر سل تنه دي او د دنيا هيڅ پاچا ته هم غاړه نه ږدي. د دوی يو آس غلا سوی دئ. دوی له خدايه سره سوگند ياد کړی دئ چي تر څو ئې دغه آس بيرته په لاس نه وي وروړي، ژوندي کورو ته نه ځي". کان ماکان چي دا واورېدله، په لوړ اواز ئې ورته وويل چي: "هغه آس چي تاسي ئې په تلاښ کي ياست، تر ما لاندي روان دئ. که په زړه کي څه لرئ، راځئ دا ئې گز دا ئې ميدان". باره ئې پر قاتول باندي ږغ وکړ، پر غاړه ئې وټپاوه. قاتول د برېښنا په شان ورټوپ کړل او په هغو کې ليکه جوړه کړه. کان ماکان د يوه پهلوان سر غوټ ځني پرې کړ، پر دا بل ئې مخ راوگرزاوه، دوهم، دريم، څلرم ئې د سترگو په رپ کي هغې دنيا ته ولېږل. د هغوی مريانو چي دا حال وليد، بېري

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخیستله. کان ماکان ورته وویل چې: "آ، د مرداري زامنو! مالونه در په مخه کړئ، کنه ستاسي ويني به هم د دې نورو په شان دروبهوم".

آبس مريانو مالونه په مخه کړل، يو يو ځني تښتېدل. صباح چي دا تماشه وليدله، ډېر خوشاله سو، د کوتل له سره راتا سو. له ځان سره ئې سندري شرو کړې چي په دې ترڅ کي ناڅاپه دوړي سوې، او د دوړو په منځ سل تنه سپاره چي هر يوه ئې د زمرۍ شيدې رودلي وې، راښکاره سول. صباح چي دا سپاره وليدل، بيرته ئې کونه وکښه او کوتل ته وخوت. له ځان سره ئې وويل چي زه د دې اَوړه نه يم چي په داسي ميدانو کي دي وجنګېږم. زه د خبرو نامي يم. د کوتل له سره به ئې د جنګ سيل وکړم. څه سر دي پرله ګرزوم، سل تنه سپاره پر کان ماکان راتاو سول. يوئې راوړاندي سو، ول دا مالونه چيري بيايې؟ کان ماکان ورته وويل چي ځان ټينګوه! نن دي په مقابل کي داسي څوک ولاړ دئ چي د ځنګله د زمريانو زهره د ده له ډېغه چوي، د زړه ورو پهلوانانو غړي ورته تښتي. داسي توره ئې ده لکه شوَله چي تر اوسپني لا هم لوېږي. سپاره چي ورته وکتل او وې ليدل چي دا سړی لکه زمری داسي غړومبېږي منګر له ښايسته مخه ئې د لمر شُغلې ولاړېږي. حيران ورته پاته سو. دی د سلو سپرو مشر وو. نوم ئې ګهرداش وو. د کان ماکان زړه ورتيا او ښايست ته چي ئې وکتله، کټ مټ د ده معشوقې ته سوی وو چي فاتن نومېدله. دې فاتن نومي ته خدای داسي حسن و ښايست ورکړی وو، چي د جنت حوري ورته داسي ايسېدلې لکه توري حبشۍ. شاعرانو د هغې په صفت کي داسي ويلي ول:

دا ئـې سـره اننګـي نـه دي دا سـور اور دئ چـي بلېـږي
داسـي قـد داسـي انـدام تـه د چمـن سـروه شـرمېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نازکې ته د بدن ئې، لطافت لاس پر نامه دئ
ته به وایې دې جامو کې یو پاک روح دئ چې چلېږي
سپینه غاړه نه ده، جام دئ د بلورو د سپیو
نازکې ته بې حیران سئ چې او به ترې ښکاره کېږي
د زلفانو له حلقو ئې هیڅ مجال د خلاصې نسته
د چندڼ اپې ماران دي، نې او ده سته نه دم کېږي
سر تر نو که بس جمال دئ، بس ښایست دئ او بس حسن
نور څه نه پکښې ځایېږي، بس قیامت دئ نازلېږي

نجلۍ پر ښایست سربېره دونه ستاره او دبدبه هم درلوده چې د قوم و ټبر ټولو دلاورانو هم احتیاط ورسره کاوه. د ټولو نورو طایفو زړه ورو سترګه ځني کوله. د جنت دې حوري قسم اخیستی وو چې مېړه به نه کوي، منګر له هغه چا سره به واده کوي چې د جنګ په میدان کې ئې ماته کړي. دا ګهرداش چې وو، له دې سره ئې په زړه کې ډېره مینه درلوده او مرکې ئې هم ورلېږلي وې. خو دې خپل پلار ته ویلي وه چې شرط ئې هماغه دئ چې فیصله به د جنګ په میدان کې سره کېږي. ګهرداش ته ځان بد ښکارېدی چې له نجلۍ سره مقابله وکړي دا ئې ځان ته ننګ و عار باله چې د یوې نجلۍ په جنګ ورځي. ځینو اندېوالانو ئې ورته وویل چې پر تا باندي په ښایست کې ختمه ده. جنګ ته وردمخه سه، که نه ګانه د دې زور تر تا زیات هم وي، بیا هم برې ستا دئ. ولي چې ښځي د نارینه و ښایست ته ځان نه سي ټینګولای. ګهرداش د دوی پر خبره غوږ نه ونیوی او مقابلې ته ئې زړه نه ښه کاوه او د فاتن له مقابلې څخه ئې ځان کیښ. کله چې دا ګړی له کان ماکان سره مخامخ سو، تر سترګو ئې داسي وایسېدی لکه د خپلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



معشوقې فاتن مقابلې ته چي راوتلی وي. باره وروړاندي سو او ورته وې ویل: "دا ته فاتن اوس د خدای په شپو کي زما سره د زړه ورتیا میدان ته راغلی یې. له آسه راتا سه چي یو څو خبري سره وکړو. ما دا گرده مالونه د دې له پاره پسي رااخیستي دي، چي ستا له پاره ئې په مصرف ورسوم. ته زماسره واده وکړې. د پاچا نوکراني ستا په چوپړ کي ودرېږي، په دې شاوخوا وطنو کي تر تا لوړه بل څوک نه وي".

کان ماکان چي دا خبري واورېدې، له خښمه سره وایشېدی ورته وې ویل چي: "ستا پلار له فاتن سره دامانه کړې، دا فاتن بیا څوک ده؟ چټیات او ایله خبري یوې خوا ته کړه. میدان ته سه، چي سره معلومه ئې کړو. د ځان سیل و تماشه دي وکړه چي خوله به دي د تورو خاورو درډکه کړم". باره ئې آس پر ورپونده کړ. گهرداش پوه سو چي گومان ئې غلط وو، دا سړی په رشتیا هم نامي دئ. آبس، پر خپلو سپرو ئې مخ راواړاوه او ږغ ئې پر وکړ چي: "په تاسي کي داسي څوک سته چي میدان ته راسي او د خپلي توري زور ورښکاره کړي". سمدلاسه د پهلوانانو له ډلي څخه ادهم پهلوان رامخ ته سو او آس ئې پر ورپونده کړ. څو واري ئې پر وکړل، آخر د کان ماکان واری ورته سم سو او داسي خرپ ئې پر مغزي باندي ورکړ چي له ادهم څخه د اوبښ په شان رمباړه تر خوله وختله او له آسه لاندي راولوېد. بل پهلوان راوړاندي سو. په ده هم هغه کانه وسوه لکه په هابل چي سوې وه. دریم، څلرم، پنځم پهلوان هم سرونه وخوړل او هلاک سول. باره ټولو په یوه وار برید پر وکړ او د جنگ میدان تود سو. په یوه گړي کي کان ماکان ټوله د توري تر تېغ تېر کړل.

گهرداش چي دا حال ولید، پر خپل ځان وبېرېدی او پوه سو چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځوان پر دا گرده دنیا بل ساری نه لري. باره ئې پر کان ماکان باندي ږغ وکړ چې د خپلو یارانو ویني مي دربخښلي دي، هر څه چي غواړې درسره وائې خله او خپل ښار ته دي ستون سه. کان ماکان ورته وویل چي د ځوانمردۍ او سخاوت له بابته خو دي کور ودان، منگر ته اوس دا خبري پرېږده، د خپل سر د خلاصېدو غم دي وخوره. گهرداش ته خښم ورغی او ورته وې ویل چي که دي زه پېژندلای، بیا دي داسي خبري نه کولې. زه د ځنگله زمری گهرداش نومېږم او د سامري زوی یم. زما چپاوونه پر پاچهانو دي، یرغلونه مي پر لویو لویو سوداگرانو دي او دغه آس چي تر تا لاندي دئ ، دا هم یو وخت زما وو. ته دا راته ووایه چي دا آس څرنگه په لاس درغلی دئ. کان ماکان ورته وویل چي دا آس زما د نیکه ملک نعمان او زما د اکا ملک شرکان قاتلي ذات الدواهي زما و بل کاکا ملک ساسان ته ووړ، او بیا زما لاس ته راغی. گهرداش ورته وویل چي مور خو نه لرې، د پلار نوم دي څه دئ؟

کان ماکان ورته وویل: "زه کان ماکان نومېږم. پلار مي ضوء المکان او نیکه مي ملک نعمان وو". گهرداش ورته وویل چي: "له دې زړه ورتیا او غښتلوالي څخه خو دي معلومېږي، چي رشتیا به وایې. خو بیا هم بېغمه اوسه زه کار نه درلرم ولي چي پلار دي ډېر نېک سړی وو. ځه په مخه دي ښه". کان ماکان ورغبرگه کړه چي: "غوییه! خوشي توپونه مه وله، په دې خبرو نه سې خلاصېدلای."

آبس، گهرداش ته هم نور څه نه سوه پاته او پر راوغورځېدي. دواړو داسي د خرپ جنگ وکړ چي یو پر بل ئې د داسي درنو گرزانو وارونه وکړل چي تا به ویل اوس به دا مځکه سره وچوي. بیا ئې نو نېزې راوایستلې، گهرداش د نېزې واری پر وکړ، کان ماکان سر ټیټ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نېزه خطا ولاړه او ده هم پخپله نېزه باندي د ګهرداش پر ټټر داسي واری وکړ چي نېزه پوري ووري تر ووتله. دی له آسه راولوېد او نفس ئې وخوت. کان ماکان مالونه سره راغونډ کړل او پر مریانو ئې امر وکړ چي درپه مخه ئې کړئ. په دې وخت کي صباح له کوتله راتا سو د ګهرداش سر ئې له تنې څخه پرې کړ. کان ماکان ته خندا ورغله او ورته وې ویل: "ما پر تا د خورا زړه ور او جنګره سړي خیال کړی وو".

صباح ورته وویل چي ته نوري خبري پرېږده، مقصد دا چي په دې دونه مال کي دي دا خپل کوچنوټی غلام هېر نه سي. ګوندي زما هم چټې مهر سي او د خپل کاکا د لور نجما وصال ته ورسېږم. کان ماکان ورته وویل چي لږ صبر وکړه، تا ته به هم خپله برخه درورسېږي. ته پر دغه مال او مریانو باندي پیره کوه. باره کان ماکان له مال و مریانو سره بغداد ته رهي سو. د بغداد ښار ته چي نږدې سول، هلته د ښار خلکو او لښکرو ته خبر ورسېدی چي کان ماکان له اوز غنیمت سره راستون سوی دئ او دغه راز ئې د ګهرداش سر هم د صباح پر نېزه باندي ولیدی. سوداګرو د ګهرداش سر وپېژاند او خوشاله سول چي خدای د دې ظالم له شره په امان کړل. د ده و وژلو ته حیران پاته سول او پر هغه چا ئې آفرین ووایه چي دا بلا ئې د دوی له سرو څخه لیري کړه. د بغداد خلکو د وزیر دندان او ملک ساسان حال وکان ماکان ته ټول بیان کړ. د ښار ټول نامیان له کان ماکان څخه وبېرېدل. کان ماکان هم مال په مخه کړ او ماڼۍ ته ورسېد. د ماڼۍ مخ ته ئې هغه نېزه په مځکه کي ښخه کړه چي د ګهرداش سر ئې دپاسه پروت وو. د بغداد خلکو اسان او اوښان په سوغات کي ورته راوړل او ټول د ده پلویان ئې پر خوا سول. بیا نوکان ماکان پر صباح باندي ږغ وکړ، ده ته ئې په یوه پراخه مځکه کي کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړ. تر دې وروسته خپلي مور ته ورغی او د سفر ټول نکل ئې ورته وکړ. ملک ساسان ته هم چا دا ټول بیان کړی وو. باره دی هم له خپلي ماڼۍ راووت او یو گوښه ځای ته ولاړ. خپل خاص اعتباري خلک ئې وروغوښتل او ورته وې ویل چي زه نن تاسي ته یو پټ راز بیانوم او هغه دا چي کان ماکان به زما د وژلو سبب سي، دا ځکه چي ده گهرداش لا هم وواژه چي د ترکانو او کردانو خورا ډېري قبیلې ئې تر شا ولاړي وې. د وزیر دندان خبرونه خو هم اورئ چي زما احسانونه او نېکۍ ئې هېري کړي دي او د اورېدو چي وایي له لیرو ښارو ځخه ئې یو غټ لښکر برابر کړی دئ او غواړي چي کان ماکان تخت ته ورسوي او پاچا ئې کړي. نو دا سړی که پاچا سو، ما هرومرو وژني. خاصانو مشرانو ورته وویل چي که موږ دی ستا نمک خور او د لاس روزل سوی نه بللای، بیا مو نو کله د ده ملاتړ کاوه. موږ خو فکر کاوه چي دا ستا د لاس سړی دئ. موږ اوس هم ستا تر امر لاندي یو، که وایې چي مړ ئې کړو، خو وبه ئې وژنو او که وایې چي وئې شړو، خو له ښاره به ئې وباسو.

ملک ساسان ورته وویل چي: "وژل به ئې زموږ د ټولو په خیر وي. منگر تاسي به ټینگه وعده راکوئ". حاضر مجلس ټولو په خدای و په رسول قسمونه واخیستل ، د اورتي طلاقونه ئې واچول چي موږ په سرومال درته ولاړ یو. ملک هم دوی ونازول او د خورا ډېرو سرو او سپینو وعده ئې ورسره وکړه. باره نو ملک بیرته خپلي ماڼۍ ته ولاړ. په دې موضوع باندي قضی فکان خبره سوه. ډېره سخته خواشینې سوه. آبس، دستي ئې سعدانه انا راوغوښته او کان ماکان ته ئې ولېږله چي د ملک ساسان په نیت ئې خبر کړي. بوډۍ کان ماکان ته ولاړه او په ټول حال ئې خبر کړ. کان ماکان ورته وویل چي د کاکا پر لور مي سلامونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووایه او ورته وبه وایې چي د مملکت کارونه د پروردګار په لاس کي دي. هر چا ته چي وغواړي، ورعطا کوي ئې. شاعر څه ښه ویلي دي:

دا عطا ده د پاک رب چي ځوک ګدا کړي ځوک پاچا
چا تـه بـرم وعـزت ورکـړي چا تـه وښندي دنیـا
چي پر خاورو ئې نظر سي، سم انسان ځني پیدا کړي
تــا کیـــسه نـــه ده لوســـتلې د آدم و د حـــوا
مګـر زمـوږ پـاک پیغمبر ئې و یثرب تـه روان نـه کـړ
په لښکر ئې فتحه نه کړ د خدای کور، زموږ پیشوا
او رېـدلي بـه دي وي چـي فریـدون وو غـوا روزلـی
مګـر خدای چي قـوت ورکـړ پـر زمری ئې لاس بالا

آبس، بوډی ته ئې رخصت ورکړ او هغې هم د کان ماکان جواب د هغه د کاکالور ته ورورساوه. هلته ملک ساسان هم د موقع په انتظار ناست وو چي کله به کان ماکان له ښاره ووزي او دی به خپل سپاره پسې ولېږي او و به ئې وژني. د خدای کارونه دي، یوه ورځ کان ماکان د هوسیو په ښکار ووت. سارایي صباح ئې هم له ځانه سره بوت. صباح به له سهاره تر ماښامه له ده څخه نه جلا کېدی.

آبس، کان ماکان یو څو هوسۍ ونیولې. په دوی کي یوه تور سترګې هوسۍ وه چي ټوله ورځ به ئې ښی خوا او کیڼ خوا ته مخ اړاواه او کتل به یې. کان ماکان هغه خوشي کړه. سارایي صباح ورته وویل چي دا دي ولي خوشي کړه؟ کان ماکان په خندا سو او دا نوري هوسیاني ئې هم خوشې کړې. هوسۍ په ټوپونو سوې او ولاړې. باره ئې صباح ته وویل چي دغې هوسۍ چي شاوخوا کتل، دې شېرخوره بچیان تر شا پرې ایښي ول. نو دا د ځوانمردۍ او مېړاني کار نه وو چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شېرخورو بچيانو مور دي څوک بندي کړي او دا نوري چي مي خوشي کړې، دا مي د دې په صدقه کي وبخښلې. صباح ورته وويل چي ما هم آزاد کړه، زه به هم خپلو ماشومانو ته ولاړ سم. کان ماکان په خندا سو او د نېزې په پڅه خوا ئې پر شا باندي يو ټينګ ګوزار ورکړ. صباح ئې له ډېره درده پر کونه کښېناوه او لکه مار سره تاوېدی راتاوېدی. په دغه وخت کي ناڅاپه دوړي راښکاره سوې او د دوړو له منځه څخه سپاره پهلوانان راووتل. د دوی د راوتلو سبب دا وو چي ملک ساسان هلته ښکار ته د کان مکان په وتلو خبر سوی وو او د ديلميانو يو امير ته ئې چي جامع نومېدی، خورا ډېري روپۍ او سره و سپين زر ورکړي ول او له شلو تنوسپرو سره ئې د کان ماکان د وژلو په نيت رالېږلی وو. سپاره چي کان ماکان ته رانژدې سول، باره ئې سمدستي بريد پر وکړ. ده هم توره ورسره لښته کړه چي مخ دي راګرزاوه، ټول ئې ووژل. په دې ترڅ کي ملک ساسان هم له سپرو سره راورسېد، خو چي دا نور سپاره ئې ټول پر مځکه مړه وليدل، زياتي وارخطا سو او مخ پر ښار ئې منډه کړه. د هغه ځای خلک چي په کيسه خبر سول، لار ئې ورته ونيوله، ملک ساسان ئې ګوری موری ونيو او ټينګ ئې وتاړه.

کان ماکان نو په دې کيسه ناخبره دئ او له صباح سره خوش خوش راروان دئ. پر لاري ئې يو ځوان په سترګه سو چي د کور په دروازه کي ولاړ دئ. کان ماکان سلام ورواچاوه، ځوان ئې سلام بيا کړ. د کور ست ئې ورته وکړ. باره کور ته سره ولاړل. ځوان پر سترخان باندي دوې کاسې ورته کښېښوولې. په يوه کي شيدې وې او په دا بله کي سره کړي غوړي. کان ماکان ته ئې وويل چي: "بسم الله کړئ او مړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوریٔ". کان ماکان لاس ونیوی او له ستړخانه پر شا سو. ځوان ورته وویل چي ولي دي مړې و نه خوړه. ده جواب ورکړ چي: "نذر مي ایښی دیٔ". ځوان ځني وپوښتل: "د څه شي نذر؟" کان ماکان ورته وویل چي ملک ساسان زما هیواد په ظلم راځخه قبضه کړی دیٔ. هغه هیواد ئې راځخه اخیستی دیٔ چي زما پلار و نیکه پاچهي پر کوله. زما پلار چي مړ سو، زه کوچنی ماشوم وم. ده زما د پلار پر سلطنت لاس راوګرزاوه. اوس ما دا نذر ایښی دیٔ چي تر څو له خپل غلیم څخه غچ وانخلم، د چا ډوډې به نه خورم. ځوان پر راړغ کړه چي زړی مي دربادي چي دا ارمان دي وخوت. ستا دښمن زموږ سره بندي دیٔ . ژر کوه درولاړېږه چي مړ ئې نه کړي. کان ماکان د بندیخانې د ځای پوښتنه ځني وکړه، هلک ورته وویل چي په هغه ګومبته کي دننه دیٔ.

کان ماکان چي ګومبتي ته وکتل، رښتیا هم خلک وتل وننوتل او د ساسان پر سر ئې د چپلکو وارونه کول. دی هم ګومبتي ته ورغی او یو آن ئې د خلکو تماشه وکړه او بیرته د ځوان کره راغی. ډوډې ئې وخوړه او یو څه غوښې چي پاته سوې هغه ئې په ستړخان کي وپېچلې. باره ئې نو څنګ ورته واچاوه او تر هغو پوري په هغه کور کي وو، چي د شپې تاریکه خپره سوه او د کور څښتن بیده سو. چي شپه ښه چپه چپایي یا چوپه چوپتیا سوه، کان ماکان ګومبتي ته ورغی. د ګومبتي پر شاوخوا خروړي سپي پراته ول او پر کان ماکان باندي راوغورځېدل. کان ماکان هغه د ستړخان غوښې ورسره اخیستي وې او یوه یوه ټوټه ئې سپو ته ورواچوله او سپو مخ ځني واړاوه. دی چي د ګومبتي و دروازې ته ورسېدی او ملک ساسان ئې ولیدی، باره ئې پر سر لاس ورتېر کړ. ملک ساسان لو چیغه وکړه چي: "څوک یې؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده په جواب کي ورته وويل چي کان ماکان يم. هغه څوک چي زما د وژلو لام دي تړلی وو. خدای تا ته د خپلو بديو جزا درکړه. آيا د پلار و نيکه مملکت چي دي راڅخه غصب کړی وو، هغه دي بس نه وو، چي په وژلو مي لا هم پسې وې؟ ملک ساسان تر ناحقه قسمو لاندي سو چي دا خبره بالکل درواغ ده. ما ستا د وژلو توطئه نه وه کړې. کان ماکان ځني رهي سو او و ده ته ئې وويل چي په ما پسي راځه. ملک ساسان ورته وويل چي: "د ولاړي نه يم او په بدن کي مي دونه سېک نه دئ پاته چي پر پښو دي تگ وکړم".

آبس، کان ماکان دوه آسه راوستل، پر يوه دی سپور سو او پر ها بل ملک ساسان. شپه ئې ټوله ووهل. د سهار لمونځ ئې يو ځای وکړ او بيا ئې مزله ته ادامه ورکړه څو يو باغ ته راورسېدل. هورې ئې يو څه دمه وکړه. له يوې خوا او بلي خوا ئې خبري و مجلس وکړ. باره کان ماکان ورته وويل چي اوس خو به دي په زړه کي زما سره څه نه وي پاته. ملک ورته وويل چي په والله بالله که نور هيڅ په زړه کي درته لرم. آبس د نکل کاردئ، رارهي سول. بغداد ته چي نزدې راورسېدل، سارايي صباح ورته وويل چي زه به تر تاسي وړاندي ښار ته ولاړ سم او پر خلکو به زېری وکړم. باره ئې دی واستاوه چي خلک خبر کړي. د ښار خلک کوڅو و بازارو ته له ډول و سورنا سره هرکلي ته راووتل. قضی فکان هم لکه په توره شپه چي سپينه سپوږمۍ راوخېژي، له خپله کوره راووتله. د کان ماکان سترگي په قضی مکان کي داسي ښخي دي چي بل هيڅ لور ته ئې نه اړوي. دواړو يو بل ته په سترگو کي د زړونو حال ووايه. خلکو د کان ماکان د مېړاني او زړه ورتيا بيانونه کول او ويل به ئې چي موږ ته له ده پرته بل پاچا نه ښايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې ملک ساسان د نزهت الزمان لوري ته ورنږدې سو. هغې ورته وويل چي پر خلکو خو دي پام دئ چي د کان ماکان په صفتو مړېده نه لري. ملک ساسان ورته وويل چي ته نو د خلکو خبري پرېږده. ما دی پخپله وليدی، د صفت څه گرسره خدای په ده کي ايښي نه دي. د خلکو ماغزه خراب دي، چي د ده صفت بيانوي. اورېدلي به دي وي چي وايي: "د ډول ږغ له ليري ښه خوند کوي". د ده د مېړاني اوازه بغداد ته راغله، خلک بې له دې چي رشتيا و درواغ ځانته معلوم کړي، د ده پر خوا سول. ها بل وزير دندان خاين او چمباز هم لښکر راټول کړی دئ. زه خو نه سم کولای چي تر دې دونه ډېرو کلونو پاچهي وروسته اوس د دوی تر حکم لاندي ژوند وکړم. نزهت الزمان ورته وويل چي اوس دي خيال څه دئ؟ غواړې څه وکړې؟ ده ورته وويل چي: "وژنم ئې، وژنم ئې چي د وزير دندان هم اميد وخېژي او ما ته غاړه کښېږدي". نزهت الزمان ورته وويل چي چم وچمبازي حتی له پرديو سره لا بد کار دئ، ته له خپلو خپلوانو سره څرنگه په چل وفريب کي يې؟ بهتره دا ده چي قضی فکان و کان ماکان ته ورواده کړو او هغه د اولنو خبره په غوږ کي ونيسو چي ويلي ئې دي:

انسانان په احسان خپل سي حيوانان په لومه دام
دښمن هم په لطف مات کړه، نه په توره، نه په لام
که دښمن دي په نرمي و مدارا د ځان خپل نه سو
دې خبيث لره نو وروسته چلوه توره مدام

د ملک ساسان چي د بيتو په معنا سر خلاص سو، باره ډېر خښم ورغی او ورته وې ويل: "که زه په دې پوه سم چي ته ټوکي نه راسره کوې، قسم ده چي سر به دي غوڅ درپرې کړم". نزهت الزمان ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل چي خير دئ چي ته پر ما وخنبمېدې ، زه به بيا نرمي درسره وکړم. باره ورتېره سوه د ملک سرولاسونه ئې ورمچ کړل او ورته وې ويل چي: "هر څه چي ستا خوښه وي، زه ئې درسره کوم. درځه چي خپله نخشه عملي کړو او په يوه چم کان ماکان ووژنو". ملک چي دا خبره واورېده، له خوشالۍ پرله وځرخېدي، ول هله ژر کوه، يو چم جوړکړه چي له دې بلا څخه خلاص سو. دې ورته وويل چي په دې کارکي به له باکون نومي مينځي څخه مرسته وغواړو. پر دې مينځي باندي په چمبازۍ کي ختمه ده. د دې په شان بله مکاره او پليته ښځه په دنيا کي نه موندل کېږي. دې مينځي کان ماکان او قضی فکان دواړه لوی کړي دي. پر کان ماکان خو دا مينځه دونه ګرانه ده چي هر وخت ئې د دې په غېږکي سرايښی وي او په خواږه خوب بيده وي. د ملک ساسان دا خبره خوښه سوه، باره ئې دستي په مينځي پسي څوک واستول او راوئې غوښتل. مينځه چي حاضره سوه، دوی دا ټول بيان ورته وکړ او ورته وې ويل چي د کان ماکان په وژلو کي مرسته ورسره وکړي. پر څنګ ئې د خورا ډېرو سرو و سپينو زرو وعده هم ورکړه. مينځي ورته وويل چي: "سمه ده. خو ما ته داسي يو خنجر راکړئ، چي په زهرو لړل سوی وي او ژر ئې ووژلای سي".

د ملک ساسان دا نخشه بيخي ډېره پر زړه ښه ولګېده. باره ئې په زهرو لړلی خنجر ورکړ. د دې مينځي خورا ډېرنکلونه او راز په راز شعرونه په ياد زده ول. آبس، خنجر ئې واخيست، له کوره ووتل چي نور به نو کان ماکان وژني. په دغه چورت کي وه چي کان ماکان ته ورسېده. کان ماکان د قضی فکان په انتظار وو، چي ناڅاپه دا مينځه ورته راغله او له ځان سره ګڼه ده چي د وصال وخت راورسېدی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هجران شپې تېرې سوې. کان ماکان چې دا خبرې واورېدې، باره ئې له مینځې څخه د قضی فکان پوښتنه وکړه چې پر څه حال ده؟ دې ناولې مینځې ورته وویل چې هغه هم ستا په مینه کې لېونۍ ده او تل ئې ستا نوم پر خوله جاري دئ. کان ماکان دستې خپلې جامې په زېرې کې مینځې ته ورکړې او د نورو سرو و سپینو وعده ئې هم ورسره وکړه. مینځې ورته وویل چې نن شپه زه ستا کره تېروم او د مینانو او عاشقانو عجیبې و غریبې کیسې به درته وکړم. کان ماکان ورته وویل چې تر خوله دې جار سم. داسې نکل راته وکړه چې له زړه څخه دا غمونه لیرې سې او یوګړی خوشاله سم. باره مینځه کښېنستله او کان ماکان ته ئې وویل چې د نکلو په کتابوکې راغلې دي....

# د چرسي مین نکل

وایي: یو سړی وو چې له ښایستو ښځو سره ئې ډېره جوړه وه او تل به ئې خپله هستي او شتمني پر هغو باندې لګوله. په پای کې دا سړی در په دره او مفلسه سو، دنیا ئې ګرده ځني ولاړه، په بازاروکې به ګرزېدی چې کومه وچه ګوله یا سبوس ډوډی په لاس ورسي او ځان له مرګه په راوګرزوي. دی د دغې وچې ګولې په تلاښ کې وو او خاورې ئې سره شنلې چې ناڅاپه ئې یو تېره مېخ په ګوته ننوتی او وینې ئې راتوی سوې. باره، یو کونج ته کښېنستی، وینې ئې له ګوتې پاکې کړې او په یوه زړوکې ټوکر ئې ګوته ټینګه وتړله. پر لارې روان سو، زګېروی ئې دئ او د ګوتې له درده ناارامه دئ. په دې حال کې یوه حمام ته ورسېدی. د کالیو په ځای کې ئې کالې وکښل او دننه حمام ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورننووت. د اوبو د حوض پر څنډه کښېنستې او تودې تودې اوبه پر سر و بدن تویوي. آخر ئې بدن ډېر تود سو او ګرمۍ په عذاب کړ.... کیسه چې دې ځای ته ورسېده...

د سهار شمال را والوتی روڼا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او دري څلوېښتمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چې:

دې سړي پر ځان باندي دونه تودې اوبه تويي کړې چې له ډېري ګرمۍ څخه ئې بدن لکه اور داسي تود سو. باره راولاړ سو د سړو (یخو) اوبو حوض ته ورتېر سو، چي ګوري د حوض پر څنډه باندي د چرسو یوه ټوټه پرته ده. ټوټه ئې راواخیسته او خولې ته ئې کړه. په خوله کي ئې یوې خوا و بلي خوا ته سره واړوله او غړچ ئې سو، تر ستوني ئې تېره کړه. چرسو داسي ژر تاثیر پر وکی، چي بوخ ئې راواړاوه. سړی د حوض پر غاړه بوړي بوړي پرېووت او نشه سو. د نشې په حال کي ئې خیال ته ورغله او داسي فکر ئې کاوه چي د حمام کیسه مال ئې کیسه کوي او چاپي کوي ئې. یو مریی ئې سر ته ولاړ وي، بل ئې پښو ته د یوه د اوبو لوټه (طاس) په لاس کي وي او د ها بل نور د حمام سامانونه په بغل کي. دا کسان چي ئې ولیدل له ځانه سره ئې وويل چي دې خلکو د بل چا خیال پر کړی دئ او په ناپامي کي ده ته راغلي دي. د دوی پر شوده ګۍ خندا ورغله او پښې ئې لاپسې کش کړې او اوږد وغزېدی، له ځانه سره ئې وويل: "دا چرس خو عجبه د خدای نعمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ، په يوه پاچهي ارزي". باره فكر كوي چي كيسه مال ئې تر لاس ونيسي، راولاړ ئې كړي، د تورو رېښمو لونګ (لنګ) ئې تر ملا وروتړي. مريان هم د اوبو له لوټې او نور سامان سره په پسې سي. يو ګوښه ځاى ته ئې بوزي. چي ګوري، هورې تيار خواړه پر اور پراته وي. نوري رقم په رقم مېوې په غابو كي ايښوول سوي وي. ښه ښه عطرونه پاشل سوي وي. ده ته يو خټكى ورمات كړي. د شرشمو پر چوكۍ ئې كښېنوي. كيسه مال ورته ولاړ وي، بدن ئې ورچاپي كوي او مريان ئې پر سر اوبه ورتويوي او لمبوي ئې. دى چي ئې ښه پاك خواپاكى ولمباوه، نو دوى ځني ولاړل او دى ئې يوازي پرېښوو. دوى چي ولاړل، سړى راولاړسو، لونګ (لنګ) ئې ايسته كړ او له خندا شين ولاړى، دونه ئې وخندل چي آخر ئې پر پښتورګو لاسونه نيولي ول او پرله غښتى. د دوى پر شوده ګۍ باندي خندا ورغلې وه او له ځانه سره ئې ويل چي ته دوى ته ګوره، ښونه چاديان خلک ول، ماته به ئې "وزير صاحب، وزيرصاحب" ويل. كله به ئې لا راته وويل چي: "يا مولانا صاحب". بيا ئې په زړه كي وروګرزېدل چي البته، خطاوتلي ول، د بل چاخيال ئې درباندي كړي وو. ښايي وروسته مي وپېژني چي زه د خداى لغړى يم. باره وبېرېدى چي كه دا خلک راپوه سول چي زه هيڅ نه لرم. نه وزير يم نه مولانا، خودښكه چي تر وهلو مي په ځغلولو ستړى كړي. باره له بېري ښخه د تودو اوبو حوض ته ورشيوه سو، بيرته له حوض ښخه راووت. بيا ئې په خيال كي ورغله چي مريان او خذمتګاران ورته راغلي وي. بوخچې ئې ورته راوړي وي. درې داني د ورېښمو لونګان ئې هم ورته راوړي وي. يو لونګ ئې پر سر ورواچوي، بل پر اوږو. دا دريم لونګ ئې تر ملاوروتړي. خذمتګاران

(c) ketabton.com: The Digital Library



کڼاوې[1] ورته راوړې. دی ئې په پښو کړي. مريان ئې تر لاس ونيسي او تر حمام راووزي. دی په زړه کي بيخي ډېر خوشاله اوخندان وي، څو د جامو ايستلو ځای ته راسي. دلته چي ګوري، د پاچهانو فرش، سرې غالۍ او سطرنجۍ ورته اواري وي او مريان شاوخوا ورته ولاړ وي او بدن ئې ورموږي. په دې حال کي خوب يوور. خوب ئې ليدی چي يوه نازکه پازکه نجلۍ ئې په غېږ کي ناسته ده او دی ئې مچ کړ. باره ئې د پښو منځ ته سوه او په ابوالعياش ئې لاس ورو واهه، چي په دغه حال کي يو چا په زوره ږغ پروکړ، چي: "اې چرسکه! ولاړ سه، سره غرمه سوه، ته لابيده يې". ده چي سترګي روڼي کړې، ګوري چي د سړو اوبو په حوض کي پروت دئ. لونګ ئې نسته. ځان ته ئې وکتل چي د شرم لوښي و لرګي ئې پر ميدان ورته پراته دي، ابوالعياش ئې له سده وتلی جګ ولاړ دئ، خلک شاوخوا پر راټول دي او له خندا شنه شنه کېږي. دی پوه سو چي دا ټول د شيطان کورخرابي کارونه دي، دا ټول د احتلام له لاسه راپېښ سول. خوا ئې ډېره بده سوه. خلکو چيغې پر وهلې چي: "ولاړسه، ته نه شرمېږي چي پر سپين ميدان داسي بې سيرته  لڅ پڅ پروت يې. رشتيا ئې ويلي دي چي چرسي زوی، نه زوی. ترياکي دوه په ايکي". باره ئې موچڼي و بوټونه پر راوګرزول او داسي وواهه چي ادوبدو ئې کړ. چرسي ټوک ټوک، وړی تړی کور ته روان سو.

کان ماکان چي دا نکل د مينځي له خولې واورېد، دونه ئې وخندل چي آخر ئې پر پښتورګو درد سو. باکون ته ئې وويل چي: "داسي نکل دي راته وکړ چي پخپل ټول عمر مي نه وو اورېدلی. بل

---

[1] د حمام لرګيني څپلۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



به دي دغه راز عجیب و غریب نکل نه وي زده، چي راته وئې کړې". مینځي ورته وويل چي تر شل مي زیات نور زده دي. باره ئې نکلونه ورته کول، څو کان ماکان ته خوب ورغی او بیده سو. مینځه ئې بالښت ته ناسته ده. نیمه شپه سوه. مینځي له ځانه سره وويل چي داغه ئې وخت دئ. راولاړه سوه، خنجر ئې له لستوڼي راوکیښ، پورته ئې کړ، چي اوس به ئې نو د کان ماکان په نس کي ښخاوه، په دغه وخت کي د کان ماکان مور نابېره په خونه ورننوتله. باکون مینځي چي ولیدله، ورته ولاړه سوه او سلاماليک ئې ورته وکړ. خو له واهمې څخه ئې ټول بدن لړزېدی. تا به ويل چي سړه لوي تبې اخیستې ده. د کان ماکان مور چي داحالت ولید، حیرانه سوه. زوی ئې له خوبه راویښ کړ. زوی چي ئې راویښ سو، مور ئې ورته وويل چي: "قضی فکان خبره سوې وه، چي ستا د مرګ توطئه جوړه سوې وه. نو ئې زه په تا پسي راواستولم چي دمخه تر دې چي باکون تا ووژني، زه دي په حال خبر کړم. زه په دغه لحظه کي راورسېدم چي نور نو باکون ستا وژلو ته لاس پورته کړی وو".

کان ماکان ورته وويل چي پر سم وخت راورسېدې او ښه دئ چي باکون هم دلې حاضره ناسته ده. باره ئې باکون ته مخ وروا ړاوه او ورته وې ویل چي نوري جالبي کیسې به دي نه وي زده. هغې جواب ورکړ چي: "جالبي کیسې ډېري دي، خو هغه به بل وخت ته پرېږدو". باکون ولاړه سوه چي له خوني ووتله منګر زړه ئې په هوا وو او د نجات امید ئې کورتې نه وو. ځکه دا پوه سوه چي د کان ماکان مور په ټوله حال خبره ده. باره ئې له کان ماکان سره خدای په اماني وکړه او له خوني ووتله. د کان ماکان مور خپل زوی ته ورنږدې سوه او ورته وې ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي: "بلاوه برکت ئې نه وو. گوره کمه گوله مو د خدای په در کي قبوله سوې وه، چي د هغې له رویه خدای نن شپه له مرگه وژغورلې". باره ئې ټول بیان ټکي په ټکي ورته وکړ.

کان ماکان ورته وویل چي: "موري! مرگ و ژوند د خدای په لاس دئ. منگر بهتره دا ده چي ځانونه له دې دښمنانو څخه گوښه کړو". آبس، چي لمر ښه رالوړ سو کان ماکان له ښاره ووت او ځان ئې وزیر دندان ته ورساوه. دی نو هورې پرېږده، بیرته به راسو، ملک ساسان او نزهت الزمان ته. تر کان ماکان وروسته نزهت الزمان هم له ښاره ووتله او له هغوی سره یو ځای سوه. د دولت نور غټان هم ورسره ملگري سول او پخپلو منځو کي ئې مشوره وکړه او پر دې خبره ئې اتفاق راغی چي له رومیانوسره په جنگ کوي او د ملک نعمان او ملک شرکان د وژلو غچ به ځني اخلي. دوی جگړې ته ورووتل او له څو ورځو جنگ وروسته، چي کیسه ئې نو اوږده ده، د ملک رومزان له خوا ونیول سول او بندیان سول. یوه ورځ سهار ملک رومزان امر وکړ چي کان ماکان او وزیر دندان او د هغو ملگري دي ورته حاضر کړه سي. دوی چي ورته حاضر سول، ملک رومزان هغوی خپل څنگ ته کښېنول. باره سترخانونه اوار سول. حاضرینو ډوډۍ وخوړه او د ټولو زړونه له مرگه بېغمه سول او یو بل ته ئې سره وویل چي دوی فکر کاوه چي مرگ ته ئې راغوښتي دي. دا خو مېلمستیا معلومېدله. تر ډوډۍ وروسته ملک رومزان حاضر مجلس ته مخ ورواړاوه او ورته وېویل چي ده یو خوب لیدلی دئ.

راهبانو ورته ویلي دي چي د دې خوب معنا او تعبیر له وزیر دندان پرته بل څوک نه سي کولای. وزیر دندان ورته وویل چي اې پاچا! ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي خوب راته بيان کړه، تعبير به ئې خدای خير کړي. پاچا ورته وويل چي خوب مي ليد چي په يوه لوی کنډهل کي لوېدلي يم او يو څو تنه مي زهيروي او تکليف راکوي. هر څه کوښښ و تلاښ چي کوم، له دې کنډهله وتلای نه سم. شاوخوا مي وکتل. د کنډهل په يوه کونج کي مي يو زرين شی تر سترګو سو. لاس مي وراوږدکړ، چي راوائې خلم. چي لاس مي ورووړ، هغه دوه زرين شيان سول. چي ښه ورنزدې سوم هغه بيرته يو شی سو. په دغه وخت کي له خوبه راويښ سوم. وزير دندان ورته وويل چي د دې خوب تعبير دي داسي دئ چي ستا يو ورور، يا وراره يا د کاکا زوی يا د هغه نور خپلوان چي وينه ئې له تاسره يوه ده، به خدای پيداکړي. پاچا چي داواورېدله، باره ئې کان ماکان و نزهت الزمان وقضی فکان و وزير دندان او نورو ته وکتل او له ځانه سره ئې وويل چي دا خلک بايد زه ژر ووژنم. د لښکر زړه به ئې ولوېږي او زه بايد ژر خپل مملکت ته بيرته ولاړ سم، نه ګانه چي پاچهي مي د لاسه و نه وزي. باره ئې دستي جلاد راوغوښت او امر ئې پر وکړ چي کان ماکان ووژني. په دې وخت کي ناڅاپه د ده روزونکې دايي مجلس ته راحاضره سوه او پر ده ئې چيغه وکړه چي: "اې، ټولواکه! دا څه کوې؟" پاچا په جواب کي ورته وويل چي خيال مي دئ چي دا بنديان ټوله مړه کړم، سرونه ئې د هغوی ملګرو ته ورولېږم. بيا به نو پر هغوی باندي له خپل لښکر سره يو ځای حمله وکړم. څوک به مړه کړم او څوک به وتښتي. او دا مي له مسلمانانو سره وروستۍ جګړه نه ده. تر دې جګړې وروسته يو وار ژر خپل مملکت ته ځم چي هلته ته خو به څه نه وي پېښ سوي. دايي چي ئې دا خبري واورېدې، د دوی په ژبه ئې ورته وويل چي حاضر مجلس په پوه نه سي، ول: "څرنګه دي پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه اوارېږي چي خپل خوريی او خپله خورځه ووژنې؟" پاچا چي دا واورېدله، له ډېره خښمه سره سوروشين سو. خپل دايي ته ئې وويل چي: "خدای خوار کړي! تا ما ته نه وه ويلي چي ستا مور وژل سوې ده او تا ته ئې زهر درکړي وه". بيا دي يو غمی راکړ چي دا ستا د پلار غمی وو. د خدای په غضب ککړه سې، رشتيا ولي نه راته وايې؟ دايي ورته وويل: "ما چي څه درته ويلي دي، هغه ټول رشتيا دي. زما نوم مرجانه  او ستا د مور نوم ملکه ابريزه دئ. مور دي ډېره ښايسته او زړه وره ښځه وه. خو پلار دي د بغداد او خراسان ټولواک ملک نعمان دئ چي خپل زوی ملک شرکان ئې له دغه وزير دندان سره جنگ ته استولی وو. ستا ورور ملک شرکان يوه ورځ له لښکره څخه ليري تللی وو چي ستا د مور ملکې ابريزې پر ماڼۍ پېښ سوی وو. موږ مينځيانو په دغه وخت کي ستا له مور سره په يوه گوښه ځای کي سات تېراوه او غېږي مو ايستلې، چي ناڅاپه ملک شرکان راغی. ستا له مور سره ئې غېږ وايستل. څرنگه چي هم د ښايست له خوا پر ختمه وه او هم په زور کي غښتلې وو، ستا مور ئې غوځاره کړه. مور دي دی پنځه ورځي پخپله ماڼۍ کي د مېلمه په ډول وساته. يوه ښځه چي ذات الدواهي نومېدله، په دې حال خبره سوه او ستا د مور پلار ملک حردوب ته ئې دا حال ووايه. مور دي د ملک شرکان پر لاس مسلمانه سوه او ايمان ئې راووړ. شرکان دا له ځانه سره بغداد ته بوتله چي زه او ريحانه او يو څو نوري مينځياني هم ورسره وو. موږ ټولي مسلمانانې سولو. ستا پلار ملک نعمان چي دغه ملکه ابريزه وليدله، سمدلاسه پر مين سو. له ملکې سره ئې شپه تېره کړه. په دغه شپه ملکې حمل واخيست او ته ئې په نس سوې. مور دي درې غمي درلودل چي پاچا ته ئې وروبخښل. پاچا يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غمی نزهت الزمان ته، یو ئې ضوء المکان ته او دریم ئې ستا ورور شرکان ته ورکړ. ملکې ابریزې دغه غمی له ځانه سره وساته. کله چي د ملکې د لنګون وخت رانزدې سو، غوښتل ئې چي له خپلو خپلوانو سره وګوري. ما ته ئې خپل د زړه حال ووایه. ما یوه تورپوستي مریي ته دا حال ووایه. د ډېرو سرو او سپینو زرو وعده مي ورسره وکړه او ځني ومي غوښتل چي زموږ سره په دغه سفر کي ملګری سي. دې مریي، چي غضبان نومېدی، زما خبره ومنله او موږ ئې له ښاره راوایستلو او وتښتېدلو. د روم خاوري ته چي راورسېدلو، د مور دي د لنګون دردونه شرو سول. له آسه راکښته سولو چي په دغه وخت کي پر دې مریي باندي شهوت زور سو او غوښتل ئې چي ملکې ته لاس ورواچوي. ملکې چیغه پر وکړه او له ډېره خښمه ئې غاښونه ورته چیچل چي په دغه شېبه کي ته وزېږېدلې. ستا له زېږېدلو سره سم د روم ښار له خوا یوه دوړه ښکاره سوه. مریي واهمې واخیست او پر خپل ځان وبېرېدی. باره ئې توره کش کړه او ستا مور ئې ووژل او دی پخپله وتښتېدی. دغه وخت دوړه رانزدې سوه او ستا نیکه او د روم پاچا ملک حردوب راښکاره سو. دی چي رانزدې سو، نجلۍ ئې پر مځکه باندي مړه ولیدله. ډېر غمجن سو. باره ئې زموږ څخه د ملکې په باب او د هغې د وژلو په باره کي پوښتنه وکړه. موږ ټول بیان ورته ووایه. د رومیانو او مسلمانانو د دښمنۍ سبب هم همدا خبره ده. باره ئې د ملکې مړی راواخیست او په خپله ماڼۍ کي ئې ښخه کړه. ته ئې ما ته راوسپارلې. ته مي لوی کړې او هغه غمی مي چي ستا په مور پوري ئې اړه درلوده، ستا په غاړه دروځړاوه. بیا نو ته خدای لویولې او لوی سوې. په هغه وخت کي ما تا ته دا حال نه سوای بیانولای. یو سبب ئې دا وو چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسي تر منځ جګړه پیښېدله او بله خبره خو دا وه چي نیکه دي هم امر راباندي کړی وو چي دا خبره به له ځانه سره پټه ساتم. ما د ده له حکمه څخه سر نه سوای غړولای. دا خبره پاته وه، څودا دئ اوس مي درته وویله. نور نو ستا حکم دئ چي څه کوې نو موږ پر سر و سترګو منلي دي. د مرجانې دغه بیان ټولو بندیانو هم واورېد. باره نزهت الزمان نارې کړې چي ملک رومزان زما پلرنی ورور دئ، مور ئې ملکه ابریزه د ملک حردوب لور ده او دغه مرجانه نومې مینځه زه پېژنم. ملک رومزان حیرانی واخیست چي دا څه اورم؟ باره ئې له نزهت الزمان سره له نزدې وکتله او د وروری وینه ئې پر جوش راغله. هغې هم ټول بیان ټکي په ټکي ورته وکړ. د دې بیان او د مرجاني کیسه کټ مټ سره ورته وه او د ملک هم زړه ته ولوېدله چي دی د عراق دئ او پلار ئې ملک نعمان دئ. باره ئې ژر ژر د خپلي خور نزهت الزمان لاسونه ورخلاص کړل، لاس ئې ورمچ کړ. نزهت الزمان ته ژړا ودرېده او ملک هم ورسره وژړل. آبس، نور بندیان ئې هم راوغوښتل، له لاسو څخه ولچک او له پښو څخه ئې زولنې ځني وایستلې. په دې وخت کي د مرجاني سترګي پر هغه غمي باندي ولګېدې چي د کان ماکان په غاړه وو. باره ئې نارې کړې او ملک رومزان ته ئې وویل چي: "زویه! د خپلو خبرو بله نښانه مي هم پیداکړه او هغه د دغه ځوان په بازوبند کي دغه غمی دئ. دا له هغو درو غمیو څخه دئ چي یو مي ئې ستا په غاړه درځړولی وو".

کان ماکان ته ئې وویل: "ځوانه! ته دي دا غمی راوړه چي زه ئې وګورم". کان ماکان غمی ورکړ. مرجاني دا دواړه غمیان ملک رومزان ته ورښکاره کړل. هغه چي وکتل، په رشتیا سره دواړه یو شانته ول او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرجاني پر خبره باندي يو بل ثبوت هم ورزيات سو. ملک پوه سو چي دغه ځوان ئې يعني کان ماکان ئې وراره دئ. باره ئې وزير دندان ته مخ ورواړاوه، په غېږ کي ئې ونيو. کان ماکان ئې پر تندي مچ کړ. زياتي نو خوشالۍ سوې، ډولونه وډبېدل، اتڼونه سول، سورناوي ورغږېدلې. هلته چي د عراق و شام لښکرو د روميانو دا ډول و ډمامې واورېدلې، باره پر اسانو راسپاره سول او ملک زبلکان هم راسپور سو چي وګوري، دا ډولونه پر څه وهل کېږي؟ باره ئې لښکر ته د جنګ د تياري تروم وواهه. ملک رومزان چي وليدل، د عراق و شام لښکر په جنګ رارهي سول او په اصلي حال خبر نه دي، باره ئې خپلي ورېرې قضی فکان ته وويل چي ته چټکه ورسه او د عراق و شام لښکر ته اصلي حقيقت بيان کړه. قضی فکان هم په منډه ورغله او ملک زبلکان ته ئې ټول بيان وکړ او نکل ئې له سره تر پايه ورته واوراوه. هغوی هم خوشاله سول او انديښنه ئې رفع سوه.

آبس، قضی فکان دمخه سوه او ملک زبلکان او د عراق و شام نور غټان په پسې سول او د ملک رومزان خيمې ته ورغلل. خيمې ته چي ورننوتل، وئې ليدل چي ملک رومزان له خپل وراره کان ماکان سره ناست دئ او له وزير دندان سره د ملک زبلکان په باب مشوره کوي. تر مشورې وروسته ئې فيصله پر دې سوه چي دمشق به د پخوا په شان ملک زبلکان ته ورپرېږدي او پخپله به دوی عراق ته ولاړ سي. باره ئې سلطان زبلکان د شام له لښکر سره دمشق ته واستاوه او نور لښکر سره راغونډ سول. ملک رومزان او کان ماکان دواړو سره ووېل چي د دوی زړونه به هغه وخت پر ارامه او خښم به ئې سوړ سي چي له ذات الدواهي څخه خپل غچ واخلي. باره ئې نو لښکر ته د کوچ امر وکړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کان ماکان له خپل اکا ملک رومزان سره خوښ خوشاله رهي سو. مرجاني ته ئې دوعاوي وکړې چي دوی یو او بل ئې سره معرفي کړل.

د مزله کار دئ، هله ، هله، هله دا دئ، عراق ته راورسېدل. د ملک ساسان لوی اوالدار د دوی په راتګ خبر سو او هرکلي ته ئې رااووت. د ملک رومزان لاس ئې مچ کړ. ملک هم سوغات ورکړ. باره نو ملک رومزان پر تخت کښېنوست او کان ماکان ئې پر څنګ ورسره کښېناوه. کان ماکان پښه ونیوله او ورته وې ویل چي دا ځای ستاسي سره ښایېږي. ملک رومزان ورته وویل: "استغفرالله! زه به څرنګه ستا پاچهۍ ته طمع کوم". په دې ترڅ کي وزیر دندان پر راړغ کړه چي تاسي دواړه دي سلطانان یاست. یوه ورځ دي یو پاچهي کوي او بله ورځ دا بل یو. دا خبره د دواړو خوښه سوه.... کیسه چي دې ځای ته ورسېده...

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او څلور څلوېښتمه شپه

شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

ملک رومزان او کان ماکان دواړه د وزیر دندان په اشاره پر تخت کښېنستل. خوښ خوشاله ژوند ئې وو. لښکر او رعیت هم خوشاله وو او د خپلو پاچهانو د سر دوعاوي ئې کولې. سلطان کان ماکان واده وکړ او د کاکا له لور قضی فکان سره ئې د عیش و عشرت شپې تېرولې. څه موده وروسته، یوه ورځ ناست دي، چي ګوري له لیري څخه دوړه معلومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوه. چي وئې کتل يو سوداګر دئ راځغلي او چيغي وهي، خولۍ ئې له ډاګه وويشتل او وې ويل چي: "اې، پاچا! دا څه پېښه ده چي د کفر په وطن کي زموږ مالونه سهي سلامت راتېر سول، خو د اسلام په پاچهي کي ئې راڅخه لوټ کړل".

ملک رومزان د غلا کيفيت ځني وپوښتی. سوداګر ورته وويل: "دا شل کاله کېږي چي په تجارت پسي له وطنه ورک يم او د دنيا په ښارو کي ګرزم. زما سره د دمشق د ښار يو دوه مکتوبه هم سته چي ملک شرکان له دې اسيته ليکلي دي چي ما ورته يوه مينځه وربخښلې وه. اوس چي دې وطن ته راورسېدم. ما له هند څخه سل باره مال رابار کړی وو، بغداد ته مي ووړ. دلته عربان و کردان راباندي پېښ سول. سړي ئې راووژل او مالونه ئې لوټ کړل. هست و نېست مي ټول ولاړل. دغه مي حال دئ، دا مي احوال دئ". تر دې بيان وروسته په ژړا سو. د ملک رومزان او ملک کان ماکان هم زړونه پر وسوځېدل. باره ئې سل تنه داسي سپاره ورسره ملګري کړل چي هر يو ئې د زرو تنو په جنګ ورتللای سوای. سوداګر دمخه سو چي لاروليکه وروښيي. دغه ورځ او شپه ئې ټوله مزل وکړ. سهارګاه مهال دئ چي يوې سمسوري سيمي ته ورسېدل. دلته ئې يو ځای هغه غله په سترګه سول چي ناست دي او د سوداګر مالونه پخپلو منځو کي سره وېشي.باره دا سل تنه سپاره پر راوګرزېدل او ملک رومزان او ملک کان ماکان په لوړ اواز ږغ پر وکړ چي: "ښور و نه خورئ، که هر چا ښور وخوړ، سر به ئې له تنې څخه ورجلا کړو". چي مخ دي راګرزاوه، ټول ئې ونيول. دا غله ټول درې سوه تنه ول او د عربو او کردانو هغه ټول فساتيان او لوچګان پکښې شامل ول. د سوداګر مالونه ئې ځني راټول کړل او د دوی لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپښې ئې وروتړل. په کښېدلو ئې بغداد ته راوستل. په بغداد کې ملک رومزان او ملک کان ماکان دربار جوړ کړ. دوی پر تخت کښېنستل او غله ئې راوغوښتل او پوښتني ئې ځني شرو کړې؟ هغوی وویل چې موږ درې تنه مشران لرو او هغو دا ډله له شاوخوا اطرافو څخه راغونډه کړې ده. امر وسو چې دا درې تنه راحاضرسي. فوراً ئې هغه درې تنه راحاضر کړل. دوی ئې بندیان کړل او نورو ته ئې رخصت ورکړ او خوشي ئې کړل. د سوداګر مالونه ئې ټوله بیرته په لاس ورکړل. په دې وخت کې سوداګر دوه مکتوبه راوایستل چې یو د ملک شرکان په خط کښل سوی وو او بل د نزهت الزمان په لیک لیکل سوی وو. د خطو له رویه معلومه سوه چې دې سوداګر همدغه نزهت الزمان پر ملک شرکان باندي خرڅه کړې وه. کان ماکان چې د خپل اکا شرکان لیک وکوت. وئې پېژاند چې د هغه د لاس لیکلی خط دئ. باره ئې خط واخیست او سیده نزهت الزمان ته ولاړ. هورې ئې د سوداګر بیان ورته وکړ. نزهت الزمان چې خط وکوت، خط او سوداګر ئې دواړه وپېژندل.

آبس، خط ئې ملک رومزان او ملک کان ماکان ته ورکړ او سوداګر ئې مېلمه کړ. ښه غوړه ډوډۍ ئې ورلره ورکړه. تر ډوډۍ وروسته ئې ډېر مال هم په سوغات کې ورکړ. خپل مریان او نوکران ئې په خدمت کې ورته ودرول. سوداګر خورا ډېر خوشاله سو او ډېري دوعاوي و ثناوي ئې ورته وکړې. درې ورځي ئې تېري کړې، نور ئې نو اجازه وغوښتله او پر خپله تړه ولاړ. تر دې وروسته نو پاچهانو د غلو هغه درې تنه مشران راوغوښتل او پوښتني ئې ځني وکړې. یوه ورته وویل چې زه سارایي سړی یم او زما د اکار وو چې کوچني ښایسته هلکان او نجوني به مي غلا کولې او بیا به مي پر سوداګرو باندي خرڅول. ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره زمانه مي دا کار وکړ. پای ته له دغه خدای ناترسه سره انډیوال سوم. څو لوچگان مو سره راټول کړل او د سوداگرو قافلې به مو لوټولې. پاچهانو ورته وویل چې د ماشومانو په غلاوو کي دي کومه داسي عجایبه پېښه لیدلې ده. که دي لیدلې وي، راته وئې وایه.

سارایي ورته وویل چي د پاچهانو سر دي سلامت وي، تر ټولو عجایبه پېښه خو دا وه چي دوه ویشت کاله پخوا مي په بیت المقدس کي یوه نجلۍ غلا کړه. داسي ښایسته نجلۍ وه چي گل پوري موښت، خو خیرن بړانگي بړانگي کالي ئې اغوستي ول او یو خیرن څیري ویري پوړنی ئې پر سر وو. ما دا ولیدله چي له کاروانسرای څخه راووتله. باره مي په یو چم غلا او پر اوښ مي سپره کړه. خیال مي نو دا وو، چي دا نجلۍ لیري دښتو ته، هغه ځای ته چي زما عیال پکښې اوسېدی، بوزم. خیال مي وو چي هورې به اوښان پیایي او پوچي موچي به راټولوي. دې نجلۍ خورا ډېري بوغاري وکړې او خورا ډېر ئې وژړل. هیڅ نه ارامېدله. آخر مي یو څو چپلاخي وهم وهله خو نجلۍ له ژړا نه لوېدله. باره مي دمشق ته بوتله او هورې مي یوه سوداگر ته ورښکاره کړه. سوداگر چي د دې حسن و جمال ته وکتله، باره ئې په سل زره دیناره راڅخه رانیوله. بیا مي نو واورېدله چي سوداگر ښه کالي په واغوستل او د دمشق پاچا ته ئې هدیه کړه. پاچا سوداگر ته یو په دوه پیسې ورکړې. دغه بیه پر هغې نجلۍ لا لږ وه.

ملک رومزان او ملک کان ماکان دې کیسې ته داسي حیران تللي دي. نزهت الزمان چي دا نکل واورېدی، اسمان ئې پر سر سره وڅرخېدی، پر سترگو ئې توري پردې راغلې، خپل ورور ملک رومزان ته ئې مخ وراړاوه او یوه لویه چیغه ئې وکړه چي: "دا هغه ارمچک

(c) ketabton.com: The Digital Library



دئ چي زه ئې په بيت المقدس کي وتښتولم". بيا نو نزهت الزمان هغه ټولي ديدنۍ و خوارۍ ولوړي ووهل وټکول بيان کړل چي د دغه سړي له لاسه پر دې راغلي ول. باره ئې وويل چي د دې سړي وژل خو ما ته داسي روا دي لکه د خپلي پاکي مور شيدې. توره ئې کش کړه او پر سارايي ئې مخامخ ورالا کړه.

سارايي نارې کړې چي: "آپاچهانو! دا ښځه مه پرېږدئ چي ما مړ کړي. زه به د خپل ژوند يو بل عجايب نکل هم درته وکړم". باره، کان ماکان خپلي عمه ته مخ ورواړاوه چي ته ئې پرېږده چي دی نکل وکړي. تر نکل وروسته بيا ستا کار دئ چي هر څه په کوې. نزهت الزمان لاس ونيوی او توره ئې بيرته تېکي ته کړه. پاچهانو سارايي ته وويل چي نکل دي کوه. سارايي ورته وويل چي دا نکل په دې شرط درته کوم چي نور به نو ما بخښئ. دوی هم د بخښني وعده ورسره وکړه او سارايي نکل شروکړ.

# د سارايي د خيانت نکل

سارايي پاچهانو ته مخ ورواړاوه، وې ويل چي کيسه داسي وه ښه ډېر وخت پخوا يوه شپه خوب راځخه وتښتېدی. لټ پر لټ اوښتم، هيڅ خوب نه راتلی. شپه دونه راباندي اوږده سوه لکه يو کال. آخر چي سهار سو، راولاړسوم. توره مي راواخيستله، ملا مي وتړله او نېزه مي پر اوږه کړه. د هوسيو په ښکار ووتلم. پر لاري يوه ډله ښکاريان نور راباندي پېښ سول. زما په نيت چي خبر سول، باره سره ملګري او انډېوالان سوو. تلو، تلو، تلو، چي ناڅاپه مو يو اوښمرغۍ (شترمرغ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سترګه سوه. باره مو پسې ورمنډه کړه. دا دمخه ده موږ په پسې یو. تر ما پښینه مو منډې پسې ووهلې. آخر یو داسې بتې بیابان ته راورسېدو چې نه یو بوټی پکښې ستـه او نه یو ډوکی. بس د مارانو پوښهاری او د پېریانانو اوازونه اورو، بل څه نه وینو او نه اورو. اوښمرغۍ هم راڅخه ورکه سوه، تری تم سوه. په پوه نه سوو چې په هوا والوتله، که په مځکه ننوتله. باره مو د اسانومخ راواړاوه. منګر په داسې توده هوا کې بیرته تګ هم د اسمان خاته وه. هوا داسې توده سوه چې تا به ویل د دوږخ خوله پر دغه دښت راخلاصه سوې ده. په دې ترڅ کې تندې واخیستلو او اسان مو هم له اخه و له ټوخه ولوېدل. مرګ مو په دا خپلو ګناهکارو سترګو ولېدی. په دغه چورتو کې یو، چې نابېره مو له لیرې څخه یوه پراخه شنه سمسوره سیمه ولیدله چې یوه خېمه پکښې معلومېدله او د خیمې څنګ ته یو آس هم تړلی ښکارېدی. موږ ته دونه خوشالي پېښه سوه چې مه کوه پوښتنه. باره مو اسان د خیمې پر خوا ورپونده کړل. زه دمخه یم او نور یاران راپسې دي څو دا دئ چمنانو ته ورسېدو. هورې د یوې چینې پر غاړه له اسانو څخه راکښته سوو. ځانونه او اسان مو ښه اوبه او ماړه کړل. ته زما بې عقلۍ ته ګوره، ناحقه د خیمې و خوا ته وررهي سوم. خیمې ته چې ورغلم، ګورم چې یو ښایسته ځوان او یوه پېغله مخې جګه لوړه نجلۍ څنګ پر څنګ ولاړ دي. ځوان ته مې سلام ورواچاوه. سلام ئې رابیا کړ. باره مې پوښتنه ځني وکړه چې: "یاأخ العرب! راته ووایه چې څوک یې؟ او دا د څورلسم سپوږمۍ څوک ده؟" ځوان سرکښته واچاوه، بیرته ئې راپورته کړ او پوښتنه ئې راڅخه وکړه چې: "ته څوک یې؟ او دا سپاره چې درسره دي، دا څوک دي؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وويل چي: "زه د فرازي زوی حماد يم. په عربو کي ئې زه د پنځو سوو سپرو پر ځای شمېرلی يم. مور له کور څخه د هوسيو په ښکار راووتلو. تندي واخيستلو او دې خيمې ته راغلو چي ګوندي يو غوړپ اوبه به پيداکړو". ځوان چي زما خبره واورېدله، باره ئې هغې ښکلي نجلۍ ته وويل چي دې سړي ته اوبه ورکه او د خورک چي هم هر څه وي، ورته رائې وړه. نجلۍ د زرکي په شان شانه ورانه رهي سوه. يو آن وروسته ئې د سپينو زرو په جام کي سړې اوبه او په بل لاس کي ئې په يوه غاب کي خرما، شيدې او يو څه د هوسۍ غوښه راوړه. زه د دغي نجلۍ ښايست ته داسي ډوب حيران تللی وم، اوبو او خوړو ته مي خودښکه پام لا سوی وي. بې اختياره مي تر خوله راووتله:

شاپېرۍ د حسن نه يې ته ئې حوره
مور دي نه سي پر تا ښکلي باندي بوره
سيال دی نسته په څلور کونجه دنيا کي
ګوره؟ ته به ئې پيدا له کومه نوره

او په دې پسې مي دا بيتونه هم تر خوله راووتل:

ښايستې چي ما ليدلي پر دنيا دي
انس وجن او دا نور هر څه چي پيدا دي
ستا تر نوک ده صدقه دا دنيا ټوله
سپلني دي هم تر ناز و تر ادا دي
چيري زما دا تورۍ ژبه او ستا حسن
زه لا څه؟ ټول شاعران دي خاک پا دي

باره مي له خوړو څخه يو څو ګولې واخيستلې او ځان مي اوبه هم کړ. بيا مي نو ځوان ته مخ وروا ړوه چي: "اې ښکلې عربه! ما خو خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت درته بیان کړ. ستا ځخه هم هیله من یم چې خپل حال راته وواېې". ځوان راته وویل چې دا نجلۍ زما خور ده. ما ورته وویل چې یا دې دا خور ما ته راوبخښه او که نه، تا به هم ووژنم او خور به دې هم راسره بوزم. ځوان یو آن سرکښته ځړولی وو، آخر ئې سر راپورته کړ ما ته ئې مخ راواړاوه چې: "دا چې ځان دې په زړه ورتیا او سپارلې کې نامې وباله، رشتیابه دې ویلي وي. منګر که زما سره زما په دا تش لاس جنګ وکړې. ما مړ کړې او خور مې درسره بوزې، دا پیغور تا ته تر ابده پاتېږي. که رشتیا غښتلی او مېړنی یې، نو ما ته دونه مهلت راکه چې زه هم خپله توره و سپر راواخلم او پر آس سپور سم. هلته به ئې نو زه و ته سره معلومه کړو. که مې مات کړې، دا ټوله ملګري به دې هم تر تېغ تېر کړم او که دې مات کړم، ما به مړ کړې او نجلۍ به په غنیمت کې درسره بوزې". باره مې ورته وویل چې د انصاف خبره خو همدا ده چې دا تا وکړه. آبس، د آس مخ مې راوګرزاوه. د دې نجلۍ مینې چور لېونی کړم. یارانو ته چې راغلم. د دې نجلۍ د جمال او ښایست خبري مې ورته وکړې او د ځوان د مېړانې او کاکه ګۍ بیان مې هم ورته وکړ او دا مې هم ورته وویل چې هغه وایي په یو زر سپرو ئې لا سترګه نه ډکېږي. مقصد پر ما چې په خېمه کې هر څه راغلي ول، ټول مې خپلو یارانو ته بیان کړل او په پای کې مې دا هم ورته وویل چې دا ځوان که د رشتیا هم د زړه ډک سړی نه وای، نو په دې دښت و بیابان کې یوازې په خیمه کې نه کښېنستی.

یارانو ته مې مخ وروګرزاوه او ورته ومې ویل: "اوس که په تاسې کې هر څوک حاضرېږي چې له دغه ځوان سره مقابله وکړې، رامخ ته دې سي. که ئې دغه ځوان وګاټه او مړ ئې کړ، خور دې ئې هم د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي". یاران په دې خبره راضي سول. د جنګ جامې ئې واغوستلې او د خیمې خوا ته وررهي سوو. هورې چي ورغلو، ځوان ملا تړلی پر آس سپور ولاړ دئ. خور ئې په رکاب پوري موښتې ده، پوړنی ئې پرمخ راایله کړی دئ. پر خپل ورور باندي بېرېږي چي مړ ئې نه کړي او دا بیتونه وایي:

نـــا رینتوب لـــه مېړنو ســـره ښـــا یېږي
په پستۍ کي ژوند پر ژوند نه حسابېږي
چي پـه چـا کـي وي لـړ تو منـه د مېړانـي
هغــه هیڅکلــه لــه مرګــه نــه بېرېــږي
ســر بــه لــوړ لکــه نېــزه د هغــه چــا وي
چي په جنګ کي ئې په خرپ تـوره چلېږي

ځوان چي د خپلي خور له خولې دا بیتونه واورېدل، خورا ډېر ئې وژړل. آس ئې ورته باش کړ او دا بیتونه ئې ورته وویل:

د جګړې میدان سختۍ دي سره اورونه
مېړنـــو پکـــښې بـــایللي خپـــل ســـرونه
مـــا چـــي کلـــه ده دا تـــوره تـــر مـــلا کـــړې
مـــا منلـــي دي د ځـــان او بـــل مرګونـــه
تـــوره تـــل د حـــال پـــه ژبـــه راتـــه وایـــي
سربښـنده، خو مـه پرېـږده ترشا شـرمونه

دا بیتونه چي ئې تر خولې ووتل نو ئې خور ته وویل چي که زه مړ سوم. هوښ کوه چي څوک ځان ته پرې نه ږدې. خور ئې ورته وویل: "معاذالله! ته به مړ یې، او ما ته به څوک راتېرېږي!" باره ځوان د خپلي خور له مخ څخه پوړنی پورته کړ. تا به ویل چي د څورلسم سپوږمۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوختله او ټوله دنیا ئې پخپلو شوغلو روښانه کړه. ځوان خپله خور پر تندي مچ کړه. خدای په اماني ئې سره وکړه. باره ئې موږ ته مخ راواړاوه او وې ویل چي: "که مېلمانه یاست، خدای مو راوله چي مېلمستیا درکړم. او که دا ښکلې غواړئ، نو یو یو رامخ ته سئ چي په میدان کي ئې سره معلومه کړو". زموږ له مابین څخه یو سپور وروړاندي سو. ځوان ورته وویل: "نوم او د پلار نوم دي راته ووایه. ما له ځان سره قسم اخیستی چي که د هر چا نوم زما له نامه سره او د پلار نوم ئې زما د پلار له نامه سره یوشی وو، زه به هغه نه وژنم". زما اندېوال ورته وویل: "زما نوم بلال دئ". ځوان ئې په جواب کي دا دوه بیته ورته وویل:

ستا مرگی لکه چې زما په لاس لیکلی
د بخت ستوری دي دا نن ښکاري، لوېدلی
ککری به دي په خاورو کي اوس رغړي
مور دي نسته چي پر تا ئې زړه سوځلی

باره ئې یو پر بل اسونه سره ورپونده کړه. ځوان د نېزې واری پر وکړ، نېزه ئې تر ټټر پوريووري ووتله. له آسه راولوېد.

باره زموږ له ډلي څخه بل ورووت. ځوان ورته وویل:

که څوک زما سره کوي لړ د ښمني
پر مغزي به زما د توري وار مني
خدای زما نېزه ککري ته پیدا کړه
د گرز واري مي هر یو دي سل مني

ځوان د ده خوله هم په یوه آن کي د خاورو ورډکه کړه. دریم ورمخ ته سو دا ئې هم هغې دنیا ته واستاوه. څلرم و پنځم ئې هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرګي په غېږ وروستل. آخر ما له ځان سره فکر وکړ چې له يارانو خو ئې خلاص کړم. زه که هم ورو ړاندي سوم، دغه حال راته ګوري او که وځغلم د عربو قبيلې به مي ملامت کړي چې ملا دي رګه سه، له کوچني هلکه دي رامنډه کړه. زه په دغه چورت کي يم چې د ځوان لاسونه راورسېدل او له زين ښخه ئې پر مځکه لاندي راواچولم. توره ئې راته کش کړه چې ومي وژني. زه ئې په پښو کي ورولوېدم. ځوان زه د چوغکي په شان له مځکي ښخه هوا ته راپورته کړم. هغه نجلۍ د خپل ورور په غښتلتوب ډېره خوشاله سوه. وړاندي راغله او ورور ئې پر تندي ښکل کړ. ځوان زه په لاس ورکړم چې دی بوزه په يوه سم ځای کي ئې وساته ولي چې اوس ئې مور ته پناه راوړې ده او زموږ په امان کي دئ.

آبس، نجلۍ زه د لمني تر يوې څنډې ونيولم او لکه سپی داسي ئې کشولم. بيا ئې نو له خپل ورور څخه د جنګ جامې وکښلې. خپلي عادي جامې ئې په واغوستلې. د عاج د لرګي تخت ئې ورته راوړ. دی پر تخت کښېنوست. خور ئې ورته وويل: "خدای دي تل سرخرويه لره. په اور او اوبو کي دي خدای وساته". ځوان د خپلي خور په جواب کي دا بيتونه ورته وويل:

خوښ خوشاله ګرزه زما ښايستې او ښکلي خوري
خدای راسره مل دئ په هر څه کي راته ګوري
سپر يم د غليم و مخ ته توره سته، نېزه لرم
زه که وم ژوندی د ښمن به ليري ليري ښوري
هر چا چي په بد نظر و تا ته وي کتلي
واری به د توري پر سر خوري زما د لوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



فـرض پـر نارينـه ده د نـاموس و ننـگ سـاتنه
ننگ ناموس چي نه لري هغه گرزي مختوري
کـوږ نظر کـه چا لاره زمـوږ ننـگ و نـاموس تـه
خون ئې روا سوی دئ د خدای، رسول په توري

دا بيتونه چي مي واورېدل پر خپل ځان باندي وبېرېدم. خپل بنديگرت ته مي وکتل. حيران ولاړم. بيا مي هغي ښکلي نجلۍ ته وکتل او له ځانه سره مي وويل چي دا ټول مصيبت خو د دغي ښايستې له لاسه راپېښ سو. د دې و جمال و کمال ته هک پک تللی وم. تر سترگو مي اوښکي راغلې او دا بيتونه مي زمزمه کړل:

کـــــه دا زړونـــــه وه او دا ول ول زلفـــــاني
خـورا ډېـري ککـری بـه سـي پرېـشاني
چـي د چـا پـر کـور د عـشق بـلا سـي لنگـه
رنگ بې ژيړ وي، سترگي سرې وچي لباني

تر دې وروسته نجلۍ ولاړه سوه او خپل ورور ته ئې ډوډۍ موډۍ راوړه. ما ته ئې هم ست وکړ. په زړه کي خوشاله سوم او له ځانه سره مي وويل چي داسي معلومېږي چي زما د وژلو خيال ورسره نسته. ډوډۍ چي ئې وخوړه، باره ئې د شرابو جام ورته راووړ. ځوان په مې و پياله لگيا سو. دونه ئې وڅښل چي آخر ئې مخ تک سور واوښتی. باره ئې ما ته مخ راواړاوه او وې ويل چي: "اې حماده! زه عباد د تميم زوی او د تغلبه لمسی يم. تا ته خدای نوی ژوند درکړ". ما ته ئې هم يو جام راواړاوه. دا مي پر سر پورته کړ. بل ئې راواړاوه. دا مي هم يوه اينده کړ. دريم، څلرم ئې هم راکړ. ټول مي وڅښل. بيا ئې نو زما سره د انډيوالۍ خبري شرو کړې او قسم ئې راکړ چي خيانت به نه ورته کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د یوه قسم پر ځای زر قرآنونه ورته وډبول چي هیڅکله به زما له خوا خیانت و نه ویني. باره ئې خور ته وویل چي ها وریښمیني جامې ورته راوړه چي وائې غوندي. خور ئې جامې راته راوړې او دغه چي اوس مي اغوستي دي، هماغه جامې دي. بیا ئې نو له خپلو اوښانو څخه یو ډېر ښه اوښ راته راکړ او خور ته ئې وویل چي یو عراقی آس هم راته تیار کړي زه له دوی سره درې ورځي واوسېدم. له هغه وروسته ئې راته وویل چي: "حماده وروره! ستا له خوا مي زړه بېغمه سو. اوس نو غواړم یو څه استراحت وکړم. که دي سپاره په سترگه سول چي دې خوا ته راروان ول. بېرېږه مه. دا د بنی تغلبه کسان دي او زماسره د جنگ خیال لري. باره ئې توره تر سر لاندي کړه او بیده سو. ما ته شیطان کافر په زړه کي وسوسه راواچوله او د ده د وژلو سودا راولوېده.

آبس، راوغورځېدم او د ده تر سر لاندي توره مي راواخیستله او سر مې غوڅ ورپرې کړ. خور چي ئې زما په کار خبره سوه، داغسې راالاکړه او پر خپل ورور باندي پړمخي ولوېده، کالي ئې پر ځان څیري کړل او دا بیتونه ئې وویل:

ژاړئ ژاړئ اې دوســـــــــتانو ژاړئ ژاړئ
پــه کفــن کــي زمــا دا ښــکلي ورور ونغــاړئ
خانــدئ خانــدئ غلیمــانو خانــدئ خانــدئ
دا ساعت خو تاسي غوښت اوس ئې هم غواړئ
زمــا د ورور پــه مــرگ ناحقــه خوشــالېږی
تاســي هــم نــه پاتــه کېــږی، کــه دی ولاړئ

دا بیتونه چي ئې وویل نو ئې پر ما مخ راواړاوه چي: "ولي ؟ خائنه! حرامخوره! ولي دي زما ورور وواژه؟ ولي دي خیانت ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ؟ ده خو غوښتل چې تا له ښووښاديو سره بيرته خپل کور ته ولېږي. د دغي مياشتي په سر کي ئې خيال وو چي ما تا ته په نکاح درکړي". باره، دې نجلۍ توره راواخيستله. څوکه ئې خپلي سينې ته برابره کړه او موټې ئې پر مڅکه ولګاوه او ځان ئې په ډېر فشارپر واچاوه. د توري څوکه ئې په سينه ننوته او تر ملا ئې راووته او ځای پر ځای مړه سوه.

زما ډېره خوا بده سوه او پر خپل کار ډېر پښېمانه سوم. خو پښېمانۍ څه ګټه نه رارسوله. باره راولاړ سوم او خيمې ته ورننوتلم. هغه شيان مي راټول کړل چي په وزن سپک او په بيه درانه ول. له خيمې راووتم. داسي واهمې او بېري اخيستی وم چي هغه ځوان و نجلۍ مي همداسي پر مڅکه پرېښوول او ښخ مي نه کړل. دا نکل تر هغه بل نکل چي د بيت المقدس يوه نجلۍ مي غلا کړه، ډېر عجيب و غريب نکل دئ.

نزهت الزمان چي د ده خبري واورېدې، خښم ئې څو چنده ډېر سو او پر سترګو ئې توره تياره راغله.... کيسه چي دې ځای ته ورسېده...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
دشهرزادي کيسه پاته ترسباسوه

# يو سل او پنځه څلوېښتمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

نزهت الزمان چي د سارايي دا خبري واورېدلې، نور ئې له طاقته ووتله او توره ئې ورسره لښته کړه، سارايي ئې ځای پر ځای وواژه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاضر مجلس پوښتنه ځني وکړه چي د دې سړي پر وژلو دي ولي داسي بېړه و تلوار وکړ؟ دې ورته وويل چي د خدای سل شکرونه دي وي چي زه ئې ژوندی پرې ایښې یم چي پخپل لاس له خپل غليم څخه غچ واخلم. بيا ئې نو پر مريانو امر وکړ چي د سارايي مړی وباسي او دباندي ئې سپو ته وغورځوي. بيا ئې نو د غلو هغو نورو دوو تنو مشرانو ته مخ ورواړاوه او په هغو کي ئې له يوه څخه چي مريی وو، د نامه پوښتنه وکړه او پر زياته ئې کړه چي: "گوره! رشتيا به وايې، کنه ...".

مريي وويل چي: "زما نوم غضبان دئ" او ورپسې ئې خپل هغه سرگذشت بيان کړ چي د ده او د ملک حردوب د لور ملکې ابرېزه تر منځ پېښ سوی وو. مريي لا خپل حال پوره بيان کړی نه وو چي ملک رومزان توره کش کړه او سر ئې غوڅ ځني پرې کړ او وې ويل: "د خدای حمدوثنا دي وي چي ژوندی يم او د خپلي مور انتقام مي پخپل لاس واخيست". بيا ئې نو د غلو دريم مشر د خپل بيان د کولو له پاره راوغوښت. دا سړی هغه ساروان وو چي د بيت المقدس خلکو له ده څخه اوښ په کراهيه اخيستی وو تر څو ملک ضوء المکان د دمشق تر روغتون پوري ورسوي. خو ده هغه د حمام پر امبارو باندي غورځولی وو. دې سړي چي له ضوء المکان سره خپل تېر سوی حال له سره تر پايه بيان کړ، کان ماکان پر راوغورځېدی او د ساروان سر ئې له تنې څخه هيسته ورغړاوه او وې ويل: "حمد دي وي خدای ته چي له دې خاين څخه مي خپل واری واخيست. ما دا نکل کټ مټ همداسي لکه دغه ناولي چي وکړ، له خپل پلار ضوء المکان څخه اورېدلی وو".

تر دې وروسته نو پاچهانو پخپلو منځو کي سره وويل چي اوس مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو په زړو کې د هغې بلې مرداري ښځې له وژلو پرته بل ارمان نه دئ پاته چې د دې ټولو زحمتو او مشکلاتو مورينه همدا پليته وه. څوک به دا راحاضره کړي چې د خپل نيکه او اکا کسات ځني واخلو او د آل نعمان د کورنۍ له لمني څخه د پېغور دغه تور داغ ايسته کړو. ملک رومزان ورته وويل چې بله چاره نسته ، بايد هرومرو ئې راحاضره کړو. باره ئې خط وکيښ او دې ښځې ته ئې ورواستاوه. په خط کي ئې ليکلي وه چې: د دمشق او موصِل او عراق هيواد زموږ تر واک لاندي دئ. د مسلمانانو لښکر ماته خوړلې ده او پاچهان ئې نيول سوي دي. ستاسي څخه غواړم چې د ملک فريدون له لور ملکې صفيې سره ما ته حاضر سئ د نصاراوو له لويانو څخه چې دي هر څوک درسره راوستل، هم ستا خوښه ده. لښکر دي نه ورسره راولي ځکه چې په ښاروکي بشپړ امنيت ټينګ دئ او ټوله سيمي زما تر حکم لاندي دي.

دا ليک چې ښځې ته ورسېدی او د ملک رومزان خط ئې وپېژاند، ډېره خوشاله سوه او سمدلاسه ئې د سفر تياري ونيوله او د نزهت الزمان له مور ملکه صفيې او يو څو تنو نورو لويانو سره رارهي سوه. هله، هله، دا دي بغداد ته را ورسېدل. د پاچهانو استازي ته ئې د خپل رارسېدلو حال ورکړ. ملک رومزان وويله چې ښه به دا وي چې د روميانوجامې واغوندو او دې ښځې ته په دغو جامو کي هرکلی ووايو. په دې ډول به د هغې له مکر و چمبازۍ څخه په امان کي سو. باره ئې د روميانو جامې واغوستلې. قضی فکان ورته وويل چې په خدای که ما لا پېژندلاست. ما چې ويل تاسي د پرنګي سپاهيان ياست. آبس، رومزان دمخه سو او له يو زر سپرو سره ئې د ښځې هرکلی وکړ. ښځه چې راورسېدله، ملک رومزان له آسه ورته راکښته سو. ښځې چې وليد،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وئې پېژندی او په غېږ کې ئې ونیو. په دې وخت کې ملک رومزان ښځې ته په نس کې داسې سوک ورکړ چې نژدې وو پوښتۍ ئې ورماتې کړې وې. ښځی ورته وويل چې دا ولې؟ خبره ئې لا پوره کړې نه وه چې ملک کان ماکان او وزير دندان او نور سپاره د ښځې او د هغې پر ملګرو راوځرخېدل او هغوی ئې لاس تړلي بغداد ته راوستل. ملک رومزان امر وکړ چې په ښارکې دې جشن جوړ سي. آبس، ذات الدواهي ئې بازار ته راوايستل. د کراستې خولۍ ور پر سر کړې او خوشايي (غوشايي) ئې پر سر ورايښې ول.

جارچي تر شا په پسې وو او جارئې واهه چې: "هر چا چې زموږ پاچهان او زموږ د پاچهانو زامن راوژلي وي، دغه به ئې سزا وي". باره ئې بدن ور دوې شغې کړ او د ښار پردروازه ئې دواړې شغې وځړولې. ملګرو چې ئې دا حال وکوت، ټول مسلمانان سول او ايمان ئې راووړ. وزير دندان و خپل منشي ته وويل چې دا کيسه په کتاب کې وليکي چې په آينده کې د نورو له پاره عبرت سي. تر دې وروسته نو ملک رومزان او ملک کان ماکان او وزير دندان او د هغو نورو خپلوانو په عيش وعشرت کې خوښ خوشاله ژوندکاوه تر څو د اجل قاصدان د روح د قبضې له پاره ورته راغلل او خپل پور ئې پرې کړ.... کيسه چې دې ځای ته ورسېده...

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادې کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او شپږ څلوېښتمه شپه

شهرزادې وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حیوانانو نکلونه

په دې شپه شهریار پاچا و شهرزادي ته وویل چې نن شپه غواړم د مرغانو او الوتونکو نکل راته وکړې. شهرزادي ورته وویل چي: "پر غبرګو لېمو" او کیسه ئې داسي شرو کړه چي: "اې زموږ بختور او بریمن پاچا! په پخوا زمانو کي یو تاوز (طاوس) وو چي له خپلي مادې یا ښځي تاوزي سره ئې یو ځای د دریاب پر څنډه ځانته ځای جوړ کړی وو. په دې ځای کي د خدای ترابده نور ځناور او وحشي حیوانات هم ول او خورا ګڼې وني ئې هم درلودې. دا تاوز به د شپې له خپلي مادې سره د نورو ځناورو څخه د بیري له اسیته یوې جګې وني ته ختی خو د بل ځای په لټه کي هم ول.

د دې لټې په لړ کي یوه ورځ یوه ټاپو ته ورسېدل چي شاوخوا ئې اوبه وې. ښې پرېمانه وني و واښه و مېوې ئې هم درلودې. دوی د ټاپو له مېوو څخه ښې ډېري وخوړلې د چینو پاکي اوبه ئې پر وڅښلې چي په دې ترڅ کي ناڅاپه یوه هېلۍ را ښکاره سوه چي منډې ئې راوهلې او برابر هغې وني ته وختله چي تاوز ځای پکښې جوړ کړی وو. هېلۍ هم هورې د ځان له پاره یو ځای وټاکه او کراره پکښې کښېنستله. تاوز پوه سو چي دې بتې ته هرومرو کومه حادثه ورپېښه ده، نو ئې پوښتنه پر وکړه او د وارخطایي او تلولیتوب سبب ئې ځني وپوښت؟ هېلۍ ورته وویل چي له ډېره ګرومه بیخي لېونۍ سوې او ناروغه سوې یم. ګروم مي هم د بنیادم له لاسه دئ. توبه، هی توبه! له بنیادمه به لیري ګرزئ. تاوز ورته وویل چي اوس تر موږه پوري راورسېدې. نور ئې غم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مه کوه او مه بېربېږه. هېلى ورته وويل چي دا د خداى مهرباني ده چي زه ئې تر تاسي پوري راورسولم. غم وگروم مي لږ څه سپک سو. دې ځاى ته چي رشتيا سي، ستاسي سره د دوستى او اشنايى له پاره راغلې يم.

هېلى چي دا خبري وکړې، باره ښځه تاوزه ورنزدې سوه او له دې سره ئې ښه ټينگ روغبړ وکړ او ورته وې ويل چي نور دي نو بېره له زړه وباسه. د بنيادم لاس دلته نه رارسېږي. نه وينې، موږ د درياب په منځ کي په يوه ټاپو کي يو. بنيادم ته ممکنه نه ده چي تر دې ځايه دي راسي. بېغمه اوسه. منگر ته دي خپله کيسه راته وکه چي د دې بنيادم له لاسه تا ته څه تاوان دررسېدلى دئ. هېلى ورته وويل چي اې زما تاوزي خور، زه گرده عمر په دغه ټاپو کي کراره بېغمه اوسېدمه. نه زه چا ته اړه وم ، نه نور ما ته احتياج ول. يوه شپه مي د بنيادم شکل په خوب کي وليد چي له ما سره خبري کوي او زه له ده سره خبري کوم. دې شکل راته وويل چي اې ښايستې هيلى، له انسانه به ليري ښورې. هوښ کوه چي خطا دي نه باسي. انسان او بنيادم له چمبازيه ډک دئ. حيلې و مکرونه ئې ډېر زده دي. شاعر څه ښه ويلي دي:

سـر تر نوکــه دئ له مــکر و فتنې ډک
هو ښيار ان ئې چمبازى ته دي هک پک

دا بنيادم داسي چمبازه دئ چي د دريابو کبان په چنگک نيسي، د هوا مرغان په لومه بندوي، پيلان په مکر وچم د ځان تابع کوي. هيڅوک له ده څخه ځان نه سي خلاصولاى. نه وحشي حيوانان ځني خلاص دي او نه الوتونکي او نه څيرونکي. زه د خوبه وارخطا راوغورځېدلم، خولې راباندي ماتي وې او له هغې شپې بيا تر ننه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوري مي زړه ځای ته نه دئ راغلی. وام نه ګانه چي ما ته به هم چم جوړ کړي، په دام به مي ونيسي . په هغه شپه ډېره ناارامه وم په دا سبا ورځ مي هم زړه له شنوخته ډک وو. هيڅ شی مي له لاسه نه کېده. آخر لوړي زور راباندي وکړ. دباندي راووتم. کرار کرار رهي وم. په زړه کي مي ناولی لاس وهل کېدی. آبس، هغه وو چي دې غره ته راورسېدم. دلته مي د يوه غار په خوله کي د زمري ځوان بچی وليدی. ده چي هم زه وليدم ډېر خوشاله سو. زما رنګه رنګه بڼکي چي ئې وليدې، ارنۍ ورته واخيست. راناري ئې کړه چي دلته راسه. زه هم ورغلم. ول نوم دي څه دئ او په ختېه څوک يې؟ ما ورته وويل چي نوم مي هېلۍ دئ او د الوتونکو له قامه يم.

باره ما ورته وويل چي اوس نو ته راته ووايه چي ولي دلته ناست يې؟ د زمري بچي راته وويل چي: "زما پلار دا څو ورځي کېږي چي له بنيادم څخه مي ډاروي. نن ماښام مي د دغه بنيادم شکل په خوب وليد". د زمري بچي چي خپل خوب راته ووايه، کټ مټ زما په شان خوب ئې ليدلی وو. د زمري د بچي خبري چي مي واورېدې نو مي ورته وويل چي: "ياابالحارث![1] ما تا ته پناه راوړې وه چي ته به هغه انسان ووژنې چي ما په خوب ليدلی وو. اوس چي مي ستا واهمې ته وکتله، بېره مي دوه چنده سوه. ته چي د وحشي ځناورانو پاچا يې، ته نو ولي بايد له بنيادم څخه وبېرېږې؟ باره مي د زمري دغه ځوان بچی د بنيادم و وژلو ته ډېر تشويق کړ. هغه وو چي ځوان زمری راولاړ سو، لکۍ ئې يو ډانګ ونيوله، ول ته درځه. دی دمخه دئ زه په پسې يم. تلو، تلو، تلو، څو يوې لاري ته ورسېدو. د لاري پر سر ولاړ وو چي

---

[1] حارث زمري ته وايي، (م. ه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناځاپه دوړي سوې. چي ګورو، خر دئ راځغلي، لغتي وهي، خرچلکي کوي، جوتکي غورځوي، په خاورو کي رغړي. زمري له ځانه سره وويل چي دی به هم د بنيادم له بېري دغه علامې او چپه پېرې کوي. باره ئې پوښتنه ځني وکړه چي: "اې شوده حيوانه! په زيي ځوک يې؟ او دلته پر څه راغلې؟"

په جواب کي ئې ورته وويل چي: "اې زمورړ شهزاده! زه په زيي خر يم. له بنيادمه راتښتېدلی او دلته راغلی يم". زمري ورته وويل چي له بنيادمه دي بېره له دې اسيته ده چي وامړ به دي کړي؟" خره ورته وويل چي: "ئيه، صاحبه! له مرګه نه بېرېږم. مګر دې بنيادم يو داسي چل راته جوړ کړی دئ چي راباندي سپربږي. يو شی دئ چي دوی ئې ځل بولي. خورا دروند دئ. دا مي پر شا راکښېږدي. يو بل شی دئ، دوی ئې تانګ بولي. دا مي پر خېټه راتاو کړي او له ځل سره ئې ټينګ وتړي. زه چي وام خېټه مي وچاودله. يو بله تسمه ده، دوی ئې دُمچۍ بولي. دا مي تر لکۍ لاندي راوتړي. يو بل شی دئ، دوی ئې اوسار بولي. دا مي پر خوله و مخ باندي راکښېږدي. يو بل خورا بد شی دئ، دوی ئې مَچک بولي. تېره لرګی دئ. په دې مي په دا کونه کونه کي وهي او چيخوي مي. دونه بارونه راباندي چلوي چي ملا مي نزدې ده چي غوټه ماته سي. چي کله کله تر بار لاندي نوک وخورم، په بدو الفاظو مي ښکنځي. چي ورايم او غړانګه وکاږم. پوچي خبري راته کوي او لاحول وايي. کال دوه چي ئې دا کارونه راباندي وکړل او نور نو زما د بدن شيمه ووزي، باره مي پر سقاو باندي خرڅ کړي. هغه خدای ناترسه بيا د اوبو ژي راباندي چلوي. ټول ژوند مي په دغه خوارۍ کي راباندي تېر سي. چي مړ سم نو مي نه ګور وي، نه کفن

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، هیسته مي پر امبارو باندي سپو ته وغورځوي. نو اې زموږ پاچا! تر دې دروندغم به نور څه وي او ولي به زما زړه له شنوخته ډک نه وي؟"

هیلۍ ول، تاوزجانه! دا خبري مي چي د خره له خولې واورېدې. په بدن کي مي برښکي سوې، لړزې واخیستم. باره مي زمري ته وویل چي دا خر رشتیا وایي. باره زمري له خره څخه وپوښتل چي اوس پر کمه روان یې؟ هغه په جواب کي ورته وویل چي نن سهار مي د لمر ختو پر مهال بنیادم ولید، ځني رامنډه مي کړه. ما ول چي یو ځای ځني پټ سم او د دغه بدو انسان له ظلمه ځان خلاص کړم او دغه دئ چي پر تاسي باندي پېښ سوم. خره چي دا خبري وکړې، باره ئې نو غوښته چي له زمري څخه رخصت واخلي چي په دې وخت کي بیا د کښې له خوا دوړي راپورته سوې او داسي معلومېده چي یو شی راځغلي. خره چي دوړو ته وکتل، باره ئې لو ناره وکړه او وې رایل هر، هر، هر. یو ګړی چي وسو، آس راښکاره سو. هغه حیوان چي شاعر د هغه په باره کي ویلي دي:

هم د ننګ دئ هم د جنګ هم د ځغستا دئ
طلبګار ئې شهــسوار، خــان و پاچــا دئ

آس راځغلي څو زمري ته راورسېدی. زمري ورته وویل: "اې ستر حیوانه! د چا له قامه یې؟ او په دې دښت کي دي د ځغستا سبب څه دئ؟" هغه ورته وویل چي: "زما نوم آس دئ او له انسانه راتښتېدلی یم" زمري حیران سو او ورته وې ویل: "د تېښتي خبري مه کوه. ستا له دې قد و قوارې ، له دې قوت و طاقت سره دا خبري نه ښایي او د شرم خبري دي. دا څه وایې؟ ما په دا کوچني بدن له ځان سره پتېیلې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي له انسان سره وګورم، حمله پر وکړم، نوکي نوکي ئې کړم، غوښي ئې وخورم، د دغي خوارکۍ هیلۍ له زړه څخه د هغه بېره وباسم او پرې ئې نږدم چي له خپل کور و کلي څخه لیري ولاړه سي. تا خو زما زړه بیخي رامات کړ او له خپله عزمه دي یو مخ پښېمانه کړم. ته چي په یوه لغته هغه وژلای سې، خو هغه ستا څخه ستا په دې انه و تنه نه بېرېږي. د دې اسرارو په حقیقت مي خبر کړه".

آس وخندل، ول اې ملک زاده! توبې کاږه، توبې. زما دې تن وبدن ته خو دي فکر دئ. زما قوت و طاقت خو وینې. منګر دا انسان داسي چمبازه دئ او داسي له فتنو څخه ډک دئ چي خدای دي له ازمویښته وساته. یو شی ئې جوړ کړی دئ چي دوی ئې (کړه) بولي. دا کړه زما لاس و پښو ته راواچوي او پر یوه غټ مېخ باندي مي وتړي. زما څخه لکه په دار ځړول سوی شی، د خپل ځان واک واخیستل سي. نه پرېوتلای سم، نه کښېنستلای سم، نه تښتېدلای سم، نه خوله اچولای سم، نه ځان خلاصولای سم او نه د ده له فرمانه ځان ایستلای سم. بیا نو کله چي ئې زړه سي چي پر ما باندي سپور سي، د خپلو پښو د ایښوولو له پاره ئې له اوسپني څخه د کړۍ په رقم دوه شیان جوړ کړي دي، دوی ئې (رکابونه) بولي، یو بل له څرمني څخه جوړ سوی دروند شی دئ، دوی ئې (زین) بولي. دا رکابونه او زین راباندي کښېږدي او په دوو تانګونو ئې زما پر خېټه و بغلو باندي ټینګ وتړي. په خوله کي د اوسپني یوه ټوټه چي دوی ئې (واګي) بولي، راکښېږدي. دا اوسپنه بیا له دوو تسمو سره تړلې وي، چي دوی (کیزه) یا (ملونه) ورته وایي. آبس، چي راباندي سپور سو، دغه کیزه په لاس کي ونیسي او ځغلوي مي. په رکابو مي پر بغلو باندي چیخي. په غمچینه مي پر کوناټو باندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهي. داسي ټينګ وهل راکوي چي کوناټي او بغلونه مي تغمه تغمه سي.

آه، زموږ شهزاده! د دې انسان یو ظلم نه دئ چي پر ما ئې کوي. په ژوند خو مي په دغه ډول ځغلوي او ډبوي. کله چي زوړ سم او له ځغاستي وسپارلی شخه ولوېږم. بیا مي نو پر اسپوان یا ژرندګړي باندي خرڅ کړي. دا خدای ناترسه بیا شپه و ورځ ژرنده راباندي څرخوي. چي د دې کار توان هم راپکښې تمام سي، بیا مي نو پر څرمن جوړوونکو، چي دوی ئې (دباغان) بولي، وپلوري. هغه مي ووژني، پوست مي راڅخه وباسي، لکۍ راڅخه پرې کړي. له پوسته مي څرمن جوړه کړي. د لکۍ له وربښتانو مي غلبېلونه او مچ شړوني جوړ کړي.

ځوان زمري چي د آس دا خبري واورېدې، ډېر خښم ورغلی، آس ته ئې وویل چي ته څه وخت له دې انسانه راجلا سوی یې؟ آس ورته وویل چي دا نن ماپښین قضا ځني راوتښتېدم. دی راپسي ګرزي. د آس او د زمري دا خبري لا نه وې تمامي سوي، چي د کښې له خوا بیا دوړي رابښکاره سوې او د دوړو له منځه اوښ راووت. سړپه، سړپه، سړپه راځغلي. نارې و غرغړې ئې جوړي کړي دي او تر موږ پوري راورسېد. ځوان زمري چي د ده و غټې بدنې ته وکتل د انسان ګومان ئې پر راغلی او پر راوغوځېدئ چي سره څیري ئې کړي.

ما ورته وویل چي دا انسان نه دئ، دا اوښ دئ او ښایي له بنیادم څخه دي راتښتېدلی وي. تاوزه ورورو، تا ته دي وویل سي، موږ لا په دغو خبرو کي وو چي اوښ موږ ته نزدې راغی. زمري ته ئې سلام واچاوه. زمري ئې سلام ورعلیک کړ او دې ځای ته د راتګ سبب ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځني وپوښت. اوښ په جواب کي ورته وويل چي: له انسانه راتښتېدلی يم. زمري ورته وويل چي ته خو بايد په يوه لغته انسان هغي بلي دنيا ته واستوې. ته څرنگه په دې دومره غټ بدن او اندامو ورڅخه راتښتېدلی يې؟ اوښ ورته وويل چي اې زموږ د پاچا زويه! له انسان څخه بې له مرگه ځوک خلاصېدلای نه سي. دی زما پزي ته يو شی راواچوي چي دوی ئې واښ (مهار) بولي. پر مخ او سر باندي مي هم ځو واښکي راوتړي چي د دوی په ژبه اوسار ورته وايي. د واښ يو سر کوچني هلک ته په لاس ورکړي . دغه کوچنی هلک ما په دې لويه انه وتنه پورته و کښته کشولای سي. درانه بارونه راباندي ايښوولای سي. لويو او اوږدو سفرونو ته مي بېولای سي. په شپو شپو، په ورځو ورځو مي تر اندازې زياتو سختو کارو ته امر کولای سي. دا خو لا پرېږده، چي زوړ سم، يا مي هډ مات سي. ساتي مي نه، دوا و درمل راباندي کوي نه. بس سمدستي مي پر قصاب باندي خرڅ کړي. هغه مي حلال کړي. غوښي مي پر اشپز او پوست مي پر دباغ وپلوري.

اې زموږ د پاچا زويکه! د انسان د جبروستم خبري تمام نه لري. داسي ظلم راباندي کوي چي پوښتنه ئې مه کوه. زمري ورته وويل چي ځونه موده کېږي چي ځني راتښتېدلی يې. اوښ ورته وويل چي فقط يو ساعت به کېږي چي ځني رامنډه مي کړه. دی اوس هم راپسي گرزي چي پيدا مي کړي. اې زموږ ځوان پاچا! پرې مي ږده چي پر دې ښهي بيابان وگرزم. زمري ورته وويل چي ته لږ تکيه سه. بيا به ئې وگورې چي څرنگه ئې ستا په مخ کي کولمې پر ډاگ وراچوم. څرنگه ئې ستا په مخ کي غوښي خورم. څرنگه ئې ستا په مخکي هډونه په غاښو ورماتوم. څرنگه ئې د بدن ويني ستا په مخکي چښم. اوښ ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل يا ابن السلطان! زه ولا پر تا هم ببرېږم چي يو څه در ونه کړي. د دې انسان خورا ډېر مکرونه وچمونه زده دي. شاعر څه ښه ويلي دی:

انسانان تول له ځيلمي بدکاران دي
په ښکاره دي وي دوستان پټ دښمنان دي
د يتيم د مال په شان په خوله خواږه دي
خو خوړونکي د دوزخ لورته کاږه دي

ده لا دا شعر پای ته نه وو رسولی چي د هاخوا يو خوار بوښکی، اسکېرلی پر ملا کړوپ گردی سړی رابښکاره سو. يوه کڅوړه ئې په شا ده. په دې کڅوړه کي د ترکاڼۍ سامان او اته دانې تختې دي. يو دوه کوچني ماشومان ئې تر لاس نيولي دي او زموږ پر خوا راروان دي. آه، تاوزه وروره! ما خو چي ورته وکتل، نږدې وو چي له ډاره مي زاره چاودلې وه. له ډېره وهمه څخه بوڅه راواوښتم. ځوان زمری ورولاړ سو چي ورسره وگوري.

دی چي نږدې وروړسېد، ترکاڼ شين د خندا ورته ولاړ او په ډېره غوړه ژبه ئې ورته وويل: "اې ستر پاچا! پاک خدای دي ورځ و شپه په خير لره. قوت وطاقت و شجاعت دي خدای زيات لره. ته به کوې خدای به کوي، ما ته به له هغي بدي ورځي څخه نجات راکوې چي د ظالمانو او ستمگارانو له خوا راباندي نازله سوې ده. ما خو بې له تا څخه بله پناه پيدا نه کړه". باره نو ترکاڼ زمري ته په ژړا سو. پر سر ئې خاوري باد کړې او شکايتونه ئې ورته وکړل. زمري چي د ده شکايتونه و ژړا و بوغاري واورېدې، نو ئې ورته وويل چي تا ته خو به پناه درکړم، منگر دا راته ووايه چي دا ظلم د چا له خوا درباندي سوی دئ او ته پخپله يې څوک؟ ما خو ستا په شان ښکلی، په ژبه پوه څوک پخپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر نه دئ لیدلی. ستا کسب و کار څه دئ؟ ترکاڼ ورته وویل چي اې د ځناورو سلطانه ! زه ترکاڼ یم او د بنیادم له لاسه په غاو راغلی یم. دغه بنیادم پر دې خوا راروان دئ او که خدای کول سبا سهار به تا ته راورسېږي. زمري چي د بنیادم نوم واورېد. باره له چتې وووت، غړومبی ئې سو. تر سترګو ئې د قهروغضب بڅرکي راوغورځېدل او ورته وې ویل چي په خدای مي دي قسم وي چي نن شپه خو ټوله ورته ګوډه کړم. سترګه به پر سترګه کښېنږدم. ټوله شپه به ویښ ورته کښېنم. پلار ته تر هغو پوري ګام لا ولاکه ورواخلم چي خپل مقصد ته و نه رسېږم.

بیا ئې نو ترکاڼ ته مخ وروواړاوه او ورته وې ویل: "زه دا ستا لنډي قد او لنډي ګامو ته ګورم، د ځوانمردۍ له اسیته مي تکلیف نه درباندي پېرزو کېږي او ګومان مي نه سي چي ته دي زموږ ځناورو په ګام راسره ولاړ سې. دا راته ووایه چي ځې چیري او نیت دي کومي خوا ته دئ. ترکاڼ ورته وویل چي ستا وزیر پړانګ ته روان یم. دی غوږېدلی وو چي بنیادم پر دې خوا راروان دئ. نو پر ځان باندي سخت په ډار سوی وو. برایې ئې ما ته څوک رالېږلی وو چي ورسم او ده ته یوه خونه ورجوړه کړم. دی به په دې خونه ننوزي او د بنیادم لاس به نه وررسېږي. د ده ایلچي چي ما ته دا حال راووړ، نو مي دا یو څو تختې او خپل سامان راواخیست اوس د ده خدمت ته ورروان یم. ځوان زمري چي دا خبري واورېدې، پړانګ ته ئې هم درد راغی او هم ئې کست په وسو. باره ئې ترکاڼ ته وویل چي له دې تختو څخه به اول ما ته خونه راجوړوې، بیا نو پړانګ ته تللای سې. ترکاڼ ورته وویل چي اې د ځناورو امیره! زه تا ته شی نه سم درجوړولای. اول

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید پړانګ ته ورسم او کار ئې ورخلاص کړم، بیا به هغه دئ تا ته هم داسي خونه درجوړه کړم چي د دښمنانو څخه پکښې خوندي واوسې. زمری پر ترکاڼ وروغورځېدی او غوښته ئې ټوکي ورسره وکړي او په څپېړه ئې وواهه. ترکاڼ بوخ راواووښت.

زمري ته خندا پر ورغله او ورته وې ویل چي: "ترکاڼه! ته په دې بې سېکه بدن باید له بنیادم څخه وبېرېږې". ترکاڼ ته ډېر خښم ورغی منګر په خوله ئې څه و نه ویل او خبره ئې وزغمله. باره ده هم وخندل او زمري ته ئې وویل چي نه مي پرېږدې، سمه ده، زه به هم اول تا ته خونه درجوړه کړم. آبس، تختې ئې راواخیستې. اندازه ئې کړې. د زمري پر مېچ برابره خونه ئې ورجوړه کړه. دروازه ئې ارته ورپرېښوول. شاوخوا ئې سوري ورکړل. ښه کلک مېخونه ئې پر ووهل. باره ئې زمري ته وویل چي دې خوني ته ورننوزه چي څرنګه ده؟ خوښه دي ده کنه؟ زمری ډېر خوشاله سو. د سوندخ و دروازې ته چي ئې وکتل، په نظر کوچنۍ ورغله. ترکاڼ ورته وویل چي ته ورننوزه. ځان دي سره ورټول او ګونجلک ونیسه. زمري هماغسي وکړه او ورننووت. ترکاڼ ورته وویل چي ته دي لکۍ هم درټوله کړه اوپه خونه کي کښېنه چي زه وګورم چي له لکۍ سره هم په خونه کي ځایېږې. که نه؟

ترکاڼ د زمري لکۍ سره ورټوله کړه او په سوندخ کې وردننه کړه او سمدلاسه ئې دروازه پسي وتړله او مېخونه ئې پر ټکوهل. زمري وربږغ کړه چي: "اې ترکاڼه! دا خونه دي بیخي کوچنوټې جوړه کړې ده. دروازه خلاصه که، چي دروززم. ترکاڼ ورته وخندل چي خدای خبر چي ته به بیا له دې ځایه راوزې. باره ئې ورته وخندل چي دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خونه نه ده، دا مي ته په قفس کي بندي کړې. ته خورا بد ځناور يې. زمري ورته وويل چي: "وروره! دا ته څه وايې؟" ترکاڼ ورته وويل: "اې ناولې ځناوره! له هغه څه څخه چي ته ډارېدلې، د هغه په لاس کښېوتې. نوري خبري ګټه نه لري".

اې تاوزه! زمری چي پوه سو چي بنيادم همدا دئ او دا هماغه موجود دئ چي ده په خوب ليدلی وو او پلار ئې هم له ده څخه ډېر ډارولی وو، خورا سخته واهمه ورولوېده. زه يو څه ليري ورته ولاړه وم او کتل مي چي نور به څه پېښ سي. چي ګورم، ترکاڼ لوی غار وکيندی او د زمري قفس ئې پکښې کښېښوو. د سرپاله ئې بوټي و خاشې پر کښېښوولې او اور ئې ورواچاوه. زمري مکوټ پکښې وسوځېد. ما دوې پښې خپلي وې، دوې مي پور کړې، رامنډه مي کړه. نن دوهمه ده چي د شي څکه مي نه ده کړې او د بنيادم له بيري په تېښته کي يم .... کيسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه

د شهرزادي کيسه پاته ترسبا سوه

# يو سل او اووه څلوېښتمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

اې زموږ ستر ټولواکه! تاوز چي د هېلۍ خبري واورېدې، داسي منګ ورته ولاړ، خو هيلۍ ته ئې وويل چي موږ او تاسي اوس په دې ټاپو کي د بنيادم له ازاره په امان يو. شاوخوا مو اوبه دي او له هوا پرته بله لار نسته. نو بنيادم به دلته څه راز راورسي. بېغمه کښېنه چي خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ و تاسي ناره اورېدلې ده او خيرخيريت دئ. هېلۍ ورته وويل چي له پېښي خو تېښته نسته خو ډېره بېرېږم چي وام څه خطر راته پېښ نه سي. تاوز ورته وويل چي دلې زموږ سره پاته سه. که موږ ته څه پېښېدل، نو تا ته به هم پېښ سي. زموږ په تندي کي چي څه ليکل سوي دي، هغه هرومرو پېښېږي. د چا چي اجل پوره سي، بيا نو نه راګرزي. دوی په دغه خبرو کي وه چي يو وار دوړي سوې او لکه يو څوک چي د دوی خوا ته راځغلي. هيلۍ خو له ډېره وهمه لو چيغه وکړه او ځان ئې درياب ته واچاوه. دوړي چي سره کښېنستلې، يوه هوسۍ رابښکاره سوه . د هيلۍ او تاوز زړه يو څه پر پوښتۍ سو او بېره ئې له زړه ووتله. تاوز و هېلۍ ته وويل چي پر موږ ئې يو مرګ تېر کړ او ته ئې وينې چي هغه هوسۍ ده او زموږ خوا ته راروانه ده. هوسۍ د بېري شی نه ده. خپل وابښه او بلګونه خوري، نور په چا کار نه لري. دوی لا خبري پوره کړي نه وې چي هوسۍ ورته راورسېدله او د هماغي درختي تر سيوري لاندي ئې ساه واچوله يا د چا خبره دمه ئې وکړه. يو څه چي هوسا سوه، يوه هېلۍ او تاوز ئې وليدل. باره ورته راغله او سلام ئې ورواچاوه او ورته وې ويل چي: "نن پر دغه ټاپو باندي برابره سوم. ما پخپل ټول ژوند کي داسي شين کوړم نه وو ليدلی". باره ئې د دوستۍ لاس هيلۍ او تاوز ته ورکړ او هغو هم ومانه. زياتي ئې نو خاطر جمع سو او خپل خورک و چښنګ ئې په ګډه سره کاوه.

څو ورځي وروسته يو کښتۍ چي لار ئې ورکه کړې وه ، دغي ټاپو ته راغله. خلک له کښتۍ څخه راکښته سول او په ټاپو کي سره تيت سول. په دې وخت کې پر تاوز و هېلۍ و هوسۍ سترګي ولګېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوسۍ ځني منډه کړه، تاوز ځني په هوا سو. هیلۍ خواره پر مځکه پاته سوه. دې خوا و ها خوا ته ئې وځغستله. آخر د خلکو له خوا ونیول سوه. دې خوارکۍ نارې ووهلې خو ګټه ئې و نه کړه. خلکو هېلۍ ووژله او له ځان سره ئې یووړه. تاوز چې د هېلۍ حال ولید، له ټاپو څخه کډه سو او وې ویل چې رشتیا چې له پېښې څخه تېښته نسته. که دا کښتۍ نه وای راغلې، زموږ د هېلۍ جدایي ناممکنه وه. دا خوارکۍ ډېره نېکه او صادقه وه. باره تاوز په هوا سو او هوسۍ ته ورغی. روغبړ ئې سره وکړ. هوسۍ د هېلۍ په باب پوښتنه ځني وکړه. تاوز ورته وویل چې: "هغه خوارکۍ د دښمن لاس ته ولوېده. زما له دې ټاپو څخه زړه مات سو". باره ئې په هېلۍ پسي ډېري اوښکي تویي کړې او دا بیتونه ئې وویل:

بې لــه تــا مــو هــر بــاڼو د سترګو خــار دئ
بېلتــون نــه دئ سـم مرګــی راتــه تیــار دئ
ژوندون سخت سو بې لـه تـا، ګوزاره ګرانـه
زړه مـــو نـــور لـــه هوســـو څخـــه بېـــزار دئ

د هوسۍ هم ډېره خوا بده سوه خو تاوز ته ئې له ټاپو څخه د کډه کېدو مشوره ور نه کړه. آبس، تاوز و هوسۍ په ټاپو کي پاته سول خو د هېلۍ غم ئې له زړه نه ووت. هوسۍ و تاوز ته وویل چې دا ټول مصیبت د انسانانو له لاسه راته پېښ سو. دوی دې ټاپو ته راغلل او د دوستانو تر منځ د بېلتون او د هیلۍ د مرګ سبب سول. له دې توکم څخه باید ځوک لیري اوسي او له مکر و فتنې څخه ئې باید ځانونه وژغوري. تاوز ورته وویل چې زما یقین دئ چې د دې د وژني اصلي سبب د تسبیحاتو پرېښوول وو. ما به هر وخت ورته ویل چې دا تسبیحات دي مه پرېږده. ما به ورته ویل چې بېرېږم چې د تسبیحاتو پرېښوونه به دې د هلاکت

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبب سي. د خدای مخلوق باید تل په تسبیحاتو باندي مشغول واوسي. هر وخت چي له تسبیحاتو څخه غافل سو، له هلاکت سره به مخامخ سي. هوسۍ چي د تاوز خبري واورېدې، ورته وې ویل چي: "تا ته دي خدای اجرونه درکړي چي نېکه لار چا ته ورښیې". باره نو په تسبیحاتو مشغوله سوه. وایي چي د هوسۍ تسبیحات داسي ول چي: "سبحان الدیان ذی الجبروت والسلطان". په کتابو کې راوړي دي چي وایي د خدای یو دوست په غرو کي په عبادت مشغول وو. په دغه غره کي یوه جوړه کوتري هم اوسېدلې. دې عابد به خپل خواړه پر دوو برخو وېشلې وه.... کیسه چي دې ځای ته ورسېده...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه

د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او اته څلوېښتمه شپه

شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

عابد خپله رزق و روزي پر دوو برخو وېشلې وه. یوه برخه ئې پخپله خوړله او بله ئې کوترو ته ورکوله. تل به ئې د کوترو د نسل د ډېرېدو دوعاوي کولې. کوتري هم له دې غره څخه بل ځای ته نه تلې. پر عابد باندي راټولي سوي کوتري زیاتره تسبیح ویونکي کوتري وې. د کوترو تسبیحات دا دي: "سبحان خالق الخلق وقاسم الرزق وبانی السماوات و باسط الارضین". کوترو له خپلو بچیانو سره تر هغو پوري په دې غره کي ژوند کاوه تر څو چي عابد مړ سو او دوی هم مخ پر ښارو او کوڅو ونیو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پرهېزګاره شپون نکل

د نکلچیانو له خولې روایت دئ چي وايي په یوه غره کي یو شپون وو. دا شپون یو ډېر په زړه پاک، دینداره او هوښیار سړی وو. ټوله ورځ به ئې خپل پسونه او مېږي پوولې او په شیدو او وړیو ئې خپله ګوزاره کوله. وايي چي په دې غره کي خورا ډېري ګڼي درختي او ځنګلونه ول. په دغو ځنګلو خورا ډېر ځنګلي ځناور او وحشي حیوانان اوسېدل خو په شپانه او د هغه په پسو او مېږو ئې کار نه درلود. شپون په دغه غره تل ارام و اسوده ګرزېدی. څرنګه چي ډېر نېک عمله سړی وو او تل ئې د خدای په طاعت و عبادت ځان مصروف ساته، ځکه ئې د دنیا په کارو کي ری نه واهه. څه موده وروسته دا شپون ډېر سخت ناروغه سو او بیخي له ښوره ولوېد. نو ئې د هغه غره په یوه غار کي ځانته ځای واچاوه. رمه به ئې سهار څړ ته ووتله او ماښام به بیرته د دغه غار خولې ته پنډه سوه. وايي چي خدای تعالی غوښته چي پخپل دغه بنده یو ازمویښت وکړي. نو ئې یوه ملایکه د یوې ډېري ښکلي ښځي په بڼه ورته راولېږله. ملایکه د شپانه مخي ته کښېنسته.

شپانه چي دا ښځه ولیدله چي د ده و مخ ته ناسته ده، باره ئې بدن په لړزېدو سو او پوښتنه ئې ځني وکړه چي: "ښځي د څه له پاره دلته راغلې یې؟ زما و ستا تر منځ خو پېژندګلوي هم نسته. نه ستا احتیاج په ما مانده دئ او نه زما دا په تا". ملایکي ورته وویل چي: "اې ځوانه! زما حسن و ښایست ته نه ګورې، زما خوشبویي نه دربانډي ځي، ښځو ته د نارینه وو په اړتیا نه پوهېږې. زه باید ولي تا ته رانه سم؟ او ولي باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د وصال ارزو و نه کړم؟ زه پخپله خوښه او د خپل زړه په غوښتنه دلته راغلې يمه. اوس چي هيڅوک بل دلته نسته، غواړم چي په دې غره کي له تا سره واوسم. ستا د ژوند ملګرې سم او که ته زما سره يو ځای سې، ناروغي به دي درڅخه ولاړه سي او بيرته به روغ رمټ سې. له ښځو سره که دي د يو ځای ژوند خوند وکوت، بيا به پر خپل هغه ژوند باندي ډېره پښېماني وکړې چي په جره ګې، کي دي تېر کړی دئ. دا يو پند دئ چي درته ومي وايه". شپانه ورته وويل چي: "اې، شيطاني چمبازي! زما څخه ليري ښوره. نه مي ستا پر خبرو باور راځي، نه به تا ته درنږدې سم او نه مي ستا وصال ته حاجت سته. د هر چا په زړه کي چي ستا مينه ولوېده، د آخرت برخه ئې سپکېږي او که چا د آخرت مينه قبوله کړه، ستا څخه ليري کېږي. ته هغه څوک يې چي اولين و آخرين دي دواړه تېرايستلي دي. افسوس پر هغه چا چي ستا په دام کښېوزي". ملايکي ورته وويل چي: "مه شوده کېږه. ما ته مخ راواړوه. زما ښايست و جمال ته وګوره. زما وصال غنيمت وګڼه. هغه کار وکړه چي تر تا وړاندي اولنو کړی دئ. اولني حکيمان او پوهان چي هم ئې تر تا تجربه ډېره وه، هم په عقل کي تر تا هوښياران ول، بيا ئې هم له ښځو څخه داسي بېزاري نه ښکاره کوله لکه دا ته چي ئې ښکاره کوې. هغوی ښځو ته ځان نږدې کاوه. دې کار هغوی ته نه په دنيا کي تاوان رساوه، نه په آخرت کي. ته هم له خپلي کږې لاري څخه راواوړه چي يو څه د ښهاني ورځ ووينې".

شپانه ورته وويل چي: "زما له هغه څه سره جوړه نه ده چي ته ئې راته وايې. ما هغه ترک وهلي دي. په دې مي پرې ايښي دي چي ته غولوونکي يې، څوک خطاباسې. نه دي پر عهدوپيمان باور سته، نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي له چا سره وفا کړې ده. خورا ډېري بدۍ ستا په دې غوږو خبرو کي پټې دي. ډېر نېکان دي غولولي دي او پر ځان دي مین کړي دي. هغو ټولو آخر پښېماني کړې ده. زما څخه ولاړه سه ځکه تا د نورو د فساد له پاره ځان جوړ کړی دئ". شپانه دا وویل او خپل کوسی ئې پر سر راکش کړ او د خپل پروردگار په ذکر مشغول سو. ملایکي چي د ده کلک یقین او ټینګه عقیده ولیدله، نو ځني ولاړه سوه او اسمانو ته وختله. دې غره ته نژدې یو کلی وو. په دې کلي کي یو خورا ښه پرهېزګاره سړی اوسېدی. دې ښه سړي خوب ولید چي یو چا ورته هاتفي ږغ وکړ چي تا ته نژدې په پلاني غره کي یو نېک سړی پروت دئ. ورسه او د هغه په خدمت کي واوسه. دا سړی سهار غره ته رهي سو. پر لاري ګرمۍ په عذاب کړ، باره د یوې وني تر سیوري لاندي کښېنوست. په دې ځای کي د اوبو یوه چینه وه. ده هم څنګ ورته واچاوه چي ځان هوسا کړي. په دې وخت کي ناڅاپه د هوا مرغان او د غره وحشي ځناوران دې چینې ته د اوبو څښلو یا اوګاه له پاره رامات سول. خو څرنګه چي د چینې پر غاړه دا عابد سړی ناست وو، نو بیرته به وتورېدل او ولابه ړل. عابد له ځانه سره وویل چي زما ناسته خو دلته د دغو مخلوقاتو د تندي سبب سوه. د هغي ورځي له بازخواسته څخه وبېرېدی چي د کلۍ کسات به له ښکره وري اخیستل کېږي. باره په ژړا سو او خپل ځان ئې ملامت کړ او دا بیتونه ئې زمزمه کړل:

خدایه ستا په دې جهان کي که یو پاک دئ سل ناپاکه
ما پر لاري برابر کړې له بې لارو امان راکه
زه دي داسي ژوند نه غواړم چي تر مرګه به ګمراه یم
مرګی سل ځله بهتر دئ تر بې لاري ژوند و ژواکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



آبس، په ژړاندو سترګو رارهي سو څو تر شپانه پوري ورسېد. شپانه ته ئې سلام واچاوه. هغه علیک ورته ووایه او پوښتنه ئې ځني وکړه چي ته و دا ځای؟ ما ته خو هیڅ بنیادم تر اوسه پوري دلته نه دئ راغلی. ته څرنګه راغلې؟ عابد ورته وویل چي: "په خوب کي یو چا ستا د دغه غار نښاني راکړه. ما ته امر وسو چي درته راسم او زه هم دا دئ راغلم". شپانه د ده له خبرو څخه ډېر خوشاله سو. دواړه په هماغه غار کي د خدای په عبادت مشغول سول. د مېږو په شیدو او د پسونو په غوښو ئې ګوزاره کوله. په دنیا کي له مال و اولاده مجرد پاته سول څو د یقین مقام ته ورسېدل.

کیسه چي تردې ځایه راورسېدل، شهریار پاچا وویل: "اې شهرزادي! زه خو دي بیخي ډېر د زاهدانو لاري ته وهڅولم. د ښځو او نجونو پر وژلو دي پښېمانه کړم او د خپلو ناوړو عملونو له اسیته ځان ملامت بولم. اوس که دي د مرغانو کم نکل مکل زده وي، هغه راته وکړه". شهرزادي ورته وویل چي: "اې زموږ نېکمرغه پاچا! د نکلو په کتابو کي راغلي دي ...".

# د هېلۍ او کیشپ نکل

یوه ورځ د اوبو یو مرغه په هوا سو. اوبو ته ئې کتل او وئې لیدل چي یوه ډبره اوبو رااخیستې ده. مرغه له هوا څخه راتا سو او پر دغه ډبره ودرېدی شاوخوا ئې وکتل چي ګوري یو بویناکه شی اوبو رااخیستی دئ. رائې ووړ، رائې ووړ او دغي ډبري ته تکیه سو. مرغه چي ورته وکتل، دا بویناکه شی مړ بنیادم وو چي پر بدن باندي ئې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



توري او نېزې ټپونه ليدل کېدل. مرغه له ځانه سره وويل چې دا هرومرو يو ناولی ظالم سړی وو. خلکو وژلی دئ او له شره ئې ځان خلاص کړی دئ. هېلۍ و دې بويناکه مړي ته اريانۍ اخيستې ده چې ناڅاپه له هوا څخه ټپوسان و باښې و پکي باښې راښکاره سوې او پر دې بويناکه مړي ئې غوټې راووهلې. هېلۍ چې دا حال وليد، وبېرېده، له ځانه سره ئې وويل چې ياره، ښه به دا وي چې دا ځای پرېږدم. باره په هوا سوه په داسي ځای پسي ئې کتله چې له دغو مرداريو او ځيرونکو و وحشي مرغانو څخه ليري او گوښه وي. تله، تله، تله څو د اوبو په منځ کي ئې يوه درخته په سترگه سوه او پر کښېنستله. خپله مېنه او وطن ئې ډېر ارمان سو. ول خدايه! غم او واهمه دي تل له ما سره مله کړې ده. هر ځای چې ولاړه سم، دوی سم راپسې وي. خوښ خوشاله ناسته وم. دغه بويناکه جسد اوبو راووړ. ما چې ويل دا به زما رزق و روزي وي او خدای به رالېږلې وي. هغه رزق وروزي مي دې ځېرونکو مرغانو راڅخه وتروښوله. ما ته د خدای پر اوبجه باندي بل څه پاته نه سوه چې ژوند په وکړم. خو هوښياران بايد و نه غولېږي. هر چا چې پر دې نابوده باندي اعتماد وکړ، د مرگ تر ساعته به په ناپوهۍ کي ډوب وي. تر هغه ساعته پوري چې په خاورو کي ئې کښېږدي. دوستان او خپلوان ئې خاوري ورباندي واړوي. د مېړنو له پاره د دنيا پر مصيبتو باندي تر صبر و تحمل بل ښه شی نسته.

هېلۍ په دغه چورتو او خيالو کي ډوبه وه چې ناڅاپه له اوبو څخه يو نر کيشپ راووت. مرغه ته نژدې راغی او سلام ئې ورواچاوه او ورته وې ويل چې اې ښاغلې! ولي له خپلي مېني څخه راليري سوی يې؟ مرغه ورته وويل چې پر مېنه مي دښمنان راتوی سول. هوښياران خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له دښمنانو سره د ليدو کتو زغم نه لري. شاعر څه ښه ويلي دي:**

پـر دنيـا چـي انـسان نـه وو، پـا چهي وه د اسـانو
ژوي ټولـه سـره ورونـه، خوشـالي وه پـر خو ارانـو
دا شرير چي رانـازل سو، بد مرغی ئې کړلي تيتي
ظلم خپـور سو پـر مرغـانو، جبر و زور سو پـر کبـانو
دښـمنی ئـې وکرلـې، عـالمونـه ئـې تـالا کـړل
پـه اوبـو و پـه هـوا کـي، ټـپک سو ورک د مظلومـانو
دا بد مرغه که واکمن وو، تـا بـه پـرې نـږدي اوبـو کـي
مـا بـه کښته لـه هـوا کـړي، الـوی بـه سم اورو کـي

**کيشپ چي په حال پوه سو، نو ئې هيلی ته وويل چي زه به له دې وروسته پر تا باندي پام کوم او درڅخه ليري کېږم به نه. ما اورېدلي دي چي په دنياکي له وطن څخه تر جدايي بل هيڅ دروند مصيبت نسته. د هوښيارانو په نظر د دې مصيبت علاج اول صبر و تحمل دئ او بيا نو له سپېڅلو او رښتينو کسانوسره ناسته و ولاړه ده. زه هيله من يم چي زما خبري به ستا خوښي سوي وي او ما د يوه خذمتګار دوست په توګه ومنې. هېلی چي د کيشپ دا عالمانه وينا واورېدله نو ئې ورته وويل چي حقيقت هم دا دئ چي ما له خپلي ابايي مېني او له خپلو يارانو څخه د بېلتون زهر او د مرګي لذت څکلی دئ. هوښياران بايد د غم او ماتم پر وخت له دوستانو څخه مرسته وغواړي او د وفا له ښتنانو سره ملګرتوب وکړي. صبر او زغم ولري ځکه چي صبر ډېر ښه خوی او خصلت دئ او د زمانې په لوړ و ځوړ کي د چا له زړه څخه بېره ايسته کوي. کيشپ ورته وويل چي تشويش او اندېښنې دي له تا ليري وي، رشتيا هم بدي اندېښنې د چا ژوند پر نيمګور دروي او مېړانه له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه وړي. هېلۍ ورته وويل چې زه هر وخت د زمانې له حادثو څخه په وهم و اندېښنه کې يم. کيشپ چې دا خبره واورېده، ورته رانږدې سو او پر تندي ئې مچ کړه او ورته وې ويل چې د الوتونکو ټولۍ هر وخت ستا څخه مشورې اخلي. ته څرنګه غم ته په زړه کې لار ورکوې؟ هېلۍ په دغه وخت کې په هوا سوه او هغه ځای ته ولاړه چې د انسان بوېناکه جسد پکښې پروت وو. هماغې ډبرې ته چې ورسېده، هورې ځای وو، جولا نه وو. د بوېناکه جسد فقط يو څو هډوکې پراته وه او باښې و ټپوسان پر خپله ترړه تللي ول. چابک بيرته کيشپ ته راغله او د دښمنانو د تګ حال ئې ورته بيان کی او ورته وې ويل چې اوس نو بيرته خپلي مېنې ته ځم چې خپل دوستان و ياران ووينم. له خپل وطن څخه چاره نسته. آبس، کيشپ هم ورسره رارهي سو. په هغه ځای کې داسي څه و نه ليدل چې د چا دي تراه ځني وسي، يا دي ځني وډارېږي. د هېلۍ تندی سره وغوړېدی او سترګي ئې روښانه سوې او دا بيتونه ئې وويل:

شکر دي وي خدايه چې ژوندی او پر خپل کور يم
ناسته له دوستانو سره خوښه له هر لوري يم
تل دي دا جونګړه وي ودانه په خپلوانو
لیري دي غمونه وي له دوستا او عزيزانو

څه سر دي پرله ګرزوم، کيشپ هم په هغه ټاپو کې ځانته ځای جوړ کړ او د خوښۍ، خوشالۍ، عيش او عشرت شپې و ورځې ئې تېرولې چې ناڅاپه يوه ورځ په هوا کې يو وږی شهين رابنکاره سو او هېلۍ ئې پخپلو منګولو کې پورته کړه. هېلۍ چې وکتله چې اجل او وخت و وعده ئې رسېدلې ده نو ئې تن و تقدير ته ورسپاره. وايي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې د هلاک سبب د تسبیحاتو پرېښوول وه. د دې تسبیحات داسي وه: (سبحان ربنا فیما اغنی وافقر).

پاچا شهرزادي ته وویل چي په دې نکل خو دي زه نور هم د زهد و تقوا لور ته ورپوري وهلم. اوس که دي د وحشي ځناورانو کومه کیسه میسه زده وي راته وئې کړه. شهرزادي ورته وویل: "پر غبرګو سترګو!"

# د ګیدړي او شرموښ نکل

وایي چي په پخوا زمانو کي یوه ګیدړه او شرموښ یو ځای سره اوسېدل. اندېوالي ئې ښه ډېره اوږده سوه. دې شرموښ به هر وخت پر ګیدړي باندي ظلم کاوه خو ګیدړي به بیا هر وخت دی و دوستۍ او ښې ګوزارې ته راباله او ورته ویل به ئې چي که ته دي دا ظلم پرې نږدې او زما حق پر ځای نه کړې، خدای به دي د بنیادم په لاس ورکړي. د هغه خورا ډېر چلونه او چمونه زده دي. په هوا کي مرغان ښکارولای سي او په اوبو کي کبان نیولای سي. غټې غټې ډبري ماتولای سي. له غرو څخه ئې ښارونو ته وړلای سي. ته د انصاف لار واخله، ظلم پرېږده. تا ته به هم خدای خیر درپېښ کړي.

شرموښ د دې خبري نه منلې او په قهر ئې جواب ورکاوه. یوه ورځ ئې ورته وویل: "ستا ئې د لویانو او مشرانو په کار څه کار؟" بیا ئې نو یوه داسي ټینګه چپلاخه یا څپېړه پر مخ ورسره کړه چي ګیدړه خواره بوڅه راواوښته او بېسده سوه. یو وخت چي پر هوښ راغله، نو ئې په خندانه خوله له شرموښ څخه عذر وغوښت او دا بیتونه ئې ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که تکلیف سي در ته پېښ د دوست له خوا
او بيا وروسته په عذرونو سي گويا
چا ته بويه چي ئې عذر ور منظور کړي
عذر نه منل بتر دي تر گناه
دا خبر له اولنو شخه راپاته
کوږ مغزی توره هيڅ نه خوري د هيچا

شرموښ چي دا بيتونه واورېدل، نو عذر خو ئې ومانه منگر ورته وې ويل چي بله ورځ به دا بې معنا خبري ما ته نه کوې. دا خبري تا ته هيڅ گټه نه سي رسولای. يو کار چي تا ته گټه نه رسوي، هغه مه کوه.... کيسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او نهه څلوېښتمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

شرموښ ګيدړي ته وويل: کومه خبره چي تا ته گټه نه رسوي، مه ئې کوه او کوم څه چي تا نه خوشاله کوي، مه ئې اوره. گيدړي ورته وويل چي بالکل سمه ده. ستا نصيحت به په غوږکي ټينگ ونيسم او هيڅکله به ستا له رضا پرته هيڅ کار هم و نه کړم. پوهانو ويلي دي چي چا پوښتلی نه يې، جواب مه ورکوه. کوم ځای ته چي چا بللی نه يې، مه ورځه. هغه کار چي گټه نه لري، مه ئې کوه. ظالمانو ته د نصيحت خبري مه کوه ځکه ستا د پند و نصيحت پر ځای به ظلم و مشقت

(c) ketabton.com: The Digital Library



درباندي راولي. شرموښ چي د ګيدړي خبري واورېدلې، نو مخامخ خو ئې ورسره وخندل منګر په زړه کې قسم ورته واخيست چي که نن وي که سبا، دغه ګيدو انا به هرومرو وژنم. خو ګيدړي بيا د شرموښ د ظلمونو په مقابل کي له صبر و زغم ځخه کار اخيست او له ځانه سره به ئې ويل چي د ظلم پای وران دئ. ظالم به آخر تاواني کېږي او ناپوه به آخر پښېمانه کېږي. ځوک چي له خدايه وبېرېږي، شا ئې مځکي ته نه رسېږي. انصاف د اشرافو کار دئ او په دنيا کي تر ادب ښه خوی بل نسته. غوره لار دا ده چي له دې ظالم سره ګوزاره وکړم. ظالم ته خدای پخپله سزا ورکوي. باره نو ګيدړي و شرموښ ته وويل چي بنده چي خدای ته توبه وکاږي، خدای ئې توبه قبلوي. ما اريانې له ناپوهۍ ځخه تا ته نصيحت کاوه. که په دې خبر سې چي ستا ځېېړي زه ځونه خوږ کړې يم، ولچي دستي مي وبخښې. دې چپلاخي که ځه هم زما ماغزه راخبر کړه، خو ګيله او شکايت نه کوم. ځه ښه ئې ويلي دي چي: "شيخ فريده، خاموشي دي بهتري ده". د دوستۍ ځپېړه که ځه هم په اول سر کي ترخه ده خو مېوه ئې بيا خوږه ده.

شرموښ ورته وويل چي دا وار خو مي وبخښلې، منګر زما له خښمه به ځان ساتې، امر به مي منې. ګيدړي ورته وويل چي پر دواړو سترګو ئې منم. دا ګيدړه به هرکله په واهمه کي وه. يوه ورځ ګيدړه د انګورو يو باغ ته ولاړه. د باغ په دېواله کي ئې يو سوری په سترګه سو. له ځانه سره ئې وويل چي دا سوری بې ځه نه دئ جوړ سوی. ښه به دا وي چي له دې سوري ځخه ځوک ځان ليري وساتي. اولنو ويلي دي چي که دي په مځکه کي سوری وليد، لار ځني چپوه. هوښ کوه چي پښه پکښې کښېنږدې. که دي کښېښووله، د هلاکت سبب به دي سي. وايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوا به ځینو خلکو د مړې ګیدړې پوست له پروړو ډک کړ. په باغ کې به ئې یو ځای ودراوه. مخ ته به ئې انګور ورته کښېښووله. نورې ګیدړې چې به دغه ځای ته ورغلې په دام کې به بندې سوې. ګیدړې فکر وکړ چې د دغه دېواله سورې هم له دغه راز داموځخه یو دام دئ. باره ګیدړه په ډېر احتیاط سره ورو ورو دېوال ته نژدې سوه او هغه سورې ته ئې وکتل. چې ګورې، د سورې تر شا یو ژور ډب دئ چې د باغ څښتن د وحشي حیوانانو د نیولو له پاره کیندلی دئ. ګیدړه له ډب څخه لیرې ودرېدله او د خدای شکر ئې پر ځای کړ چې د دې په زړه کې ئې بېره ورواچوله او همدا بېره د دې د نجات سبب سو. له ځانه سره ئې وویل چې خدای دې وکړې چې د دې ناولی دښمن شرموښ پکښې ولوېږې او تر هغه وروسته به نو دا د انګورو په باغ کې یوازې ګرزې او خپلې چړچې به کوې. باره ئې سر وښوراوه او له خوشالۍ څخه شنه د خندا ولاړه او په خنداکې ئې دا بیتونه هم زمزمه کړل:

دا به څرنګ نېک ساعت وې چې دښمن مې بند په دام وې
لـه خوښـیه بـه نڅېـږم ټـول ژونـد ون بـه مـې ارام وې
و اهمــې بــه تــښتېدلې، اندېــښنې بــه پــه فــرار وې
مخ به تـک تور د دښمن وې، په عـالم کې به بدنام وې
هوسـونه بـه رادرومـې، زمـا و لـور تـه زمـا و کـور تـه
عـیش ونـوش بـه مـې نـصیب وې بختـورې بـه ایـام وې
که دا باغ دئ کې مېوې دې تصرف به مې ټول خپل وې
څـه بـه خـورم، څـه بـه ښـندمه شـکرانه بـه د طعـام وې

دا بیتونه چې ئې وویل، باره تر شرموښ پورې په منډه راغله او ورته وې ویل چې خدای دې بخت بیداره کړ او له غیبي خزانو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پر یوه باغ پېښه سوم. دا ټوله غیبي شتمني او بې تکلیفه رزق وروزي دي خدای پر تا باندي مبارک ولري. شرموښ ورته وویل چي دا باغ دي څرنګه پیدا کړ. ګیدړي ورته وویل چي د انګورو پر یوه باغ پېښه سوم چي څښتن ئې مړ سوی وو. چي ورننوتم او دا رنګارنګ مېوې مي د درختو پر ښاخو ځوړندي ولیدلې، ... د شرموښ خولې اوبه وکړې او د ګیدړي خبره ئې په خوله کي وروچه کړه، ول درځه چي ورځو. باره ګیدړه دمخه سوه او شرموښ په پسې سو. د باغ د دېواله سوري ته چي ورسېدل، ګیدړي پښه ونیوله او شرموښ ته ئې وویل چي دردمخه سه. شرموښ چي په سوري کي پښه کښېښووله، درز ئې سو، په ډب کي ولوېد. ګیدړي چي شرموښ په ډب کي بند ولید، نو دابیت ئې ورته وویل:**

هی توبه! د حرص له زوره خلک اچوي په دام کي
د دنیا طلب ئې ړوند کړي خوله ئې ډکه په حرام کي

**بالا نو له ډېري خوشالۍ څخه پرله وڅرخېده او دا بیتونه ئې ورسره زمزمه کړل:**

شکر شکر دي وي خدایه چي مي غوښت هغه دي را کړل
په همت دي مېړنی کړم، دښمنان مي نیمه خوا کړل
آرزوګاني مي پوره سوې، امیدونه مي غوړېږي
ما یو جام تش کړی نه دئ، ساقي نور ډېر را عطا کړل

**باره نو د ډب څنډې ته ورنږدې سوه چي ګوري شرموښ په سرو اوښکو پروت دئ. دې هم سر ورسره پټ کړ او وئې ژړل. شرموښ ورته وویل چي دا اوښکي دي د زړه سوي دي اوکه ... ګیدړي سمدلاسه ورته وویل چي قسم مي دي په هغه خدای وي چي ته ئې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ډېر ته وراچولی يې، چې زما ژړا خو د زړه سوي له اسيته نه ده. ژړا پر دې راغله چې دا ته ولې لا تر دې ګړيه ژوندی پاته يې. افسوس مې پر دې دئ چې ته پخوا لا ولې دې ډېر ته نه وې لوېدلی. که ته زما سره تر شناخت پخوا دې ډېر ته لوېدلی وای، ما به ولې دونه ديدنۍ او شواخونونه ليدلای. شرموښ ورته وويل چې: "اې پليتي! ژر ورسه او مور مې راخبره کړه .ګوندي هغه مې له څاه څخه دروباسي". ګيدړې ورته وويل چې ته خپل حرص دې څاه ته اچولی يې. د راوتلو اميد نور له زړه باسه. نه دې دي اورېدلي چې وايي: "من لم يفکر فی العواقب لم يامن المعاطب" معنا دا چې: "څه کرې، هغه به ريبې".

شرموښ ورته وويل چې تا خو زما سره مينه و محبت لاره، زما سره دې دوستي کوله او زما له قهره څخه ډارېدلې. اوس ته ما ته زما د خپل بد عمل سزا مه راکوه. هر څوک چې کمزورو ته د مرستې لاس وغځوي، خدای تعالی به ډېر عوضونه و اجرونه ورکړي. ښاعر څه ښه ويلي دي:

له کمزوري سره مرسته مکافات لري بې شانه
دا خبـر مـې اورېـدلي لـه پوهـانو ده، جانانـه
د مجرم سزا دغـه، چې شرمنده وي په عـالم کې
که چا عفـوه ورتـه وکړه، وبـه کړي ګټـه پرېمانـه

ګيدړې ورته وويل چې: "اې بې عقله ځناوره او اې ناپوهه وحشي! خپل ظلمونه دې لکه چې هېر سول. خپل کبروغرور دې لکه چې له ياده ووت. نه دې دي په ياد چې له ډېره کبره به دې هيڅوک په سترګو نه ليدل. تا پر خپلو زېردستانو باندې کله هم رحم کړی وو؟ زه به د شاعر دغه پندونصيحت ولې له زړه باسم چې ويلي ئې دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عفوه ښه ده، بخشش ښه دئ، زې پر سر سترګو منم
خو پر تپ د ظالمانو مه ږدئ هيڅکله مرهم
دا لوی ظلم پر انسان دئ، لو جفا ده، لو ګناه ده
که چا رحم و شفقت کاوه پر مار و پر لړم

شرموښ ورته وويل چي: "اې پر ما ګراني! ما ته د تېرو ګناهونو جزا مه راکوه. عفوه خو د خدای د دوستانوخاصه ده او احسان خو يوه لويه سرمايه ده. شاعر ويلي دي:

بخت به ويښ د هغه چاوي، کاميابي به ئې په خوا وي
پر عاجز چي شفقت کړي، د بېوزلو همنوا وي

څه سر دي پرله ګرزوم. شرموښ خورا ډېري توري تپي وکړې او ګيدړي ته ئې ډېري زارۍ و جګۍ وکړې او ورته وې ويل چي له دې کندي څخه ئې وباسي، خو ګيدړي ورته وويل چي: "اې چمبازه! له دې کندي څخه د راوتلو خيال له سره وباسه. دا کنده ستا د خپلو عملو مکافات دئ". بيا ئې نو په خندا ورته دا بيتونه وويل:

چي پرون دي وه کرلي نن ئې ورېبه حاصل
عاقبت به وي همداسي د ناپوهه د جاهل
پر دښمن که دي لاس برسو فرصت مه باسه له لاسه
دا خبره مي زده کړې ده له خپل پير کامل

شرموښ ورته وويل چي ما خو ستا څخه د يارۍ تمه درلوده او فکر مي نه کاوه چي ته به مي دې کندي ته ورواچوې. باره ئې تر سترګو اوښکي راتوی سوې او په ژړا کي ئې ورته وويل:

ما ول ته به مي، پخپل مهرو کرم ونازوې
هی افسوس ته مي د لاسه لا تور مخ راتوروې

(c) ketabton.com: The Digital Library



گیدړي ورته وویل چي اې ناپوه دښمنه! دا څه پېښه سوه چي ته له هغه تکبر و ستمگرۍ څخه د عاجزۍ او پښېمانۍ دې حال ته راغلې. ما چي ستا سره د دوستۍ خبري کولې، هغه خو مي ستا د ظلم و ستم له ډاره کولې. داسي نه وو چي ما د زړه له کومي غوښتل چي ستا سره دوستي وکړم. اوس د خدای احسان دئ چي ته ئې په غم و بلا کي گرفتاره کړې. شاعر څه ښه ویلي دي:

کــه چـــا واخیـــستله تـــوره د ســـتم
عاقبـت بـه کـړي خپـل ځـان بانـدي کـړم
د ستم دوران یـو څـو ورځـي دئ پـوه سـه
ژونــدون نــه پــايي پــه مِکــر و پــه چــم

شرموښ ورته وویل چي اې ځوانمرده ځناوره او اې هوښیار وحشي! دا د دښمنۍ خبري پرېږده. زما و ستا د پخوانۍ اشنایۍ په خاطر زما په خلاصېدو کي مرسته راسره وکړه. ولاړه سه، یوه رسۍ راوړه. یو سر ئې په یوه درخته پوري وتړه او بل سر ئې ما ته راوځړوه. چي له دې کندي دروختلم، زما ئې ستا سره وعده چي خپل ټول هست و نېست به تا ته دروبخښم. گیدړي ورته وویل چي: "گرگه، بله چاره دي نسته بې له مرگه". خبري نوري مه اوږدوه. بې فایدې خبري گټه نه دررسوي. خپل کړه دي در په یاد که، خپل مِکر دي در په زړه که. او ته لا ودرېږه، سختۍ لا نوري درته گوري. د ډبرو سنگسارېدل دي لا هم په مخ کي دي. د دې دنیا سختۍ چي درباندي تېري سي، د هغې دنیا سوځې لا هم درته گوري، د دوزخ لمبې لا هم درته انتظار باسي.

شرموښ ورته وویل چي: "یا اباالحصین! له زړه څخه دي کینه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



بغض وباسه. د دوستۍ لار را واخله او پوه سه چي هر چا چي يو څوک له مرګه خلاص کړ، ګويا ټول جهان ئې له مرګه وژغوره. دښمني و فساد دي اور واخلي. پوهانو له فساده کرکه کړې ده. تر دې به زيات فساد څه وي چي زه په دې کنده کي پاته سم او د مرګي په غېږ ورسم او ستا دي په وس پوره وي چي ما له دې کندي دروباسې.ګيدړي ورته چي اې ظالمه خدای ناترسه! ما ته ستا د دې ظاهري غوړي ژبي او د باطن له خباثت څخه د هغه باز کيسه را په ياد سي چي له زرکي سره ئې چم و دروه کړې وه. شرموښ ورته وويل چي د باز و زرکي کيسه څه راز وه؟ ګيدړي ورته وويل چي يوه ورځ د انګورو باغ ته ولاړم . غوښتل مي چي يو څه انګور وخورم. چي ګورم، يو باز دئ پر زرکه باندي غوټې وهي او غواړي چي ښکار ئې کړي. زرکي ځني الا کړه او خپلي ځالي ته ولاړه او هورې پټه سوه.

باز ورغی د غار په خوله کي ورته ودرېدی او ورږغ ئې کړه چي: "اې بېعقلي! ما چي ته په دښت کي وليدلې چي په دانه پسي ګرزېدلې. زړه مي درباندي وسوځېدی او دا دئ اوس مي يوه لمن دانې راټولي کړي دي او تا ته مي راوړي دي چي وئې خورې. تا راڅخه الا کړه. زه ستا د دې تېښتي په سبب پوه نه سوم. راووزه او هغه دانې چي مي درته راوړي دي، وئې خوره. زرکي چي دا خبري واورېدلې، زړه ته ئې ولوېدله او له ځالي څخه راووتله. د دې راوتل وه او د باز پر حمله وه. ټينګه ئې په منګولو کي ونيوله.

زرکي ورته وويل چي: "دغه دي ها ياري و دوستي وه؟ دغه دي ها دانې وې؟ ما ستا پر درواغو باندي باور وکړ او ته مي اوس غوښي خورې. پوه سه چي دا غوښي به خدای ستا په نس کي زهر کړي". باز

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې پر خبرو غوږ و نه نيو او بڼکي ئې ورتاشي په تاشي (تارپه تار) کړې او خواره کی. ئې مړه کړه او وئې خوړه. باره گيدړي شرموښ ته وويل، هر چا چي بل چا ته کوهی کيندلی وي، آخر پخپله پکښې لوېږي. تا زما سره د چم و خطا ايستلو لار اخيستې وه، آخر دي پخپله ښه پکښې وښوئېدله. شرموښ ورته وويل چي دا د اناگانو کيسې و متلونه پرېږده. ته څه ما ته زما د بديو خبري کوې. د هغو بديو سزا مي همدا بس ده چي په دې کنده کي په دغسي بدحال کي پروت يم. زما پر حال خو زما د سر د دښمنانو لا زړه سوځل کېږي. ته اوس يو کار وکړه چي سل کاره وارزي. ما د دې کندي څخه دروباسه. تا نه دي اورېدلي چي دوست به دي وژړوي او دښمن به دي وخندوي. ما خو چي پر تا ظلم کاوه، نو په زړه کي خو مي بد نه وه درباندي پېرزو. په زړه کي خو دي دوست وم. هوښيارانو ويلي دي چي دوست بايد د دوست په ژغورلو کي زيار وباسي او ښه دوست تر ورور لاهم چا ته نزدې وي. که ته مي له دغه جنجاله څخه وژغورې، دونه مال و دنيا به درکړم چي تر مرگه به ئې تمامه نه کړې. داسي چمونه وچلونه به دروښيم چي تر دې باغ به سل کوټي ښه باغونه په پيدا کړې. پر داسي خوږو مېوو به پېښه سې چي خوله به دي تر قيامته پوري په خوږه وي.

گيدړي پر وخندل او ورته وې ويل چي عالمانو خو ښه ويلي دي. دا خو رشتيا دي چي دوست به د دوست په ژغورلو کي کوښښ کوي. منگر زه ستا و عقل ته ارپانه تللې يم چي پر دا دونه ظلم و ستم باندي چي پر ما دي کړی دئ، اوس لا هم ما په دوستانو کي شمېرې؟ ما ته د انگورو د باغو د پيداکولو چمونه راښيې؟ که ستا داسي چمونه زده وای، پخپله به دي د ځان غم خوړلی وای او دا بده ورځ به نه درباندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتللای. ته هغه چا ته ورته یې چي پخپله ناروغ وي او بل چا ته د روغېدو علاج ورښیي.

شرموښ چي د ګیدړي دا خبري واورېدې، پوه سو چي د مرستي تمه بې ځایه ده. باره په ژړا سو او وې ویل چي تر اوسه مي چي هر څه کړي دي، له ناپوهۍ مي کړي دي. که له دې بلا څخه خدای دا واري خلاص کړم، نور مي توبه ده او بیا به بد نه کوم. تر ځان کمزوري به نه ځوروم. یوه ګودړۍ به واغوندم، په غره کي به له ځناورانو څخه ګوښه یو ځای کښېنم. که مي چا ته کوم خیر رسېدی، خو وررسوم به ئې او له محتاجانو سره به مرسته کوم او که نه وو، د خپل خدای عبادت به کوم. آبس، سر ئې پټ کړ او په ژړا سو. دونه ئې وژړل چي آخر د ګیدړي زړه پر وسوځېدی او د ده په توبه کښلو باندي خوشاله سوه. باره ئې کندي ته شا وروګرزوله او خپله لکۍ ئې وروځړوله.

شرموښ ترلکۍ ټینګه ونیوله او ځان ته ئې ورکش کړه. ګیدړه هم درز سو، لاندي ورولوېدله. ګیدړه چي کندي ته ورولوېدله، باره شرموښ سترګي پر راغټي کړې، ول: ولي دي پر ما رحم نه کاوه؟ سختي و تندي خبري دي راته کولې. آخر، زه خو دي یاروم. شکر دي وي خدای ته چي ته هم زما په رنګ سوې. پوهانو ویلي دي چي: "مه کوه په ما، و به سي په تا". باره نو شرموښ دا بیتونه ورته وویل:

ولي غوزاره سوې، ګیدو انا ! چا دي سوې
د زمرو په لاس کي کښېوتي بندي سوې
تا د بل له لاسه ډېر شکایت وکړ
خو آخر خپله اخته په دا خواري سوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نـو وو ایــه چــي ظلــم وو چــا کــړی؟
اوس پـو هېږې چي دا چیـري زنداني سـوې؟

تر دې بیتو وروسته ئې گیدړي ته وویل چي اوس نو مجبوره یم چي تا تر ځان دمخه کړم. دمخه تر دې چي زه مړ سم، تا به هم د مرگي په غېږ ورولم. گیدړي فکر وکړ، چي له دې کورخراپي سره خو په بلا کښېوتم. اوس نو باید له خدای راکړي عقل څخه کار واخلم او خپله ټوله هوښیاري په کار واچوم چي د دې سرکوزي له زوی څخه ځان خلاص کړم. پوهانو ویلي دي چي اوښکي د مصیبت پر وخت ښه علاج دئ:

چي پـه ښـو ی پیالـه کـي ولـو یږي مېـږی
پــه زور نــه ســي راخــتلای روغ رمــی
چارناچـار بـه لـه حیلـې څخـه کـار اخلـي
کنــه، نــه خېــژي لــه پــښې ځــه دا اغــزی

باره گیدړي ورته وویل چي اې امیره! زما پر وژلو باندي تلوار مه کوه. عجله د شیطان کار دئ. دا کار مه کوه. پښېمانه به سې. که ما ته وخت راکړې او زما پر خبره غوږ ونیسې، که خدای کول دواړه به له مرگه نجات ومومو. خو که دي زما پر وژلو باندي بېړه وکړه، دواړه به په دغه کنده کي مړه پراته یو. شرموښ ورته وویل چي: "اې پلیتي چمبازي! ووایه چي زما و ستا د نجات لار کومه یوه ده؟ او مهلت د څه له پاره غواړې؟" گیدړي ورته وویل چي زما نخشه داسي ده چي اول خو به ته زما سره بد نه کوې. بد خو لا څه چي د لاسه به ښه راسره کوې. ځکه ما ستا توبه واورېدله چي پر تېرو کارو دي پښېماني کوله، د هغو له بابته خواشینی وې او افسوس دي کاوه، د دوستانو له ازارولو دي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



توبه وکښله. دا مي هم ستا له خولې واورېدله چي که له دې کندي څخه خدای نجات درکړ، نور به نو خوږې مېوې او انګور نه خورې. د تقوا لار به اخلې، نوکان به دي پرې کوې، غاښونه به دي کاږې، ګودړی به اغوندې او خدای ته به نزدې کېږې. ستا دې خبرو زما پر زړه باندي د رحم اوبه تويي کړې او سره له دې چي ستا د وژلو په لټه کي وم، خو چي ستا توبې ته مي وکتله، پر ځان مي فرض وګڼله چي له دې مصيبت څخه دي خلاص کړم. نو هغه وو چي خپله لکۍ مي کندي ته د دې له پاره دروځړوله چي ته لاس پر ونيسې او له کندي راووزې. منګر ته له خپله زوره ناخبره وې، د دې پر ځای چي ځان له کندي راوباسې، زه دي د ځان و خوا ته داسي په زور او قوت کش کړم چي ما فکر کاوه لکۍ به مي اوس غوټه په بېخ کي پرې سي. اوس دا دئ زه و ته دواړه په دې کنده کي بند پاته سوو او په داسي بلا اخته سوو چي خلاصېده ورڅخه مشکله ده. منګر که ته زما خبره راسره ومنې نو بيا د خدای په فضل دواړه له دې مصيبته څخه خلاصېدلای سو. په دې شرط چي تر نجات وروسته نو ته پر خپله خبره ودرېږې او توبه دي ماته نه کړې. بيا به نو زه و ته بيرته سره ياران سو. شرموښ ورته وويل چي: "ستا خبره څه ده، چي وئې منم؟"

ګيدړي ورته وويل چي ته د شا پر پښو جګ ودرېږه. زه به ستا پر اوږو باندي وخېژم او ځان به د کندي ژی ته ورنزدې کړم او له کندي به ووزم. بيا به نو تا ته رسۍ راوځړوم، ته به پر هغې باندي راوخېژې. شرموښ ورته وويل چي زما ستا پر خبره باور نه راځي. پوهانو ويلي دي هر چا چي د نامردانو په خوله وکړه ګويا ځان ئې وغولاوه او د ازمويلي بيا ازمويل خو آخر پښېماني ده. په دې باب شاعر څه ښه ويلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي:

ازمويلي مي ستا نيت دئ ستا کارونه
تجربې دي رابښوولي ستا مکرونه
په بلاوو، په ژړاوو به اخته سي
که چا ومنل دا ستا چټل پندونه
اوريدلي به دي وي له اولنو څه
"د دښمن اول کلام پسې تېپونه"

ګيدړي ورته وويل چي مه کوه، بد ګومان د ايمان زيان دئ او ښه ګومان د ځوانمردانو کار دئ. اوس ښه لار دا ده چي زه و ته د خپل خلاصون په فکر کي سو. تر دې چي دواړه مړه سو، بهتره به دا وي چي د يوې چارې او علاج په فکر کي سو. بد ګومان له زړه وباسه. تې داسي فرض کړه چي تا زما په خوله وکړه او زه له کندي څخه ووتلم. نو به يا تا ته رسۍ راوړم چي له کندي څخه پر راوخېژې، يا به داسي وي چي ستا سره به خيانت وکړم، ځان به خلاص کړم او تا به دالته پرېږدم. نو دا خو ممکنه نه ده چي زه دي بيا د ښهاني ورځ ووينم. ستا نېکي به زما د پښو پای پېچک وي او ځان به ځني خلاصولای نه سم. په کتابو کي راغلي دي چي: "الوفاء مليح،والغدر قبيح" معنا دا چي: "ښه وي، بد دي ورک سي. وفا خوږه ده او جفا ترخه". ښه لار دا ده چي ته پر ما اعتماد وکړې. زه هم داسي خوړلې شومه نه يم. د دنيا په ښه و بد پوه يم. اوس ژر کوه، وخت تنګ دئ.

شرموښ ورته وويل چي که څه هم پر تا مي باور نه کېږي خو په دې پوه يم چي تا زما توبه واورېدله او زما د نجات په فکر کي سوې. اوس به نو زه ستا خبره ومنم. که دي چم وخطاايستل راسره وکړل، دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چم به خدای ستا د هلاک سبب کړي. آبس، شرموښ پر دوو پښو جګ ودرېدی. ګیدړه ئې په چوچوغاړه کي واخیستله او د کندي ژۍ ته ئې ورنږدې کړه. ګیدړه جسته وغورځېده او له کندي ووتله.

شرموښ ورته وویل چي: "ګوره اشنایه! چي زه دي هېر نه سم. ژر کوه، رسۍ راوړه". ګیدړي په کټ کټ وخندل او ورته وې ویل: "اې د خدای شوده! تا ته لکه چي پر ما باندي هم د ځان خیال کړی دئ. ما چي ستا توبه واورېدله، خوشاله سوم، ونښېدم، لکۍ مي دروځړوله. منګر تا زه کندي ته ورکش کړم او لاندي دي ورواچولم. اوس خدای زه ستا له منګولو او له هغه مصیبت څخه خلاصه کړم. نو اوس به څرنګه زه ستا د وژلو په فکر کي نه کېږم. ته د شیطان له ذاته يې. برایې مي خوب لیدی چي ستا واده وي او زه پکښي نڅېږم. له یو چا څخه مي د خپل خوب معنا وپوښتله.

هغه راته وویل چي: "په یوه مصیبت به اخته سې، منګر ژر به ځني خلاصه سې". ستا په لاس زما کښېوتل او بیرته خلاصېدل، زما خوب رشتیا کړ. اې جاهله ! ته باید وپوهېږې چي زه ستا دښمنه یم او ته له شوده ګۍ څخه زما د اشنایۍ په هیله يې. پوهانو ویلي دي چي "د بدانو مرګ د خلکو ارامي او د مځکي پاکي ده" زه بېرېږم چي که مي ستا سره وفا وکړه، زه به پخپله پر داسي بلا واوړم چي بیا به مي خلاصېده ځني مشکله وي. شرموښ چي د ګیدړي خبري واورېدې، خپل تندی ئې وټکاوه او ډېره پښېماني ئې وکړه.... کیسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو سل او پنځوسمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

شرموښ له ډېري پښېمانۍ څخه مځکه وډبوله خو له ګيدړي سره ئې د عاجزۍ لار راواخيستله. زارۍ ئې ورته شرو کړې او ورته وې ويل چي تاسي د ګيدړو طايفه په ځناورانو کي د ښه خولې و زبان طايفه ياست. ستا خوږه ژبه خو ټولي دنيا ته معلومه ده. زه پوهېږم چي ستاسي ټوکي ټکالي خوښي دي. دا اوس خبري دي هم د ټوکو له اسيته دي، منګر ټوکي ټکالي هم حدواندازه لري. هر وخت ټوکي کول ښه کار نه دئ. ګيدړي ورته وويل چي ټوکي خو رشتيا هم خپل ځای لري او په دې ځای و اندازه ئې ټوکماران ښه پوهېږي. ته بې عقل و ناپوه اوس دا فکر له سره وباسه چي زه به ستا غوندي ظالم له لاسه تر نجات وروسته بيا هم ستا په غوږه ژبه وغولېږم. شرموښ ورته وويل چي اوس مناسبه دا ده چي ته زما د ژغورلو په تلاښ کي سې. زه او ته خو د عمرونو ياران او دوستان يو. که مي ته له دې مصيبته څخه خلاص کړې، زه هم ناچاره يم، ستا سره به ښه کوم.

ګيدړي جواب ورکړ چي پوهانو ويلي دي: "له بدانو سره ياري مه کوه. ځکه له بدانو سره ياري له ځان سره دښمني ده. له درواغجن سره وروري مه کوه. ځکه له دروغجن سره چي ښه وکړې، پټوي ئې. خو که دي بد وکړه، ټوله دنيا درباندي خبروي". پوهانو دا هم ويلي دي چي: "هر څه لره چاره سته، خو مرګی علاج نه لري. هر څه پټلېس کېدلای سي، خو ښېښه چي ماته سوه بيا نه پټليسېږي. د هر کار دفع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدلای سي منګر که وخت و وعده پوره سوه، هغه نه راګرزي". دا چي ته راته وایې ښه به راسره وکړې" نو ما ته د هغه مار کیسه را په یاد سوه چي وایي یو مار له مارګیر څخه وتښتېدی. یو سړی په مخه ورغی او پوښتنه ئې ځني وکړه چي: "خیرکړې! څه پېښه ده؟ ولي داسي په منډه کي یې؟" مار ورته وویل چي له مارګیره تښتم. ته به کوې خدای به کوي، ما ځني پټ کړه. سړي د مکافات په تمه مار پخپل جېب کي پټ کړ. مارګیر چي تېر سو او د مار له زړه څخه د مارګیر بېره ووتله او زړه ئې پر ارامه سو، باره سړي ورته وویل چي: "راکه، انعام مي". مارورته وویل چي وایه! پر کوم ځای دي وچیچم. ته پوهېږې چي زه خو بل څه نه لرم. سړی ئې داسي وچیچه چي ځای پر ځای مړ سو.

ګیدړي شرموښ ته ورغبرګه کړه چي زما و ستا معامله هم کټ مټ د هغه مار و ها سړي معامله ده. د شاعر دا خبره دي نه ده اورېدلې چي:

که نېکي دي له بدانو سـره وکـړه
ګوا، بدي دي له نېکانو سره وکړه

شرموښ ورته وویل چي: "اې غوړژبې ځناوره! او اې خوش اوازه حیوانه! تا ته زما زور نه دئ درمعلوم. زه پر ټینګوکلاوو باندي یرغل کولای سم، د انګورو شنه باغونه لاښ کولای سم. ته زما له فرمانه سر مه غړوه. زما سره داسي وضعه وکړه لکه یو مریی چي ئې له باداره سره کوي".

ګیدړي ورته وویل چي: "زه ستا بې عقلۍ ته په حیرت کي یم. ته پر ما باندي داسي امرونه کوې، لکه زه چي ستا مینځه یم. خو ژر به ووینې چي سروغاښونه به دي د ډبرو په باران ټوکر ټوکرسي". باره ګیدړه د باغ څنګ ته پر یوه لوړه ودرېده او باغوان تې ورږغ کړه. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې خوا خلک راغلل او کندي ته راورسېدل. ګیدړي ځني الا کړه او پټه سوه. خلکو ولیدل چي شرموښ په کنده کي بند دئ. باره ئې د ډبرو باران پر شرو کړ. تر هغو ئې ډبري پر اورولې، څو شرموښ مردار سو او دوی ځني ولاړل. خلک چي ولاړل، ګیدړه بیرته کندي ته راغله، چي ګوري شرموښ بوړي بوړي مړ پروت دئ. له ډېري خوشالۍ څخه ئې لکۍ یو ډانګ ونیوله او بازۍ ئې شروع کړې او دا بیتونه ئې وویل:

شکر شکر دي وي خدایه چي مي بخت سو راییدار
زما د سر دښمن نابود سو هلته پروت دئ خوار و زار
ما لیدلي دي په ژوند کي ډېر سرونه ډېر تنونه
چي خپل ظلم و ستم دي رسولي تر جګ دار
هوښیارانو راپري ایښی دا متل له زمانو دئ
"کوهی مه کینه و چا ته، نه چي خپله سې پر غوزار"

تر دې وروسته نو ګیدړي په ارام زړه د انګورو په باغ کي خپلي چړچې کولې څو اجل ئې پوره سوه او دا هم مړه سوه. دا وه د شرموښ او د ګیدړي کیسه.

# د موږک او تورلمي (سمور) نکل

وایي چي یو موږک او تورلمی سمور[1] د یوه بېوزله بزګر په کور کي اوسېدل. یوه ورځ ناڅاپه د دې بزګر یو اشنای ناروغه سو او طبیب ورته بې پوستکو کونجتي (کونځلي) وروفرمایلې او یو څو کونجتي

---

[1] سمور ته ئې په افغان قاموس کي تورلمی کښلی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې ناروغ ته ورکړې چي سپيني ئې کړي او پوستکی ئې ځني ايسته کړي. دې سړي کونجتي خپلي مايني ته ورکړې چي سپيني ئې کړي. مايني ئې دا کار وکړ. په دې وخت کي تورلمي دا سپيني سوي کونجتي وليدلې او ورته وجوغېدی، کرارکرار ئې خپل غار ته چلولې. يو څه کونجتي چي ئې وچلولې، آخر د ناروغ سړي ماينه راغله چي ګوري کونجتي تر پخوا يو څه کمي سوي دي. نو پټه ورته کښېنستله چي د کونجتو د کمښت سبب پيدا کړي. په دغه وخت کي تورلمی راورسېدی او وئې ليدله چي ښځه کونجتو ته څارو ناسته ده. له ځانه سره ئې وويل چي د دې کار پای خراب دئ. زه بايد داسي يو کار وکړم چي زما د غلا بد عمل پکښې پټ سي. دوباره ئې بيرته له غاره څخه د غلاکړو کونجتو راوړل پيل کړل. ښځی چي وليدل چي تورلمی سمدلاسه کونجتي راچلوي، نو ئې له ځانه سره فکر وکړ چي دا کونجتي هرومرو بل چاغلا کړي وې او دا دئ تورلمی ئې بيرته خپل ځای ته راوړي. باره ئې له ځانه سره وويل چي دی خوزموږ سره نيکي کوي نو د نيکۍ په عوض کي موږ هم بايد چي ښه ورسره وکړو. خو زه بايد خپل څار ته ادامه ورکړم څو د کونجتو اصلي غل پيدا کړم.

تورلمی د ښځي په مطلب پوه سو، باره موږک ته ورغی او روته وې ويل چي: وروره! اورېدلي به دي وي چي ګاونډی ډېر حق لري. که څوک د ګاونډي حق پر ځای نه کړي، په دوستانو کي نه شمېرل کېږي. موږک ورته وويل چي: "هو! همداسي خو ده. منګر په دې خبره کي دي مطلب څه دئ؟" تورلمي ورته وويل چي د کور څښتن د خپلو اولادو له پاره کونجتي راوړي دي. څه ئې وخوړلې او نور نو ماړه سول. اوس هغه پاته کونجتي نور ځناوران سمدلاسه وړي. ما ول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



راسه، تا ته به هم حال راوړم ځکه چي اول حق خو د ګاونډي دئ. ته هم ورسه خپله برخه دي ځني واخله.

موږک چي دا واورېدله، له خوشالۍ څخه پرله وڅرخېدی، پر برېتو ئې ژبه تېره کړه او سمدلاسه په کونجتو پسي له خپله غاره راووتی. کونجتو ته چي ئې وکتله هره دانه ئې داسي ایسي لکه تکه سپینه اګۍ. ښځه ئې هم ولیدله چي پیره داره ورته ناسته ده. موږک په هغې کي رۍ و نه واهه، د کونجتو هوا پر غالبه سوه، باره ئې په خوړلو شرو وکړه. ښځي لرګۍ راواخیست او موږک ئې پر دا ککرۍ په وواهه، سر ئې ورمات کړ او پسي مړ ئې کړ. د هلاکت سبب ئې حرص و غفلت او د کار عاقبت په پام کي نه نیول وو. شهریار پاچا چي دا نکل واورېد، ول: "شهرزادي! قسم مي دي په خدای وي چي دا خو دي ډېر عجب نکل راته وکړ. که دي د دوستۍ پالني په باب بل نکل زده وي، راته وئې کړه". شهرزادي ورته وویل چي: " پر غبرګو لېمو".

# د پیشو او کارګه نکل

یو کارګه پیشو ته د وروۍ لاس ورکړی وو او سره دوستان ول. یوه ورځ دوی تر وني لاندي ناست ول چي ناڅاپه یو پړانګ راښکاره سو چي د وني پر لور راوران دئ. پړانګ چي دوی ته نزدې راورسېد،کارګه وني ته والووت او پیشو پر میدان پاته سوه. باره ئې کارګه ته وویل چي: "اې زما وفاداره اشنا! هله، یو کار وکړه چي له دې بلا څخه خلاص سم. کارګه ورته وویل چي د آفتو په وخت کي له وروڼو څخه مرسته غوښتل خو ضروري خبره ده او دوی هم مجبوره دي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغوی په ژغورنه کي هڅه وتلاښ وکړي. شاعر په دې باب څه ښه ویلي دي:

لــه هغــه ســره د یــار لقــب ښــا یېږي
چــي پــه غــم و پــه ښــادي د رو رســېږي
د کاسې یاران خو ډېر دي په دنیا کي
یار هغه چي په تنگسه دي په کار ېږي

د خدای کارونه دي، دې وني ته نژدې یو شپون وو چي دوه زبر زبر د زمري د ښکارسپیان ئې درلودل. کارگه دې سپیانو ته ورغي، وزرونه ئې ورته وسرپول. کاغ، کاغ نارې ئې ورته وکړې. سپیانو پر راوځغستل. دی وني ته څني والووت. بیرته پر راغوښه سو. بیا ئې وزرونه ورته وښورول، نارې ئې ورته ووهلې. یو څه څني لیري سو. سپیانو بیا پسي راالاکړل. دی بیا یو څه وړاندي ولاړ. سپیان سم په پسې دي. په دې چم ئې سپیان رارهي کړل. شپانه هلته ورته کتل چي یو مرغه په هوا پورته وکښته کېږي او د ده سپیان منډي پسي وهي. کارگه په دې ډول سپیان تر هغې وني پوري راورسول چي پړانگ و پېشو ئې تر لاندي گرزېدل. سپیانو چي پړانگ ولید، پسي ورټوپ ئې کړل. پړانگ څنی وتښتېد او پیشو د کارگه په حیله او تدبیر له مرگه وژغورل سوه.

نکل چي دې ځای ته راورسېد، شهرزادي پاچا ته وویل چي: "اې شهریاره! دا نکل مي له دې اسیته درته وکړ چي موږ باید وپوهېږو چي د رښتینو دوستانو او ورونو مرسته څوک له مصیبتونو څخه ژغورلای سي. شهرزادي وویل چي تر دې پوري مي یو بل نکل هم را په یاد سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ګیدړې او کارګه نکل

چې وو، یوه ګیدړه وه. دا ګیدړه په یوه غره کې اوسېدله. د دې ګیدړې چې به بچیان وږې‌ږېدل، هغه به ئې له لوږې څخه پخپله وخوړل. د غره په سر کې یوه کارګه ځالګۍ جوړه کړې وه. ګیدړې وغوښته چې له دې کارګه سره اشنایي او دوستي وکړي او پخپل یوازیتوب کې ځان ته ملګری پیدا کړي څو بیا د هغه په مرسته د خپلې روزۍ پیداکولو سربښته هم وکړي. باره وررهي سوه او کارګه ته دونه نژدې ورغله چې یو د بل ږغ ئې سره اورېدی. آبس، کارګه ته ئې سلام واچاوه او ورته وې ویل چې یوګاونډی خو پر دا بل ګاونډي باندي دوه حقه لري یو د ګاونډی توب حق دئ او بل د اسلام حق دئ. ته هم زما ګاونډی یې او پر ما باندي دي پوښتنه فرض ده، په تېره بیا ستا غوندي ګاونډي. ته زما په زړه کې ځای لرې او دغه ګرانښت د دې سبب سو چې زه پر تا باندي د مهربانۍ ږغ وکړم. ته په دې خبره کې څه وایې؟

کارګه ورته وویل: هو، خدای په رشتیا خوښېږي. وایي: "سل کاله عبادت، یوه خبره د حقیقت". که مې رشتیا پوښتې، زه دا خبري ستا په خوله کې بولم، نه په زړه کې. ښرېږم چې ته به په خوله خوږه یې او په زړه کږه. په ښکاره به ورورې غواړې خو په باطن کې به دې دښمني په خیال کې وي. دا ځکه چې ته خوړونکې یې او زه د خوړلو شی. زما و ستا تر منځ د چاخبره: "دوري و دوستی" ښه ده. زه نه پوهېږم چې ته ولې د داسي څه غوښتنه کوې چې هغه له نامکناتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښخه دئ. ته د ځناورو له جنسه يې او زه د الوتونکو له ذاته ښځه يم. زما و ستا ورورې نه کيږي.

ګيدړې ورته وويل چې زما خو له دوستۍ او نږدېکت ښځه مطلب دا دئ چې يو له بل سره به په کارو کې مرسته کوو او په بدو ورځو کې به يو د بل په درد خورو او له ورورۍ او دوستۍ ښځه به دواړو ته ګټې ورسيږي. زما د صداقت او راستکارۍ يو نکل زده دئ، که دې زړه غواړي درته وبه ئې کړم.

کارګه ورته وويل چې تې راته وکه چې دا ستا په مطلب و مقصد زه پوه سم. ګيدړې ورته وويل چې اې زما ګرانه دوسته! د کيکې (وربړې) او موږک يو نکل دئ چې زه ئې د خپلې خبرې پر رشتياوالي باندې د سند په توګه راوړلای سم.

کارګه ورته وويل چې ته دا نکل راته وکه. ګيدړې ورته وويل چې يو موږک وو. دا موږک د يوه غټ سوداګر په کور کې اوسېدی. دا سوداګر خورا موړ وو. مال و دولت ئې خورا زيات وو. يوه شپه د دې سوداګر په کټ کې يو کيکه (وربړه) پيدا سوه. دا کيکه ډېره تږې وه او د سوداګر هم ښه پوست نرم بدن وو. باره ئې ښه ډېرې وينې ځنې وزبېښلې. سوداګر په عذاب سو، له خوبه راوغورځېدی او تيک پر ځای کښېنستی. نوکرانو ته ئې وربغ کړه. هغوی سمدستي ورته راحاضر سول. لستوڼي ئې په کيکې پسې راوغښتل. کيکه چې په حال پوه سوه، باره وتښتېده او پر لارې د يوه موږک پر غار باندې پېښه سوه. د موږک غار ته چې ورننوتله، موږک پوښتنه ځني وکړه چې ته وو، دا ځای؟ ته خو نه زما له جنسه ښځه يې، نه مې په قام و په قبيل يې. ته خو هر وخت زما ښځه په تېښته کې وې، دا نن څه پېښه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کیکي ورته وویل چي زه نن د خپل مرگي له ډاره راتښتېدلې یم او تا ته مي پناه راوړې ده. نه مي ستا کور ته نېنګلي دي او نه به زما له خوا تا ته تاوان ورسېږي. موږک چي د کیکي خبري واورېدې .... کیسه چي دې ځای ته ورسېده ...**

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او یو پنځوسمه شپه

**شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:**

**موږک چي د کیکي وینا واورېده، نو ئې ورته وویل چي که خبره همدا وي، چي تا وکړه، نو بس، غم ئې مه کوه. دا دي خپل کور دئ او پکښې اوسه. تا ته به زما له لاسه نقصان و نه رسېږي. د هري بلا مخي ته به زه خپل ځان سپر کړم . دا چي د سوداګر د نورو وینو خوړلو موقع دي له لاسه ووته، ډېر فکر مه په خراپوه. په هر حال کي راضي اوسه. له واعظانو مي پر منبر باندي تل دا بیت اورېدلی دئ:**

چي د چا پـه برخـه نـه سـو د عزلـت آب و عـزت
ګویا ژوند ئې عبث تېر دئ، نه ئې عیش نه ئې راحت
قناعت لو سرمایه ده، پر هر حال ئې شکر بویـه
پـرون تېـر سـو ، سـبا نـسته د مګـړی دئ غنیمـت

**کیکي ورته وویل چي: زما ورورکه! ستا وصیت به هر وخت په غوږ کي نیسم او د ژوند تر پایه پوري به هیڅکله غاړه نه ترې غړوم او پر همدې پاک نیت به پایم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږک ورته وویل چې ما ته هم همدا ستا پاک نیت کفایت کوي.
باره، دوی دواړو د دوستۍ لاس یو بل ته سره ورکړ. کیکه به د شپې له خوا د سوداګر کټ ته ورتلله او شپه به ئې هورې سبا کوله او د ورځې پاله به د موږک کره راتلله. یوه شپه چې سوداګر کور ته راغلی، له ځانه سره ئې خورا ډېري روپۍ او سره و سپین زر راوړل. زر ئې یوې خوا و بلې خوا ته سره اړول، رااړول چې په دې وخت کې موږک د روپو شرینګی واورېد او سر ئې له غاره راویوست او د سوداګر تماشه ئې کوله. په دې وخت کې سوداګر ته خوب ورغی او سر ئې پر بالښت کښېښوو او بیده سو. موږک کیکې ته وویل چې و دې زرو ته دې چم نه جوړېږي چې تر لاسه ئې کړو. خورا ډېري اړي و ماندې به مو په خلاصي سي.
کیکې ورته وویل چې: "درومې څه به مومې". خدای وایي ته حرکت وکه، زه به برکت درکړم. د هر څه طلب چې وکړې، خدای توان و قدرت درکوي. منګر که کمزوری و کمځواکی وې، نو به د هغې چوغکې په شان پر کوم جنجال باندي واوړې چې د دانې په تمه په لومه کې بنده سي او د ښکاري لاس ته ورسي. اوس خو نه په تاکې دومره قوت سته چې دا زر دې تر دې کور راوباسې او نه په ما کې دونه توان سته چې ان یوه دانه دي راپورته کړای سم.
موږک ورته وویل چې: ما پخپل کور کې اویا سوړي جوړي کړي دي. پر هره سوړه چې مې زړه وغواړي، وتلای سم. او د زېرمو له پاره مې هم خورا کلک ځای جوړ کړی دئ. ته اوس داسې یو چم وکړه چې دا سوداګر له کوره ووزي. دی چې ووزي، د خدای په توکل، بری زموږ دئ. کیکې ورته وویل چې د سوداګر وتل ئې پر ما. دا کار ما ته راپرېږده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باره، کیکه د سوداګر په بستر ورننوتله او څو ځایه ئې وچیچه. دا ولاړه یو ځای پټه سوه. سوداګر راویښ سو، په ځای کي ئې هیسته ودوري وکتل. څه ئې په سترګه نه سول، بیرته پر دا بل اړخ پرېووت. کیکه بیا ورغله او دا پلا ئې تر ها بلي پلا ټینګ وچیچه. سوداګر بیا راویښ سو، پر اړخ رااووښت. کیکه بیا ورغله، بیا ئې وچیچه. دا کار ئې څو پلا تکرار کړ، آخر سوداګر له خوني ووت او د کور څنګ ته چي ئې شرابخانه وه، د هغې په دروازه کي پرېووت او تر سهاره پوري لکه خټکی داسي بیده وو. سوداګر چي بیده سو، موږک و روپو ته وجوغېدی او ټوله ئې خپل ځای ته وچلولې.

سهاروختي چي خلک له کورو رااووتل او سوداګر ئې د شرابخانې په خوله کي بیده ولید، پخپلو منځو کي ئې پس پسی شروع کړ او پر سوداګر ئې د بدو ګومان وکړ.

څه سردي پرله ګرزوم، ګیدړي و کارګه ته وویل چي: "آ زما هوښیار او په ژبه پوه ګاونډیه! دا نکلونه مي په دې درته وکړل چي تا ته دروښیم چي که زماسره ښه وکړې، د کیکي په شان به د ښو مکافات وويني. موږک له کیکي سره ښه وکړل، خدای ئې کور له زرو ډک کړ.

کارګه ورته وویل چي: "اې ګیدو! ته چمبازه وټګماره یې. ټګي و برګي چي د چا عادت ګرزېدلی وي، د هغه پر قول و وعده باندي باور نسته. څوک چي پر عهدوپیمان باندي ټینګ نه وي، هغوته په کور کي ځای ورکول، ښه کار نه دئ. زه څو ورځي دمخه خبر سوم چي تا له خپل پخواني یار شرموښ سره دوکه وکړه، ودي غولاوه او په کنده کي دي واچاوه او مړ دي کړ. سره له دې چي هغه دي په خټه هم درسره شریک وو، ښه ډېره زمانه مو نمکونه سره خوړلي ول، خو تا د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نمکونو پاس پر ځای نه کړ. زه څرنګه پر تا باندي اعتماد وکړم. ستا چي له خپلو همنوعانو سره دا حال وو، نو له هغه چا سره به څرنګه چلند وکړې چي همجنس خو دي نه دئ، چي نه دئ بلکي د سر دښمن دي لا هم دئ. زما و ستا ياري به کټ مټ د شهين و کمزورو چنچڼو (چوغکو) په شان وي.

ګيدړي ورته وويل چي د شهين و د چوغکو نکل څه راز وو؟

کارګه ورته وويل چي: يو وخت خورا ظالم او خدای ناترسه شهين وو.... کيسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او دوپنځوسمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

وايي چي په پخوا زمانو کي يو ډېر بدمغزه و ظالم شهين وو چي ټول مرغان او وحشيان ځني په بېره کي ول. د ده له شره هيڅوک نه وه خلاص او د ده د ظلم او ستم کيسو ټول وطن پر سر اخيستی وو. وخت دئ تېرېږي او دا شهين هم څوکاله وروسته کمزوری سو. د ښکار نه وو. وږی سو. دردونه ئې زيات سول او آخر دې اندازې ته ورسېد چي د مرغانو يوه سېل ته به ورغی که به په هغو کي يوه شله شوټه و ګوډه وړنده مرغۍ پيدا سوه، هغه به ئې ونيوله او وبه ئې خوړله. مقصد دا چي له هغومره زور او ځواک وروسته ئې بيا رزق وروزي په چم وچمبازۍ سره پيداکوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو، اې ګيدړي! ستا څخه که زور و طاقت هم ولاړ سي، خو چل و چلبازي نه درڅخه ځي. ما ته هيڅ شک وشبهه نه رالوېږي چي زما څخه ستا د يارۍ غوښتنه هم يوه چلبازي ده. خو زه داسي څوک نه يم چي ستا په چل و چم وغولېږم او درسره يار و اشنا سم. خدای زما په بڼکو کي دا شان قوت ايښی دئ او په سترګو کي ئې داسي روڼا راکړې ده چي نور څوک ئې نه لري او له خلکو څخه د ليري ګرزېدلو چل ئې هم رازده کړی دئ. پوه سه، هر څوک چي تر ځان له غښتلي سره لګيا سي، په جنجال کي لوېږي او ډېره ممکنه ده چي ژوند دي له لاسه ورکړي.

اې ګيدوانا! ډارېږم چي په تا به هم هغه کانه وسي، لکه په چوغکي يا چڼچڼي چي سوې وه.

ګيدړي ورته وويل چي په چوغکي څه سوي ول؟

کارګه ورته وويل چي غوږ ونيسه! وايي چي يوه چوغکه په هوا تېرېده چي لاندي ئې د پسو يوه رمه وليدله. له رمې سره ئې يو لوی ګوربت په سترګه سو چي يو کوچنوټی وری ئې په منګولو کي نيولی وو اوپه هوا روان وو. باره چوغکي هم خپل وزرونه خلاص کړل او ورته وې ويل چي دا به هم د ګوربت پېښې وکړي. ځان ئې غټ وباله او تر ځان له غښتلي سره ئې سم وګاڼه. آبس، په هوا سوه او پر يوه غټ مږه باندي ئې غوټه ووهله. د مږه وړۍ ئې په پښو کي بندي سوې او د دې پښو ته د لومي په شان ولوېدې. چوغکي چي هر څه وکړل، نه الوتلای سوای او نه ئې خپلي پښې له وړيو څخه خلاصولای سوای. ګوربت ته خښم ورغی او پر راغبرګ سو، يو څو بڼکي ئې ځني وکښلې. په دې وخت کي شپون هم راورسېدی اوچوغکه ئې ونيوله. پښه ئې په تار

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروتړله او خپلو بچو ته ئې یووړه. یوه بچي ځني وپوښتل چي: "دا څه شی ده؟" شپانه ورته وویل چي دې تر خپلي کمبلي اوږدې پښې غزولي وې او تر ځان د غښتلي پېښې ئې کولې. چوغکه آخر مړه سوه.

نو ته هم، اې گیدو انا! تر خپل ځان د غښتلي پېښې او کارونه مه کوه چي هلاکه به سې. آبس، گیدړه چي د کارگه له دوستۍ څخه نامېنده سوه، ډېره خوابدې سوه او له ډېري پښېمانۍ څخه ئې خپل غاښونه سره چیچل او ژړل ئې.

کارگه چي د دې ژړا و واویلا و غاښ چیچل ولیدل، نو ئې پوښتنه ځني وکړه چي دا ژاړې پر څه؟ گیدړي ورته وویل چي: "ژړا خو مي له دې اسیته ده، چي ته مي تر ځان چمبازه ولیدلې!" دا ئې وویل او خپل ځای ته ستنه سوه.

شهرزادي چي دا نکل وکړ، باره شهریار پاچا ورته وویل چي: "دا خو دي ډېر عجب نکل وکړ. که دي نور نکلونه هم همداسي زده وي، راته وئې کړه". باره شهرزادي دا بل نکل ورته شرو کړ.

# د جږگي او کوکو کوتري نکل

وایي چي یوه جږگي تر یوې وني لاندي ځانته غار جوړ کړی وو او پکښې اوسېدی. پاس په ونه کي یوه جوړه نر و ښځه کوکو کوترو ځالگۍ جوړه کړې وه او خپل د خوشالۍ او عیش ونوش ژوند ئې کاوه. جږگي له ځان سره وویل چي دا کوتري د وني مېوې خوري او زه له دې نعمت څخه بې برخي یم. زه باید یو چل جوړ کړم چي ځان له دغه محرومیت څخه وژغورم. آبس، تر وني لاندي ئې خپل غار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نژدې يو ماجت جوړ کړ او پر عبادت ئې راواچوله. له سهاره تر ماښامه ئې د خدای عبادت کاوه. کوکو کوترو چي به هر وخت دی پر لمانځه ولاړ ليدی، ډېر به پر ګران سو او ورته وې ويل چي: "څو کاله دي کېږي چي پر دغه حال پاته يې؟"

جرګي ورته وويل چي: "دا دېرش کاله کېږي چي دا عبادت کوم". کوترې ځني وپوښتل چي: "خورک مرک له کومي خوا پيدا کوې؟" جرګي ورته وويل چي: "که کومه مېوه له وني راولوېږي، په هغه باندي قناعت کوم". کوترې ورته وويل چي جامې دي کومي دي؟" ده ورته وويل چي: "دغه د بدن اغزي مي جامې دي، بل څه نه لرم".

کوترې ځني وپوښتل چي: "د استوګني له پاره دي دا ليرې ځای ولي خوښ کړی دئ؟" جرګي په جواب کي ورته وويل چي پر دغه لار مي د دې له پاره کور جوړ کړی دئ چي وايم که له چا څخه لار ورکه وه، ورښيم به ئې. ناپوهانو ته به علم ور زده کوم".

کوکوکوترې وويل چي: ما خو ته په دې ډول نه پېژندلې. اوس چي ستا حال راته معلوم سو، ډېره مينه مي درسره پيدا سوه. ستا خبرو ډېره ښه اغېزه راباندي وکړه. جرګي ورته وويل چي: "بېرېږم چي د خولې و د زړه خبره به دي يوه نه وي. قول او عمل به دي يو شان نه وي او هغه بزګر ته به ورته يې، چي د کښت پر وخت د تخم په پاشلو کي لټي وکړي او وايي چي اوس خو د تخم وخت راڅخه تېر سو. ناحقه تخم پاشل، د مال تاوان دئ او کله چي د حاصل د لَو پر وخت نور خلک ويني چي خپلي راشې او درمندونه اخلي، هغه وخت نو بيا پښېمانه او غمجن سي او له ډېره غمه مړ سي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوتري ورته وویل چي: "زه باید څه وکړم چي د دنیا له علایقو څخه خلاصه او د خدای تعالی په عبادت مشغوله سم". جرګي ورته وویل: "د آخرت توښه برابره کړه، پر خپل رزق باندي قانع سه او د دنیا حرص پرېږده". کوتري ورته وویل چي: "دا کارونه به څه راز کوم؟"

جرګي ورته وویل چي له دغي وني څخه دونه مېوه ټوله کړه چي د یوه کال له پاره دي بس وي. تر وني لاندي یو ځای ورته جوړ کړه او دا مېوه پکښې ذخیره کړه. نور نو ته د خدای په عبادت مشغوله سه. کوکو کوتري ورته وویل چي خدای دي تا ته اجر درکړي چي آخرت دي راپه یاد کړ او سمه لار دي راوښووله. آبس، کوترو په دواړو مېوه راټولوله او تر وني لاندي ئې زېرمه کوله. آخر په ونه کي هیڅ مېوه پاته نه سوه. جرګی د مېوې په لیدلو ډېر خوشاله سو او ټوله ئې خپل غار ته وچلوله او له ځانه سره ئې وویل: کوتري چي هر وخت خوړو ته محتاجه سي، ما ته به راځي. دوی زما پر پرهېزګارۍ او زهد باندي اعتماد لري او ما ته به نزدې راسي. زه به ئې ښکار کړم او وبه ئې خورم. دا ځای به ټول زما په واک کي سي او د وني مېوه همدومره ده، چي زما له پاره دي کفایت وکړي.

کوتري چي له وني راکښته سوې، چي ګوري هغه د دوی ټوله مېوه جرګي خپل غار ته چلولې ول او پر مځکه باندي یوه دانه لا هم پاته نه وه. باره ئې جرګي ته وویل چي: "اې، د خدای دوسته! اې د سمي لاري لارښوده! تر وني لاندي راغونډه کړې مېوه خو ټوله ترۍ تمه سوې ده".

جرګي ورته وویل چي: "ښایي باد به وړې وي. تاسي باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندیښمن نه سی. ځکه هغه ذات چي تاسي ته غاښونه درکړي دي، مړی هم درکوي. خدای روزي رسوونکی دئ".

جرګی تل دوی ته دغه شان د پند و نصیحت خبري کولې او په همدې خبرو ئې خپل زهد و پرهېزګاري و دوی ته ثرګندوله. آخر ئې د کوترو اعتماد پر ځان ټینګ کړ. هغوی هم وغولېدې او د ده غار ته ورغلې. جرګي د غار خوله ورته ونیوله او غاښونه ئې ورته وچیچل. کوترو ورته وویل چي ستا هغه خبري او دا عمل خو هیڅ نه سره وايي او نه سره لګېږي. تاته لکه چي "اللیلة من البارحة" نه ده درمعلومه. پاک خدای د مظلومانو مرستندوی دئ. له چل وچمبازۍ څخه لیري ښوره، که نه د هغو ټګمارانو کانه به دروسي چي له سوداګر سره ئې چل وچمبازي کوله.

جرګي ورته وویل چي د ټګمارانو او سوداګر نکل ثرنګه وو؟ کوتري ورته وویل[1]:

وایي چي د سند په ښار کي یو خورا موړ سوداګر وو. یو وخت ئې مالونه رانیول او نورو ښارو ته ئې د وړلو په نیامت انهې وتړل او له ښاره راووت. د دې ښار یو دوو تنو ټګمارانو هم یو څه مال راواخیست او داسي ئې ښووله چي ګویا دوی هم تجاران دي او د دې ماړه سوداګر ملګري سول. د سوداګر قافلې چي په اول مزل کي واړوله، دې دواړو ټګمارانو خپل د چل و چمبازۍ نخشه ورته جوړه کړه او د سوداګر ټول مالونه ئې لوټ کړل. تر دې وروسته نو دوی پخپلو منځو کي یو او بل ته غله سول او هر یوه به له ځانه سره ویل چي که مي له دا

---

[1] په عربي متن کي د کوچنیو کوچنیو نکلو له پاره هم عنوانونه ورکول سوي دي. ما د انګرېزي، روسي او فارسي ترجمې په شان دغه عنوانونه نه دي اخیستي، (هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ملګري سره هغه راز چل وکړ، لکه د سوداګر سره چې مې وکړ، نو به پر خورا غوړو چړچو واوړم.

آبس، دواړو په خوړو کې زهر ګډ کړل او يو بل ته ئې ورکړل او دواړه ځای پر ځای مړه سول. سوداګر په دوی پسې لالهانده ګرځېدی، څو آخر ئې دواړه مړه پيدا کړل. دوی له سوداګر سره د چل و چمبازۍ لار راخيستې وه، آخر دوی پخپله د خپل ناوړه عمل پاداش وليد. سوداګر روغ رمی پاته سو او خپل مال ئې راغونډ کړ او پر خپله تړه ولاړ.

شهرزادې چې داکيسه وکړه، پاچا ورته وويل چې: "اې شهرزادې! زما خو دې په هغه څه سر راخلاص کړ، چې تر ننه مې ورته پام نه وو. نوري به دې دغه راز کيسې نه وي زده چې راته وئې کړې. شهرزادې ورته وويل چې: "غوږ راته ونيسه".

# د بيزو او غله نکل

وايي چې يو سړی وو، بيزو ئې درلوده. دې سړي بل کار نه درلود، بس ګرده عمر به ئې غلاوي کولې. هر وخت چې به بازار ته ولاړ، له هغې خوا به ئې يوه غټه پلنډه مالونه کور ته ورسره راوړل. يوه ورځ يو چا بازار ته رغ کړي جامې د خرڅلاو له پاره راوړي وې. جامې ئې پر اوږه اچولي وې او په بازار کې ګرځېدی. يو ګړی وګرځېدی. جامو ته ئې خريدار و نه موند، آخر يوې ګوښې ته سو او څنګ ئې واچاوه چې يو څه دمه و استراحت وکړي. په دې وخت کې د دې غله ورته پام سو چې سړي يوه سيوري ته ډډه لګولې ده او جامې ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرتې دي. باره له خپلي بيزو سره هغې خوا ته ورغی. د سړي و مخ ته ئې بيزو پر ګډا و رقص راوستله. سړی د بيزو په تماشه اخته سو او غله د جامو بوخچه ځني غلاکړه. آبس، بيزوئې تر تناو ونيوله او ځان ئې وکيښ. تر بازار چي وووت، يوې ګوښې ته ئې بوخچه خلاصه کړه او رغ کړي جامې ئې وليدلې. باره ئې جامې راوايستلې او په بله بوخچه کي ئې واچولې او بازار ته ئې د خرڅلاو له پاره يووړې. چي مخ دي راګرزاوه، خريداران پر راغونډ سول. هر يوه ئې د بيې پوښتنه کوله خو غله دا شرط پر ايښاوه چي بوخچه به خلاصوي نه او رانيسي به ئې.

آخر يو سړی پر پيښ سو او بوخچه ئې په لږ بيه ځني رانيوله خو دا شرط ئې هم ورسره ومانه چي د بوخچې سر به نه خلاصوي. سړي بوخچه خپلي ماينې ته يووړه. ماينې ئې پوښتنه ځني وکړه، چي دا څه شي دي؟ ده ورته وويل چي دا د خورا سنګينو او قيمتي جامو بوخچه ده. خورا مي ارزانه رانيولې ده او که خدای کول ډېره ګرانه به ئې وپلورم. ماينې ئې ورته وويل چي: "اې د خدای شوده! داسي سنګين کالي څوک په دومره ارزانه بيه نه خرڅوي. دا هرومرو د غلا مال دئ. ته په دې نه پوهېږې، يو څوک چي کوم شی په پټو سترګو رانيسي او وئې نه ګوري، پر خوله غوزارېږي او د هغه جولا کانه په کېږي.

سړي ورته وويل چي د جولا کيسه څرنګه وه؟ ماينې ئې ورته وويل چي:

## د جولا نکل

يو جولا وو. تل به ئې کنې جار ايستلی وو. شپه و ورځ به ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخت کار کاوه او په وچه کلکه خواري ئې خپله ډوډۍ ګټله. یوه ورځ د ده یو موړ ګاونډی له سفره راغلی وو او مېلمستیا ئې کړې وه. دې مېلمستیا ته ئې د کوڅې ټول خلک خبر کړي ول او جولا ئې هم دعوت کړی وو. جولا مېلمستیاته ورغی، چې ګوري هر چا چې ښې ښې سنګیني جامې اغوستي وې، هغو ته ئې د ورجو غوښو ډک ډک غوریګان او رقم په رقم خوندور کټغونه او سالنونه کښېښوول او کوربه هم په ډېره درنه سترګه ورته کتل. جولا له ځانه سره وویل چې که دی هم دا کسب پرېږدي او یوه بله د ګټې خواري ځان ته پیدا کړي. مال و دنیا به ئې زیاته سي. ښې سنګیني جامې به واغوندي، باره به خلک ده ته هم په درنه سترګه ګوري او عزت به ئې کوي. دی په دې چورتو کي ډوب وو چې یو وار ئې هغو لوبغاړو ته پام سو چې دې مېلمستیاته ئې رابللي ول او رقم په رقم لوبې ئې کولې.

یوه به ځان له یوه لوړ ځایه ښخه مځکې ته لاندي راواچاوه، بې له دې چې پر مخ دي غوزار سي یا دې کوم ځای خوږ سي، پر پښو به جګ ودرېدی. د خلکو له خوا به د پیسو پر شور سو او هر چا به په انعام کي روپۍ ورکولې. جولا له ځانه سره وویل چې زه هم باید همدغه کار وکړم. باره هغه لوړ ځای ته وخوت او ځان ئې درز سو، لاندي راواچاوه. پر مځکه چې ونښت، مغزی ئې غوټ مات سو او ځای پر ځای مړ سو.

ښځې خپل مېړه ته وویل چې دا نکل مي د دې له پاره درته وکړ چې ته په ډېر حرص اخته نه سې او داسي کار و نه کړې چې درسره نه ښایېږي. مېړه ئې ورته وویل چې: "یئه! داسي نه ده. چې هر پوه و عالم سړی به خامخا آسوده وی او هر ناپوه به د بلا په ټکي لړلی وي. ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر پوهان خلک ليدلي دي چي پخپل علم و پوهه ئې ځان له مرګه ژغورلی نه دئ. ما ډېر پوه پوه پاړوګر او مارګيران ليدلي دي چي د پاړوګرۍ په فن کي به ډېر ماهره ول، منګر مار به وچيچل. داسي کسان مي بيا هم ليدلي دي چي په پاړوګرۍ به شک لا هم نه ول، منګر غټ غټ ماران به ئې نيولای سوای".

څه سردي پرله ګرزوم، دې سړي د ماينې پر خبره غوږ و نه نيو. د غلا شيان به ئې رانيول او په ښه بيه به ئې بيرته خرڅول. آخر د غلا په تور د کوټوال په لاس کښېووت او مړ ئې کړ.

دا بل نکل به هم درته وکړم چي...

# د چوغکي او تاوز نکل

په پخوازمانو کي يوه چوغکه وه چي هره ورځ به د مرغانو پاچا، تاوز ته ورتله. دا به هر سهار و هر ماښام تر نورو ټولو وختي حاضرېدله او تر نورو ټولو به ناوخته بيرته تلله. يو وخت د مرغانو يو غټ سېل په يوه غره کي سره راغونډ سو او پخپلو منځو کي ئې سره وويل چي زموږ نسل ورځ په ورځ زياتيږي. دښمنی و اختلافونه هم را پکښې ډېر سوي دي. موږ ته يو پاچا په کار دئ چي پر موږ باندي به نظر ولري او زموږ تر منځ چي کوم اختلافونه سته، هغه به له منځه يوسي. په دغه وخت کي دا چوغکه هم پر دغه سېل باندي پېښه سوه، چي د دوی په مقصد پوه سوه، نو ئې ورته وويل چي د پاچهی له پاره تاوز مناسب څوک دئ. آبس، مرغانو هم تاوز پاچا کړ. تاوز هم له چوغکي سره نېکي وکړه او وزارت ئې وچوغکي ته ورکړ. يوه ورځ دا چوغکه له ستر ګو نيهامه سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تاوز فکر ډېر خراب سو او چورت ئې ډېر په بند وو. چوغکه چي راغله، تاوز پوښتنه ځني وکړه چي دا نن ته چيري تللې وې، او ولي تللې وې؟ چوغکي ورته وويل چي يو شی مي وليدی، ډېره ځني وبېرېدلم. تاوز ورته وويل چي څه شي دي وليدی؟ چوغکي ورته وويل چي يو بنيادم مي وليد چي تور ورځخه وو او زما ځالگۍ ته ئې نژدې ئې ښخ کړ، مېخونه ئې پر ټکوهل، په منځ کي ئې دانه وپاشل او دی ليري ورته کښېنوست. ما ورته کتل چي وگورم اوس څه پېښېږي. په دې ترڅ کي مي وليدل چي کومول له خپلي مادې سره په تور کي بند سو، نارې وبوغاري ئې وهلې. ښکاري ورته راغی او دواړه ئې ونيول. ما ته د دې پېښي په ليدلو سره په زړه کی ډېره واهمه راولوېده او هغه وو چي ځان مي گوښه کړ. تر دې وروسته خپلي ځالگۍ ته نه سم ورتللای ځکه له هغه تورځخه ډېره ډارېږم.

تاوز ورته وويل چي له خپلي ځالگۍ ځخه دي هيڅکله ليري مه ځه. د هر کار چي وخت و وعده ورسېږي، هغه نه په بله کېږي. چوغکي د تاوز امر ومانه او د پاچا اطاعت ئې وکړ. خو چوغکه هر وخت پر خپل ځان بېرېدله. يوه ورځ چي گوري، د دوو چوغکو سره جنگ سو. دې چوغکي له ځانه سره وويل چي زه ځرنگه وزيره يم چي زما په مخ کي دي چوغکي يو له بله سره جنگ کوي اوويني دي بهوي. قسم مي دي په خدای وي، چی د دوی تر منځ جوړه و نه کړم، که ارامه خو کښېنم. باره، وررهي سوه. دا چي هغو ته وررسېدله، په دغه وخت کي ښکاري د تور رسۍ کش کړه او درې سره ئې په تور کي ونيولې. ښکاري وزيره چوغکه خپل يوه انډيوال ته ورکړه او ورته وې ويل چي: "ښه ئې ساته، خورا چاغه چوغکه ده". وزيري چوغکي له ځان سره وويل چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له هغه څه څخه چي ډارېدلم، په هماغه بلا اخته سوم. زما احتیاط ګټه و نه کړه. له پيښي څخه تېښته نسته. شاعر څه ښه ویلي دي[1]:**

پـه تنـدي کـي چـي د چـاوي څـه ختلـي
مـوږ پـر تکـو تـورو سـترګو دي منلـي
ناپوهـان دي چـي دوی تـښتي لـه تقـديره
نـه بـدلېږي پـه هـيڅ وخـت د ازل کـښلي

**شهرزادي چي باچا ته دا نکل وکړ، پاچا ورته وویل چي دغه شان نکلونه نور هم راته وکړه. شهرزادي ورته وویل چي که پاچا ما ژوندۍ پرېږدي، یوه ډېره عجبه کیسه به ورته وکړم.... کیسه چي دې ځای ته ورسېده...**

د سهار شمال راوالوتی رو ښا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او دري پنځوسمه شپه

**شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي: د علي بن بکار او شمس النهار نکل[2]**

---

[1] دا شعر په فارسي ترجمه کي نسته، (هوتک).

[2] د دې کیسې نوم په انګرېزي، روسي او فارسي ترجمو کي همداسي دئ. په عربي چاپ کي د حیوانانو تر نکلونو وروسته د ۱۵۳ مي شپې نکل "حكاية النائم واليقظان" دئ چي معنا ئې "د بیده او ویښ نکل" ده. د کیسې متن له فارسي، انګرېزي او روسي متن سره توپیر لري. ما دا حاضره کیسه له انګرېزي، روسي او فارسي متونو څخه راواړوله. په انګرېزي کي ئې له شمس النهار سره د "مینځې = slave girl" کلمه هم زیاته کړې ده، (م. هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي چې د هارون الرشيد د خلافت پر وخت په بغداد کې يو سوداګر وو. دې سوداګر يو زوی درلود چې نوم ئې ابوالحسن علي بن طاهر وو. دا سوداګر خورا موړ او ډېر خوش خلقه او خوږ ژبی سړی وو. په مجلس ئې څوک نه مړېدی. پر خليفه هم دونه ګران وو چې بې له اجازې به ماڼۍ ته ورننووت. د پاچا پر مابنو او مينځيانو هم بيخي ډېر ګران وو. له خليفه سره به هر وخت په مجلس کې ناست وو. هغه ته به ئې شعرونه ويل او د دنيا د عجايباتو نکلونه به ئې ورته کول. د ده کاروبار تجارت وو. مالونه ئې رانيول او بيرته به ئې خرڅول.

د دې سوداګر دوکان ته به د عجمو د پاچهانو له اولادې څخه يو ځوان هر وخت راتلی او ناسته و ولاړه ئې پر همدې دوکان وه. د دې ځوان نوم علي بن بکار وو[1]. دې ځوان ته خدای داسې ښايست ورکړی وو، چې خور پر عاشقېدله. ښه کړه وړه، لوړ قد و اندام، ښه شېرينه او فصيحه ژبه. ښه پراخ تندی او ښه نيت خدای پر لورولي ول.

يوه ورځ دغه ځوان له سوداګر سره پر دوکان ناست دئ او مجلس کوي، چې ناڅاپه له ها خوا لس تنې چټې پېغلانې راښکاره سوې. په دې لسو تنو پېغلو کې يوې پېغلې موصلۍ پوړنۍ پر سر کړی دئ. د اصيلو ورېښمو کمربند ئې تر ملا تړلی دئ. پر خورا مست آس باندې سپره ده. د آس ځين او رکابونه ئې د سرو زرو دي. په داسې نازونخرو راروانه ده چې هغه د شاعر خبره:

ځه لوړ قد دئ د دې ښکلې، ځه جمال د دې ښايستې
تــه واســروه ده لــه باغــه، صــفايي ده د آينــې

---

[1] دغه نوم په يوه بله انګرېزي ترجمه کې نورالدين علی ابن بکار دئ، (هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه ئې ډک په مِهر و مینه، غېږ پسته ده تر وربښمو
دلربـــا د هندوســـتان ده، محبوبـــا د بنگـــالې
اورنۍ شغلو د مخ ئې حوري پټې په حجاب کړې
لـه زاهـده سـوه لار ورکـه، خيـال ئې سـو د ميخـانې

پېغلي چي د ابوالحسن دوکان ته راورسېدې، هغه د څورلسم سپوږمۍ له آسه راکښته سوه. د ابوالحسن دوکان ته ورغله، سلام ئې واچاوه. ابوالحسن عليک ورته ووايه. علي بن بکار چي داسي ورته وکتل، سد ئې له سره ولاړ، نور ئې له طاقته ووتل او غوښتل ئې چي دوکان پرېږدي او ولاړ سي.

پېغلي ورته وويل چي: "کښېنه! چيري ځې؟ موږ راغلو او ته ځې". علي بن بکار ورته وويل چي اې پېغلي، په خدای مي دي قسم وي چي ستا ښايست ميدان راباندي پرېښوو. شاعر څه ښه ويلي دي:

د دې حسن و لمـبو ته څه طاقت زمـا د بشر
د باڼو د غشي وارتې، بويه او سپنه سي سپر

نجلۍ چي دابيت واورېد، په شونډو کې ومسل او له ابوالحسنه ئې پوښتنه وکړه چي د دې ځوان نوم څه دئ او د کوم ښار دئ. ابوالحسن ورته وويل چي دا ځوان پردېس دئ او نوم ئې علي بن بکار او د عجمو د پاچا زوی دئ.

نجلۍ ورته وويل: "د فارس د پاچا زوی دئ". ابوالحسن ورته وويل: "هو! بي بي" او ورته زياته ئې کړه چي د پردېسانو خذمت خو پر موږ فرض دئ. نجلۍ ورته وويل: "بالکل! هر وخت چي زما مينځه درته راغله، دغه ځوان ورسره کړه او ما ته ئې راولېږه". باره نو نجلۍ پر آس پښه واړوله او ولاړه. علي بن بکار اريانۍ اخيستی دئ، نه پوهېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي څه ووايي. يو ګړی باد مينځه د ابوالحسن دوکان ته راغله او ورته وې ويل چي بي بي ته او هغه ځوان دواړه غوښتي ياست.

آبس، ابوالحسن او علي بن بکار دواړه د هارون الرشيد د ماڼۍ خوا ته روان سول. مينځي ماڼۍ ته دننه بوتلل. په خونه کي ئې کښېنول. سترخان ئې ورته اوار کړ. د خدای ښې و ښادۍ ئې ورته کښېښولې. دوی چي ډوډۍ وخوړه، لاسونه ئې پرېولل. باره نو مينځي دوی يوې بلي خوني ته بوتلل. په دې خونه کي ښې ښې اصيلي غالۍ اواري دي. په سرتاخو کي اصيل بلوړي چينيان اوډلي دي. دوی له مينځي سره په مجلس اخته دي چي نابېره لس تنې پېغلي، چي سترګي نه پر روڼېږي، راننوتې. په دې لسو تنو پسي لس تنې نوري د حسن شاپېرياني راغلې، کښېنستلې. د ټولو دارېې او د ساز نور سامانونه په لاس کي دي. داريو ته ئې لاس ورواچاوه او بدلي ئې شرو کړې. تر هغه وروسته لس نوري پېغلي چي هره يوه ئې لعبته ناوکۍ وه، د خوني په دروازه کي ودرېدلې. ورپسې شل تنې مينځياني چي تا به ويل حوري دي او همدا اوس له جنته راوتلي دي، هم راغلې او له دا نورو سره ودرېدلې. تر دوی وروسته شل تنې نوري مينځياني رابنکاره سوې او د هغو په منځ کي يوه نجلۍ چي شمس النهار نومېده، هم شانه ورانه راروانه وه. پر دې نجلۍ باندي په ښايست کي ختمه وه. داسي ايښېدله چي تا به ويل په لاس ئې رسم کړې ده.

شمس النهار راوړاندي سوه او پر چوکۍ کښېنستله. علي بن بکار چي ورته وکتله، ابوالحسن ته ئې وويل چي ډېر به خوښ سم که مي په دا ځينو شيانو خبر کړې. باره ئې وژړل او د نجلۍ د نامه پوښتنه ئې له ابوالحسن څخه وکړه. ابوالحسن ورته وويل چي: "غم ئې مه کوه، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نجلۍ پر تا مینه ده او ستا د وصال تمه لري. نوم ئې شمس النهار دئ او د هارون الرشید له خاصو کسانو څخه ده. دا ماڼۍ چي وينې، دا د خلافت قصر دئ".

آبس، شمس النهار کښېنستله او سترګي ئې په علي بن بکار کي ښخي دي د هغه د ښایست و جمال ننداري ته ډوبه تللې ده. د علي بن بکار سترګي هم له دې څخه نه خېژي. دواړه یو د بل په مینه کي بندیان دي. شمس النهار پر دا نورو نجونو باندي امر وکړ چي هره یوه دي پر ها خپل ځای کښېني. بیا ئې نو ورته وفرمایل چي سازونه و نغمې ورږغوي. یوې نجلۍ داریه ورواخیسته او دا بیتونه ئې وویل:

که څوک سروه یادوي خو بس همدا ده
د ګــلاب و یاســمن ســره همتــا ده
دا چمـن نـه دئ جنت پـر دې دنیـا دئ
پــر سـبزه چـي ئـې روانـه شـاليلا ده
بهارونـه دي تـازه، د ښـتونه شـنه دي
سـاقي بنـده دي بیـا ولــي اشـتها ده

علي بن بکار ته دې بیتو خورا ښه خوند ورکړ او له نجلۍ څخه ئې وغوښتل چي یو څو نور بیتونه هم ووايي. نجلۍ داريې ته په خرپ لاس ورواچاوه او داسي ئې وويل:

غـوټۍ شـنه لـه خنـدا تللـې بلـبلان بانـدي کړېـږي
د بهـــار د ګلـــو مـــوج دئ یـــاران ټولـــه هوســېږي
پایکوبۍ دي په چمن کي، ګدا ګاني په ګلشن کي
که زاهد دئ که صوفي دئ له مستۍ څخه نځېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تقوا پر بازارونو، توبې ماتې د عمرو دي
د ساقي په لاس جامونه، یو ډکېږي بل تشېږي

**دې نجلۍ چې دا بیتونه وویل، شمس النهار پر یوې بلې نجلۍ باندې ږغ وکړ، چې ته هم یو څه ووایه. هغې هم غوږ ته ګوته واچوله او داسې ئې وویل:**

سرې جامې اغوستې په چمن کې دي ګلانو
ږوږ د نغمو خپور دئ پر ګلشن د بلبلانو
ووته سارا ته، هوسۍ رغړي پر سبزو باندې
خدایه راساته یې له نظره د ښکاریانو

داسې پرېماني د عشرتونو که روانه وه
عقل به سې کړه له سرو د زاهدانو

**شمس النهار چې دا بیتونه واورېدل، څېره ئې سره وغوړېده او پر بلې نجلۍ ئې هم ږغ وکړ، چې څه ووایې:**

ورېم د ګلانو او نغمې د بلبلانو
شور د آبشارونو تازه ګي د چمنانو
ژوند دئ که نشاط دئ که مستي که هوسونه دي
ټول دي سپلني وي پر سره اور ستا د لبانو

**تر دې وروسته علي بن بکار پر یوې نجلۍ باندې چې ده ته نږدې ناسته وه، ږغ وکړ چې ته څه نه ګورې، رامخ ته سه. نجلۍ دا بیتونه وویل:**

زړه مې راته وایي چې هوس به د سارا کوم
ځمه ننداره به ستا د حسن په رشتیا کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



جار دي سم قربان دي سم واري و سپلنی دي سم
زمــا گرانــه محبوبــه ســتا د وصــل تمنــا کــوم
سترگي مي دي وو زي چي به ستا له پستي غېږي څه
نــيم کاتــه ورېــښمو تــه پــه ســهوه و خطــا کــوم
مينــه پــه غــلا نــه کېږي او عــشق د پټېدو نــه دئ
خواست ستا د وصال به مخامخ و برملا کوم

د دې په اورېدو سره د علي بن بکار له سترگو بې اختياره اوښکي رواني سوې. شمس النهار چي د ده اوښکي وليدلې، د ميني اور ئې يو په سله سو، له توان و طاقته ئې ووتل او داغسي له چوکۍ څخه راولاړه سوه، علي بن بکار ئې په غېږ کي ونيو. ده ئې هم لاسونه پر ملا باندي راتاو کړه او دواړه بېهوښه پر مځکه ولوېده. مينځيانو دوی له مځکي راپورته کړل. خوني ته ئې يووړل. هورې ئې د گلابو عطرونه پر وپاشل څو دوی پر هوښ راغلل . شمس النهار و ابولحسن سوداگر ته وويل چي که د ژوند پر مېنه وم، تا ته به ډېر ښه انعام درکړم. بيا ئې نو علي بن بکار ته مخ ورواړاوه او وې ويل: "اې ځوانه! پوه سه چي زه تر تا سل چنده زياته مينه درسره لرم. خو چاره نسته، بايد صبر وکړو".

علي بن بکارورته وويل چي: "خبره تر صبر تېره ده. د ميني هغه لمبې چي زما په زړه کي بلي دي، د وژلو نه دي. ستا مينه به هغه وخت زما له زړه وزي، کله چي مي روح له تنه ووزي" . دا چي ئې وويل باره، په ژړا سو. شمس النهار هم ورسره وژړل. ابوالحسن پر راتېر سو او ورته وې ويل چي زه خو په خدای دا ستاسي کارو ته داسي هک پک تللی يم. دا چي په وصل کي مو داسي حال دئ، دا که سره جلا سولاست،

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه حال به مو وي. اوس د ژړا وخت نه دئ. د ښادۍ او خوشالۍ وخت دئ. په دې وخت کي شمس النهار يوې مينځې ته اشاره وکړه. هغه ولاړه او له ها خوا ئې د سپينو زرو خونچې راوړې. په خونچو کي رقم په رقم خواړه پراته ول. آبس، خونچې ئې واوډلې. شمس النهار به يوه گوله پخپله خوړله او بله به ئې علي بن بکار ته په خوله کي ورکوله. ښه تر ماړه نسه ئې ډوډۍ وخوړله. باره نو خونچې ټولې سوې، لاسونه پرېولل سول او خوشبويي په ووهل سول. بيا د عقيقو جامونه راوړل سول چي له انگوري شرابو ډک ول. شمس النهار لس مينځياني د خذمت او لس مينځياني د سازوسرود له پاره انتخاب کړې او نورو ته ئې د بيرته تگ اشاره وکړه. بدلزنو مينځيانو ته امر وسو، چي بدلي ووايي. يوې مينځې رباب ورواخيست، ښه ئې سور کړ او دا بيتونه ئې ورسره وويل:

د مطـــرب پـــه لاس ربـــاب د رغولـــو
د ســاقي پــه لاس کــي جــام دئ د چــښلو
چمن ډک دئ، بوستان ډک گلستان ډک دئ
لــه رامبيلــو، لــه چــامبيلو لــه ســنبلو
هوســۍ مــسته پــر مرغــه ده ســره رغــړي
لـــــه بـــــاغونو اوازاورو د بلبلـــــو
پرېمـــــاني ده د عيـــــشو د هوســـــونو
ارزانـــي ده د ســـرو شـــونډو د زېـــښلو

آبس، شمس النهار راولاړه سوه يو جام ئې ځان ته ډک کړ بل ئې علي بن بکار ته. علي بن بکار هم بل جام ځان او بل شمس النهار ته راواخيست، دريم جام ئې ابوالحسن ته وروور... کيسه چي دې ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ته ورسېده ...**

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادي کیسه پاته ترسبا سوه

# یو سل او څلور پنځوسمه شپه

**شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:**

**شمس النهار چي جام ډک کړ او علي بن بکار ته ئې وړاندي کړ، بیا ئې نو رباب راواخیست، مینځیانو ته ئې وويل چي زه له رباب سره شعر هم پخپله وایم. باره ئې د رباب غوږ ته تاو ورکړ او دا بیتونه ئې زمزمه کړل:**

چي راغلی مي وکور ته نن نګار دئ
د عیشونو هوسونو تود بازار دئ
چي دا جام او دا رباب راسره مل وي
نوم دې ورک سي، سلطنت دئ که دربار دئ

**علي بن بکار او ابوالحسن چي د شمس النهار دا بیتونه واورېدل، زیاتي ئې ګډا و نڅا شرو کړه چي ناڅاپه یوه مینځه په ځغستا راننوته او په رېږدېدلي اواز ئې وويل: "بي بي! خلیفه له خپلو قومندانانو عفیف او مسرور او سیاف[1] سره یو ځای دې خوا ته راروان دئ". حاضر مجلس چي د مینځي دا خبره واورېدله، نږدې وو چي له بېري څخه د ټولو زاره وچوي. شمس النهار په خندا سوه او وې ویل چي مه بېرېږئ.**

---

[1] په یوه بله انګرېزي ترجمه کي دا وروستی نوم واصف او په روسي ترجمه کي مرجان دئ، (م. هوتک).

(c) ketabton.com: The Digital Library



باره ئې مینځې ته وویل چې خلیفه ته حال ورکړه چې یو ګړی معطله سي. بالا ئې امر وکړ چې په دې حاضرو کسانو پسي دې د خوني دروازه وتړل سي او پردې دې ځوړندې سي او د ماڼۍ دروازه دې هم بنده سي. دا کاروانه چې سر ته ورسېدل، باره نو شمس النهار خپل باغ ته ولاړه، پر چوکۍ کښېنستله. یوې مینځې ئې پښې ورموښلې او نورې مینځیانې خپلو ځایو ته ولاړې چې په دې وخت کې مسرور او سیاف له شلو تنو وسله والو مریانو سره راورسېدل، شمس النهار ته ئې سلام واچاوه. هغې پوښتنه ځنې وکړه چې څرنګه راغلاست؟ هغو په جواب کې ورته وویل چې خلیفه سلام درباندې وایه او ویل ئې چې ډېره ئې یادېږې. نن ئې د خوښۍ و خوشالۍ یو محفل جوړ کړی وو او غوښتل ئې چې د دې محفل په پای کې ته هم برخه واخلې. نو اوس ته و خلیفه ته ورځې او که خلیفه تا ته راسي. شمس النهار چې د خلیفه فرمان واورېدی، راولاړه سوه او مځکه ئې مچ کړه. سمدلاسه ئې مینځیانې راوغوښتلې او خپله خذمتګاره ئې خلیفه ته ورواستوله چې خلیفه ته خبر ورکړي چې: "زه به په یو آن کې د خلیفه له پاره ځای برابر کړم او د ده په انتظار به کښېنم". خذمتګاره خلیفه ته ولاړه چې د شمس النهار پیغام ورورسوي، شمس النهار خپل معشوق علي بن بکار ته ورغله. دی ئې په غېږ کې ټینګ ونیاوه او خدای په امانې ئې ځني واخیستله.

علي بن بکار په ژړا سو او ورته وې ویل چې: "اې، آغلې! خدای دې خپل فضل راباندې کوي چې ستا په بېلتانه کې مړ نه سم." شمس النهار ورته وویل چې په هغه خدای مې دې قسم وي چې که مړه کېدلو، اول به زه مړه سم. زما دا پټ راز به ډېر ژر ښکاره سي او ما به سمه دمه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرگي غېږي ته ورسوي. په تېره بیا نن شپه چې خلیفه ته مې د لیدلو وعده ورکړې ده. دا کار به یو لوی خطر راته پېښ کړي. ځکه په دغه له مینې او محبته ډک زړه او بیا ستا څخه د فراق په دې غمجن حالت به زه څرنګه نغمې وویلای سم، زه به په داسي حال کي چې ته راسره نه یې، په کوم زړه له خلیفه سره کښېنم، په کومه ژبه به خبري ورسره وکړم، په کوم ذوق به بې له تا شراب وچښم. ابوالحسن و شمس النهار ته وویل چې تاسي دا خبري اوس پرېږدئ، لږ څه صبر وکړئ او هوښ کوه چې د خلیفه ملاقات دي نن شپه هېر نه سي، ستا په مات زړه پوه نه سي.

دوی داغه خبري سره کولې چې مینځه راغله او خبر ئې راووړ چې د خلیفه غلامان راورسېدل. آبس، شمس النهار راولاړه سوه، مینځې ته ئې وویل چې ابوالحسن او ملګری به ئې باغ ته د دربچې له لاري بوزې. ته به هم هورې ورسره پاته سې. دشپې چې تیاره سوه، دوی به په یو چم تر باغ وباسې. مینځې دوی تر دربچې باغ ته ورننه ایستل او دربچه ئې پسي وتړله. دوی نو پرېږده چې په باغ کی چکر وهي. هلته خلیفه له سلو تنو توره په لاس نوکرانو سره راښکاره سو. د خلیفه په مخ کي شل تنې پېغلاني پر ښی او کینې اړخ را رواني وې. پېغلو ښې سنګیني جامې اغوستي وې او د سرو زرو جوغې ئې په سرو کي ټومبلي وې. د هري یوې په لاس کي لګېدلې شمعه وه. آبس، شمس النهار هم له خپلو مینځیانو سره د پاچا مخي ته وروالړه سوه. مځکه ئې ورته مچ کړه او له خلیفه سره څنګ پر څنګ روانه سوه څو هغه وو چې خلیفه پر چوکۍ کښېنوست. نوکران و خادمان ئې یوه لیکه ورته ودرېدل. بلي شمعي ئې په لاس کي وې او سازونه و باجې ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ږغولې. بیا نو خلیفه چا و چا ته د بیرته تللو او چا و چا ته د کښېنستلو اجازه ورکړه. شمس النهار د خلیفه د چوکۍ څنګ ته پر بله چوکۍ کښېنستله او له خلیفه سره په خبرو اخته سوه.

ابوالحسن او علي بن بکار دا ټوله تماشه هم ویني او هم ئې اوري خو خلیفه ئې نه ویني. آبس، خلیفه له شمس النهارسره بازۍ شروکړې. په مجلس کي دونه شمعي لګېدلې چي توره شپه ئې په سپینه ورځ بدله کړې وه. بیا نو د مجلس ساقیانو د شرابو جامونه راوړل. ابوالحسن له ځانه سره وویل چي داسي قیمتي جامونه خو ما په ټول ژوند نه دي لیدلی. ته وا خوب وینم. علي بن بکار د خپلي میني په خولو کي ډوب پروت دئ. یو وخت چي پر سد راغی او مجلس ته ئې وکتل، مخ ئې ابوالحسن ته ورواړاوه چي: "اې وروره! زه ډارېږم چي نه ګانه، دپاچا راته پام نه سي او ومو نه ویني او زموږ په حال خبر نه سي. زه د خپل ځان په غم کي نه یم، ما وختي لا ځان په مړو کي شمېرلی دئ. خو پر تا باندي بېرېږم او له خدایه غواړم چي موږ له دې ځایه په تړلو تېیو وباسي".

څه سردي پرله ګرزوم، ابوالحسن او علي بن بکار د مجلس په تماشه اخته دي چي په دې وخت کي خلیفه یوې نجلۍ ته وویل چي اې ګراني! که دي کومه د زړه د جوش غزله مزله زده وي، راته وئې وایه. نجلۍ داریه ورواخیستله او دا بیتونه ئې وویل:

اې زما سپیني کوتري مخ دي پټ په حجابو کړه
کار له عقله څخه واخله لېونتوب دي پر ګوښو کړه
ننداري د ښکلي مخ دي عقل و فکر رانه یووړ
هوښیاران و عاقلان دي همه واړه په توبو کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا مجلس لره درځم به په کوم مخ په کومو سترګو
ستا له غېږو تبنتېدلم چي مي تل دغه آرزو کړه
زما هيله ستا وصال خو نن محروم يم له دې ګنجه
سېلابونه و رودونه مي د اوښکو تر لېمو کړه

شمس النهار چي دا بيتونه واورېدل، له چوکۍ څخه بوڅه راواوښتله او بېهوښه سوه. مينځيانو راالاکړه او دا ئې خوني ته يووړه. علي بن بکار چي دا حال وليد، دی هم خوړي بوړي ولوېد او بېسده سو. ابوالحسن وويل چي سبحان الله ! تقدير ستاسي مينه دوه ځايه کړې ده. نيمی ئې تا ته درکړې ده او نيمی ئې هغې ته. دوی په دغه خبرو کي دي چي نابېره هغه مينځه راغله چي دوی ئې دلته راوستلي ول او ورته وې ويل چي ياابوالحسنه! درغورځه! نور خبره رسوايۍ ته راوزي زه بيخي ډېره بېرېږم.

ابوالحسن ورته وويل چي دا ځوان د ولاړو نه دئ، زه به څرنګه دی په دغه حالت کي له ځانه سره بوزم. آبس، مينځه راغله د ګل ګلابو عطر ئې پر علي بن بکار وپاشل. دی چي پر هوښ راغی، مينځي دوی دواړه تر باغ وايستل. دوی چي يو څه ولاړل، مينځی د اوسپني دروازه وتړله. ابوالحسن اوعلي بن بکار دوی چي يوه څه حد ولاړل، اوبه مخي ته ورغلې. مينځي لاسونه سره وټپول، سمدلاسه يوه کښتۍ راپيدا سوه چي يو سړی هم پکښې ناست وو. مينځي دوی په کښتۍ کي کښېنول او سړي ته ئې وويل چي دوی به د اوبو ها بلي غاړي ته ورسوې. علي بن بکار چي له کښتۍ څخه باغ او د خپلي محبوبي ماڼۍ ته وکتل، په ژړا سو.

مينځي کښتۍ وان ته وويل چي: "ژر کوه! حرکت وکړه". کښتۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وان هم کښتئ په مخه کړه.... کیسه چې دې ځای ته ورسېده ...**

د سهار شمال راوالـوتی روڼا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او پنځه پنځوسمه شپه

**شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چې:**

**کښتۍ وان په خورا بېړه کښتۍ د اوبو بلي غاړي ته ورسوله او د شمس النهار مینځې له دوی څخه خدای په اماني وکړه او ورته وې ویل چې زړه مي نه غواړي چې له تاسي څخه جلا سم. خو تر وس مي تېره ده او اجازه نه لرم چې تر دغه ځای نور مخ ته ولاړه سم. مینځه چې ځني ولاړه، علي بن بکار د ابوالحسن په مخ کي بوړي بوړي وغځېدی او نور نو د راپورتي نه وو. ابوالحسن ورته وویل چې درولاړسه، دا ځای د پرېوتو نه دئ. په دې ځای کي غله او نور د خدای فساتیان اوسي. باره علي بن بکار هم راولاړسو. کرارکرار رهي وو. په بدن کي ئې د تگ شمه نه وه. د دجلې رود پر ها بله غاړه د ابوالحسن د اشنایانو کور وو. هورې د هغه اشنای کور ته ورغلل چې یو څه د اعتماد وړ وو. دروازه ئې وروټکول. اشنای ئې راووتی. سلامالیک وروغبږ ئې ورسره وکړ. کور ته ئې دننه بوتلل. گپ شپ ئې شرو کړ. د کور خاوند پوښتنه ځني وکړه چې چیري تللي واست. ابوالحسن ورته وویل چې له یو چا سره مو معامله درلوده. وامي ورېدل چې هغه مال برابر کړی دئ او په سفر روانېږي، نو زه مجبوره سوم چې په دې نیمه شپه ورته راسم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ملګری علي بن بکار مي هم له ځانه سره راووست. سړی راڅخه پټ سو او موړ دا يو، تش لاس راوګرځېدو. څرنګه چي په دې نيمه شپه بير ته کور ته نه سوای تللای، نو هغه وو چي ستاکره راغلو.

آبس، شپه ئې هورې تېره کړه او سهار وختي له کوره راووتل، هله، هله، هله څو د ابوالحسن کور ته راورسېدل. ابوالحسن خپل ملګری علي بن بکار هم خپل کور ته بوت. يو آن ئې سترګه پټه کړه او له خوبه چي راويښ سول، ابوالحسن پر خپلو نوکرانو امر وکړ چي په خونه کي ښه سنګين فرش اوار کړي. نوکرانو خونه په ښو غاليو فرش کړه. علي بن بکار چي راويښ سو، اودس ئې تازه کړ او د تيري ورځي و برابې ماښام قضا سوي لمونځونه ئې راوګرزول. ابوالحسن ورته وويل چي: اشنايه! دا به مناسبه وي چي ته نن شپه زما سره پاته سې. لړ به دي دمه غلطه سي او غم به دي له زړه ليري سي. علي بن بکارورته وويل چي وروره! هر راز چي دي خوښه وي، هغسي به وکړم. زما بې هغه هم له غمه خلاصی نسته. د ميني دا بلاوي نه دي چي له چا څخه دي په اسانه ولاړې سي. آبس، ابوالحسن خپل انډيوالان و اشنايان راټول کړل. په سازنده وو پسي ئې هم سړی واستاوه. ټول راحاضر سول. هغه ورځ ئې ښه بانډار وکړ او ورځ ئې په خورک و چښنګ و ساتېري تېره کړه. چي د ماښام تياره خپره سوه، باره ئې شمان ولګول. د مې و پيالې محفل ئې جوړ کړ. يوې مينځې رباب ته لاس کړ او دا شعر ئې ووايه:

ما ته يو دئ که بهار وي که خزان
ورځ و شپه چي مي تېرېږي په هجران
د يار مخ چي پسرلی وو زه ترې راغلم
خود به تل يم په ژړا و په ګريان

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي بن بکار چې دا شعر واورېد، بوخ راووښت او تر سهاره پورې بېسده پروت وو. د ابوالحسن بيخي اميد څني وخوت. سهار پر لمر څرک باندي علي بن بکار سترګي روڼي کړې او غوښتل ئې چې خپل کور ته ولاړ سي. ابوالحسن هم خپل زړه ته پرېښوو او نه ئې راوګرزاوه. بوده موده ئې ورته حاضر کړ، علي بن بکار ئې پر سپور کړ. ابوالحسن هم تر کوره پوري ورسره ملګری سو. د کور په دروازه کي چې له بوده راکښته کړ او دی خپل کور ته ننووت، ابوالحسن د خدای شکر ادا کړ او له ځانه سره ئې وويل چې له بدي بلا خلاص سوم. خو بيا ئې هم علي بن بکار ته د زړه تسلی ورکړه او د صبر سپارښتنه ئې ورته وکړه. منګر پر علي بن بکار باندي ميني دونه زور کړی ووچې ځان ئې په واک کي نه وو. له ابوالحسن سره ئې خدای په اماني وکړه.... کيسه چې دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او شپږ پنځوسمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چې:

ابوالحسن چې له علي بن بکار څخه خدای په اماني اخيستله نو هغه ورته وويل چې وروره! که کومه خبره پيښېدله، ما به خبروې. ابوالحسن ورته وويل چې ری مه وهه، هرومرو دي خبروم. باره نو ابوالحسن خپل دوکان ته ولاړ او د شمس النهار لاري ته ئې سترګي څارو نيولي دي. په دې ورځ د هغې هيڅ درک مالوم نه سو. شپه ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کور کې تېره کړه. سهار تر دوکان دمخه د علي بن بکار کور ته د پوښتنې له پاره ورغی. چې ګوري، هغه په کټ کې پروت دئ، دوستان ئې پراګرځېدلي دي. حکيم جي ئې سر ته ولاړ دئ او نبض ئې په لاس کې نيولی دئ. حاضر کسان يو يو څه وايي، بل بل څه. ابوالحسن چې خونې ته ورننووت، د علي بن بکار سترګې پر ونښتلې، په شونډو کې ئې ورته ومسل. ابوالحسن سلام ورواچاوه او د حال و احوال پوښتنه ئې ځنې وکړه. د کټ سر ته ئې کښېنوست چې دا نور خلک ووتل، باره ابوالحسن ورته وويل چې دا څه کيسه ده؟

علي بن بکار ورته وويل چې وروره! د هغې نجلۍ ميني خو زه رنځور کړم. د رنځ خبر مې په کوروکلي کې خپور سو. دوستان و اشنايان مې پوښتنې ته راغلل. منګر ته دا راته ووايه چې کومه خوشخبري لرې. د شمس النهار د مينځې درک نه سو معلوم. ابوالحسن ورته وويل چې په هغه ماښام چې د دجلې سيند پر غاړه سره جلا سوو، بيا ئې حال نه دئ معلوم سوی. منګر ګوره وروره! دا دې څه رسوايي جوړه کړې ده. دا ژړاوي مړاوي پرېږده. خلک به څه وايي. لږ څه فکر وکړه. علي بن بکار ورته وويل چې صبر مې تر قدرت وتلی کار دئ. نه ئې سم کولای. باره ئې سوړ اسوېلی وکيښ، په ژړا سو او دا بيتونه ئې وويل:

ما ته مه وايه د پوهې دا ورمونه
اثر نه ښندي دا ستا نصيحتونه
سرزنش پر عاشقانو اغېز نه کا
تاثير نه لري دا پند، دا پېغورونه
ما هاله له دين دنيا څخه لاس پرېولو
چې پر زړه مې وخوړل د عشق داغونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا بيتونه چي ئې وويل نو ئې مخ ابوالحسن ته واړاوه او ورته وې ويل چي په داسي مصيبت باندي اخته سوم چي تر ننه مې فکر لا هم نه سواى کولاى. اوس چي هر څه رى وهم، بې له مرګه مي د نجات بله لار نسته. ابوالحسن ورته وويل چي د خداى له دره مه نامېنده کېږه. ګوندي خداى دي خپل مقصد ته ورسوي. باره نو ابوالحسن له کوره راووت او دوکان ته رهي سو. دوکان ئې خلاص کړ. له جارو و پاکۍ څخه چي خلاص سو، يو آن پر خپل ځاى کښېنوست چي ګوري، دا ده مينځه راغله. ابوالحسن ته ئې سلام واچاوه او هغه وربيا کړ. مينځې ته چي ئې وکتل، په نظر ئې خوابدې ورغله. باره ئې دستي د شمس النهار پوښتنه ځني وکړه چي خيريت خو به وي. مينځې ورته وويل چي د هغې حال به وروسته درته ووايم خو ته اول د علي بن بکار حال راته بيان کړه.

ابوالحسن نجلۍ ته د علي بن بکار ټول حال له سره تر پايه ووايه. مينځه اريانۍ واخيسته او په ډېر افسوس ئې سوړ اسوېلى تر خوله وخوت. بيا ئې نو وويل چي زما د بي بي حال تر دې بتر دئ. په هغه شپه چي تاسي له کښتۍ څخه کښته سولاست او ولاړاست. زه کور ته ولاړم منګر په تاسي مي چورت خراب وو. زړه ته مي نه لوېده چي تاسي دي صحيح و سلامت تر کوره پوري ورسېږى. خپلي بي بي شمس النهار ته چي ورغلم، هغه بېهوښه پرته وه. نې له چا سره خبري کولې او نه ئې د هو، نې جواب چا ته ورکاوه. خليفه ئې سر ته ناست وو او د ناروغۍ په سبب ئې هم نه پوهېدى. تر نيمي شپې پوري داغسي بېسده پرته وه. پر هوښ چي راغله، خليفه ځني وپوښتله چي: "اې شمس النهاري! دا په تا څه سوي دي؟ دا څه حال دئ چي پر تا باندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن شپه راغلی دئ؟"

شمس النهار چي د خلیفه خبري واورېدې، د خلیفه پښې ئې ورمچ کړې او ورته وې ویل: "جعلنی الله فداک، زما سر دي تر تا جار سي، د بېگاه خواړه بد راباندي لگېدلي دي، سر مي راته دروند سو او بېهوښه سوم. نه پوهېږم چي حال به مي څرنگه سي".

خلیفه ورته وویل چي: "اې شمس النهار! څه دي خوړلي ول؟" هغې ورته وویل چي: "داسي ناوړه شی مي خوړلی وو، چي هیڅکله مي نه وو خوړلی".

بیا نو شمس النهار یو څه شراب وغوښتل. شراب چي ئې وچښل، نو ئې زه وروغوښتلم او کرار ئې ستاسي پوښتنه راڅخه وکړه؟ ما د علي بن بکار هغه شعر ورته ووایه چي په کښتۍ کي ئې راته ویلی وو. دې یو سوړ اسوېلی وکیښ او خاموشه سوه. په دې وخت کي خلیفه پر بدلزني امر وکړ چي یو شعر ووایي. هغې دا دوه بیته وویل:

کاشکي هغه نازنین وای چي زه مړه پسي پرته یم
یو وار زما پر زړه نگین وای چي زه مړه پسي پرته یم
دی پر خپله تړه ولاړی، زه یوازي پاته سومه
کاشکي زما زړه ډبرین وای چي زه مړه پسي پرته یم

شمس النهار چي دا بیتونه واورېدل، بیا یو حال پر راغی او بېسده ولوېده.... کیسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو سل او اووه پنځوسمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

د شمس النهار مينځي ابوالحسن ته وويل: "بي بي چي دا بيتونه واورېدل، سمدلاسه بېهوښه سوه. ما ئې ورو ورو لاسونه ورموښل او د گلابو عطر مي پر پاشل، څو پر هوښ راغله. ما ورته وويل چي: "زما گراني بي بي! ځان مه رسوا کوه. ستا دي د خپل معشوق په سر قسم وي که به صبر و زغم نه کوې. شمس النهار راته وويل چي تر مرگ خو به نو سخت بل څه نه وي. زه په والله په مرگ راضي يم ځکه بې له مرگه په بل څه نه ارامېږم. موږ لا دغه خبري سره کولې چي يوې بلي نجلۍ د شاعر دا بيتونه زمزمه کړل:

بې ژړا مي بل کار نسته په دا نن شپه
نه صبرېږم نگار نسته په دا نن شپه
زمانه د بېگاني وصال غېچ اخلي
رسۍ سته ده خو دار نسته په دا نن شپه

مينځي چي دا بيتونه وويل، شمس النهار بيا پرمخي ولوېده. خليفه په وارخطايي سره ورته راالاکړه. پر مينځيانو ئې امر وکړ چي: "ټول کړئ، دا طبله و سارنگ مو!" مينځو هم شيان ميان سره ټول کړل او خپلو سرايو ته ولاړې. خليفه تر الايي سهاره پوري د شمس النهار سر ته ويښ ناست وو. سهار ئې طبيبان ورته راوغوښتل او هغو ته ئې د شمس النهار د علاج امر وکړ خو په دې نه پوهېدی چي د دې ناروغي د ميني رنځ دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینځي ابوالحسن ته وویل چې زما په راتګ کې د څنډ سبب همدا وو. هلته ډله خلک ناست دي او موږ نه سوای کولای چې ستاسي حال ونیسو. اوس ئې دا دئ زه درته راواستولم چې د علي بن بکار حال هغې ته وروړم. ابوالحسن چې د مینځي بیان واورېد، حیران پاته سو او ورته وې ویل چې د علي بن بکار حال هغه وو، چې درته ومې وایه. ته بي بي ته ورسه او دا ټول بیان ورته وکړه او زما له خوا ورته ووایه چې صبر وکړي او خپل راز رسوا نه کړي. ورته ووایه چې زه پوهېږم چې دا ډېر سخت حالت دئ منګر په یوه سم تدبیر سره ئې چاره کېدلای سي.

مینځي له ابوالحسن څخه رخصت سوه خو ابوالحسن تر ماښامه پوري په دوکان کي وو. ماښام ئې دوکان وتاړه او د علي بن بکار کور ته ولاړ. دروازه ئې وروټکوله. نوکر راووت او دی ئې کور ته بوت. علي بن بکار چې ولید، پر شونډو ئې موسکا راغله او په راتګ ئې خوشاله سو. ورته وې ویل چې د نن ورځې څنډ خو دي زما زاره راوچاودله. غم مې یو په لسه سو. زه غواړم چې تل ستا سره واوسم او خپل سر تر تا قربان کړم. ابوالحسن ورته وویل چې دا خبري مه کوه. دا ته څه وایې؟ که زما زړ روحه وي، ټول دي تر تا جار سي. نن د شمس النهار مینځه دوکان ته راغلې وه، د خپل څنډ سبب ئې راته ووایه. خلیفه له شمس النهار سره وو او دا ځني ښورېدلای نه سوای. د بي بي ټول حال ئې راته ووایه.

آبس، ابوالحسن ټول هغه بیان چې له مینځي څخه ئې اورېدلی وو، علي بن بکار ته وکړ. علي بن بکار ډېر خوابدي سو. په سترګو کي ئې اوښکي ودرېدې. ابوالحسن ته ئې وویل چې خدای به کوي، ته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوې. زما سره مرسته وکړه. په دغه مصیبت کې چې زه دربدلی یم، ته راسره مرستندوی سه . پر ما زړه وسوځه او یوه چاره راوښیه. دا نن شپه راسره پاته سه او تر سبا پورې بل ځای مه ځه. ابوالحسن ئې غوښتنه ومنله او هورې پاته سو. ټوله شپه ئې د غره و د وره بیانونه سره وکړل. په پای کې علي بن بکار په ژړاندو سترګو دا بیتونه ورته وویل:

زه مېړی یمه وږی یم زه و ښته یمه خو ځپږم
زما وجود د وښته سیوری زما زړه د مېږي سترګه
خوشبویۍ ئې د وښتانو زما زړګی دئ رانه وړی
د مېږي په شان نری ملا ئې زما کورباره کړ پر چرګه
نری ملا او وږدو وریښتانو یم له ژوند څخه ایستلی
ټول جهان راته اغزي دي ګام ایږدم پر تېره ژرګه

دا بیتونه چې ئې وویل، نو ئې یوه لو چیغه تر خوله ووتله او په خولو کې ډوب بېسده ولوېد. ابوالحسن فکر وکړ چې نور ئې نو کار تمام سو. روح ئې له کالبوته ووت. تر سهاره همداسې ډوب پروت وو. له لمر ختو سره ئې سترګې روښې کړې او یو دوې خبرې ئې له ابوالحسن سره وکړې. لمر چې یو څه سر ته راغی، ابوالحسن ځني راولاړ سو او دوکان ته ولاړ. دوکان چې خلاصاوه، په دغه حال کې مینځه ورته ودرېده، په اشاره ئې سلام وروا چاوه. ابوالحسن ئې سلام وربیا کړ. مینځې د شمس النهار سلامونه وروړسول او د علي بن بکار پوښتنه ئې وکړه.

ابوالحسن ورته وویل چې د علي بن بکار د حال پوښتنه مه کوه، د هغه په رنځ و درد دي خدای مه خبروه. نه د شپې خوب لري نه د ورځې ارام. رنځوری تار او نار کړی دئ. زړه ئې له شنوخته ډک دئ.

مینځې ورته وویل چې زما بي بي یو دوې ګوتې خط راکړی دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي دا به له سلام سره يو ځای علي بن بکار ته ورسوې او راته ويلي ئې دي چي د خط جواب به هم خامخا راوړې. نو اوس يا ابوالحسنه، ته داسي وکړه چي ما د علي بن بکار تر کوره بوزه چي د خط جواب پخپل لاس ځني واخلم. ابوالحسن دوکان بيرته وتاړه او له مينځې سره روان سو. کور ته چي ورورسېدی. مينځې ته ئې وويل چي ته دلې يو آن تکيه سه، زه به کورته ورننوزم.... کيسه چي دې ځای ته ورسېده...

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او اته پنځوسمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

ابوالحسن مينځه په دروازه کي پرېښووله او دی کور ته ورننووت. علي بن بکار چي وليد، زړه ئې خوشاله سو. ابوالحسن ورته وويل چي شمس النهار د مينځې په لاس سلامونه او خط درته رالېږلی دئ او د خپل نه راتگ له اسيته ئې عذر غوښتی دئ. مينځه هغه ده، په دروازه کي ولاړه ده. که وايې چي کور ته دي راسي، زه به ږغ پر وکړم. علي بن بکار ورته وويل چي راوې غواړه. ابوالحسن ورووت او مينځه ئې کور ته راوستله. علي بن بکار د مينځې په ليدو ډېر خوشاله سو. مينځې خط ورکړ. علي بن بکار هغه مچ کړ. پر سترگو ئې وموښی. بيا ئې نو خلاص کړ او وې لووست. تر لوستلو وروسته ئې ابوالحسن ته ورکړ. ابوالحسن چي وکوت، دا دوه بيته پر نوشته وه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما تنه زما روحه ستا په سر مي دي قسم وي
بې له تا مي نفس څېژي شپه و ورځ رابانديغم وي
خوب خورک پر ما حرام سو، هيڅ پروا مي نه په کېږي
د دنيا ښې و ښادۍ دي هله وي چي زما صنم وي

**تر دې بيتو وروسته ئې ورته کښلي وه چي که زما حال پوښتې، نو حال مي دا دئ چي سترګي مي روڼې دي خو تر زړه مي د ميني غشي پوري ووري وتلي دي او زخمي دئ، په لړمانه کي مي اور بل دئ او تر خولې مي له آه و اسويلي پرته بل څه نه راوزي. ګواکي زه خدای د ميني له پاره پيداکړې يمه او غم و درد ئې راسره مل کړی دئ. ناروغۍ مي ورځ په ورځ زياتېږي او عشق و مينه مي هم ورسره ډېرېږي. هغه کانه راسوې ده، چي شاعر ئې داسي راته بيانوي:**

ستا مخ خدای په دلبري کي سور و سپين ارغواني کړ
زما بشرئې ستا په عشق کي راته تک ژيړ زعفراني کړ
ما له خدايه څخه غوښتي، چي ته هسي و زه داسي
ستا دي مخ ګل د ګلاب وي، خير کې زما ژوند پراغزي کړ

**تر دې وروسته ئې نو بيا کښلي وه چي تا ته دي معلومه وي چي زما دا شکايت و شکوې زما د ميني بلي لمبې راوژلای نه سي. له غم سره شکايت تل مل وي او له رنځ سره درد و بېتابي. د بيلتانه درد په تسلی نه ارامېږي. ځان ته د خط په کښلو لږ څه تسلی ورکوم. هغه د شاعر خبره:**

ستا د وصل په اميد به ژوندۍ پايم
که دا نه وي ګويا تللې له دنيا يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوالحسن وايي ده چي خط ولووست. زما غم ئې څو چنده کړ او په هره جمله مي د زړه سر مکوټ سو. خط مي مينځي ته ورکړ. علي بن بکار مينځی ته وويل چي پر بي بي مي سلامونه ووايه او زما دغه حال ورته بيان کړه. بيا ئې نو ډېر وژړل. مينځي ته هم د ده پر ژړا باندي ژړا ورغله او د علي بن بکار څخه ئې خداى په اماني واخيستله او له کوره ووتله. ابو الحسن هم مينځي ته مخه ښې وويله او خپل دوکان ته ولاړ.... کيسه چي دې ځاى ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روښا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او نهه پنځوسمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

ابوالحسن مينځي ته مخه ښې وويله او دوکان ته ولاړ. دغه ورځ و دغه شپه ئې ټول په چورت کي تېره کړه. په دا دوهمه ورځ د علي بن بکار کره ورغی. تر هغو پوري کښېنوست چي ټول خلک له خوني ووتل. بيا ئې نو د حال احوال پوښتنه ځني وکړه. علي بن بکار د پخوا په شان د ميني له رنځه او د بېلتانه له غمه شکايت وکړ او دا بيتونه ئې ورته وويل:

دا چي زه يم ستا په مينه ځگر خون
خيال مي نه سي چي به‌دا رازوو مجنون
بې له تا مي زړه تنور دئ د سکروټو
د هوسۍ په شان مي شپه پر مېږتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلتانه دي لېونی کړمه زما ګراني
خدای دي نه پېښوي چا ته دا جنون

ابوالحسن ورته وويل: زه حيران يم، ستا له يوې مهرباني معشوقې سره دا حال دئ، داکه دي معشوقه نامهربانه او ستمګاره وای، بيا به دي څه حال وای؟ ابوالحسن وايي چي زما خبره ئې واورېده او زما پر نصيحت ئې غوږ ونيو. نور ئې بېتابی او فرياد پرېښود او ما تې دوعاوي وکړې. ابوالحسن وايي چي زما يو انډيوال وو چي زما او د علي بن بکار په کيسه خبر سوی وو. له ده ماسيوا بل څوک په دې کيسه نه وو خبر. يوه ورځ دې انډيوال د علي بن بکار او شمس النهار پوښتنه راڅخه وکړه. ما ورته وويل چي اشنايه! د هغو د ميني د اور لمبې اوس تر اسمانه رسېدلي دي منګر زما په فکر کي يوه نخشه سته چي غواړم ستا سره ئې شريکه کړم. انډيوال مي راته وويل چي څرنګه نخشه ده؟

ابوالحسن وايي چي ما ورته وويل چي ته راخبر يې، چي زه په دې ښار کي مشهور سړی يم. هر څوک، عام وخاص مي پېژني. د دربار له نر او ښځو سره هم پېژنم. بېرېږم چي زموږ دا کيسه رسوايي ته راونه وزي او پر کومه بلا باندي وانه وړم. مال و شتمني مي راڅخه ولاړه نه سي او هلاکت ته و نه رسېږم. زما داسي خيال دئ چي خپل مالونه سره راغونډ کړم او بصرې ته سفر وکړم. هورې تر يوه وخته پوري پاته سم، بيا به وګورم چي د دوی کيسه کوم ځای ته رسېږي. د دوی خبره خو اوس تر خط و کتابته پوري رسېدلې ده. يوه مينځه ئې تر منځ روېباري کوي. زما په زړه کي کله کله داسي راوګرزي چي سبا به دا مينځه له دې روېباری څخه سترې سي او خبره به رسوايی ته راوباسي. که داسي پېښه سي نو زما خلاصون بيا نامکن دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انډیوال ئې ورته وویل چې زه پخوا لا هم په دې کیسه غوږېدلی وم. دا ستا تدبیر خو بیخي د هوښیارۍ خبره ده. زما هم داسي خوښه چې له دې کارو څخه ځان لیري ساته. نه دي دي اورېدلي چې وایي: "یوه ډېره بدمرغه، بله نېکمرغه"، خدای مه کړه سبا به یو اوښ درته چو سوی وي، بیا به ئې ولاړولای نه سې. ستا دا نخشه مي بیخي خوښه ده. خدای دې د خیر کړي.

آبس، ابوالحسن کور ته راغی، کالي مالي ئې سره ټول کړل. درې ورځې وروسته مخ پر بصره روان سو. د ابوالحسن انډیوال چې درې ورځې وروسته د ده لیدو ته راغی چې ګوري ځای سته، جولا نسته. له ګاونډیانو څخه ئې پوښتنه وکړه، هغو ورته وویل چې ابوالحسن خو بصرې ته ولاړ. ژر بیرته راځي. سړی اریانۍ واخیستی او نه پوهېدی چې اوس نو پر کمه ولاړ سي. له ځانه سرې وویل چې کشکي له ابوالحسنه څخه جلاسوی نه وای. باره ئې خیال سو چې د علي بن بکار کره ورسي. هورې چې ورغی، نوکرانو ته ئې ځان وروښووی او کور ته د ننوتو اجازه ئې وغوښتله. نوکرانو اجازه ورکړه او کور ته ئې بوت. هورې ئې علي بن بکار ولیدی چې په کټ کې پروت دئ. ده سلام وروا چاوه، هغه ورببیا کړ. سړي ورته وویل چې زما و د ابوالحسن تر منځ ټینګه اشنایي وه. یو د بل د زړه حال مو سره وایه. یو ګړی نه ځني جلا کېدلم. یو څو ورځې مي د یوه ضروري کار له اسیته و نه لیدی. نن چې ئې دوکان ته ورغلم. دوکان ئې تړلی وو. د څنګ دوکاندارانو راته وویل چې هغه بصرې ته ولاړ. نو زه خو ستا و د ده په شناخت و اشنایي خبر وم، ما ول راسه چې یو وار به ستا خبر هم واخلم او پوښتنه به دربانديې وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي بن بكار چي دا واورېده، بڼه ئې پر دا بله واوښتله. سودا ورولوېدله چي دا څنگه كار پېښ سو. سړي ته ئې وويل چي زه ستا تر بيان دمخه د ده په سفر نه وم خبر. كه دا خبره رشتياوي نو معنا ئې دا ده چي پر داسي غم باندي واوښتم چي انتها نه لري. دا خو بل غم راته پېښ سو. باره ئې تر سترگو اوښكو راايله سوې او دا بيتونه ئې وويل:

د دوستانو جدايي باد و باران دئ
ودانۍ و ابادۍ په چپه كېږي
تنهايي به مي د زړه سر رامكوټ كړي
جدايي د دوست بل اوښ راته چو كېږي

يو گړی ئې چورت وواهه، باره ئې سر راپورته كړ او نوكر ته ئې وويل چي ته ورسه د ابوالحسن كور ته او معلومات ئې وكړه چي كوم ښار ته تللی دئ. نوكر ولاړی او يو آن وروسته بيرته راغی، علي بن بكار ته ئې وويل چي معلومات مي وكړ، ابوالحسن بصرې ته تللی دئ خو د كور دروازې ته ئې يوه مينځه ولاړه وه. دې زه وپېژندلم خو ما نه پېژندله. ما ته ئې وويل چي ته د علي بن بكار نوكر نه يې؟ ماول: "يم". مينځي وويل چي ما علي بن بكار ته پر ده باندي د يوه ډېرمهربان چا له خوا يو خط راوړی دئ. دا مينځه زما سره راغله او اوس په دروازه كي ولاړه ده.

علي بن بكار ورته وويل چي: "ورسه، رائې وله". نوكر ولاړ او د ها خوا ئې مينځه ورسره راوستله. د ابوالحسن انډېوال چي مينځی ته وكتل، په نظر ئې ډېره شوخه وظريفه ورغلله.مينځه راوړاندي سوه، علي بن بكار ته ئې سلام واچاوه .... كيسه چي دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او شپېتمه شپه

شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

مینځه چي راغله، خپل بیان ئې وکړ او بیرته ئې رخصت واخیست، ولاړه. دې سړي، چي د ابوالحسن انډیوال او له علي بن بکار سره ناست وو، د مرغلرو و غمیانو د پلورلو دوکان کاوه او پېشه ئې زرګري وه. مینځه چي ولاړه، دې سړي میدان خالي ولید، علي بن بکار ته رانزدې سو او ورته وې ویل چي: "ما ته داسي وایسېده چي ستا هم پر دارالخلافه پیسې باندي دي او ستا و د هغو تر منځ کومه معامله سته".

علي بن بکار ورته وویل چي د څه له رویه دا خبري کوې؟ سړي ورته وویل چي زه دا نجلۍ پېژنم، دا د شمس النهار مینځه ده. څه وخت پخوا ما ته راغله او یوه رقعه ئې راته راوړه. د شمس النهار له پاره ئې د سرو زرو و جواهراتو امېل غوښت. ما یو خورا اصیل او قیمتي امېل ورواستاوه. علي بن بکار چي دا واورېده، سره واسرنګی او وارخطا سو، د مرګ خطر ئې احساس کړ. خو ځان ئې ګول واچاوه او څه ئې و نه ویل. زرګر ته ئې وویل چي: "ته و خدای که به رشتیا نه وایې، ته شمس النهار څرنګه پېژنې؟" زرګر ورته وویل چي زما څخه مه بېربړه. خپل پټ راز دي راته ووایه. د ناجوړۍ سبب دي زما څخه مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټوه.

آبس، علي بن بکار خپل ټول داستان ورته ووايه او پر زياته ئې کړه چي: "وروره! په هغه خدای مي دي قسم وي چي زه و ته ئې دواړه پيدا کړي يو چي د خپل راز له پټېدو څخه مي بل مطلب نسته. بېربېرم، وام مخلوق شيطان دئ. خلک په خولو کي سست دي. پټ راز نه سي ساتلای. د دوستۍ و د نمک پاس نه لري".

زرگر ورته وويل زه خو چي تا ته راغلم، له ډېر گرانښت له اسيته درته راغلم. ته راباندي گران يې. غوښتل مي چي د ابوالحسن د سفر په شپو کي ستا سره مرستندوی سم. ته راسره د زړه خواله وکړې او د ميني غم به دي راسره سوړ سي. ته اوس هيڅ سودا مه دراچوه او زما څخه مه ډارېږه.

علي بن بکار ډېري دوعاوي ورته وکړې او مننه ئې ځني وکړه. بيا ئې نو دا بيتونه وويل:

زړه مـــي راتـــه لـــړ دئ، غمـــازاني مـــي دا اوښـــکي دي
نـــې ســـمه ســـاتلای، عاشـــقان خـــو خواربوښـــکي دي
ډار مـــي لـــه عالَمـــه، د چـــا پـــټ هـــيڅ پـــه خونـــدي نـــه دئ
ټوله سورۍ کوزې دي، سورۍ ئې غاړې سورۍ ئې چوښکي دي

تر دې بيتو وروسته نو علي بن بکار زرگر ته وويل چي ته نه سوې پوه چي دې مينځي ما ته پټ څه وويل؟ هغه ورته وويل چي قسم په خدای که به په هيڅ پوه سوی يم. علي بن بکار ورته وويل چي د دوی دا خيال دئ چي ابوالحسن زما په اشاره و سلا بصرې ته سفر کړی دئ او زه غواړم چي دا خط و پيغام دي زموږ تر منځ نه وي. ما چي هر څه قرآنونه ورته وډبول چي والله که مي په درې سوه شپېتو رگو کي يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



رگ لا د ده په سفر آگاه وو، خو دې نه ومنله او زما پر قسمونو ئې باور نه کاوه او له هماغه بدگومانه سره بې بې ته ولاړه. دا مینځه کورخرا پې پر ابوالحسن باندي مینه وه. زرگر ورته وویل چي وروره! انشاء الله وتعالی، ټول کارونه به سم سي او زه ستا سره مرسته کوم چي ته خپل مقصد ته ورسیږې. علي بن بکار ورته وویل چي اوس له دې توربدلي هوسۍ سره څه وکړم؟ دا خو زما څخه تور خوري او تښتي. زرگر ورته وویل چي یوه چاره به ورته وسنجوو او بې له دې چي پرده دي پورته سي او راز دي رسوا سي او یا دي تا ته کوم تاوان ورسیږي، یو چل به ورته جوړ کړو.

باره نو زرگرولاړ سو، رخصت ئې واخیست. علي بن بکار تر دروازې پوري ناري پسي وهلې چي: "وروره! د خدای و رسول روی مي درووړی دئ چي دا خبري دي چا ته تر خوله راونه وزي". زرگر چي ده ته وکتله، په سترگو کې اوښکي ډنډ سوې او ځني رخصت سو.... کیسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالـوتی روڼا سوه

د شهرزادي کیسه پاته ترسبا سوه

# یو سل او یو شپېتمه شپه

شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

زرگر چي له علي بن بکار څخه رارخصت سو. پر لاري چورت اخیستی وو. سر ئې ځړولی وو او د علي بن بکار په کار کي ئې فکر کاوه چي ناڅاپه ئې سترگي پر یوه کاغذه ونښتې چي پر مځکه پروت دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کاغذ ئې را پورته کړ. سرليک ئې ولووست، په پوه سو چې د يوه دوست له خوا کوم بل دوست ته ليکل سوی دئ. د پاڼې پر سر باندې دا بيتونه ليکل سوي ول:**

گرانه ولي مې په اور کې کړوې
دا څه پېښنه؟ چې مخ نه رااړوې
زما خو پښنه ده لا د عشق په لومه بنده
له مجلسه مې پر څه محروموې
آخر زه خو نه پردی يم نه بې مِهره
د بېلتون په داغ مې ولې داغوې

**تر دې بيتو وروسته ئې داسې ليکلي ول:**

**اې خواجه! د ليک او پيغام د څنډ سبب دې نه رامعلومېږي. که دې د جفا خيال په سر کې وي، زه ئې په پاداش کې وفا درلېږم. که دې په مينه کې کمښت راغلی وي، زما محبت خو خدايږو څو چنده زيات سوی دئ.**

ستا په سر مې دې قسم وي چې زما مينه پخوانۍ ده
خير که تا لاس رانه واخيست زما دوستي خو سکنۍ ده

**زرگر لا خط تر پايه لوستلی نه وو، چې نابيره مينځه راښکاره سوه. تلولۍ تلولۍ کېدله، شاوخوا ئې کتله او د کوم شي په لټه کې وه. د زرگر په لاس کې چې ئې خط وليد، سمدستي ئې ورته وويل چې: "ښاغلې! دا خط زما څخه پر لاري لوېدلی وو". زرگر جواب ور نه کړ او څني رهي سو. مينځه سمه په پسې سوه او بيا ئې ورته وويل: "گوره، ښاغلې! زما خط بيرته راکه. هغه زما څخه ولوېدی". زرگر مخ پر راواړاوه او ورته وې ويل: "آنجلۍ! بېرېږه مه او وارخطاکېږه هم مه. د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



رشتیا خبره راته وکړه او په حال مي خبر کړه. زه د چا راز نه رسوا کوم او په خوله کي هم سست نه یم. د خپلي بي بي په کار کي دي زما څخه مه ډارېږه. زه هم د هغې د ارزوګانو د پوره کولو په لټه کي یم. زما په لاس د هغې مشکلات حل کېدلای سي".

مینځي چي د زرګر خبري واورېدې، نو ئې ورته وویل چي خدای دي وکړي چي دا راز چي اوس به ئې درته بیان کړم، زما و ستا په منځ کي پاته سي او رسوا نه سي. دا کار چي ته ئې په لټه کي یې، دا به هم زما په خیال روا کار وي. زما خو پر تا باندي ناټ کښېنستی او د حقیقت خبره به درته وکړم. آبس ټوله کیسه ئې له سره تر نوکه پوري ټکي په ټکي ورته وکړه.

زرګر ورته وویل چي بالکل دي رشتیا وویل. زه هم په دې کیسه خبر یم. بیا نو زرګر هغه څه ورته بیان کړل چي د ده او علي بن بکار تر منځ پېښ سوي ول. نجلۍ چي دا واورېدل، ډېره خوشاله سوه. د دواړو سلا پر دې خبره راغله چي خط باید علي بن بکار ته وروښوول سي او هغه چي هر راز جواب ورکړ، دمخه تر دې چي بي بي ته ئې ورسوي، اول باید زرګر په خبر کړي. آبس، تا ته دي وویل سي، د نکل کار دئ. مینځي له زرګر څخه خط راواخیستی، مهر ئې پر ولګاوه او وې ویل چي دا مهر مي له دې اسیته پر ولګاوه چي زما بي بي خط همداسي سربسته راکړی وو. خط ئې په یوه دوړدنګ علي بن بکار ته ورووړ. هغه هم د دغه شان لیک په انتظار وو. چابک چابک ئې ولووست، باره ئې قلم و کاغذ راواخیست او جواب ئې ورته وکیښ او د مینځي په لاس ئې ورکړ. مینځي خط راواخیست او لمغوټې زرګر ته راغله. زرګر چي خط خلاص کړ، پکښې لیکل سوي وه چي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنځ مي دئ د ميني علاجونه اساسي غواړي
ورک سه اې طبيبه! زما درمان نوره پوهي غواړي
نه دئ د ښوولو، نې په خوله بيانولای سم
زما د ژوند کيسه يو لوی دفتر و لوی منشي غواړي
نه سي ږغولای هر ناپوهه د هجران نغمه
دا حزين مقام دئ، حنجره داودي غواړي
ته دي راسره يې، ستا له مهره ډک کاته دي وي
زما ماشوم زړګی دا ستا د غېږي ارامي غواړي

بيا ئې نو ورته کښلي وه چي نه د جفا خيال لرم، نه مي وفا خوشي کړې ده، نه له خپله قوله اوښتی يم، نه مي دوستي شلولې ده، نه مي يو ګړی د بېلتانه درد ارام سوی دئ، نه مي له طلبه لاس اخيستی دئ. څه چي ستا ارزو ده، زما دا هم هماغه ده. قسم مي دي په خالق لايزال وي چي ستا له وصاله پرته بله ارزو نه لرم. که د دنيا ټول رنځونه را پوري هم سي، بيا به هم ستا مينه په زړه کي پټه ساتم.

ګراني هجر دي تر مرګه رسولی
انتظار دي خورا ډېر دئ غمېدلی
ستا له ميني به لاس وانه خلم هيڅکله
سرښندل مي په دې لاره کي منلی

زما حال و احوال دغه وو چي درته ومي کيښ. والسلام.

زرګر چي دا خط ولووست، تر سترګو ئې اوښکي راغلې. خط ئې مينځي ته په لاس ورکړ. مينځي ورته وويل چي ته له ځايه مه ښوره. زه دا خط وړم او چټکه بيرته راځم. زه غواړم په هر چم چي وي، تا او زما بي بي شمس النهار يو وار سره مخامخ کړم. مينځه رهي سوه او زرګر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه ښه په پوره زړه تېره کړه. سهار چي را پورته سو، لمونځ ئې وکړ او د نجلۍ په انتظار کښېنوست. يو غوړپ چاى ئې لا نه وې چښلي چي دا دئ، مينځه په خندا وخوشالۍ راورسېده.

زرگر د حال پوښتنه ځني وکړه. دې ورته وويل: زه چي ستا څخه ولاړم. بي بي ته مي د علي بن بکار خط ورووړ. هغې خط خلاص کړ او وئې لووست په مضمون ئې پوه سوه. د ابوالحسن په تگ ئې ډېره خوابده سوه. ما ورته وويل چي: "اې زما بي بي! د ابوالحسن په تگ مه خپه کېږه او د ده تگ پر ځان مه درنوه او مه ئې پر بده راااړوه. ما تر هغه بل ښه څوک وموند. هم د پلار و نيکه سړی دئ او هم د زړه راز پټولاى سي". بيا مي نو چي ستا و ابوالحسن تر منځ هر څه پېښ سوي ول هغه مي ټول ورته بيان کړل. ستا د علي بن بکار په ليدنه کتنه مي هم خبره کړه. دا مي هم ورته وويل چي څرنگه زما څخه خط پر لاري ورک سوی وو. اوس زما بي بي ته ستا د ليدو خيال ورپيدا سوی دئ او غواړي چي درسره وگوري. نو اوس دخيره سره، راځه چي بي بي ته ولاړ سو.

زرگر چي دمينځې خبري واورېدې، اريانۍ واخيست او پوه سو، چي شمس الهنار ته تگ خو نو مسخرې نه دي او دا کار هم ډېر غټ کار دئ او هم له خطره ډک کار. مينځې ته ئې وويل چي زه خو خوار عاجزه سړی يم. ته نو ما و ابوالحسن مه سره برابروه. هغه خو غښتلی و مشهور سړی وو. دربار ته ئې لار درلوده او د دربارخلک ورته اړ هم ول. د ابوالحسن دونه درنه ستاره وه چي ما به هر وخت خبري ورسره کولې، له بېري به لکه پاڼه داسي لړزېدم. که ستا بي بي غواړي چي له ما سره وگوري، نو بايد د خليفه تر ماڼۍ دباندي راسره وگوري. زه خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلیفه ماڼۍ ته د ورتګ طاقت و جرئت نه لرم.

څه سر دي پرله ګرزوم، زرګر د خلیفه له ماڼۍ څخه پر شا ټالۍ وهي او مینځه ئې بیا ورته تشویقوي او ورته وایي چي هیڅ خبره نه ده، مه بېرېږه. خو زرګر چي ماڼۍ ته د تګ خبره واوري، پښې ئې سستي سي او په لړزېدو سي. مینځې چي د زرګر دا حال ولید، آخر ئې ورته وویل: "آښه دئ، که تا ته د خلیفه د ماڼۍ تګ مشکل وي، زه به بي بي تا ته دلې راولم. ته له ځایه مه ښوره. زه دا یم ولاړم".

آبس، مینځه په ځغستا ووتله. چي مخ دي راااړاوه، بیرته راغله او له زرګر څخه ئې پوښتنه وکړه چي ستا په کورکي خو به بل کوم څوک، مینځه یا مریی نه وي؟ زرګر ورته وویل چي زموږ په کور کي خو له دې یوې تورپوستي سپین سري مینځې پرته بل څوک نسته. آبس، د شمس النهار مینځه ورغله او دا سپین سرې تورۍ مینځه ئې په یوه علیحده خونه کي کښېنوله او دروازه ئې پسي راوتړله. بیا نو دباندي ووتله او له ها خوا ئې شمس النهار ورسره راوستله. چي کتل دي، کور د ګلابو او سنجدو د عطرونو بوی پر سر واخیست. زرګر چي دا ولیدله، ورته ولاړ سو. شمس النهارکښېنستله. یو آن پټه خوله ناسته وه. څه ئې نه ویل. چي لږ څه ئې ساه واچوله. پوړنی ئې له مخه ایسته کړ. زرګر چي ویل د لمر شوغلې ئې کورته راولوېدې.

باره نوشمس النهار له خپلي مینځې څخه پوښتنه وکړه چي: "تا چي ما ته ویلي ول، هغه سړی همدا دئ؟" مینځې ورته وویل: "بلې! همدا دئ". بیا نو شمس النهار زرګر ته مخ ورواړاوه، د جوړوناجوړ، د حال و احوال، د کاروبار پوښتنه ئې ځني وکړه. زرګر لاسونه پر سر ورته ونیول او د دې د سر د سلامتۍ دوعا ئې وکړه. شمس النهار ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وويل چي زه دي مجبوره کړم چي نن تا ته راسم او خپل د زړه پټ راز درته ووايم. بيا نو شمس النهار له زرگر څخه وپوښتل چي دی څرنگه د دې او د علي بن بکار په کيسه خبر سوی وو. زرگرهم له سره تر پايه ټول بيان ورته وکړ.**

**شمس النهار د ابوالحسن د سفر له خاطره خوابدې سوه او زرگر ته ئې وويل چي: "گوره، سړی اکا! د مومنانو زړونه لکه هينداره داسي دي، د انسانانو تر منځ مينه و الفت هرومرو سته. هيڅ کار بې گفتاره نه کېږي او هر مشکل په تلاښ سره حل کېدلای سي..." .... کيسه چي دې ځای ته ورسېده ...**

د سهار شمال را والوتی روڼا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او دوشپېتمه شپه

**شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:**

**شمس النهار زرگر ته وويل چي: بې زحمته راحت نسته او چي درومې څه به مومې. خپل مقصد ته به مېړني خلک رسېږي. ما تا ته خپل حال ووايه. اوس نو زموږ د حال رسوا کول او خوندي ساتل ستا په لاس کي دي.ته پوهېږې چي دغه نجلۍ زما په پټ راز راسره شريکه ده. دغه سبب دئ چي دا زما په نزد ډېر لوړ مقام او منزلت لري. زما ډېر مخصوص کارونه د دې پر لاس سر ته رسېږي. ته هم د دې قدر کوه او خپل راز دي ورته وايه. نور په شي کي ری مه وهه. بېره و ډار دي له زړه وباسه. هر مشکل کار چي دي وي، دغي نجلۍ ته ئې وايه،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا به دي هر مشکل درحلوي. دې نجلۍ که تا ته د علي بن بکار هر حال راووړ. ته به زما و د دې تر منځ واسطه يې. باره نو شمس النهار ولاړه سوه او له کوره ووتله. زرگر تر يوه ځايه پوري د دې په مخ کي روان وو. آخر زرگر بيرته کور ته راغی او پر خپل ځای کښېنوست. منگر د دې د جمال و ښايست، قد و اندام، شېريني ژبې او خوږ بيان ته ئې گوته په غاښ کي نيولې وه او د دې ښو کړو وړو ته په فکر کي ډوب تللی وو. يو آن چي ئې دمه وکړه. بيا ئې نو د خورک شی مې راوغوښت. ځان ئې موړ کړ. جامې ئې اليشي کړې. له کوره راووت او د علي بن بکار کره ولاړ. علي بن بکار د ناروغۍ په کټ کي پروت وو. دی چي ئې وليد، ځني وې پوښتل چي: "ولي وځنډېدې؟ زما سودا دربنده سوه". باره ئې نوکرانو ته اشاره وکړه، هغوی ووتل او د خوني دروازه ئې پسي وتړله. بيا ئې نو زرگر ته وويل چي له هغي ورځي راهيسي چي ته تللی يې، پر ما باندي د شي شخکه نارو١. نه مي شی تر ستوني تېر سوی دئ او نه مي سترگه سره وروړې ده. زه دې خپل ځان ته داسي اريان تللی يم. صبر و ارام راڅخه تللی دئ. ابوالحسن لا ښه وو، يو د زړه خواله به مي ورسره کوله. مينځه ئې هم پېژندله ... زرگر چي د ده خبري واورېدې، وې خندل. ابن بکار ته ده پر خندا باندي زړه لړ سو، تر سترگو ئې اوښکي راغلې او دا بيتونه ئې زمزمه کړل:

زه د زړه له تپه ژاړم په فرياد يم
دی د مستي خپځي خاندي لا د لاسه
ملامت نه دئ په درد مي خبر نه دئ
چي زه څو مره يم بې وزله بې مواسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرگر چي د ابن بکار ژړا و فریاد لید، خپله ئې هم زړه ورته ډک سو او هغه څه چي د ده او د مینځي تر منځ تېر سوي ول، ټول ئې ورته بیان کړل. ابن بکار هم ټینګ غوږ ورته نیولی وو. د زرگر هره خبره چي به ئې اورېدله، په مخ کي به ئې کله سرخي پیدا سوه او کله به تک ژیړ واوښت. زرگر چي خپل بیان بشپړ کړ، ابن بکار ورته وژړل او وې ویل: "اې وروره! زما آن تمام دئ. کشکي مي روح له بدنه وتلی وای. خو په هر صورت، ستا څخه هیله لرم چي پر ما زړه وسوځې. زه به هم ستا له خبري نه اوړم".

زرگر ورته وویل چي ستا د زړگي اور تر هغو پوري نه سړېږي، تر څو چي خپله معشوقه و نه وینې. خو په دې کور کي ستا و د هغې کتل ممکن نه دي. دا کار باید زموږ د کور د څنګ په کور کي تر سره سي. زما مقصد دا دئ چي تاسي دوه باید سره یو ځای سئ او خپل د رنځ و درد، میني و عشق بیان پخپله یو او بل ته وکړئ.

علي ابن بکار ورته وویل چي ته په کار ښه پوهېږې. هر رنګه چي دي خوښه وي هغسي وکړه. زرگر وایي چي هغه شپه ئې له ابن بکار سره تېره کړه. ټوله شپه ئې تر سهاره د عاشقانو او مینانو نکلونه ورته وکړه.... کیسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال را والوتی روښا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او دري شپېتمه شپه

شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرگر وايي چې هغه شپه له علي بن بکار سره پاته سوم تر سهاره مې له يوې خوا و بلې خبرې ورته وکړې. سهار چې مې په خړه لمونځ وکړ، له کوره ئې راووتم او خپل کور ته راغلم. يوآن چې وسو، مينځه راغله. تر سلام و تر عليک وروسته مې د برايې شپې حال چې زما و علي بن بکار تر منځ تېر سوی وو، ټول مې ورته بيان کړ. مينځې وويل چې خليفه نن شپه د بي بي له کوره وتلی دئ او زموږ ځای ښه د امن و د مجلس ځای دئ. زرگر وايي چې ما ورته وويل: "ستا خبره خو بيخي سهي ده، منگر زما کور تر هغه مناسب بولم".

مينځی وويل چې زه به بي بي ته دا حال يوسم چې هغه څه وايي؟ آبس، مينځه ولاړه او بي بي ته ئې حال وواېه. ژر بيرته راغله او راته وې ويل چې: "بي بي ستا خبره ومنله". بيا نو مينځې د زرو يوه کڅوړه راوايستله او ما ته ئې وويل چې بي بي ول زما سلامونه به وروړسوې او دا زر به ورکړې چې د ماښام پر مېلمستيا ئې ولگوي.

زرگر وايي چې ما ورته وويل چې: "دا پيسې پر ما داسې دي لکه د طوا ټکی. يوه نيمکه لا والله که ځني واخلم. زه مېلمستيا پخپلو پيسو درته کوم".

مينځې کڅوړه واخيستله او ولاړه. دا چې له کوره ووتله، زه د گاونډي کور ته ورغلم. فرش مرش و لوښي موښي سامان مامان مې وروړل. ښه ښه د سپينو زرو او چيني لوښي مې مېلمستيا ته برابر کړل. نور د خورک و د چښنگ هر څه مې تيار کښېښوول. مينځه چې د هغې خوا راغله او زما سنجه سرښته ئې وليدله، گوته ئې په غاښ کي ونيوله. ما ته ئې وويل چې اوس نو علي بن بکار راوله. ما ورته وويل چې: "دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار بې تا نه کېږي".

آبس، مينځه په علي بن بکار پسي ولاړه او هغه ئې راووست. علي بن بکار چې راغی. زه ئې ښه راغلاست ته ورولاړ سوم. تر لاس مي ونيوی او پر هغه مناسب ځای مي کښېناوه. د ريحانو شربت مي په بلوري گيلاسو کي ورته کښېښوول. رقم په رقم عطرونه مي پر وپاشل. موږ خپل مجلس کاوه او مينځه ولاړه. د ماښام تر لمانځه وروسته له شمس النهار او دوو نورو مينځيانو سره يوځای راغله. شمس النهار چې علي بن بکار وليد او بن بکار بيا دا وليدله، دواړه بېهوښه راواوښتل. يو آن وروسته چې پر هوښ راغلل، باره سره کښېنستل، مجلس ئې شرو کړ. يو بل ته ئې د ميني او محبت خبري وکړې. په دې وخت کي ما ورته وويل چې ډوډۍ خو تياره ده، که اشتها وي چې حاضره ئې کړو. دوی ول سمه ده.

آبس ما سترخانونه هوار کړل، غوريگان مي پر واوډل. ډوډۍ چې ئې وخوړه، لاسونه ئې پرېولل، بيا مي نو بلي خوني ته د مينوشۍ له پاره بوتلل. هورې ئې ځانونه ښه له سده وايستل. شمس النهار ما ته مخ راواړاوه او وې ويل چې تا خو له موږ سره ډېر احسان وکړ. باره ئې زما څخه د رباب غوښتنه وکړه. دستي مي رباب و عود ورته حاضر کړل. دې رباب غېږي ته کړ، شاباز ئې ورواخيست، تارونه ئې وروپېچل او له رباب سره ئې دا بيتونه وويل:

دا څه نېک ساعت دئ چي مي يار راسره مل دئ
ليري له رقيبه په خلوت کي جوړ محفل دئ
گل دئ، تازه گي ده، شين چمن، يخ شمالونه دي
شور دئ د مستيو ښاخ پر ښاخ ريز د بلبل دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن دئ، ښایست دئ، سکونت دئ، مجلسونه
دا فال مي پر نېک شگون نیولی له اول دئ

د دې بیتو په اورېدلو سره د تحسینو او مرحباوو اوازونه بې اختیاره له خولو ووتل. نژدې وو چي مجلس له خوشالۍ څخه پر نڅا راسي. بیا نویوې بلي نجلۍ رباب ته لاس کړ او دا بیتونه ئې وویل:

چي له گل سره مي مل په لاس کي جام دئ
"نن او رنگ د زماني زما غلام دئ"
د کوثر چینې راماتي پر دې مځکه
د اِرم د شاپیریو دا مقام دئ
پاچهي خویو تشهیر دئ د څو ورځو
د عاشق شهرت همېش علی الدوام دئ
د زوال مخ دې خدای نه رابانديوینې
تخت و بخت د سکندر نن زما پر نام دئ

زرگر وایي چي نور نو ما دوی هورې پرېښوول چي خپل عیش و نوش کوي. زه یو بل کور ته ولاړم او تر سهاره بیده وم. سهار چي راپاڅېدم. لمونځ و اودس مي وکړ. چای مي وڅکلې او غوښتل مي چي دوی ته ورسم چي یوه گاونډي ږغ راباندي وکړ،ول: "دا برايي ستاسي کره څه لگه درگه وه؟" ماورته وویل چي: "ولي خیر کړې، څه پېښه ده؟" ده راته وویل چي: "کور دې غلو وهلی دئ او مېلمانه چي دې وه، هغه ئې ټول وژلي دي".

زرگر وایي، دا چې راته وویل، بالا مي زړه تر تلو ولوېد، ستوني مي وچ سو. له دغه گاونډي سره هغه ځای ته ورغلم . چي گورم، کور پر دا بله رااوښتی دئ. غالۍ، فرشونه، ظرفونه، چینیان، نیالۍ، بالښتان،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلتکونه، هست و نېست ئې ټول وړي دي او پرکور ئې لاس تېر کړی دئ. غلو چي پرون زه ليدلی وم چي دې کور ته سامانونه راچلوم، باره ئې د غلا نخشه جوړه کړې ده.

گاونډي ته مي وويل چي سامان دي په اور پسې سي، که څه هم له بل څخه مي غوښتي ول،ځکه که د مالونوخښتن په دې پوه سي چي کور غلو وهلی دئ، زما عذر به ومني. انديښنه و بېره مي د علي بن بکار و شمس النهار و خليفه له اسيته ده. بېربېړم چي د دوی حال رسوايي ته راونه وزي او تر منځ به زما سر پکښې چټ سي. باره مي گاونډي ته وويل چي ته مي لکه ورور داسي يې، يوه لار وليکه راوښيه، څه وکړم؟ گاونډي راته وويل چي زما خو داسي خوښه ده چي ته صبر وکړه. دغه غله چي ستا کور ئې وهلی دئ، دوی د دارالخلافې يو څو کسان هم پخوا وژلي دي. په وژل سوو کسانو کي د کوټوال د کور يو سړی هم سته. د کوټوالۍ سپايان اوس په دوی پسي گرزي. ښايي گير ئې کړي. دوی چې ونيول، ستا مقصد به هم تر سره سي او ناره به دي خدای واوري.

زرگر د گاونډي مشوره خوښه کړه او کور ته ولاړ.... کيسه چي دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه

د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او څلور شپېتمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرګر چې د ګاونډي مشوره واورېدله، خوښه ئې سوه. کور ته ولاړ او له ځانه سره ئې وويل: ابوالحسن له دغه شان واقعې څخه په بېره کي وو چې ما ته پېښه سوه. دی له دغي بېري بصرې ته روان سو او پر هغه بلا باندي زه واوښتم چي دی ځني وتښتېد. د زرګر د کور د وهلو خبر ورو ورو په خلکو کي تيت سو او ټول په خبر سول. د ده کور ته خلک رامات سول. چا به ډاډګېرنه ورکوله او چا به ملامتاوه. زرګر له ډېري خواشينۍ څخه له څکي ولوېد. يوه ورځ په کور کي خواشينی ناست دئ چي يوه نوکر ئې ورته وويل چي يو څوک په دروازه کي ولاړ دئ، زه ئې نه پېژنم خو دی غواړي چي ستا سره ووينې. زرګر ورووتی. سلام وعليک ئې سره وکړ خو وئې نه پېژندی.

دې سړي زرګر ته وويل چي يو پټ کار درسره لرم. زرګر کور ته دننه راووست او د کار پوښتنه ئې ځني وکړه. سړي ورته وويل چي ستا ټول شيان زما سره پراته دي او زما سره يوه پټه خبره هم سته چي ستا دا ټوله خواشيني درڅخه ليري کولای سي. خو دا خبره دلته نه سم درته کولای او بايد يو بل ځای ته ولاړ سو.

زرګر وايي چي دې سړي له دې کوره هغه کور ته، له دې ځايه هغه بل ځای ته بېولم او په دې کي شپه راباندي راغله. ما له ده څخه هيڅ پوښتنه نه کوله او بس په پسې وم څو د دجلې رود ته ورسېدو. هورې ئې يوه کښتۍ راوغوښتله او پکښې سپاره سولو او د دجلې ها بلي غاړي ته واوښتلو. له کښتۍ څخه راتا سولو او سړي تر لاس ونيولم او په يوه کوڅه ئې ننه ايستلم. دا کوڅه ما په ټول ژوند نه وه ليدلې.

آبس، سړی د يوه کور و دروازې ته ودرېدی. دروازه ئې خلاصه کړه. زه ئې کور ته دننه بوتلم او د کور دروازې ته ئې غټ د اوسپني

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولپ ورواچاوه. زه ئې تر یو څو دهلېزونو تېر کړم او یو ځای ته ئې ورسولم چې لس تنه پکښې ناست ول. دا لس تنه په رنګ کې داسې سره ورته ول چې تا به ویل سره ورونه دي. دې زما ملګري هغوی ته سلام واچاوه، هغوی ئې سلام بیا کړ او ما ته ئې د کښېنستلو اجازه وکړه. زه کښېنستلم او له ډېرې ستړیا څخه د سترګو د اړولو نه وم. آخر بېهوښه سوم. دې خلکو د ګلابو عطر راباندې وپاشل. چې پر هوښ راغلم، د خورک و چښنګ شیان ئې راته راوړل. هغه چې مې وخوړل، لاس ماس مو پرېولی او هر یو بیرته پر خپل ځای کښېنستلو.

دې خلکو زما څخه وپوښتل چې: "آیا موږ پېژنې". ما په جواب کې ورته وویل: "یئه، والله کې مې پخپل عمر تاسې لیدلې یاست او دغه سړی چې زه ئې دلته راوستلی یم، هم نه پېژنم". دوی راته وویل چې خپل حال دې راته ووایه او ګوره، رشتیا به راته وایې. ما ورته وویل چې زما یو عجیب و غریب حال دئ. آیا تاسې زما په کاروبار خبریاست؟

دوی ول، هو! موږ هغه خلک یو چې ستا مالونه مو وړي دي او ستا اشنا او هغه نجلۍ چې غزلې ئې ویلې، هغوی مو هم دلته راوستلي دي. څرنګه چې هغوی په نظر معتبره خلک راغلل نو مو له ځانه سره وساتل.

زرګر وایي چې ما ځني وپوښتل چې زما اشنا او دا نجلۍ اوس چیرې دي؟ دوی د خوني پستو ته اشاره وکړه، ول هلته ناست دي او زیاته ئې کړه چې: "ګوره، وروره! په خدای قسم دئ چې تر ننه پورې په موږ کې هیڅ یوه دا حال چا ته نه دئ ویلی. نه مو له دوی څخه د حال پوښتنه کړې ده او نه مو بل چا ته د دوی حال ویلی دئ. دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبب دئ چي دوی مو تر اوسه پوري وژلي نه دي. اوس ته د دوی اصلي حال راته ووایه.

زرگر وایي، دا خبري چي مي واورېدې، نزدې وو چي له ډاره مي نفس وخېژي. هغوی ته مي د غوړه مالۍ په خاطر وویل چي تر تاسي مېړني خو خدای پر دا څلور کونجه دنیا نه دي پیدا کړي او زه چي حقیقت تاسي ته و نه وایم، نو چا ته به ئې وایم. دوی ته مي دغه شان غوړي غوړي خبري کولې او آخر مي له ځانه سره وویله چي له رشتیا ویلو پرته بله لار نسته. باره مي ټول بیان ټکي په ټکي ورته وکړ. دوی چي کیسه ټوله واورېدله، باره ئې علي بن بکار او شمس النهار راته حاضر کړل، ول دا ئې ته دا ئې علي بن بکار او شمس النهار. دغه راز ئې راته وویل د مالو څخه یو څه ورڅخه تلف سوي دي او د هغو له بابته ئې بخښنه وغوښتله.

ما ته ئې خپل پاته مالونه راکړل خو راته وې ویل چي هغه نور به موږ پخپله کورته دروړو. آبس، موږ له کوره راووتو. علي بن بکار او شمس النهار ته چي مي وکتل، دواړه لکه د مړي کالبوتونه داسي سوي ول. زه ورنزدې سوم، سلام مې ورواچاوه او د مینځیانو پوښتنه مي ځني وکړه. دوی راته وویل چي د هغو حال نه لرو او نه یو خبر چي چیري دي؟

آبس، ټوله رارهي سولو څو د کښتۍ ځای ته راورسېدلو. یوه کښتۍ مو راوغوښتله، پکښې راسپاره سولو او د دجلې دا بلي غاړي ته راواوښتلو. موږ چي له کښتۍ څخه راکښته سولو، سمدستي نور سپاره کسان راغلل او په کښتۍ کي کښېنستل او کښتۍ چي مخ دي رااړاوه، له سترگو نیهامه سوه. موږ هلته ناست وو او له سترېیا و خواشینۍ څخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښور نه وو چي يو څو تنه سپاره راښکاره سول او زموږ څخه ئې پوښتنه وکړه چي: "تاسي څوک ياست؟"

په جواب کې موږ اريان پاته سولو چي څه ورته ووايو. باره مو ورته وويل چي موږ له دغو خلکو سره، چي کښتۍ ئې بوتله، راغلي وو. موږ غزلچيان او سندرغاړي يو. سپرو راته وکتل او راته وې ويل چي دا خو مو زړه ته نه لوېږي، اصلي حقيقت راته ووايا ست چي تاسي څوک ياست؟ د کومي کوڅې اوسېدونکي ياست؟

زرگر وايي چي زه پوه نه سوم چي شمس النهار د سپرو مشر ته څه وويل، چي سمدلاسه هغه له آسه راکښته سو او دا ئې پر آس سپره کړه د آس جلو ئې په لاس کي ونيو او تر آس دمخه رهي سو. علي بن بکار او زه ئې هم پر اسانو سپاره کړو او د دجلې پر غاړه ئې د کښتۍ والانو مشر ته راوستلو. ږغ ئې وروکړ، د هغې خوا يوه ډله راغله او کښتۍ ئې راوستله موږ ئې پکښې کښېنولو او تر دارالخلافې پوري ئې راوستلو. موږ داسي وارخطا يو چي مرگ مو سمدم په سترگو ليدی. له کښتۍ چي راتا سوو، د کښتۍ والانو مشر شمس النهار ماڼۍ ته بوتله او څو تنه ئې زموږ سره د علي بن بکار تر کوره پوري په بدرگه ملگري کړل. موږ چي کورته راورسېدو، دوی رخصت راڅخه واخيست او پر خپله تړه ولاړل. موږ په کور کي داسي له اخه و له ټوخه لوېدلي وو، داسي ډارېدلي وو چي نه په ورځ پوهېدو نه په شپه. شپه چي راغله، علي بن بکار بېهوښه سو. نر و ښځو باندي ژړل. دی خوار لکه مړی داسي خوړي بوړي پروت وو. يو څو تنه خپلوان ئې پر ما راتاو سول او راڅخه وئې غوښتل چي هر څه چي پر دا هلک راغلي دي، ورته بيان ئې کړم.

ما ورته وويل چي: "گوروئ، عزيزانو! ما بد نه دي کړي او تاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هم بد مه راسره کوئ"..... کیسه چي دې ځای ته ورسېده ...**

د سهار شمال راوالوتی رونا سوه

د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او پنځه شپېتمه شپه

**شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:**

**زرگر دې خلکو ته وویل چي په ما کار مه لرئ. یو گړی صبر وکړئ چي دا هلک پر هوښ راسي، خپله کیسه به پخپله درته وکړي. زرگر وايي چي بیا مي نو دوی له رسوایۍ څخه وډارول او یو څه سختي خبري مي ورته وکړې. موږ په همدې شخړه کي وو چي علي بن بکار یو څه سره وښورېدی. خپلوان ئې خوشاله سول او د گلاب عطر ئې سږمو ته ورته ونیول څو پر هوښ راغی. غوښتل ئې چي خبري وکړي خو له وسه ئې پوره نه ول.**

**ما غوښتل چي له کوره ووزم خو د علي بن بکار خپلوانو نه پرېښوولم. بن بکار هغوی ته په اشاره وویل چي پرې مي ږدي. باره زه د دوی له کوره راووتلم او خپل کور ته راغلم. کور چي خپلوانو ولیدلم پر مخونو ئې چپلاخي (څاپېړي) راوگرځولې. ما په لاس اشاره ورته وکړه . هغوی هم چوپ سول. زه نو نور د ښور نه وم، پر خپل کټ وغځېدم او تر بیا غرمې پوري له ځانه ناخبره پروت وم.**

**سبا غرمه چي مي سترگي رونې کړې، اولادونه و کوروالا مي راته ولاړ دي. دوی زما د حال پوښتنه وکړه چي دا څه درپېښه سوه په څه بلا اخته سوې؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وویل چي تاسي یو څه د چښنګ شی می راکړئ. هغه چي ځې راوړل او ومي چښل، لږ څه مي توان په وسو. بیا مي د غلا سوو مالو پوښتنه ځني وکړه. هغوی راته وویل چي پرون یو چا یو څه شیان راوړي ول او د کور مخ ته ئې ایښي ول. سړی مو پخپله نه دئ لیدلی خو شیان پراته ول.

زما زړه یو څه پر ارامه سو. دوې ورځې له کوره و نه وتلم. ټوله ورځ به پروت وم. د ولاړېدو شمه راپکښې نه وه. دوې ورځې وروسته چي مي په پښو کي څه سېک پیدا سو، باره حمام ته ولاړم. فکر مي په شمس النهار او علي بن بکار بند وو. د هغو له خوا هم هیڅ درک نه سو معلوم. د ابن بکار کور ته د ورتګ توان هم راسره نه وو او پخپل کور کي مي هم زاره چاودله. باره مي پر خپلو کړو توبه وکښله او د عافیت شکر مي پر ځای کړ.

څو شپې په همدې ډول تېري سوې. آخر شیطان وسوسه راواچوله چي ته ورسه د دوی حال معلوم کړه. له کوره چي راووتم، یوه ښځه د کور په دروازه کي ولاړه ده. ښه چي مي ورته وکتله، د شمس النهار مینځه وه. دا چي مي وپېژندله، باره زه ځني رهي سوم، دا سمه راپسې رهي سوه. په زړه کي وډارېدم او هر څه چي مي ډېر ورته کتل، هغونه مي بېره زیاتېدله. دا درګرده رغونه راباندي کوي چي ته ودرېږه، زه یوه خبره درته کوم. زه ئې پر خبره غوږ نه نیسم او داغسي ځني روان یم. یوې ګوښې ته چي ورسېدو، د کوځې په پای کي مو یو ماجت ولیدی.

دې راته وویل چي: "ماجت ته درننوزه چي زه یوه خبره درته وکړم. بېرېږه مه". زه ماجت ته ننوتلم دوه رکعته نفل مي وکړل. بیا مي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نو مینځي ته وویل چي ته له ما څخه څه غواړې؟ دې زما د حال پوښتنه راڅخه وکړه. ما د خپل ځان او د علي بن بکار بیان ورته وکړ. دې ته مي وویل چي اوس نو ته حال راته ووایه.**

**مینځي وویل، په هغه شپه چي مور ستا د ګاونډي کره وو او غلو د کور دروازه ماته کړه او په کور راننوتل. زه ډېره څني وبېرېدلم. ډار مي له دې اسیته وو چي ما ول نه ګانه خلیفه نه وي رااستولي چي ما او شمس النهار ونیسي. آبس، زه و دوې نوري نجوني بام ته وختو او ځانونه مو له یوه لوړ ځای څخه لاندي واچول او منډه مو کړه څو د دارالخلافې ماڼۍ ته ورسېدو. هورې په یوه ګوښه ځای کي پټي سولو. شپه چي ښه تیاره سوه. د دجلې د رود د خوا دربچه مي خلاصه کړه او هغه کښتۍ وان ته مو وررږغ کړه چي ها بله شپه ئې موږ راوستلي وو. هغه ته مي ویل چي د بي بي درک نسته ته موږ په کښتۍ کي کښېنوه چي پسې وګرځو او درک ئې معلوم کړو. کښتۍ وان په کښتۍ کي کښېنولو. په کښتۍ کي هیسته و دوري ګرځو، چي په دې وخت کي مو یوه بله کښتۍ په سترګه سوه. چي ښه مو ورته وکتل، په کښتۍ کي یو سړی او یوه ښځه ده. ښځه بېهوښه پرته ده او کښتۍ د دربچې خوا ته روانه ده. موږ هم په پسې سولو. له دربچې سره کښتۍ ودرېده موږ هم راکښته سولو، چي ګورو دا ښځه شمس النهار وه. دا چي مي ولیده له ډېري خوشالۍ څخه نزدې وو چي لېونۍ سوې وای. ما خو له دې څخه لاس پرېولی وو.... کیسه چي دې ځای ته ورسېده ...**

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه

د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو سل او شپږشپېتمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

مينځي و زرگر ته وويل چي له کښتۍ چي راتا سوم او شمس النهار مي وليدله، نږدې وو چي مخ رالگېدلی وای. چي نږدې ورغلم، راته وې ويل چي دغه سړي ته يو زر ديناره ورکړه چي دا ئې تر دې ځايه پوري راوستلې وه. باره ما او هغې بلي مينځي دا راپورته کړه او د خوب خوني ته مو بوتله. هغه شپه ډېره ناارامه او پلټنده وه. سهار ئې امر وکړ چي نوکران او مينځياني دي ورته حاضري سي. هغه ورځ و هغه شپه ئې هم په ناارامۍ سره تېره کړه. په دا دوهمه ورځ ئې حال يو څه ښه سو. ما چي ورته وکتل، ما چي ويل د گور مړی دئ له گوره راوتلی دئ. باره مي د گلابو عطرونه پر وپاشل، جامې مو وراليشي کړې، لاس و پښې مو ورپرېولل، د زړه د جوړي او مهربانۍ خبري مو ورته وکړې، يو څه د خورک مرک و چښنگ مښنگ شی مو هم ورته راووړ او يو څه مو په وخوړل او وچښل. د رنگ ښه ئې يو څه پر ځای سوه. بيا مي نو ورته وويل چي: "بي بي ستا قربان سم، يو نوکی د خپل ځان په فکر کي سه. پر خپل ځان، پر خپله ځواني دي زړه وسوځه. دونه دي پر ځان درنه کړې ده چي خدای ناکرده يو بل څه در و نه سي".

شمس النهار راته وويل چي: "اې نجلکوټې! په بالله چي مرگ تر دې واقعې ډېر اسانه دئ. زه بې هغه هم والله که ژوندۍ پاته سم. غلو چي موږ د زرگر له کوره وايستلو، پر لاري ئې پوښتنه راڅخه وکړه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسي څوک یاست؟ ما ورته وویل چي مو ږ بدلزني مسلیاني یو. زما خبره ئې زړه ته ولوېده. بیا ئې له علي بن بکار څخه پوښتنه وکړه چي ته څوک یې او څه کارکوې؟ هغه ورته وویل چي دی د مینځي زوی دئ". باره ئې موږ بوتلو، خپل ځای ته. هورې چي ئې دا زموږ جامو او دا زموږ ساټ و باټ و زر و زېور ته وکتل، اریانی واخیستل چي دا راز جامې و پسول خو د بدلزنو مسلیانو نه وي.

آبس، ما ته ئې وویل چي ته رشتیا راته ووایه، تاسي څوک یاست. ما چي له ځانه سره ری وواهه، چي پرېږدي خو دي نه، بې مرګه ولاکه ځني خلاصه سم، باره مي خوله پټه ونیوله او سپوڼ مي تر خولې ورته راونه یوست. له علي بن بکار څخه چي ئې هم دوهم وار وپوښتل چي دا ستا شکل و قواره خو د رعیت خلکو نه معلومېږي، هغه هم خاموشه سو او څه ئې ورته و نه ویل.

څه سردي پرله ګرزوم، موږ خپل راز همداسي پټ وساته او ژړل مو. بېشکه چي خدای تر مور و تر پلار مهربانه دئ. پر موږ باندي هم خدای رحم وکړ او یو غل ئې راباندي مهربانه کړ. هغه راته وویل چي د هغه کور څښتن څوک وو، چي تاسي هغه شپه پکښې واست. موږ ورته وویل چي نوم ئې پلانی دئ او زرګري کوي.

په غلوکي یوه وویل چي دا سړی خو زه پېژنم، کور ئې هم رامعلوم دئ. اوس دستي به ئې دلته راولم. غلو زه په یوه خونه کي واچولم او علي بن بکار ئې په بله کي واچاوه. موږ تې وویل چي وارخطا کېږی مه، تاسي په امان کي یاست. له غلو څخه یو تن په زرګر پسي ولاړ. هغه ئې راووست خو زموږ سره ئې مخامخ نه کړ. زموږ کیسه ئې هغه ته وکړه. باره یوه غله کښتی راوستله او موږ ټوله ئې پکښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واچولو او د دجلې دا بلې غاړې ته ئې راوستلو او هورې ئې ايله کړو. په دغه وخت کې د گزمې څو سپاره راباندې پېښ سول او راڅخه وئې پوښتل چې تاسې څوک ياست؟ ما د هغو مشر ته وويل چې زه د خليفه له خاصانو څخه شمس النهار يم. برايې د يوه وزير د ماينې ليدلو ته ورغلې وم، غلو ونيولو او دغه ځای ته ئې راوستلو. غلو چې تاسې وليدلاست، الا ئې کړه او موږ ئې پرېښوولو.

د گزمې مشر چې زما خبرې واورېدلې، له آسه راکښته سو او زه ئې پر آس سپره کړم. زرگر او علي بن بکار ئې هم پر اسانو سپاره کړل. اوس مې زړه په هغو پسې اور اخلې. نو مينځه وايې چې شمس النهار راته وويل چې: "ته د زرگر کره ورسه او زما سلام ورته ووايه او د علي بن بکار حال راته راوړه".

مينځې زرگر ته وويل چې ما شمس النهار ته وويل چې: "دا خو ښه کار نه دئ سوئ". دې اواز راباندې وکيښ او په خښم کې سوه. ما ځنې راالا کړه او دا دئ تا ته راغلم چې د علي بن بکار احوال ځان ته معلوم کړم. ستا څخه يوه هيله لرم چې دا يو څه پيسې به راڅخه قبولې کړې، ځکه چې تا زموږ په خاطر له خپلو يارانوڅخه ډېر شيان امانت راوړي ول او هغه ټوله غلو يووړل او تلف سول. اوس خو ته مجبور يې چې هغه بيرته ورکړې، نو مينځې راته وويل چې ته پر دغه ځای ودرېږه، زه بيرته راځم.... کيسه چې دې ځای ته ورسېده ...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه

د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يوسل اواووه شپېتمه شپه

شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

مينځی زرگر ته وويل چي زما تر راتگ پوري له دغه ځايه مه ښوره. مينځه ولاړه، د ها خوا چي بيرته راغله يو څه روپۍ ئې ورسره راوړي وې او هغه ئې زرگر ته ورکړې او ورته وې ويل چي: "اې خواجه! بيا به چيري د خيره سره وينو؟"

زرگر وايي چي ما مينځي ته وويل چي بي بي ته دي ووايه چي همدا اوس کور ته ځم او ستا له پاره خو چي وا، غره ته وخېژه، لا خېژم او هر څونه درونډ بار چي وي، ستا په خاطر ئې وړم. زه به ستا و د علي بن بکار د يوځای کېدو له پاره هيڅ راز مرسته و نه سپموم.

ما چي مال کور ته راووړ، ومي شمېره، پنځه زره ديناره وه. د هر چا سامان چي تلف سوی وو، د هغو مجرا مي په نغده کي ورخلاصه کړه. بيا مي نو هغه کور ته نوکران راسره بوتلل، چي غلو وهلی وو. ترکاڼ و ختګر مي راوغوښتل او کور مي تر پخواني حالت ښه ورودان کړ. نور مي غمونه و پرېشانۍ له ياده وايستلې او د علي بن بکار کور ته وررهي سوم. کورته چي ورورسېدم يو مريي ئې راته وويل چي بادار ئې شپه و ورځ ستا په لټه کي دئ او زموږ سره ئې وعده کړې ده چي هر چا که ته ورته حاضر کړې، دی به هغه مريی آزادوي. مريان ټوله په تاپسي گرزي. خو زما بادار کله په هوښ کي وي کله بيا بېهوښه. هر وخت چي پر هوښ راسي ستا نوم ئې پر ژبه وي او وايي چي دی به هرومرو راته راپيداکوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرگر وايي چي زه له هغه مريي سره بن بکار ته ورغلم. دی پر کټ پروت وو او د خبرو نه وو. سر ته ئې کښېنستلم. سترګي ئې خلاصي کړې. زه چي ئې وليدلم، په ژړا سو او راته وې ويل چي: "خدای دي راوله! هرکله راسې، ښه راغلې". ما دی تر اوږو ونيو، راپورته مي کړ او په غېږ پوري مي ټينګ ونياوه. ده راته وويل چي وروره! له هغې ورځي راهيسی چي پر دغه کټ لوېدلی يم، بيا مي سر نه دئ راپورته کړی. د خدای حمدوثنا دي وي چي بيا مي وليدلې. باره مي دی راولاړ کړ، له کټه مي راکښته کړ او تر اوږو مي نيولی وو چي يو څو ګامه ئې واخيستله. بيا مي نو جامې ورايلشي کړې يو څه شی می ئې وچښل. د مخ ښه ئې يو څه پر ځای سوه. هغه څه چي مينځي راته ويلي ول، هغه مي ورته بيان کړل. ده مريانو ته اشاره وکړه چي ووځي. هغوی ووتل.

بيا ئې نو راته وويل چي وروره! وخو دي ليدل چي زمانې و تقدير په موږ څه کانې هم و نه کړې. زما څخه ئې عذر وغوښت او زما د حال و احوال پوښتنه ئې وکړه. ما هم ټول هغه څه چي راباندي راغلي ول، ټکي په ټکي مي ورته بيان کړل. خورا ډېر تعجب ئې وکړ او نوکرانو ته ئې وويل چي پلانی شی و پستانی شی راوړئ. نوکرانو خورا سنګيني او قيمتي غالۍ او د سپينو و د سرو زرو لوښي تر هغه څه زيات چي غلو وړي ول، راحاضر کړل او ټول ئې ما ته کښېښوول. ما هغه ټول سامانونه کور ته ولېږل. هغه شپه مي له ده سره تېره کړه. سهار ئې راته وويل چي هر څه لره انتهاسته. د عشق پای يا مرګ دئ ياوصال. خو زه تر وصال مرګ ته نزدې يم. کشکي پخوا لا مړ سوی وای داسي ديدنۍ خو به نه راباندي تېرېدلای. اوس هم د خدای فضل و کرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



راباندي وسو چي رسوايي ته را و نه وتو. که رسوا سوي واى، گوره چي اوس به چيري پراته واى. اوس نه پوهيږم چي بله چاره سته کنه. زه خو که له خدايه نه بېرېدلاى، ځان مي واژه. اې وروره! زه د قفس بندي مرغۍ يم. له دې غمه خو يو وخت هرومرو مرم. خو نه پوهيږم چي زما د هلاکت ورځ به څه وخت وي. بيا ئې نو تر سترګو اوښکي راغلې او دا بيتونه ئې وويل:

زمــــا زړه دئ ســـــرو نازکو شـــــونډو وړی
پـــه هجـــران کـــي ئـــې سـم دم د لحــد مړی
نـه بـه هـيڅ عاشـق زمـا پـه رنګ رنځـور وي
نـه بې هيڅکلـه وي مـات زمـا پـه شـان غـړی
محبوبــــا رالــــره راغلــــه بيرتــــه ولاړه
زمـــوږ يـــاري وه لکـــه تـــار چـــي وي اومــړی

دا بيتونه چي ئې وويل، باره زرګر وايي چي ما ورته وويل چي زه به نو اوس کور ته ولاړ سم. نه ويل کېږي چي مينځه دي راغلې وي. بن بکار راته وويل چي خوښه مي ده، ژرورسه، ګونديو د خير خبر راته راوړې.

له ده څخه مي رخصت راواخيست، کور ته راغلم. ساه مي لا سمه نه وه اچولې چي په دروازه کي د مينځي ږغ سو. چي ولاړ سوم، ګورم چي سترګي ئې له اوښکو ډکي دي او سلګۍ ئې جاري دي.

ما ورته ول: "خير دي وی، څه پېښه ده؟" دې ول: "اې خواجه! ها چي نه مو غوښته، هغه را پېښه سوه. پرون چي زه ستا څخه ولاړم. ګورم چي شمس النهار پر هغه مينځه باندي خښمېدلې ده چي په هغه شپه زموږ سره تللې وه. غوښتل ئې چي جزا ورکړي. مينځي له بېري څخه منډه اخيستې وه او پيره دارانو هغه راګرځولې وه او غوښتل ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چي بيرته ئې بي بي ته په لاس ورکړي. مينځي پيره دار ته د شمس النهار د هغې شپې ټوله بيان وکړ. دا حال تر خليفه پوري ورسېد. خليفه امر وکړ چي شمس النهار دي له خپلو مالو و سامانو سره د ده ماڼۍ ته ورنقل سي او له نوکرانو څخه ئې شل تنې ورپرې ايښي دي. له هغه ساعت وروسته بيا ما نه شمس النهار ليدلې ده، نه دې زه ليدلې يم. اوس نه پوهېږم چي څه وکړم. شمس النهار خو خپل راز يوازي زما سره شريک کړی وو. تر ما بل د راز شريک اوس نه لري.... کيسه چي دې ځای ته ورسېده...**

د سهار شمال را والوتی روڼا سوه
د شهرزادي کيسه پاته تر سبا سوه

# يو سل او اته شپېتمه شپه

**شهرزادي وويل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:**

**مينځی زرگر ته وويل چي اوس خو بي بي بله رازگيره نه لري. ته اوس ژر علي بن بکار ته ورسه او په حال ئې خبر کړه چي که نه گانه زموږ دا راز رسوا سي چي بيا نو د ځان د ژغورلو يوه چاره وسنجوو.**

**زرگر وايي چي زه د دې خبر په اورېدلو دومره خواشيني سوم چي دا ټوله دنيا يوه الغه سوه او زما په غاړه کي راولوېده. مينځي غوښته چي بيرته ولاړه سي. زرگر وايي چي ما ورته وويل چي اوس د دې پای څه؟ چاره و تدبير څه دئ؟ دې راته وويل چي تدبير بس همدا دئ چي که علي بن بکار ستا دوست و اشنا دئ او ته د ده ژغورنه غواړې، نو ژر ورسه او په حال ئې خبر کړه. زه اوس بيرته ځم که**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوې خبره مبره پېښېدله، تاسي ته بيا حال راوړم.

آبس، مينځه ولاړه او زه هم له کوره راووتم او د علي بن بکار کور ته رهي سوم. هغه مي وليدی چي ناست دئ له ځانه سره خيال پلو وهي او د وصال وعده ټاکي او په ناممکناتو کي چورتونه وهي. زه چې وليدلم، راالائې کړه چي: "څه نوې خبره؟ ولي داسي ژر بيرته راغلې؟"

ما ورته وويل چي چورتونه مورتونه دي هيسته وغورځوه، دا هوا و هوس دي نور يوې خوا ته کړه، ټکه راغله ناورين پر سپور دئ، اوس دي د خپل سر او د مال په فکر کي سه، چي خدای مه کړه دواړه درڅخه ولاړ نه سي.

دا خبري چي ئې واورېدې، د رنګ بڼه ئې والوته، وارخطا سو. ول ژړکوه، وروره! حال راته وايه، څه پېښه ده؟ زرګر هغه څه چي د مينځي له خولې ئې اورېدلي ول، ټوله ورته بيان کړل او په پای کې دا هم پر زياته کړه چي که ته نن شپه دلته په کور کي پاته سې، خامخا به هلاک سې او له منځه به تلف سې.

علي بن بکار بېهوښه سو او نژدې وو چي نفس ئې تر خوله وخېژي. يو ګړی بېحاله وو، وروسته ئې زرګر ته وويل چي: "وروره! څه بايد وسي؟ ستا نخشه څرنګه ده؟" زرګر وايي ما ورته وويل چي تدبير دا دئ، هر څونه مال و سامان چي درسره وړلای سې، راوائې خله او پر هغو مريانو چي ډېر اعتماد لرې، دوی هم د ځان ملګري کړه او درځه چي کوم بل ښار ته کډه سو.

علي بن بکار ورته وويل چي: "يابسم الله! بله خبره نه پکښې ځائېږي" آبس، راولاړ سو، لکه سربداله، له يوه دېواله و له بل دېواله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهل کېږي. د درو اوښانو بار مال و سامان ئې راټول کړ. خپلوانو ته ئې خپل عذر ووایه او حق پلیت ئې ځني واخیست. خپل وصیت ئې هم ورته پرېښوو. اوښان ئې را په مخه کړل او پخپله پر آس سپور سو. زه هم پټ پسي راووتلم. هغه ورځ مو تر ماښامه او شپه مو تر سهاره مزل وکړ. باره مو یو ځای واړول. له اوښانو مو بارونه کښته کړل، زنگنونه مو وروتړل او موږ ورته بیده سوو. سفر داسي ستړي و ستومانه کړي وو، چي غله راغلي ول او مال ئې ټول وړی وو، مریان ئې ټول وژلي ول او موږ په خبر سوي لا هم نه وو. چي راکښېنستو، ځای سته جولا نسته. سپین سبیل الله میدان پاته دئ. له پېښې تېښته نه وه، کار تر کار تېر وو. د خدای توکل مو راواخیست او رارهي سوو. تر سهاره مو مزل وکړ څو یو ښار ته راورسېدو. په ښار کي مو یو ماجت پیدا کړ او هورې مو د ماجت و څنگ ته هغه ورځ تر ماښامه پوري په لڅ بدن او پر وچه مځکه تېره کړه. چي شپه سوه، ماجت ته ننوتو. هغه شپه مو په وږي نس تېره کړه. سهار چي سو، لمونځ و اودس مو وکړ. ناست یو چي په دې وخت کي نابېره یو سړی راغی. سلام ئې راواچاوه. دوه رکعته لمونځ ئې وکړ. بیا ئې نو مخ راواړاوه او وې ویل: "وروڼو! تاسي لکه چي مسافر یاستی".

موږ ورته وویل: "هو! مسافر یو. مالونه مو غلو یووړل. موږ ئې لڅ لپړ کړو او دې ښار ته راغلو. دلته نه څوک پېژنو نه ئې اېژنو". سړي وویل چي که غواړئ چي زما کره راسی خو کور مي تر تاسي جار.

زرگر ول، ما علي بن بکار ته وویل چي درپاڅه، چي د دې سړي کره ولاړ سو. هلته به له دوو شیانو خلاص سو. یو دا چي څوک به راسي او موږ به پر دې حال ویني، رسوایي ته به راووزو. بل دا چي موږ خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسافر و بېچاره خلک یو او هیڅ لار نه ده رامعلومه.

بن بکار وویل چې: "ستا خوښه وي، زما په سر کې لا خوښه وه".
هغه سړي بیا راته وویل چې اې مسافرو، راځئ چې ځو. زرگر ورته
وویل چې یابسم الله!

آبس هغه سړي خپلې جامې مامې راته راوایستلې، ډېره مهرباني
ئې راسره وکړه او موږ هم له ده سره د ده و کور ته ولاړو. د کور دروازه
ئې وروټکوله. یوه کوچنوټې مزدوره ئې راووتله. سړی په کور ننووت،
موږ هم په پسې سوو. بیا ئې بوخچه راوړه او موږ ته ئې سمې جامې
راواغوستلې. موږ ناست وو چې یوې نجلۍ سترخان راووړ. زموږ مخ ته
ئې اوار کړ. موږ یوه گوله موله واخیستله. سترخان ئې بیرته ټول کړ.
موږ په هغه کورکې ناست وو چې شپه سوه. علي بن بکار په ژړا سو او
زرگر ته ئې وویل چې: "وروره! پوه سه چې موږ ته مرگی دوگامه ولاړ
دئ نو غواړم چې تا ته خپل وصیت وکړم. وصیت مې دا دئ چې که
زه مړ سوم. زما مور به راخبروې چې دلته راسي او زما پر قبر حاضره
سي. هغې ته به ووایې چې زما په بېلتانه کې به صبر کوې".

دا خبري چې وکړې، بوخ راووښت او بېهوښه سو. پر هوښ چې
راغی، دیوې نجلۍ اواز موله لیري تر غوږ سو، چې سندري وایي او دا
بیتونه پکښې زمزمه کوي:

ستا له غمه مې ملا کړو په سوه ماتېږي
اسماني ټکي ډبري دي رالوېږي
پر دنیا و مافیها مي دا یو سر سته
دغه سر خو دي زما، تر تا جارېږي

بن بکار چې د نجلۍ سندره واورېده، لویه چیغه ئې تر خوله ووتله

(c) ketabton.com: The Digital Library



او روح ئې اسمان ته والووت. زرگر وايي کله چې مې وکتل چې علي بن بکار مړ سو. دی مې پر خدای وسپاره او ورته ومې ويل چې پوه سه! زه به بغداد ته ولاړ سم چې ستا مور و خپلوان ستا د تجهيز و تکفين له پاره راحاضر سي.

آبس، دوې پښې دغه وې، دوې مې نوري پور کړې. بغداد ته راغلم. اول خپل کور ته ولاړم، جامې مې بدلې کړې. بيا نو د علي بن بکار کور ته ورغلم. مريانو چې زه وليدم، رااالائې کړه او د علي بن بکار پوښتنه ئې وکړه. هغو ته مې وويل چې د علي بن بکار له مور څخه اجازه واخلي چې زه ورسره وگورم. هغو اجازه واخيستله او زه هغې ته ورغلم او سلام مې ورواچاوه. بيا مې نو ورته وويل چې هر کار چې د خدای له جانبه وي، مومږ پر سروسترگو منلی دئ. د ازل کښلي نه په بله کيږي. هيڅ ساکښ د خدای بې اذنه نه مري. د علي بن بکار مور زما د خبرو په مطلب پوه سوه او زړه ته ئې ولوېده چې زوی ئې مړ سوی دئ. باره ئې سر پټ کړ او د نورو بورو ميندو په شان ئې ډېري اوښکي تويي کړې. آخر ئې راته وويل چې ته و خدای که به نه راته وايې، په زوی مې څه سوي دي؟

ما له ډېره غمه جواب نه سوای ورکولای. دې چې زما دا حالت وليد، ژړا ئې په ستوني کی وچه سوه او پر دا بله راواوښته. بېهوښه وغزېدله. چې پر هوښ راغله وې ويل: "په زوی مې څه وسول؟"

ما ورته وويل چې: "خدای دي له داسي غمه وساته چې دا به دي تر پوري هېرېږي. خدای دي د دې مصيبت اجرونه درکړي". بيا مې نو له سره تر پايه ټوله ماجرا ورته بيان کړه. دې راڅخه وپوښتل چې: "زوی خو به مې کوم وصيت نه وي درته کړی".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماول، هو! راته کړی ئې وو او هغه څه چې ئې راته ویلي ول، دې ته مي ورسول. بیا مي دې ته د تجهیز و تکفین په کار کي د تلوار مسئلې ته اشاره وکړه. مور چي ئې دا واورېده، بیا بېهوښه سوه. یو ګړی وروسته ئې سترګی روڼی کړې او هغه څه چي مي ورته ویلي ول، د هغه له پاره روانه سوه. زه خپل کور ته رهي سوم او پر لاري چورت اخیستی وم. د علي بن بکار په باره کي مي فکر تللی وو چي یو چا تر لاس ونیولم.... کیسه چي دې ځای ته ورسېده...

د سهار شمال را والوتی روڼا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

# یو سل او نهه شپېتمه شپه

شهرزادي وویل: اې زموږ بختور پاچا! اورېدلي مو دي چي:

زرګر ویل چي نابېره مي یوې ښځي لاس راکش کړ. چي داسي مي ورته وکتل، د شمس النهار مینځه وه. منګر ډېره خپه و ژړانده ښکارېدله. چي یو بل مو سره وپېژندل، دواړه په ژړا سولو. تر کوره چي راورسېدو، ما ورته وویل چي خبره نه یې چي علي بن بکار ته څه پېښه سوه؟ دې ویل، یئه، په هغه خدای که په خبره یم. باره مي په حال خبره کړه او د بي بي پوښتنه مي ځني وکړه.

دې ول، خلیفه د هغې په حق کي د هیڅ په خوله و نه کړه او د هیچا پر خبره ئې غوږ و نه نیو او د دې کارونه ئې ټول ښه وګڼل. ورته وې ویل چي: "اې شمس النهار! ته پر ما بیخي ډېره ګرانه یې او هر څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ستا له لاسه رارسېږي، ټوله زغمم. باره ئې امر وکړ چې دې ته دې یوه جلا ماڼۍ ورکول سي او د دې خونه ئې په رقم رقم وربښمینو غالیو او نورو زینتي شیانو وربشکلې کړه. د خدای کارونه دي، یوه ورځ چې خلیفه له خپل عادت سره سم له شمس النهار سره په عیش و نوش اخته دئ، او د خلیفه نوري خاصه ګاني هم حاضري دي او هره یوه له خپلي رتبې سره سمه پر خپل ځای ناسته وه. شمس النهار د ده څنګ ته ناسته وه . په دې وخت کې خلیفه یوې نجلۍ ته د سندري ویلو امر وکړ. نجلۍ رباب را واخیست او دا بیتونه ئې وویل:

زما په سترګو ئې وګورئ دغه حور دغه صنم
قد د سروي ورته مات دئ د نرګس ملا ورته خم
د خوبانو په محفل کې د غمزو تېغ چې چلېږي
هیڅ عجبه ئې مه بولئ ککرۍ پرې د رستم
دا ارمان مي راپوره کړئ، که قربان سوم تر دې مینې
د وربښمو کفن را کړئ، تابوت جوړ کړئ له شړشم

شمس النهار چې د نجلۍ دا بیتونه واورېدله، نور ئې له تابه ووتله او بېهوښه ولوېده. د خلیفه له لاسه جام ولوېد او داغسې ئې ورالاکړه. په مینځو هم نارې و سورې ګډې سوې. خلیفه چې ورنږدې سو غوښتل ئې، له ځمکې را پورته کړي، د هغې ساه له کیهاوو بیا ختلې وه.

خلیفه د دې په مرګ دومره خوابدی سو چې د چنګ و رباب ، عود وسیتار، جام و صراحي د ماتولو امر ئې وکړ. شمس النهار ئې په یوه خونه کې کښېښووله او ټوله شپه ئې سر ته ناست وو. ورځ چې روڼا سوه، غسل و کفن ئې ورکړ او خاورو ته ئې وسپارله. دی پخپله غمجن او خواشینی کښېنوست او نور ئې نه د دې د مرګ پوښتنه وکړه او نه ئې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې واقعې بازخواست وکړ.

بیا نو مینځي زرگر ته وویل چي ته و خدای که به د علي بن بکار د جنازې پر وخت ماته خبر نه راکوې چي زه ئې هم پر جنازه باندي حاضره سم. زرگر ورته وویل چي تا به چیري پیداکړم؟ نجلۍ ورته وویل چي د شمس النهار د مرگ پر مهال خلیفه خپلي ټولي مینځیاني آزادي کړې. زه هم اوس آزاده یم او د شمس النهار پر قبر ناسته یم. د هغې قبر په پلاني ځای کي دئ.

زرگر وایي آبس، زه و دا د شمس النهار قبر ته ورغلو او زیارت مو وکړ. بیا نو پخپلو کارو اخته سوم، منگر د علي بن بکار د جنازې لار مو تل څارله. هغه وو چي جنازه ئې راورسوله. د بغداد خلک ئې جنازې ته ورووتل. ما د ښځو په مینځ کي هغه نجلکوټې مینځه هم ولیدله. تر ټولو ښځو دا ډېره خوابدې ښکارېدله. ما پخپل عمر په بغداد کي دونه درنه جنازه نه وه لیدلې. جنازه ئې په ډېر حرمت سره هدیرې ته یووړه او خاورو ته ئې وسپارله. زرگر وایي چي زه تل د ده او شمس النهار زیارت ته ورتلم.

شهرزادي وویل: ما چي د نکلو په کتابو کي د دوی بیان لوستلی وو او د خلکو له خولو مي اورېدلی وو، تاسي ته مي وکړ. منگر تر دې عجیب نکل به سبا شپه که د ژوند پر مېنه وم، درته وکړم. دا نکل د ملک شهرمان نکل دئ.... کیسه چي دې ځای ته ورسېده...

د سهار شمال راوالوتی روڼا سوه
د شهرزادي کیسه پاته تر سبا سوه

(د دې ټوک پای)

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library